# په افغانستان، عراق او لیبیا کې د ناټو جګړې

## (لومړی ټوک)

لیکوالان: لارس هیلسکوو او یعقوب سوینسن

ژباړن: محمد ابراهیم نعیمي ۲۰۱۶ زکال

د کتاب نوم: په افغانستان، عراق او لیبیا کې د ناټو جګړې

لیکونکي: لارس هیلسکوو او یعقوب سوینسن

د چاپ ځای: ډنمارک ۲۰۱۲ زکال

د کتاب اصلي ژبه: ډنمارکي

ژباړن: محمدابراهیم نعیمي

پښتو ته ژباړل شوي: نیټه ۲۰۱۶ زکال

د چاپ ځای: کابل ـ افغانستان

دچاپ خونه:

شمیره:

د کتاب ډیزاین کوونکي: بسم الله اغایګل

بسم الله الرحمن الرحيم

# د منځپانګو لښتيال


د منځپانګو لښتيال.......................................................... ث
مقدمه ......................................................................خ
یو هیواد په جګړه کې.......................................................خ
د ژباړن مقدمه.............................................................س
کتاب د وقايي څخه لنډ معلومات .........................................ش
د کتاب د لیکوالانو په تړاو لنډ معلومات ..................................ص
په افغانستان، عراق او لیبیا کې د ناټو جګړې ..........................ص
خونړي بریدونه.............................................................ظ
لومړی څپرکی................................................................ ۱
ترهګر بریدونه د ۲۰۰۱ ـ ۲۰۱۲ زکال ...................................... ۱
دویم څپرکی..................................................................۵۵
پلان............................................................................۵۵
دریم څپرکی.................................................................. ۹۳
پټ عملیات .................................................................. ۹۳
لنډیز: ......................................................................... ۹۳
څلورم څپرکی ...............................................................۱۵۲
د جګړې له پاره تیاری .....................................................۱۵۲
پنځم څپرکی..................................................................۲۲۷
وینا............................................................................۲۲۷
شپږم څپرکی.................................................................۲۵۱
جنتي کمپ....................................................................۲۵۱
اوم څپرکی ...................................................................۲۹۸

۲۹۸ ........................................................کورنۍ جګړه (۲۰۰۱ ـ ۲۰۱۲)
۳۶۳ ...........................................................................اتم څپرکی
۳۶۳ ...........................................هیره شوی جګړه د (۲۰۱۱ ـ ۲۰۱۲) زکال
۳۹۰ .......................................................................د ژباړن لنډه پیژندنه

ځان له ذهنه وباسم جانان له ذهنه وباسم
ښنګه د پتیال غوندی یو ځوان له ذهنه وباسم



دا کتاب د ټولو شهیدانو خو په ځانګړی توګه د شهید عبدالقدیم پتیال روح ته ډالی کیږي. شهید عبدالقدیم پتیال د ۲ / ۱۱ / ۲۰۱۴زکال دمازدیګر لخوا د کندهار د پوهنتون د زده کړو په کوټه کې ناست و، چې په ناځوانمردانه توګه د دښمن د ښو ډزو په واسطه یې د شهادت مقام خپل کړي. شهید پتیال د اخلاقو او په دولتي کار کې د پرهیزګاري داسې نمونه وه چې د خلکو په زړونو کې ځای درلودي. ما په ټول ژوند کې یو ځل د ښو محدودو ساعتونو له پاره په ۲۰۱۰ زکال کې ولیدي. د نوموړی عالي انساني شخصیت دومره تر اغیزې لاندې راوستلم چې په ګومان مې د کلنو دوستي مو درلودل. شهید پتیال د نورو دولتي چارواکو په ښیر شتمنې او بنګلې نه درلودي حتي د خپلو ماشومانو له پاره یې یو کور هم نه درلودي. کورنۍ او یاران یې په خپل شهادت باندې داسې غمجن کړل چې هیریدل یې ناشونې دي. په پای کې د ټولو شهیدانو روح د دوعا لاسونه پورته کوم. امین

# مقدمه

ش، حصین

## یو هیواد په جګړه کې

« موږ هغې دموکراسۍ ته چې ورته سترګې په لاره وو ور ونه رسیدو.نیکمرغي به په دې کې وي چې له طالبانو سره دمذاکرې له لارې ځان له افغانستان څخه را وباسو»

پروفیسورمیکائیل ویلبوی رسموسن ددنمارک دپوځي څیړنودمرکزغړی د«یو هیواد په جګړه کې» ډیر پنډ کتاب دوو د نمارکي لیکوالو لیکلی او ښاغلي محمد ابراهیم نعیمي په روانه پښتو ژباړلی دی. د دغه کتاب ټول څه له ۲۰۱۰ م کال مخکې راټول شوی ښکاري. کتاب په ۲۰۱۲میلادي کال په ډنمارک کې له چاپه راوتی دی. د کتاب لیکونکو پر افغانستان دپوځي یرغل له پیل څخه دپیښو لړۍ تر خپل پام لاندې نیولې ده. دپیښو په سیاسي او پوځي لورو بې ډیر زور لګولی دی. دافغانستان داشغال په هکله چې دکتاب لیکوالان بې اشغال نه بولي او یا داخبره تر پلالي لاندې تیره وي، تر ډیره داهڅه کیږي چې دغه پوځي تیری او اشغال ته یا د امریکایی، اروپایي او ناتویي پریکړو اواسنادو له مخې یو ډول نا اعلان شوی مشروعیت ورکړي او یا هم هڅه شوې چې دډنمارکي یو ځیانو په ځنګ کې دامریکایي ، انګلیسي او ناتویي پوځیانو د« اتلولیو» کیسې جوړې او هغه دومره وغځوي چې هم خپلو پوځیانو او هم د امریکا ، انګلیس ، ناتو او آیساف لښکروته د اتلولیو یو دروند تاریخ جوړ کړي. د کتاب مستندې برخې تر ډیره دلوړ پوړو امریکایي او ناتویي واکمنو په پریکړو او هغو لیدنو کتنو ولاړې دي چې لیکوالو بې له دولتي لوړ پوړوملکي او پوځي واکمنو سره تر سره کړیدي. د کتاب ډیرې برخې داسې کیسه یي شویدي چې د واقعیتونو لوری تر ډیره پکې تت او لویدلی بریښي. د کتاب لیکوال په دې برخه کې څه ډیر ګرم هم نه دې او داځکه که بې ځانګړې دنده هم نه وي اخیستي لویدیځ تفکر او ددغه تفکر بیان له دې پورته څه نشي ورکولی . په کار خو دا وه چې دافغانستان او هم دعراق د اشغال بشري لوري ته څه ځانګړې پاملرنه شوې وای. که چیري دغو لیکوالویا ژورنالیستانو د پوځیانو د اتلولیوپه ځنګ کې لږ د افغانستان له اولسونو څخه را پورته شوي تش لاسي مقاومت او میړانې ته هم یو څه کتلي وای نو د لیکنې بې پرې توب ته به بې یو څه تومنه وربښلې وای. له دې مخکې پکار دا وه چې پر یوه جګړې ځپلي خوار آسیایي هیواد باندې د دومره پراخه وژونکې پوځي برید او دهغه هیواد د لاندې کولو مسأله بې یو څه دنړیوالو منل شوو موازینو او انساني تعاملات په رڼا کې څیړلې وای. دا هم غوره بریښیده چې په بې پرې توګه تر څیرنې لاندې راغلې وای چې ډنمارک ولې د امریکایي کاوبایي احساساتو په خونړۍ لاره ګام پورته کړ. دغې جګړې ډنمارک ته څه ورکړل. ډنمارک څه ناڅه پنځه ملیونه نفوس لري، د اروپا ډیر بډای هیواد هم نه دی، په نړیوالو شخړو کې هم له چا سره لاس

په ګریوان نه و او کوم ګوابن بې هم نه لیده. د ډنمارک دودیزې دموکراسۍ او لیبرالیزم جګړې او په نورو هیوادونو وردانګل څنګه ومنل. د کتاب عنوان هم ګنګ او دپوښتنې وړ دی « یو هیواد په جګړه کې» . دغه عنوان نه ښيي او دکتاب متن هم ډیر روښانه څه نه ورکوي چې منظور له یوه هیواد څخه افغانستان دی او که خپله ډنمارک؟ ډنمارک له څه ناڅه ۴۳ نورو پانګوالو لویدیځو هیوادو اود دوی د سیمه ییزو[وړیو سره یو ځای د امریکا او انګلیس تر مشرۍ لاندې پر افغانستان یرغل وروړی دی .له همدې کبله دنمارک یو نه دی. تر یرغل او اشغال لاندې راغلی افغانستان یو دی داسې یو چې د لویدیځ جګړه ییز ماشین له ویرې ټول بشریت پر دغه جنایت خوله پټوي او افغا نستان په ګډه په مرګ او ورکې نیسي. دکتاب یو تشه داهم ده چې دغه کتاب په افغانستان کې دافغانستان د اولسونو دپاڅون له پراخه طوفاني کیدو مخکې لیکل شوی او لیکوالان بې لا داشغالګرو دماتې او تیښتې څرک نشي لیدلی. له همدې کبله قهرمان جوړونې دژبې په زورپړسول کیږي. دوی نشي لیدلی چې په افغانستان کې ددنمارک ۷۵۰ کسیزه پوځیان ۴۲ تنه مړي او ۱۸۲ تنه مرګوني ټپیان ورکوي. دوی نشي لیدلی چې یو کوچنی سکندناوي هیواد ۱۶ ملیارده کرونه یا ۶، ۲ ملیارده ډالره لګښت په اوږو اخلي. د یوه ډنمارکي لیکوال په خبره په دې لګښت یو «کمربندي » پل جوړیده. ډنمارکیان هغه اتلس کیلومتره په سمندر ولاړ پله ته کمربند وایې چې ددنمارک دوه لوی ټاپوګان سره تړي ، په سر بې اورګاډي او موټرې تیریږي او ترې لاندې درنې بیړۍ خوځي. دغه لیکوال له دې بې خبره وو چې یو وخت به د دوی خپل دپوځي ځیړنو نامتو پر فیسور اعتراف کوي چې:« موږ په افغانستان کې جګړه نه ده وړې او هغه نشو وړی» دوی نه وخبر چې یو لوی انګلیسي جنرال به په دې اعتراف کوي چې:« موږ په صلیب شو ګوتو او ړندو سترګوافغانستان ته وردننوتو»

دوی له دې نه هم بې خبره پاتې شوي وو چې یو وخت به د ډنمارکي پوځیانود پردې شاته کړنې په کتاب بدلیږي او دغه رسوایي به ددوی ددفاع وزیر« سوري ګید» استعفی ته اړ باسي. دوی له دې نه هم بې خبره وو چې د« پټې جګړې» فلم به دنیا ته ټکان ورکوي او دغه فلم به د ډنمارک د دفاع وزیر او په افغانستان کې د ډنمارکي پوځیانوقوماندان په دروغ ویلو، پټ پټانواو معاملو تورن را باسي. د همدغه فلم هغه واقعي او مستنده کیسه چې ډنمارکي پوځیانو په افغانستان کې ۳۱ تنه بیګناه افغانان له القاعدې سره په تړاوخپلو پوځي زندۍ ځایونوته وړي او میاشتې میاشتې بې دمرګ تر پولې بې شکنجه کوي او وروسته هم پداسې حال کې چې پو هیږي چې امریکایي پوځیانو او جاسوسي شبکو ته دبندیانو ورکول پر هغوی څه راولي دغه جنایت ترسره کوي. په پای کې هم معلومیږي چې هغه ۳۱ تنه بیګناه او له هرڅه نا خبره اولسي خلک وو. دکتاب لیکوال نه وو خبر چې یو وخت به دانسانانو وجدان ټکان خوري او افغانستان به «د پردو دنامشروع کړنوخاوره اعلانوي».دکتاب لیکوال لکه چې نه وو خبر چې

همدغواتلو ډنمارکي پوځيانو دامريکايی پوځيانو د وحشتونو له مخې په اولسي خلکود سپينوفاسفورسو بمونه واچول.د دغو بمونو استعمال په ټولو اړوندو نړيوالو قوانينو کې جګړييز جنايت دی. دغه بمونه داکسيجن په ور رسيدو اور اخلي او تر څو چې اکسيجن نه وي له منځه تللی دغه اور نه وژل کيږي. د دغو بمونو اور که د انسان سر، سينې، پښو ، لاسونو او د بدن نورو ځايوته وړورسی، په دريو ثانيو کې انسان له منځه وړي. اوس نو دهغو پوځيانو د اتلولي کيسې غزول چې دغه جنايات يې کړي او اسناد يې هم شتون لري، له انسان او انسانيت سره ښکاره دښمني نه ده؟. زه نه غواړم اونشم کولی چې په يوه سريزه کې دټول کتاب کره کتنه تر سره کړم. دکتاب د ژباړونکی م، ابراهيم نعيمي پاملرنه په خپله هم په ژوره توګه د دغه کتاب بې ځايه او بې بنسټه کيسه يي جوړونو ته ور اوښتې او په خپله سريزه کې ليکي چې دغه کتاب دلويديځ ليکوالو په ذهنيت ليکل شوي او بايد په احتياط ولوستل شي.

دا واقعيت د ډنمارک خلکو اوهم نور بشريت ته ښکاره ده چې ډنمارک د نورو ښې اړخو اوکيڼ اړخو اوليبرال مشرانو او واکمنو په ځنګ کې تر ډيره دډنمارک دهغه وخت صدراعظم چې وروسته دناتو عمومي منشي هم شودغې ظالمانه جګړې ته ور ټيل واهه. دکتاب ليکوال لکه څنګه چې ښکاري څوڅو ځله له راسموسن سره خبرې اترې لري ، خو آن يو جمله هم ددغه ليوني جګړه مار په هکله نه کوي. داټول بشريت ته ښکاره وه چې که راسموسن يو کال نور هم د ناتو په سر مشريزه پاتې وی نو نړۍ به يې هرومرو يوې دريمې نړيوالې نښتې ته ور کيوستې وای.

د نوموړي کتاب ټولو جوړو شوو او پړسول شوو کيسوته نه شو ورتلای. دکتاب دپيل په کيسو کې دجورج ارنه فيټرس په نوم ديوه پوځي کيسه داسې پړسول کيږي چې په يواځې ځان د ډنمارک د اردو د اتلويو لويه نښه ګرځي. کيسه په هلمند کې ده، دجګړې په سنګر کې ډنمارکي ، امريکايي او انګليسي پوځيان له خپلو پرمختللو وسلو، مخابراتي توکو اوقوي دوربينونو سره پراته دي. له لرې په خړوخاورو کې نغښتي دوه درې تنه خوار افغان حمله کوونکي په ډيرو سپکو وسلو ددوی په سنګرونو را خيږي .دوی دومره خپل لاس اوپښې ورکوي چې هر يو د پټيدو سوړې لټوي او دومره ويريدلي چې دخپلو زخميانو خوندي کول يې هم له وسه ووځي . خو ليکوال دې ته نه ګوري چې هغه خوار افغانان چې دوی يې طالبان بولي د صحنې اصلي اتلان دي او که د ديوالو شاته په سينه بهيدونکي د تيښيتي په حال کې ډنمارکي ، امريکايي او انګليسي پوځيان؟ ددغه ډول جوړو شو کيسو ټول متن يوشان دی يواځې کلمات اوبدنه يې يو څه اوړي. قصد دا دی چې د دنمارک اردوته د جګړې او انسان وژنې روحيه ورکړي چې دا هڅه په خپله انساني تومنه نه لري. ليکوالان دې ته نه ګوري چې هغه د دوی په خبره مرګ ته را روان طالبان څه شي دې ته اړ کړي ووچې مخامخ په ټانکونو، زغروالو ګاډو اوډبرينو

سنګرونو را اواړي. په ټول کتاب کې دافغان انسان د مجبوريت کيسه نه ليدل کيږي. يو وخت چې افغانستان د«سرو لښکرو» په منګلو کې را ښکيل و زه د يوه خپل دوست ليدوته چې هوايي پوځي افسر وخواجه رواش ته ورغلم.هغه ورځ هوايي افسرانو له روسي مشاورينو سره يو ميلمستيا درلودله ، زما ملګري زه له ځان سره دغې ميلمستياته ورروستلم. هلته ښکاره شوه چې ميلمستيا د هوايي قواوو د لوی مشاور د مخه ښي لپاره جوړه شوې ده. د ډوډۍ په وخت کې همدغه لوی مشاور وپوښتل چې دا ځوان خو ما ونه پيژانده . ملګري مې زه ديوه ليکوال اوشاعر په نوم ور وپيژندلم، روسي مشاور له مانه يوه جالبه پوښتنه وکړه ويل يې: ته ليکوال او شاعر يې زما پوښتنه داده چې يو شيبه په دې فکر وکړه چې زموږ دپوځيانو يو کاروان ديوه کلي له منځه تيريږي . ناڅاپه له کوم لوري ډزې کيږي او دټانګ په سر يو پوځي لګيږي اوژوند له لاسه ورکوي. ورسره نور پوځيان طبعاً په دې پيښه د ليونتوب تر کچې وحشت ته مخ اړوي او په کلي باندې په درنو ډزو سره ډير کسان مړه او زخمي کيږي. په وژل شو کې د يوې مور په غيږه کې يوماشوم هم خپل سر له لاسه ورکوي. دغه بوره مورسر پرې شوی ماشوم پريږدي ، کورته ننوځي او خپل کورنۍ ټوپک را اخلي اوغره ته خيږي او د ژوند تر پايه زموږ له پوځيانو سره جګړه کوي ، اوس نوکه ته دغه کيسه وليکې د کيسې قهرمان به دې څوک وي؟ هغه وژل شوی روس پوځي، هغه پوځي چې په خپلو ډزو يې د ماشوم سر له تنې جلا کړ او که هغه مورچې ټوپک يې را واخيست او غره ته پورته شوه؟ ما له لږ ځنډ وروسته ورته وويل : بې له شکه زما دکيسې اتل به هغه مور وي. لوی مشاور وې. هوموږ به لاړشو، افغانستان به پريږدو خو زموږ نارواوې به ستاسو د خلکو په کيسو کې پاتې وي. زه د« يو هيواد په جګړه کې » ليکوالوته وايم چې تاسو به لاړ شۍ دا خپلې جوړې شوې کيسې او اتلان به يې تاسوته ګران وي خود همغو درې قهريدلو« طالبانو»کيسې به چې ستاسو په پياوړو سنګرونو در واووښتل زموږ د ادب او فرهنګ ژوندۍ برخه وي. ځکه دا د خلکو کيسوته ور کيووځي څرنګه چې خلک نه مري کيسې او اتلان يې هم مرګ او هيريدنه نه لري.

له پورتنيو لنډو يادونو سره سره هغه چې وايي:« عيب می جمله بګفتی هنرش نيز بګو شرط انصاف نباشد که همه عيب ګويی»يادونه کيږي چې دنوموړي کتاب پښتو ژباړه يو پر ځای کار و او د کتاب لوستل هم لږ تر لږه څيړنيزو کارونو ته ډير څه په لاس ورکوي. باور لرم چې د کتاب ډنمارکي ليکوالوته به هم اوس تر ډيره هغه په خپل اردو له چټې وتی مينتوب اود يوه هيواد اشغال ته دمشروعيت هڅې بې خونده شوي وي.د«يو هيواد په جګړه کې » کتاب تر هرڅه دمخه د راټول شوو اسنادو له مخې دپام وړ دی.دهمدې کتاب په يوه برخه کې ديوه داسې ډنمارکي هيأت خبره هم کيږي چې دنمارک ښي اړخه او تش په نوم کيڼ اړخه لوړمشران د سپتامبر د پيښې په وخت کې په په واشنګټن کې اوسي او لومړۍ الوتکه هم د دوی له سره تيريږي اودپنټاګون مانۍ

لړزوي. دغه هيآت لکه څنګه چې په کيسه يي بيان کې راځي امريکاته په دې خاطر ورځي چې هلته دامريکايی سناتورانو او لويو ستراتيژيستانو هغه ويناوې واوري کومې چې په اروپا کې دامريکايي «دفاعي» راکټونو د ځای پر ځای کولو په اړتيا جوړې شوې وې.داسې ښکاري چې په دغه کنفرانس ډوله ناستو کې ډنمارکيان يواځې نه دې بلکې داروپاه د نور اړوندو هيوادو استازی هم په داسې وخت کې هلته شتون پيداکوي چې ورځ وروسته پر نيويارک او واشنګتن «ترهګريز» يرغل تر سره کيږي. دغه څه نا ځاپي نه بريښي. ښکاري چې دسپتامبر د يولسمې ننداره همداسې جوړه شوې وه چې اروپايي استازي بې ژوندۍ ننداره وکړې او د قهريدلو احساساتو په تندو څپو کې خپلې واکمنۍ دامريکا د راتلونکو کړنو شاته ودروي.« ديو هيواد په جګړه کې» کتاب له دې پلوه غوره نه دی چې ليکوال بې څه فکر او څه دريځ لري بلکې ارزښت يې په دې کې دی چې لوستونکو هغه ترخه بشري ضد خونړي او ورانوونکې پوځي او جاسوسي عمليات ور يادوي چې د افغانستان اوعراق په جګړه کې د دموکراسۍ، ګلوباليزم او بشرغوښتنې مدعيانو تر سره کړيدي. له دې پلوه د نوموړي کتاب هره برخه په يوه کتاب اوښتی شي. هيله من يو چې يو وخت د همدې لويديځي نړۍ له منځ څخه د وجدان آواز را پورته او د لويديځ ټولې تر سره کړې خونړۍ لوبې را تلونکو نسلونو ته انځور کړي او وښيي چې واقعيتونه ټول هغه نه دي چې « د يو هيواد په جګړه کې» ليکوالوانځور کړيدي . شاه محمود حصين

## د ژباړن مقدمه

دا کتاب د ډنمارکي لیکوالانو او ژورنالیستانو په کوښښ لیکل شوی دي. د دوي په وینا د کتاب غوښنینه برخه د جګړې د ډګرونو واقعي اوربښتنی انځورونه تر سیموي.

د کتاب اصلي نوم (یو هیواد په جګړه کې) چې د لارس هیلسکوو [1] او یعقوب سویندسن [2] په واسطه لیکل شوی او په ۲۰۱۲ زکال کې د چاپ څخه را ووتي. خو زه غواړم کتاب ته (ژ) نوی نوم ورکړم. علت یې دا دي چې د کتاب لویه برخه د افغانستان او دوې کوچنۍ برخې د عراق او لیبیا د جګړو په اړوند دي.

ما ژباړن کله چې کتاب د بازار څخه رانیوي او په لوستلو مې پیل وکړي، د هرې پاڼې د لوستلو څخه مې وروسته د کتاب د پاتې برخو د لوستلو سره علاقه ډیریدل. دا ځکه چې په ټولیزه توګه د لویدیزو اروپایې هیوادونو او امریکا د پراخ غوښتنې د سیاست تل ته یې رسولم او هم زما د ټپې شوی هیواد د تاریخي، خونړیو او دردناکو پیښنو بیان د پردیو په ژبه شوی دي. په طبعي ډول د کتاب د لوستلو په جریان کې احتیاط په کار دي ځکه زموږ د هیواد په تړاو د پردي له خوا د پیښنو بیان کیږي. د پورته ټکي په پام کې نیولو سره د کتاب لوستل د هر افغان پوځي، سیاستوال، تاریخ پوهانو او عامو وګړو له پاره ګټور ګنم.

په کتاب کې د لویدیزو او امریکایې پوځونو اتلوالي او ماتې د افغانستان، عراق او لیبیا په جګړو کې تر ډیره بریده روښانه شوي دي. ماته تر ټولو په زړه پوري دا وه چې د لویدیزو او امریکایې پوځونو، سیاسي مشرانو او حتی د عامو وګړو د پراخ غوښتنې حرص روښانه شوی دي. دا په ډیرو څرګندو ټکو اعتراف شوی دي چې په څه چل او فریب پرته د څرګندو شواهدو او دلایلو پر بنسټ د امریکا پخواني جمهور ریس، جورج بوش خپل پوځي ټیم او نور اروپایې غلام هیوادونه اړ باسي چې پرته د ملل متحد د پریکړې څخه په ډیره بیړه پر عراق برید وکړي.

په کتاب کې د پوځیانو علاقه د جګړې سره پرته له دې څخه چې د زرګونو بیګناه انسانانو ژوند ته سوچ وکړي ځکه ډیره وه چې خپلې موډرنې وسلې استعمال کړي. د دوي په آند الوتکې او وسلې یې په ډیپوګانو کې زړې شوي او پوځیان هم وزګار وو. سیاسي مشرانو او پوځیانو بله مهمه موخه دا وه چې امریکایانو ته په جګړو کې د ګډون په وجه ډیر نژدي شي. که د همدغه کتاب پر محتوي بشپړ باور هم وکړو نو به څرګنده شي چې د لویدیزو جنګي ماشین په څومره شرم او ناکامي سره د افغانستان څخه پر

---

[1] Lars Halskov

[2] - Jacom Svendsen

وتلو تلوار كولو. په ډيرو سيمو کې اعتراف کوي چې زموږ پوځيانو يوازې د ځانونو د ژوندي پاته کيدلو له پاره هلي ځلي كولي.

كه څه هم طالبان د دولت مخالفين دی خو بيا هم افغانان او افغان ميندو زيږولي چې په لڅو پښو د نړۍ د قوی ترينه جنګي ماشين سره په جګړه بوخت وو. مجاهدينو هم د شوروي د اشغال پر ضد په ډيره زړه وړتيا جګړه وکړه خو توپير يې دا وو چې همدغه جنګي ماشين يې په اقتصادي او پوځي برخه کې تر شاه ولاړ وو. دا ځل په رسمي بڼه د بهرنيانو مرستې په نشت کې حساب وي خو جګړه د زبر او خطرناکه دښمن په وړاندې ډيره توده وه.

کاش افغانانو د جګړې د ډګر هوښياري او زړه وړتيا د هيواد په ابادي او بيا رغونه کې ښودلي وای او په عصري علومو يې ځانونه او راتلونکي نسل داسې سمبال کړی وای چې د هر اشغالګر د سترګو اغزي واي.

د کتاب په وروستۍ برخه کې د ليکوالانو له خوا د جګړو ارزونه شوی ده چې په لوړه کچه واقعيتونو ته نژدې ده.

ما ډيره هڅه کړی ده چې کتاب په بشپړه امانتداري وژباړم. په ټول کتاب کې مې څو محدودې پاڼې ژباړلي نه دي ځکه د موضوع سره يې هيڅ تړاو نه درلودي. په همدې ډول د وژل شوو سرتيرو او د وخت د لوړ پوړو چارواکو د نومونو څخه د کتاب په وروستۍ برخه کې ډه ډه شوی ده. دا ځکه چې د کتاب په جريان کې ټول نومونه شته. د راتلونکو څيړنو په موخه مې ټول مهم نومونه په لاتيني حروفو په تکرار څو ځله ليکلي دي. د ژباړنې په ترځ کې مې ځينې تبصري او يا د مسايلو د وضاحت په تړاو لنډ معلوماتونه ليکلي دي خو د جملې په پيل کې مې (ژ) يانې ژباړن کلمه ليکلي ده. په پای کې د ازاد او خپلواک افغانستان د بريالیتوب له پاره د دوعا لاسونه پورته کوم

په درناوي محمد ابراهيم نعيمي اکتوبر ۲۰۱۵ زکال ډنمارک

## کتاب د وقايې څخه لنډ معلومات

تير لس کلونه په پټه توګه تاريخي ډرامې جريان درلودي. په ټوليزه توګه د ډنمارک په څير کوچنی هيواد د ۲۰۰۱ زکال څخه را وروسته د افغانستان، عراق په جګړو او وروسته د ليبيا په هوايي بمباريو کې خپل جګړه ايزه تاريخ په داسې حال کې بيانوي چې جګړې ته يې هيڅ ډول تياری نه درلودي. دا جګړو ډير اقتصادي لګښتونه درلودل او انساني تلفات هم په لوړه کچه ور سره مل وو.

دا بیان د ۲۰۰۱ زکال د سپټمبر د یو لسمې (۱۱) نیټې د پیښې څخه را وروسته پیلیږي. په کتاب کې به د ډیرو هغو پټو غونډو د پریکړو څخه پرده پورته شي چې د تړلو دروازو شاه ته د سیاسي مشرانو او پوځیانو تر مینځ جوړیدلي. په کتاب کې د پورته پریکړو پایلې د ډنمارک، افغانستان او عراق له پاره هم بیان شوي دي.

کیسې د هغو کسانو د خولې څخه بیان شوی دي چې په پیښو کې شامل وو، د بیلګې په توګه: د ناټو ستراتیژي جوړونکي، د ډنمارک په پارلمان کې د سیاسي مشرانو او پوځیانو بحثونه کوم چې پریکړې یې کولي. د سرتیرو د خولې کیسې هم په کتاب کې ځای شوی دي.

## د کتاب د لیکوالانو په تړاو لنډ معلومات

لارس هیلسکوو: [۳]

نوموړی په ۱۹۶۳ زکال زیږیدلی دي. لارس د پولیټکن ډنمارکي ورځپاڼې ژورنالیست دي. د ۲۰۰۱ زکال د سپټمبر د یولسمې نیټې په تړاو یې په امریکا کې لیکنې او څیړنې کړی دي. نوموړي د افغانستان، عراق او لیبیا د جګړې په اړوند هم لیکنې او څیړنې کړی دي. لارس د درو کتابونو چې یو کتاب یې د کوسوو د جګړو په باره کې دی، مرستندوي لیکوال دي.

یعقوب سوینسن: [٤]

یعقوب د پولیټکن ډنمارکي ورځپاڼې ژورنالیست چې د دفاع وزارت او امنیتي چارو د خبرونو ټولولو مسولیت یې هم درلودي. نوموړي د افغانستان، عراق او لیبیا جګړو په تړاو لیکنې کړي دي. څو ځله د ډنمارکي پوځیانو د لیدلو له پاره هلمند ته تللي دي.

## په افغانستان، عراق او لیبیا کې د ناټو جګړې

دوي په نورماله توګه د موټر پر بانټ ناست وي. دغه ژړه غوټه د دی سمبول دی چې د ډنمارکي سره په جګړه کې ملا تړ کیږي. دا غوټه کیدلای شي په نیکټایې، غوړوالې او یا هم د سوغات د پټۍ په ډول وي. ځینې کسان کیدلای شي چې دا غوټه لیري کړي ځکه د ډیرو له پاره د سیاسي هڅونې په مانا ده . نن د اونۍ عادي رسمي ورځ ده او دا یوسیاسي خبرتیا نه ده. مانا دا چې پرته له توپیر څخه چې سړی د روانې جګړې

---

[۳] - Lars Halskov

[٤] - Jacob Svedsen

ملاتړي او يا مخالف دي چې ډنمارک ور په کبنې ښکيل دي، سړي کولای شي د دغو سرتيرو څخه ملاتړ وکړي کوم چې د ډنمارک د پارلمان ډيرکيو جګړې ته ليږلي دي. د همدغو ژړ رنګه سمبولونو پيسي د جګړې څخه د راګرځيدلو اتلانو سرتيرو او د دوي د کورنيو سره د مرستې له پاره دي. څه پيښه شوه چې دغه ژړ سمبول د ډنمارک د ښارونو څخه بهر پر سړکانو د عادي سمبول بڼه واخيستل؟ څه پيښه شوه چې يو هيواد په دوديزه توګه په بشري مرستو او د ملل متحد تر بيرغ لاندې دندو کې شهرت درلودي خو ناڅاپه د مخامخ جګړو په ډګر کې راښکيل شو؟ هغه هيواد چې د ښې او کيڼ اړخه ګوندونو ګډه ژبه داسې بدله شوه چې د بهرنيو غريبو هيوادونو سره د مرستو او ډيپلوماسۍ په بدل کې پوځي خوځښتونه د ورځي د ستونزو د حل له پاره عادي او اړين وګڼي. يو هيواد چې د لومړي ځل له پاره يې په ۲۰۱۱ زکال کې د هغو سرتيرو له پاره چې په نړيوالو پوځي خوځښتونو کې ژوند د لاسه ورکوي، د خاطراتو کتاب پرانيستۍ او د ډيرو نورو سرتيرو د خاطراتو د ژوندي پاته کيدلو له پاره ځای ور په کبنې شته. دغه نوي پرمختګ به په دغه کتاب کې بيان شي. موږ به د تيرو لسو کلنو د جګړې تاريخ چې د ۲۰۰۱ زکال د سپټمبر د (۱۱) نيټې د پيښې څخه را ورسته ډنمارکي سرتيري هره ورځ په افغانستان، عراق او وروسته په ليبيا کې په جګړو بوخت وه، بيان کړو. ډير کتابونه چې تر اوسه پورې خپاره شوي دي، په لويه کچه په جګړه کې د ښکيلو سرتيرو د ټاکلو کيسو غونډال وي کوم چې دوي ورسره مخامخ شوي وي. په دغه کتاب کې زموږ هيله دا ده چې وروستي لس کلونه په ځيځيري توګه د پيښو اړيکې غوڼ چاڼ کړو او ورسره د ډنمارک د جګړې تاريخ بيان کړو او همدا ډول سياسي او پوځي پريکړې چې د همدغې جګړې په تړاو په امريکا، انګليستان او ناټو کې شوي دي، په تفصيل بيان کړو. موږ به تر ډيرې کچې هڅه وکړو چې پيښې د هغو کسانو د خولو څخه بيان کړو چې ورباندې تيري شوي وي. د پيښو بيان د ډنمارک د پارلمان د دهليزونو څخه پيل، د دفاع وزارت د تړلو دروازو تر شاه د غونډو او د هغو سرتيرو د ژوند واقعيتونه چې په زرګونو کيلومتره د ډنمارک څخه ليري د جګړو په ډګرونو کې جنګيږي، بيان کړو. دا يو ژورناليستيک کتاب دي چې ټولې مهمې پيښې کوم چې د سياسيونو، د پوځ په مشرتابه او سرتيرو ته د جګړو په ډګر کې پيښې شوي دي، تر پوښښ لاندې نيولي دي. کله چې تاسو کتاب ولوستي نو په جګړو کې د ډنمارک د ګډون په تړاو خپل قضاوت کولای شي. د پيښو بيان د سرچينو څخه په ليکلې بڼه او يا هم د مرکو په جريان کې تر لاسه شوی چې په ځينو حالاتو کې مرکې په مخامخ بڼه او په ځينو حالاتو کې د نوم د نه اخيستلو په شرط شوی دي. موږ د پيښو جريان ته په انتقادي نظر کتلي دي. نو ځکه راټول شوي معلوماتونه ډير کنترول شوي، د نورو سرچينو سره د عينې پيښو په تړاو پرتله شوی دي. په ځينو ځانګړو حالاتو کې د مهمو پيښو په

تړاو همږغي نه وه نو موږ هم د پیښې دواړې بڼې لیکلي دي. ځینې معلوماتو زموږ د خپلو سترګو لیدلي حال دي چې د پیښو په جریان کې مو شتون درلودي.

موږ د یو شمیر مهمو یانې د هغه وخت د کلیدو کسانو سره مرکې کړې دي. د بیلګې په توګه د وخت د صدراعظم، اندریس فوک غاسموسن ، د بهرنیو چارو وزیر، پیر ستي میولر، د دفاع وزیره، ګیټه لیله لوند، د وخت د لوی درستیز، یسپر هیلسیو، تیم سلوت یونسن او کنود بارټیلس سره مرکې شوي دي. د حکومت د اپوزسیون مشرانو د بیلګې په توګه موګنس لویکه ټافټ، نیلس هیلویګ پیترسن او هولګر نیلسن او یو شمیر نورو سیاستوالو د کتاب د محتوا د بډای کولو له پاره مرستې کړی دي. په دغه قطار کې یو شمیر دولتي لوړپوړي چارواکي، سرتیري او افسران هم شته چې د خلکو په مینځ کې ډیر شهرت نه لري خو په ټاکلو وختونو کې رغنده رول لوبولی دي. په همدي توګه موږ د انګلیستان د افسرانو، څیړونکو او لوړپوړو چارواکو سره چې په ناټو کې دندې درلودلې، خبرې کړی دي. همدا ډول نورې مختلفي سرچینې وې چې د کتاب د محتوا په غني کولو کې ډیره مرسته کړی ده خو د مختلفو دلایلو له مخې یې نه غوښتل چې هویت یې څرګند شي. همدا ډول موږ ډیر پټ اسناد د پوځ او دفاع زارت او هم ډیر زیات کتابونه او لیکنې د موضوع په تړاو لوستي دي. په دغه کتاب کې هم هڅه شوي ده چې ډیرې مهمې پریکړې چې تر اوس پورې د راز په بڼه پټې ساتل کیدي، بیان شوی دي. نو ځکه په کتاب کې یو شمیر نامعلومه پیښې او معلوماتونه شته چې موږ د اټکل له مخې بیان کړی دي چې د ډنمارک په دغه تاریخي بهیر کې څه پیښ شوی دي. په خپل ذات کې دا یوه په زړه پورې پروژه ده چې د حکومتونو د بدلون سره سره هڅه شوي ده چې د ډنمارکي پوځ تاریکه برخه په جګړه کې پټه ساتل شوی ده.

# خونړي بريدونه

ډنمارک او افغانستان د ۲۰۰۶ زکال د جولای مياشت

جورج ارنه فيټرسن[٥] يو (۲۸) کلن ځوان (برېښنايي کارپوه) برقي دی چې د بوسنيا په جګړه کې برخه اخيستې وه خو د پوځ ښخه ووت، ولې د پوځ سره يي داسې وعده کړې وه چې د اړتيا په وخت کې کيدلای شي چې بيا پوځي دنده تر سره کړی.

يوه ورځ ناڅاپه د جورج موبايل ټليفون ته زنګ راغي، دا همغه د جورج پخواني پوځي مشر و او داسې وپوښتل. ايا تيار يي چې افغانستان ته د دندې د اجرأ له پاره ولاړ شي؟ موږ هلته يو نفر درلود خو اوس ناروغ دی، ته به د هغه په عوض د هغه دنده مخته بوزي.

بلي: جورج هم پرته له ځنډه د هوکي ځواب ورکړ. څه وخت حرکت دی؟ د سې شنبې په ورځ بايد وخوځيږي. جورج دوې لونې لري خو تر اوسه پورې واده نه دی کړي، مخکې تر دي چې هلمند ته حرکت وکړي د اولادونو د مور سره يي واده وکړ. (ژباړن: په اروپايي هيوادونو کې کيدلای شي چې سړی د يوې ښځې څخه اولادونه ولري خو رسمي واده يي کړی نه وي، داسې کسان هم شته چې د ښځې سره ژوند کوي خو د ژوند تر پايه ورسره رسمي واده نه وی.)

جورج د يو افسر او درو نورو سرتيرو سره يوځای د هلمند ولايت د موسی قلعه ولسوالي ته په الوتکه کې ولاړل. دوی دنده درلوده چې د ميشت پوځي واحد سره چې (۱۲۰) سرتيري وه مرسته او لاربښوونې ورته وکړي. په موسی قلعه کې پر پوځيانو د طالبانو له خوا دومداره بريدونه کيدل. برسيره پر ډنمارکي سرتيرو، (۳۰) تنه برتانوي او (۶۰) تنه افغان پوليسو هلته شتون درلودي خو د ډيرو اونيو د محاصرې په پايله کې وږي او ستړی وه. پوځيان د ولسوالی په زړه ودانۍ کې کلابند وه او په حقيقت کې ښار د طالبانو تر کنترول لاندي وو. د ډنمارکي پوځيانو لومړی دنده دا وه چې د انګريزي سرتيرو دنده واخلي او دوی رخصت کړي. موږ د شپې له خوا په هليکوپټر کې يوړل شوو. هلته انګريز پوځي خپلو سرتيرو ته امر وکړ چې په (۳۰) ثانيو کې خپل توپکان د مرميو څخه تش او د تګ له پاره تيار شي. شاوخوا د الوتکې دوړو نيولي و او يو شمير پوځيانو پهره کول په همدغه شيبه ملا د ماخستن اذان وکړ. جورج داسې حالت وليد چې انتظار يي نه درلود. په منډه يي ځان د کمپ دروازې ته ورساوه. جورج او يو بل پوځي ته يي

---

[٥] - Georg Arne Petesen

د یوې بلې ودانۍ د بام پر سر چې څو متره د کمپ د دیوال څخه لیري وه، پوسته کې دنده ورکړه. د پوستې څخه تر کمپ پوري راتلل باید په ځکیدلو او یانورو پوځي مانورو باندې امکان درلودي. د دغې ودانۍ ساتل ځکه ډیر ارزښت درلود، که طالبانو هغه ودانۍ نیولی وای نو په نیغه یې د کمپ پر مینځ ډزې کولای شوای.

جورج او ملګري پوځي ټامس رایداهل [٦]پوهیدل چې طالبان غواړي یو ډله ایزه برید وکړي زموږ. ډنمارکي سرتیري د خپلو وسلو سره د ریګو د بوجیو شاته ناست او د څار په حال کې وو. تاریکي لا خپره شوی نه وه خو هوا ډیره توده وه. ناڅاپه د سرتیرو سترګې پر یو نا اشنا شي باندې چې (٣٥٠) متره لیري و، ولګیدي. دغه شی درې پښې (سه پایې) ته ورته و چې یو انتن ورباندې ښکاریدي خو د لین (برقي تار) بل سر د ودانۍ پر بام په پانو کې پټ و. ټامس هڅه وکړه چې مخابرې ته نژدی شی تر څو اطلاع ورکړي چې کوم ناشنا شي یي تر سترګو کیږي خو نوموړی مخابري ته ونه رسیدی چې د بمب ږغ هغه ودراوه. ټامس ځان د بوجیو شاته پټ کړ، په دغه وخت کې جورج په پوستې کې ویده و، هغوي بل لاسی بم و ودانۍ ته وروغورځاوه چې په لومړی پوړ کې وچاودي، جورج هم په منډه شو.

تر چاودنې وروسته جورج د چت پرهغه څنډه پروت و چې بمب د چاودنې په وخت کې سوری ور په کښې جوړ کړی و. جورج پر هغه لورې ډزې پیل کړی چې لاسی بم ورته راغورځول شوی و. جورج پر پاته شوی چت باندې ولغړیدي او د ریګو بوجی شاته یي ځان پټ کړ او په حیرانتیا یي د ځان سره وویل چې دا څه پیښه شوه؟ د چت زیاته برخه نړیدلی وه یوازې هغه برخه پاته وه چې جورج ورباندی پروت و ځکه چې تر دغه برخې کانکریټي پایه لاندی وه. دروند ماشیندار د لومړی او دوهم پوړونو په تشه (خالی ځای) کې ولویدی او جورج یي هم خوږ کړ.

کله چې حالت تر کنترول لاندې راغي، ډنمارکیانو تر لسو حساب وکړ او ژور نفس یي وکیښ. کله چې ډنمارکیانو د دیوال هغه بل لوری ته وکتل، څرګنده شوه چې پر کمپ باندې د ختیځ او لویدیز له لوري برید شوی وه. د سهیل لوری ته د (٣٠٠) مترو په واټن څلور تنه د بام پر سرولاړ وو او یو د بل سره یي خبري کولي. لاسونه یي لوړ پورته کړه او د بریالیتوب ناري یي ووهلي. جورج ډزې ور باندې وکړي یو تن یي ولویدي او نور وتښتیدل. یو ځل یي ټامس ور په یاد شو. کله چې د پوستې ودانۍ د برید په پایله کې چپه شوه نو ټامس د ټولو هڅو سره سره د شپږ متره لوړې څخه لاندې راولوید، هر لوری دوړی او خاوري وې، ټامس کینه سترګه د وینو ډکه وه او څه یي نه ورباندی

[٦] - Thomas Radahl

ليدل. نوموړی لاندې پوړ ته راالويدلي وه چې د ديوال يوه لويه برخه يي پر ځنګنو پرته وه. نوموړی مخ پاک کړ خو د تندی د ټپونو څخه يي وينې جاری شوی. ټامس د ډزو اوازونه اروېدل او د چپه شوی ديوال په يوه برخه کې لوی سوری و. نوموړي سوچ وکړي که زه بهرته وګورم په بشپړ باور به مخالفين ما هم ووينې. ټامس هڅه وکړه چې د ځنګنونو څخه د ديوال لويدلې برخه ليري کړی خو د تيښتې لار يوازې هغه لوری ته وه چې پر ډنماركيانو ډزې کيدلې. ټامس اړ شو چې ځان د نړيدلی ديوال يوې پايې (ستنې) ته پټ کړي. ټامس ډير ډاريدی، د ټامس توپک د لويدلو په وخت کې تر خاورو لاندی شوی و، يوازې يوه تومانچه چې دوه شاجوره يي درلوده او هر شاجور (۹) مرمي درلودې، ور سره وه. ټامس په تومانچې باندې امتحانی ډز وکړ تر څو باورپيدا کړی چې تومانچه کار کوي. د ټامس سره د جورج د ژوندی پاته کيدلو سوچ هم و. ټامس په لوړ اواز په جورج پسي نارې ووهلی تر څو د پاسه يي د جورج اواز واوريدی او وروسته يي هغه وليدی.

ټامس ور ږغ کړه، زه پر سر ټپی شوی يم، وينې راڅخه بهيږي او ځان را ايستلای نه شم.

صبر وکړه، موږ به هغه څه وکړو هر څه مو چې په توان کې وي هغه به وکړو، د هر لورې ډزي راباندې کيږي. ټامس پوه شو چې جګړه روانه ده، کيدای شی نور هم ټپيان شوی او مړه وي. په دغه شيبه کې پر ټامس د مرګ د ډار څپه خپره شوه، سوچ يي وکړ چې ولې هلمند ته راغلم، زما د ميرمنې، کاملې هم خوښه نه وه. ما هم ميل نه درلود چې د خپل مرګ په اړوند سوچ وکړم. ولې ما خپل وصيت ليک و نه ليکی؟ وروستی نيم ساعت ټامس خپل د تومانچې خوله د هغه سوری پر خوا نيولی وه چې کيدلای شوای هره شيبه طالبان د همدغې لاری ودانۍ ته ننوتی وای. دا چې د طالبانو د بريد څخه به ځان وساتلای شی، چانس يي (۵۰) سلنه وه. وروسته يي د ځان سره سوچ وکړي چې اوس بايد سوچونه پريږدم او ټول فکري تمرکز د هغه موری (سوری) پر لور وساتم چې د طالبانو د راننوتلو خطر شته.

جورج د بام پر سر د خپلې درنې ماشينګړي مرمي خلاصی کړي خو هلته په پوسته کې سپکه ماشينګړی وه چې جورج واخيستل او د سهيل لورته يی نښان ونيوی، کوم چې طالبانو د دغه لوری څخه لاسی بمب راغورځولی و. ناڅاپه د پوستي په (۷۰) متري کې طالبان مخامخ پر پوستي راځغاستل. جورج پوه شو چې طالبان په دی فکر کې دي چې موږ پوسته خوشي کړی ده، ځکه جورج ډزې نه کولي. طالبان په يوه تنګه کوڅه کې راځغاستل خو د ځان پټولو څه يي نه درلوده. جورج د ماشيګنړی ډزې پيل کړی کيدلای شی چې (۱۰ ـ ۱۲) طالبان يي ويشتي وي خو د ټولو شميرل ممکن نه وو. جورج ډزې کولي او بيا به يي ځان پټ کړ. طالبانو د پرمختګ څخه لاس واخيست خو

پر جورج يي ډزې زياتي کړي. جورج که څه هم پنځه کاله په بوسنيا کې و خو هيڅکله يي پر انسان ډز نه وه کړي، جورج دا فکر کولو چې طالبان به هم واړه ماشومان لري. جورج دا سوچ هم کولو چې ټول طالبان بنسټپال نه دي، ځينې کسان به اړ ايستل شوی وي. جورج داسي سوچ هم وکړ چې کيدلای شی د ده په ډزو داسي کسان وژل شوي وي چې پرته د ډنمارکيانو او انګريزانو سره جګړه بل امکان به يی نه درلود. ورووسته جورج د ځان سره وويل که طالبانو بريد کړی نه وای، دا پيښه نه رامينځته کيدل او که مې ډزې کړی نه وای، زما ژوند ته ګواښ وه او د بل لوری ملګری مې ټامس ټپي په کښته پوړ کې پروت دی، د هغه څخه ساتنه او دفاع کوم.

ټامس د سوری څخه يو څيره وليدل، هغه انګريزي پرستار، ويس و ځکه ټامس د مرستې کولو چيغې وهلي. پرستار د څو انګريزي سرتيرو سره په څکيدولو ځانونه رانژدي کړل او د جورج سره يي هم مرسته وکړه تر څو طالبان پر شا تګ ته اړ باسي. پرستار يو بنداژ ټامس ته وغورځاوه چې خپل ټپ ورباندې وتړی تر څو د تندي وينې يې ودريږی خو ټامس د بنداژ تړلو وخت نه درلود. ټامس په بنداژ باندې د تندي وينې پاکې کړي خو خپل تومانچه يې هغه لوري ته نيولي وه چې د طالبانو د راتلو خطر وه. پرستار هڅه وکړه چې يو تناب پيدا کړی او ټامس ته يي وروغورځوي خو هلته تناب نه و. يو انګريزي سرتيری د يو زاړه چپرکټ يوه څنډه پيدا کړه چې هغه سوری په وتړی کوم چې د طالبانو د راتلو خطر وه. انګريزی سرتيری د شپږ مترو لوړوالي څخه کښتنې پوړ ته و ټامس ته وروغورځيدي. سرتيری چې را ولويدي، پايه يې د ټامس څخه ليري کړه نو هڅه يي وکړه چې په ديوال کې يو سوری د کمپ وخوا ته جوړ کړی، ممکن د دغې لارې څخه ووزي خو بريالی نه شو. د چټ جوړې برخې ته څو نور سرتيري هم راغلل. دوي په څکيدلو سره خوځښت کولو خو د مرميو ورباندې باران وو.

وروسته د يوې زينې په مرسته کښته راغلل تر څو ټامس يي د سينې په څکيدلو کمپ ته ورسولو. په کمپ کې د تندي ټپ وروتړي او په سبا ورځ د هليکوتر په واسطه پوځي روغتون ته انتقال شو او د تندي ټپ يي (۱۷) کوکه ور وګنډي.

جورج د موسی قلعه په کمپ کې پاته شو تر څو ډنمارکي سرتيري راشي او د کمپ ساتل باوري شي. څو راتلونکي اونۍ جورج او ډنمارکي سرتيرو سخت تمرينونه وکړل. دا هغه سخته جګړه وه چې ډنمارکي سرتيري د (۱۸۶۴) زکال وروسته د لومړی ځل له پاره ور سره مخامخ شوی وو. (ژباړونکي: په افغانستان کې د پخواني شوروي اتحاد نه ماتيدونکي سري لښکري هم د بی وزلو، لڅو پښو افغانانو د ميړانې په پايله کې پر ځنګنو شوي. دا دي اوس لويديز جګړه ايزه ماشين ازمويل شوي لښکر د دي پر ځای چې افغانان وساتي، خپله په خرابو کې پټ دي. او د همدغو بيچاره، لڅو پښو خلکو د ډار څخه وايي چې په تيرو (۲۰۰) کلنو کې دا لومړی سخته جګړه ده.)

ف

د ډنمارک د دفاع وزارت مشرانو همیشه ویاړ کولو چې زموږ پوځیان په هر ډول شرایطو کې د ورکړل شوو دندو د عهدې څخه په افغانستان او عراق کې په بریالیتوب وتلای شي. نو ځکه دا بریالیتوب مو په نصیب شوو چې زموږ پوځیان په اصلي جګړه کې برخه واخلي خو د پوځ جنرال حیرت وړی و چې جګړه په هلمند کې د پیل څخه ډیره په زرب روانه وه.

د قوماندې د مرکز مشر ډنمارکی تورن جنرال پاول کیاسکوو [٧] لومړی کس و چې د جګړې په سختوالی پوه شو. د جورج او ټامس د موسی قلعه د پیښې څخه څو ورځې مخکې تورن جنرال په هلمند کې د کمپ باستیون [٨] د لیدلو له پاره تللی و، هلته نوموړی وپوهیدې چې جګړه زموږ تر اټکل او انتظار څخه سخته ده. همدغه علت و چې ډنمارکي جنرال د ناټو څخه د جنګي الوتکو مرسته وغوښته چې پرته له دې څخه تیار نه و چې ډنمارکي سرتیري موسی قلعه ته ولیږي. کله چې د جنګي الوتکو د مرستې وعده وشوه نو جنرال باور پیدا کړ چې ډنمارکي پوځیان به د دندې د عهدې څخه ووزي خو اندیښنه یې درلوده.

تورن جنرال د ډنمارک د لوی درستیز، یسپر هیلسیو ته زنګ وواهه او د جګړې د شدت په اړوند یې خبرداری ورکړ او هیله څرګنده کړه چې موضوع باید د دفاع وزیر ته هم خبر ورکړل شي. نوموړي د رخصتیو له پاره راغی خو اندیښمن و، لازمه یې ونه ګڼل چې د خپلو پوځیانو څخه لیري وي، ځکه د بدو پیښو انتظار یې درلودې نو رخصتې یې لنډه او تر دوو ورځو وروسته یې پای ته ورسول. هره ورځ د سهار پر نهو بجو لوی درستیز ته لنډ راپور مخابره کیدي، کله چې جګړه په موسی قلعه کې زیاته شوه، د ډنمارک لوي درستیز څلور ویشت ساعته ور سره ټلیفوني اړیکي درلودې. لوی درستیز هره ورځ څوځله د دفاع وزیر ته ټلیفوني معلومات ورکاوه. لوی درستیز غوښتل چې د جګړې څخه سیاسي ملاتړ موجود وي او دا یې نه غوښتل چې سیاستوال په ناڅاپې توګه د جګړې د شدت څخه د ورځپاڼو د لوستلو له لاری خبر شي. دوې ورځې وروسته په ډنمارکي ورځپاڼو کې د جګړې په تړاو خبرونه خپاره شوه خو بیا هم ډنمارکي پوځې واحد خوشبخته وه چې جورج او ټامس دندې ته دوام ورکړي. په دغه موده کې (١١) ډنمارکي سرتیري ټپیان شوه خو څوک مړه نه شو. په غیري معمولي توګه د پارلمان د دفاعي کمسیون غړي په بیړنۍ توګه د ٢٠٠٦ زکال د اګست په (٧) نیټه د روخصتیو څخه را وغوښتل شول چې نیمایي غونډې ته حاضر شول او لوی درستیز په موسی قلعه کې د جګړې د شدت په تړاو معلومات وړاندي کړل. لوی درستیز غونډې ته په جزییاتو

- Poul Kiærskou [٧]

- Comp Bostion [٨]

د انځورونو سره معلومات ورکړل او د سیمې نقشه یې هم وروښودل. په غونډه کې ټول اندیښمن ښکاریدل او لکه چې معمول وه، د دفاع وزیر په دفتر کې خوښي نه تر سترګو کیده.

لوی درستیز سیاستوال ارام کړل او هیله وښودله چې د جګړې شدت به لنډ مهاله وي، په دایمي توګه به جګړه په دومره شدت نه وي او باور یې ښکاره کړ چې ډنمارکي سرتیري به ورکړل شوې دندې په ښه وجه سرته ورسوي. لوی درستیز زیاته کړه چې موږ د دومره شدیدې جګړې انتظار نه درلود خو زموږ سرتیرو ښه تمرینونه کړی دي. وروسته څرګنده شوه چې د موسی قلعه جګړه په هلمند کې د ځوکلنې جګړې پیل و.

د ډنمارک فعال بهرنی سیاست د پوځي فعالیتونو لوړ ترین پوړ ته ورسید.

# لومړی څپرکی

## ترهګر بريدونه د ۲۰۰۱ ـ ۲۰۱۲ زکال

۱۱ سپټمبر ۲۰۱۱ زکال

سهار له وخته (۱۹) کسان د امريکا په ختيزه برخه کې څلورو مختلفو الوتکو ته پورته کيږي خو تر الوتلو لږ شيبه وروسته دوي د الوتکو کنترول په خپل لاسونو کې اخلي. لږ شيبه وروسته دوې الوتکې د امريکا د تجارتي مرکز د دو لويو برجونو سره په نيويارک کې ټکر کوي او يوه بله الوتکه په واشنګټن کې د امريکا د دفاع وزارت د ماڼې، پنټاګون سره نښلوي خو وروستۍ الوتکه مخکې له دی څخه چې ټاکلې موخې ته په واشنګټن کې ورسيږي، په پنسلوانيا کې راغورځول کيږي. د دغه بريد مجموعي قربانيان (۳۰۰۰) کسان ول.

د سپټمبر (۱۲) دولسمه ۲۰۰۱ زکال

ناټو د (۵) فقري څخه کار اخلي په دی مانا چې پر امريکا ترهګريز بريد د ناټو پر ټولو غړو بريد وګڼل شو.

۱۴ سپټمبر ۲۰۰۱ زکال

د امريکايانو په آند دغه ترهګريز بريد د القاعده د ملاتړو په واسطه تر سره شوو او د امريکا ولسمشر جورج بوش د ماتم په مراسمو کې وينا واورل.

۲۰ سپټمبر ۲۰۰۱ زکال

د امريکا په کانګرس کې د امريکا ولسمشر جورج بوش وويل: په افغانستان کې د القاعدې پر ضد جګړه لومړی قدم دي خو نړيوال بايد وپوهيږي، « يا به زموږ سره وي او يا به د ترهګرو سره وی».

۲۱ سپټمبر ۲۰۰۱ زکال

د ډنمارک د هغه وخت صدراعظم، پاول نیوروف غاسموسن[٩] وویل چې ډنمارک د امریکا تر ټنګ تر ورروستۍ شیبې ولاړ دی او د ډنمارک پوځ هم په واک کې ورکوي.

**٧ اکتوبر ٢٠٠١ زکال:**

(ژباړن: د افغانستان د دوهم ځلي اشغال توره ورځ) امریکایانو پر القاعده او طالبانو په افغانستان کې بریدونه پیل کړل.

نوامبر ٢٠٠١ زکال: په ډنمارک کې د لیبرال ګوند (ژ:په کیڼ باندې نومول شوی دی خو په اصل کې ښۍ اړخه ګوند دي.) مشر، اندرس فوک غاسموسن[١٠] په ټاکنو کې بریالي او د ډنمارک نوی صدراعظم شو.

د ډنمارک د خلکو ګوند د[١١]مشرتابه غړي، پیټرسکوریوف[١٢] او د یوموټي لست د ګوند[١٣] د مشرتابه غړي، سیون سینودرګورد[١٤] د رسمي کاري سفر له پاره امریکا ته روان شول او د واشنګټن لتهام هوټل کې ځای ونیوي. (ژباړن: د ډنمارک د خلکو ګوند ښۍ اړخ ګوند دي چې په ځانګړی توګه د کډوالو د راتلو سره کلک مخالفت لري. یو موټي لست، کیڼ اړخ ګوند دی، د پخوانیو کیڼ اړخو او کمونستانو څخه جوړ شوی ګوند دي چې د کډوالو سره ډیر صمیمیت لري.)

راتلونکي دوي ورځي نوموړي د ډنمارک د پارلمان د بهرنیو اړیکو د کمیسون د استازو په توګه د کارپوهانو او اړوندو ادارو د مشرانو ویناوي د امریکا د دفاعي راکټونو د نصبولو په تړاو اوریدلي. که څه هم د وړی ورروستۍ ورځي وي خو بیا هم ښه لمر ځلیده. دوي دواړو پریکړه وکړه چې د پوټومک[١٥] رود پر څنډه د موټرونو د لوګیو څخه لیرې منډه وکړي، د منډې په جریان کې لومړي

---

- Poul Nyrup Rasmussen[٩]
- Anders Fogh Rasmussen[١٠]
-DF, Danske Folkeparti[١١]
- Peter Skaarup[١٢]
- Enhedlisten[١٣]
- Søren Søndergaard[١٤]
- Potomac[١٥]

الوتکه د دوي پر سر تیره شوه چې د رونالد ریګن په ملي هوایي ډګر کې کښیناستل. یوه ورځ مخکې کله چې دوي واشنګټن ته راورسیدل او په هوټل کې ځای پرځای شول نو باقیمانده ورځ رخصت وو ولې د امریکا د پلازمینې وخت د ډنمارک څخه شپږ ساعته مخکې دی نو د هیت ټول غړي ستړي او ستومانه وو، ویده شوه. د پورته دونفرو څخه برسیره لاندې کسان هم د هیت غړي وو.

د ځان ساتو د ګوند (کنسرویټیب) غړی، پیر ستی میولر[١٦]، د سوسیالسیت ګوند غړي، هولګر نیلسن[١٧]، د سوسیال ډموکراټ ګوند غړي[١٨]، یپه کوفود ، او انګرید غاسموسن[١٩]، د ګرینلنډ استازي د ډنمارک په پارلمان کې، ایلن کریستینسن[٢٠]؛ د لیبرال ګوند غړی( چې کینې یي نوم دي خو ښی اړخه ګوند دي)، سوین ایج ینسبیو[٢١]، او یو شمیر د ګرینلنډ د کورنې پارلمان غړي د هیت په ترکیب کې شامل وو.

د هیت استازې خپلو کوټو ته ولاړل خو سیون سینودرګورد تلویزیون چالان کړ، په پروګرام کې د ډموکراټ ګوند سناتور د امریکا پر بهرني سیاست بحث کولو چې د سیون سینودرګورد له پاره په زړه پوري شو. د بحث اصلي موضوع د جورج بوش د دفاعي راکټونو نصبول وو. د بوش پلان داسې و چې د ګرینلنډ په توله[٢٢](ژ: د ګرینلنډ یو سیمه ده) کې راکټونه نصب کړي نو ځکه د ډنمارک او د ګرینلنډ سیاسیون غونډې ته رابلل شوی وو. په اصل کې دغه نظریه د رونالد ریګن (١٩٨٣ زکال) و چې د شوروي اتحاد په مقابل کې یو پراخ دفاعي راکټي سیستم جوړ کړي مانا دا چې د ستورو جګړه. خو د سړې جګړې په پای ته رسیدو سره د دغو راکټونو د نصبولو اساسي دلیل له مینځه ولاړ. نوي پروژه

[١٦] - Per Stig Møller
[١٧] - Holger K. Nielsen
[١٨] - Jeppe Koffod
[١٩] - Ingrid Rasmussen
[٢٠] - Ellen Kristensen
[٢١] - Svend Aage Jensby
[٢٢] - Thule

د جورج بوش لخوا د يو ډول دفاعي سيتم جوړول د ځينو جګړه مارو دولتونو څخه د د فاع په خاطر وړاندی شول.

په امريکا کې پر دغه موضوع تودو بحثونو جريان درلودي، سيون سيونه ګورد په تلويزيون کې د جوسيپ بيدين [23] بحث ته غوږ و. جوسيپ خبرداری ورکړ چې دا پروژې ډير زيات لګښت درلودی او دا ډول دفاعي سيستم جوړول تسليحاتي سيالې ته خوځښت ورکوي. خو يوه ټکی د سيون پاملرنه ډيره جلب کړل.

د امريکا نوموړی سناتور جوسيف څرګنده کړه چې د پوځ مشرتابه هم په دی نظر دي چې د اټومي جګړې خطر ډير لږ دی خو سيمه ايزې جګړې او خطرونه زيات احتمال لري د بيلګې په توګه جګړې، په امريکا او يا په نورو هيوادونو کې ترهګريز بريدونه او يا نورې جدې پيښې. موږ دغومره ډيري پيسي بايد پر دا ډول وسلو ونه لګوو چې د پيښيدو احتمال يي ډير لږ وي، په داسې حال کې چې واقعي خطر کيدلای شي امريکا ته د کښتيو په بارونو، د ښارونو په مينځ کې د شپي لخوا او يا په يو بکس کې د پټ شوي بمونه څخه پيښ شي.

نوموړی سناتور علاوه کړه که څوک وغواړي امريکا ته ضرر ورسوي نو به يو راکټ زموږ پر لوري فير کړي، ايا باور به ولري چې دا فير شوی راکټ تر امريکا رسيږي؟ دا ځکه چې په اوسني وخت کې ممکنه نه ده چې کيمياوي اويا بيالوژيکي مواد په اټومي وسله کې ځای پر ځای کړي. ايا هغه هيواد چې زموږ پر خوا دا ډول راکټ فير کوي ښکاره خبره ده چې وايي زه دلته يم او پر تا فير کوم، زيات امکان به ولري؟ ايا دا ساده نه ده چې يو نفر د بکس سره د وانکور [24] (په کاناډا کې د يوښار نوم دي) د ښار څخه و سياټيل [25] (واشنګټن ته نژدې يو بحري ښار دي) ته راوليږي؟ او که دا ممکنه نه ده چې په يوه زړه زنګ وهلي کښتي کې د امريکا پرلوري چې د بار په برخه کې اټوم بم پټ کړي وی، په حرکت کې وي؟

---

[23] - Joseph Biden

[24] - Vancouver

[25] - Seattle

کوم خطر د زیات پېښېدو احتمال لري؟ او موږ د دغه ډول خطرونو او یا دغه ته ورته نورو چلیجونو په وړاندي څنګه دفاع کوو؟

سیون سیوندګورد ته د سناتور خبري په زړه پوري شوی، نو سوچ یې وکړ چې د دغو دلایلو څخه به سبا په غونډه کې ګټه پورته کړم.

سبا سهار چې سیون د پوټومک د سیند په اوږدو کې منډه کوله، د سناتورخبري را په زړه کیدي.

پیټر سکوروپ هم د منډې څخه خوند اخیست ، د جورج ټاون کورونه ورته په زړه پوري شوه ځکه د ډنمارک کورونو ته ورته وه. د ښار زړه برخه په ۱۷۵۱ زکال کې جوړه شوی وه نو ځکه د انګریزانو کلاسیکو کورونو ته ورته وه. په هغه سړک کې چې د دوي د استوګنې هوټل پروت و، ډیر کوچني دوکانونه، د شرابو چښلو کوچني ځایونه اوعادی واړه رستورانونه (خوړنتونونه) موجود وو چې چا فکر نه شوای کولای چې دا به په امریکا کې وي.

په هوټل کې د هیت غړو ځانونه د ورځي د غونډې له پاره تیار کړل. د فلوریدا په ایالت او ساراسوتا په ښار کې جورج بوش هم د منډو بوټونه د سیون او پیټر په څیر اغوستي وو تر څو د غونډې له پاره ځان تیار کړي. په میلیونونو امریکایان د خپلو دندو پر لورې روان وو. هغو کسانو چې په الوتکو کې سفر کاوه، لمرینه هوا ورته بی توپیره وه.

په دغه شیبه کې محمدعطا او څلورو نورو عربانو د بوستان لوګان[۲۶] هوایي ډګر ته د ننوتلو په حال کې وو. دوي د مسافرینو په بڼه په امریکایي الوتکه ( امریکن ایرلاینز) کې چې د پرواز شمیره یی (۱۱) وه، باید لاس انجلس ته الوتنه کړي وای. د سهار تر (۸) بجو لږ مخکې الوتکي د الوتلو له پاره د ځغاستي کرښې ته په خوځښت شوه. او یوه بله الوتکه[۲۷] (۱۵) دقیقي وروسته د الوتلو له پاره په همدغه هوایي ډګر کې د ځغاستي پر کرښه په حرکت شوه. په دغه الوتکه کې پنځه تنه عربان سپرلي ناست وو. په همدغه ډول پنځه تنه د ډولاس

---

[۲۶] - Bostons Logan airport

[۲۷] - United Airlines Flight 175

[28]په نړیوال هوایي ډګر کې چې په واشنګټن کې دي، الوتکي ته وختل. دوي په چوکیو کې د سهار پر (۷:۵۰) کښینستل او الوتکه په قطار کې (۲۰) دقیقي وروسته ځای پر ځای شوه. دغه الوتکه [29]هم د لانسیجلس پر لوری الوتل.

په څلورم هوایې ډګر، نیوریاک نیوجرسي [30]کې څلور تنه د مسافرینو په مینځ کې تیار وو چې په الوتکه[31]کي والوزي. په ټولیزه توګه (۱۹) تنه په څلورالوتکو کې کښیناستل او د عملیاتو له پاره تیاروو. دري الوتکې تقریباً د پلان له مخي هوا ته والوتلي ولې د نیوریاک الوتکه د ترافیکي ازدحام په وجه وځنډیدله. د وروستۍ الوتکې ټیرونه د مځکې څخه پر (۸:۴۲) بجي هوا ته جګ شول.

د سهار )۸:۰۰) بجي وي چې په واشنګټن کې ډنمارکي ګروپ د هوټل مخې ته راووتل او د ډنمارک د سفارت ډریور دنده درلوده چې سیاستوال د غونډو ځایونو ته ورسوي. لومړني ځای د دفاع وزارت ملي پوهنتون و، دوي ترنیم ساعت وروسته پوهنتون ته راورسیدل. د امریکا په ټولو ښارونو کې د خطر د سنجولو وسایل شته، ډنمارکیانو چې ورته پام شوو، د خطر درجه ډیره کښته او د خطرونو له پار تیاري ډیر لږ و.

د امریکا د ملي پوځي پوهنتون ودانۍ [32]په واشنګټن کې ده. بسونه مارشال سالون ته دننه شول چې هلته ډنمارکي هیت ته د دفاعي راکټونو په اړوند معلومات ورکول کیدي. ډنمارکیانو د امریکا د پوځ په باره کې ډیر سره وړ.غیدل، دوي متوجه شول چې د امریکایانو په پوځ کې دومره ډګروالان شته چې د ډنمارک تر سرتیرو یي شمیر زیات دي. وروسته سیاسیون د مارشال سالون لوړ پوړ ته پورته شول او هغې کوټې ته رهنمایي شول چې غونډه په کښې جوړیدل.

---

[28] - Dulles international Airport i Washington

[29] - American Airlines Flight 77

[30] - Newark i New Jersey

[31] - United Airlines Flight 93

[32] - Fort McNair i Washington

په کوټه کې د سهار ناري له پاره امريکايي ګردي ډوډۍ او قهوه د اخيستلو له پاره تياره وه.

د غونډې د وينا په جريان کې يو افسر کوټې ته راننوت او د ويناکوونکي افسر په غوږ کې څه ورته وويل. امريکايي افسر پرته د ځنډ څخه خپلې وينا ته دوام ورکړ. د غونډې په وروستۍ برخه کې د سيون پاملرنه بل لورى ته اوښتي وه. نوموړي د کړکۍ څخه بهر کتل او متوجه شو چې د سپينې ماڼۍ په چاپيريال چورلکې ګرځي. نوموړى پاملرنه وکړه چې په دغه سيمه کې فعاليتونه ډير وو. د ځان ساتو د ګوند استازى پير ستي ميلور ديق شو. ساعت (۹:۳۰) بجي وى او نوموړي په چوکۍ کې ځان شاته کړ او بيا يي تر کړکۍ څخه بهر وکتل.

اوس نوموړى پيښه داسې بيانوي: « ما يوه الوتکه وليده چې ځانګړى مارپيچي مانور يي وواهه نو زه حيران شوم چې دا څه ډول عجيب مانور و.»

کله چې غونډه پاى ته ورسيدل، سيون وايي چې زه متوجه شوم چې امريکايان هڅه کوي چې موږ ژر د همدي ځاى څخه ليرى کړي. هيڅ داسې امکانات او وخت نه و چې تر غونډې وروسته عادى سره وږغيږو چې معمولاً تر هرې غونډې وروسته بايد خبري وشي.

د سوسياليست ګوند مشر، هلګر نيلسن، پير ستي ميلور او د ځان ساتو ګوند استازي د وادنۍ څخه بهر ته ووتل چې سګرټ وڅکوي.

ناڅاپه دوي وليدل چې دسيند بلې غاړې ته د پنتاګون (د امريکا د دفاع وزارت ودانۍ) ودانۍ ته څيرمه اسمان د ژړ او سپين دود څخه ډک وو. ولې کوم اواز نه تر غوږو کې کيدي. دوي ګومان وکړي چې کيدلاى شي په پنتاګون کې بمب چاودلى وي خو سيون وويل چې دا ممکنه نه ده چې په پنتاګون کې به بمب چاودلى وي.

پيټير سکوروف وويل چې کيدلاى شى کوم فارم اور اخسيتى وي، سيون وويل چې دا امکان نه لري ځکه دا دلته نژدى دى.

په دغه شيبه کې د سفارت ډريور راغي او ډنمارکيانو ته يي وويل چې ژر بس ته پورته شي ځکه چې د امريکا د تجارتي مرکز دواړو برجونو د الوتکو د ټکر په نتيجه کې اور اخيستي دي، په دغه وخت کې پير ستى ميلور وويل وګوري چې اور زموږ بس ته ډير نژدى دي. دوي فکر وکړي چې دا څنګه کيدلاى شي

چې د الوتکو څو پیښې په یو وار واقع شي او دا ځومره بې عقل کار دي چې الوتکه په یوه ودانۍ کې ټکر کړي. دوی وویل چې د هر څه پیښیدل ممکن دي. هلګر نیلسن وايي چې کله په بس کې کښینستلو او تلویزیون مو چالان کړ، د موضوع جدیت راته څرګند شو.

د امریکن ایرلاینز نمبر ۱۱ پرواز الوتکه کې (۸۱) مسافرین وو چې د باستون د هوایي ډګر څخه الوتلې وه. د سهار پر (۸:۱۴) الوتکې تقریباً (۸) کیلومتره لوړه شوه او د باستون د هوایي ډګر سره یې اړیکه درلوده. د ټاور څخه (۱۶) ثانیې وروسته الوتکې ته وویل شول چې لوړوالی (۱۰) کیلومترو ته جګ کړي خو د الوتکې څخه ځواب نه و. مګر پنځه دقیقې وروسته سټیورډسې (د الوتکې کارکوونکې) بیټي اونګ[۳۳] زنګ وواهه چې الوتکه په اظطراري حالت کې ده.

نوموړې علاوه کړه چې په بزنیس کلاس کې کوم نفر وهل شوی دي او په کبین کې دواړه پیلوټان ټپیان شوی دي او موږ اړیکې نه ورسره لرو. ګومان کوم چې زموږ الوتکه تښتول شوي ده. د الوتکې د مرکز څخه هڅه وشوه چې اړیکې ورسره ټینګې شي خو بریالي نه شول. کله چې د الوتکې مرکز د باستون د ټاور سره اړیکه ونیول، هغوي په ستونزه خبر وه. دوي اوریدلي ول چې یو تښتونکي مسافرینو ته ویلي و چې هیڅوک باید ځان ونه خوځوي. او ورته علاوه یې کړل که ځانونه وخوځوي، ستاسو له پاره به ډیره خطرناکه وي. باید ارام اوسئ.

د الوتکې دوو کارکوونکو د الوتکې د مرکز سره اړیکې درلودي او علاوه یې کړل چې د الوتکې تښتونکي ادعا لري چې بمب ورسره شته. کارکوونکو وویل چې پر (۸:۴۴) د الوتکې ارتفاع ډیره کښته شوه، کومه ستونزه پیښه ده ځکه چې ارتفاع ډیره کښته شوه. د مرکز څخه ورته وویل شول چې د کړکۍ څخه وګوره چې کوم ځای ده؟ نوموړې وپوهیدله چې موقعیت یې چیرې دي. نوموړې وویله چې الوتکه ډیره ټیټه شوه، بیخي ډیره ټیټه شوه، او خدایه ډیره ټیټه شوه. او اواز یې خاموشه شو.

د سهار پر (۸:۴۶,۴۰) لومړی الوتکه د تجارتي مرکز د (۹۳) او (۹۹) منزل په مینځ کې ومښته او ودانۍ یې نیمايي کړه، ډنمارکي هیت په دغه شیبه کې د

[۳۳] - Betty Ong

پوځي پوهنتون په مارشال صالون کې ناست وو. د انفلاق پایله دا وه چې ډیره تودوخه رامینځته شوه او دود ټوله فضاء ونیول چې د لارې پیداکول ستونزمن وه نو ځکه ډیر کسان د کړکیو څخه وغورځیدل. هر لورې ته بښیني، د موبل ټوټې او کاغذونه بادیدل، سړی سوچ کولو چې واوره اوریږي. د شمالي برج په لوړو پوړونو کې (۱۳۰۰) تنه مړه شوه.

دوهمه الوتکه یونایټډ ایرلاین پرواز نمبر ۱۷۵ پر (۸:۱۴) د بوستان د هوايي ډګر څخه والوتله او (۱۹) دقیقې وروسته یې تر (۹) کیلومترو اضافه هوا ته جګه شوه. د (۸:۴۲) او (۸:۴۶) په شاوخوا کې د الوتکې تښتوونکو پر پیلوټانو په چاقو او د مرچک په سپری برید وکړ او دوه پیلوټان یې ووژل، د الوتکې کنترول یې په لاس کې واخیست.

د سهار پر (۸:۵۲) لی هینسن[٣٤] خپل پلار پیټر[٣٥] ته ټلیفون وکړی. زوي پلار ته وویل، ګومان کوم چې زموږ الوتکه تښتول شوی ده او یو پیلوټ په چاقو وهلو ټپی دي، فکر کوم بل پیلوټ یې وژلی دي، هیله ده چې د الوتکې مرکز ته خبر ورکړي.

شپږ دقیقې وروسته الوتکه د نیوریاک وخواته وګرځول شوه او پر (۹) بجې لی هینسن بیا خپل پلار ته ټلیفون وکړ. پلار ته یې وویل چې حالت ډیر خراب دي، د الوتکې یو کارکونکې یې په چاقو وواهه. دوي وایي چې بمب لري او د مرچکو سپری هم ورسره شته. په الوتکه کې حالت ډیر خراب دي، مسافرین استفراق کوي، الوتکه په نامنظمه توګه الوتنه کوي، ګومان کوم چې پیلوټ الوتکه نه اداره کوي. زوي خبرو ته ادامه ورکوي او وایي الوتکه کښته ځي، ګومان کوم الوتکه شیکاګو او یا بل لورې ته ځي، فکر کوم چې د کومې ودانۍ سره جنګول کیږي. پلاره! مه خپه کیږي، هر څه چې وي، ژر تیریږي، اوه خدایه، اوه خدایه.

خبرې قطع شوی خوپلار واوریدل چې یوه ښځه نارې او چیغې وهي او ټلیفون قطع شو.

د لی هینس پلار د تلویزیون څخه اټکل وکړي، هغه الوتکه چې زما زوي ور په کښې ناست دي، د جنوبي برج سره جنګول کیږي او دا (۱۷) دقیقې وروسته تر

- Lee Hanson[٣٤]
- Peter[٣٥]

لومړی الوتکې وه چې د شمالي برج سره وجنګول شوه. الوتکه د (۷۷) او (۸۵) پوړونو په مینځ کې د برج سره وجنګول شوه. د الوتکې د جنګولو سره سملاسې انفلاق وشو او د اور لمبې پورته شوی خو په لوړ پوړونو کې د زینو یوه لار سالمه پاته شوه چې (۱۸) تنه ژوندي پاته شوه خو (۶۰۰) تنه مړه شوه. کیدلای شی دلیل دا و چې دوي د ډیر دود په وجه د زینو لار پیدا کولای نه شوای. په دغه شیبه کې په زرګونو د اور وژنې کسان د ودانیو په مینځ کې ځغاستل چې مرسته وکړي.

که څه هم دواړه برجونه داسې جوړ شوی وو چې د دو الوتکو د ټکر تاب راوړي خو هغه فولادي پایې چې برجونه وربانديې ولاړ وو، د تهداب څخه نسکورې شوې. (لیکوال: د ډیرو ساختماني انجنیرانو د خولې څخه مې اورویدلي دي چې د الوتکې ټکر د برج پر مینځ ، د ودانې بنسټ ورانولی نه شي. هغه وخت ودانۍ د بنسټ څخه ورانیدلای شي چې په لاندې برخه کې انفجاري مواد ځای پر ځای شوی وي.)

په هر صورت پر (۹:۵۹) بجې، جنوبي برج د بنسټ څخه په دوړو، خاورو او دودونو کې نسکور شو، ۲۹ دقیقې وروسته شمالي برج هم نسکور شو. (۳۰۰) تنه د اور وژنې او د خلکو د ژغورنې کسان مړه شول. په ټولیزه توګه په دغه پیښه کې (۲۸۰۰) تنه مړه شول.

دغه ټول جریان ډنمارکي هیت د تلویزیون پر پرده په داسې حال کې چې په بس کې ناست وه، ولیدي خو د دوي د سپرلۍ بس د پنتاګون د ودانۍ څخه (۵) کیلومتره واټن درلودي چې دریمه الوتکه هلته ټکر شوه.

تر (۹) بجو لږ څه مخکې د الوتکې تښتونکو د امریکن ایرلاین الوتکه پرواز نمبر ۷۷ تر واک لاندې راوستل، سملاسې یې د ټاکل شوي لوری څخه راوګرځوله. پر (۹:۲۹) بجې یې اتومات پیلوټ خاموشه کړ او د جنوب پر لوري ادامه ورکړه، ارتفاع یې زیاته نه وه. څو کیلومتره لیری وه چې پر (۹:۳۷:۴۶) بجې یې د پنتاګون د جنوبي لویدیزې څنډې سره وجنګوله. د امریکا د دفاع وزیر رامز فیلډ په خپل دفتر کې وه، خو کوم ضرر ورته ونه رسیدی. (۲۰۰۰۰) کارکونکي په کارنو کې حاضر وه خو (۲۰۹) تنه ووژل شول.

ډنمارکي هیت ولیدل چې ډیر غلیظ دود هوا ته جګ شو. اوس پیر ستي میلور وایي چې دا هم یو تصادف وه چې موږ هلته ناست نه وو ولې پلان داسې و چې

په دغه شیبه کې مونږ باید هلته ناست وای. خو پروګرام ته بدلون ورکړل شوی وه، سبا باید مونږ د دفاع وزارت ته تللی وای.

څلورمه الوتکه یونایټیډ ایرلاین پرواز نمبر ۹۳ د پنسلوانیا د لویدیزې برخې په یوه کرل شوې مځکه کې پر (۱۰:۰۳) راولویدله. د موبایل ټلیفونونو د خبرو او د تور بکس څخه څرګنده شوه چې ځینو مسافرینو د ترهګرو سره لاس اچونه کړی وه. په دغه خاطر الوتکه د (۲۰) دقیقو پرواز په کچه د واشنګټن څخه لیرې ولویدله. وروسته څرګنده شوه چې د الوتکې موخه سپینه ماڼۍ وه. وروستۍ ږغ چې په کابین کې ثبت شوی و، الله لوی دی، الله لوی دی (ژ:الله اکبر). د ۲۰۰۱ زکال د سپتمبر(۱۱) ترهګرۍ برید په نړۍ کې غټ ترین برید و چې (۳۰۰۰) کسان په کښې ووژل شول.

کله چې د ډنمارکي هیت ډله د ملي پوځي پوهنتون څخه تیریدل د خطر علامه ډیره زیاته وه. د خطر سره سره ډنمارکي ډله د پروګرام مطابق د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ته ورغلل. ډنمارکیانو خپل په مینځ کې بحث کولو چې دغه ترهګریز برید به د چا لخوا و، ځینو فکر کاوه چې کیدای شی، فلسطینان وي خو لومړي ځل د القاعدې نوم یاد شو چې د ټولو غوږونه برګ شول. ډنمارکیان همږغې وو چې ترهګریز برید ډیر ښه سازمان دهي شوي و. وروسته ډنمارکیان دې پایلې ته ورسیدل چې بیچاره فلسطینان دومره منظم برید کولای نه شي، دا برید حتماً د القاعدې کار و. سره د دي چې ورځ نیمایي شوی نه وه خو مامورین د دفترونو څخه د کورو خواته روان وو، په همدغه ډول د بهرنیو چارو د وزارت څخه مامورین راکښته کیدل او کورونو ته روان وو. کله چې زمونږ دریور ودرید، پولس راغي او نارې یي کړی چې حرکت وکړي او مخته ولاړ شي. ډنمارکیان نه پوهیدل چیرته ولاړ شي، ناڅاپه د بس د تلویزیون پردې ته متوجه شول چې ژورنالیست اعلان کړل چې کیدلای شی د بهرنیو چارو وزارت مخې ته بمب انفجار وکړي. خو وروسته دا خبر دروغ وګڼل شو خو لومړی ځل و چې سیون سوچ وکړ چې کیدلای شی مونږ په بس کې هم د ورته برید ښکار شوو.

بس په لوړ سرعت د سفارت لوری ته په حرکت و، سفارت ته نژدي ټولې لاری بندی وي. په دی خاطر دومره شدید امنیت د سفارت پر شاوخوا نیول شوی نه و چې د سفارت څخه ساتنه وکړی. هلته نژدي د ولسمشر مر ستیال ډیک چیني

او[36] د مخکي ولسمشر میرمن او اوس د نیویارک د سنا غړې، هیلري کلینتن[37] ګورونه وو.

کله چي سیاسیون د بس څخه کښته شوه، نړۍ بدلون موندلی وه. نورمال د الوتکو د پورته کیدو او کښته کیدو څخه غالمغال او اوازونه وي، خو اوس بشپړه خاموشي وه ځکه هیڅ الوتکه هوا ته نه پورته کیدل او هم مځکې ته نه راکښته کیدل. ډنمارکي میلمانه د ډنمارک د سفیر اولریک فیدرسپیلس[38] شخصي استونګځي ته رهنمایي شول.

د ډنمارک سفیر اولریک فیدرسپیلس د سهار لخوا تلویزیون چالان کړ، ناڅاپه پروګرام ودرید. د تلویزیون ویونکي وویل چې په نیویارک کې یو یا بل څه خطرناکه پیښ شوي دي. کله چې د ډنمارک سفیر د تجارتي مرکز د برجونو د اور لمبې ولیدي، ګومان یي نه کولو چې رښتیا به وي، فکر یي وکړ چه خوب ویني. د سفارت نورو غړو هم تلویزیون تعقیبولو تر څو متوجه شول چې ټول ټلیفونونه بند دي. سفیر وایي چې موږ وکولای شوای چې د ډنمارک د بهرنیو چارو وزارت او د صدرات ټلیفونونو ته زنګ ووهوو خو هلته ټلیفونونه بند نه وو.
موبایل ټلیفونونه هم بند وو خو د ډنمارک سره اړیکې د ایمیل له لاري ټینګی شولی او هم سفارت د ځانګړې بریښنایي سیستم په وسیله د ډنمارک د دفاع وزارت سره اړیکه ټینګه کړه. سفیر وایي: موږ ډیر بریښنایې وسایل په لاس کې درلودل چې اړیکې مو نیولای شوای خو په ذهن کې مو پوښتنه دا وه چې څه پیښ شوی دي؟ د سفیر لومړي دنده دا وه چې د ډنمارکي هیت څخه احوال واخلي. هغه وکولای شوای چې ډنمارکي هیت سفارت ته را ورسوي. سفیر ته دوهمه پوښتنه دا وه چې د هیت غړي او د سفارت ټول کارکوونکي د واشنګټن څخه وباسي؟ داسې اوازې وي چې پر واشنګټن هم ترهګریز برید کیږي. سفیر نه شوای کولای چې د سپینې ماڼۍ، د دفاع وزارت او یا د بهرنیو چارو وزارت سره اړیکې ونیسي.

- Dick Cheney[36]
- Hillary Clinton[37]
- Ulrik Federspiels[38]

سفیر وایي چې ما باید خپله پریکړه کړي وای که په واشنګټن کې پاته شوو، موږ به په امن کې اوسوو که یا ؟ د سفیر میرمن ډاکټره وه او لږ د ښار څخه بهر وه، هغې سفیر ته زنګ وواهه چې ما د راډیو له لارې واوریدل چې څه پیښ شوي دي، نو زه څه وکړمه؟

سفیر ورته وویل، راشه. هغې په ځواب کې ورته وویله چې ټول خلګ د واشنګټن څخه وزي. اوس نو سفیر نور هم په اندیښنه کې شو چې دا به درسته وي چې ما ټول خلک په سفارت کې راټول کړې وي؟ ځکه کیدلای شي، سفارت هم د ترهګرو له پاره د ویشتلو یو موخه وې. سفیر له پخوا څخه د بیړنیو حالاتو له پاره یو پلان جوړ کړی و. د نوموړي پلان داسې و چې د واشنګټن څخه بهر د آس سورلي یو ښوونځي و چې هلته ټول پرسونل انتقال کړي خو پلان یي د ځان سره وساتي ځکه سفیر فکر کولو چې سفارت به تر ټولو مطمین ځای وي.

سفیر سوچ وکړ چې سفارت د امریکا د ولسمشر د مرستیال او هیلري کلینټن د کورونو څنګ ته پروت دي، نو امریکایان به حتماً د دغه ځایونو امنیت ساتي. دا چې د سفارت ودانۍ پر لوړه پرته وه نو سفیر سوچ وکړ که د کیمیاوي او یا بیولوژیکي وسلو برید وشي نو سفارت به ډیره خطرناکه ځای وي، خو وروسته د سفارت یو بل غړي سفیر ارام کړ او ورته ویې ویل چې د دا ډول برید په صورت کې به د ښار کښته برخې و سیند ته نژدی متاثره شي نه زموږ سفارت چې پر لوړه پروت دي.

ډنمارکي هیت د سفیر د کور په سالون کې ناست او تلویزیون یي لیدي، هره شیبه یي لیدل چې د تجارتي مرکز جوړه برجونه د رالویدلو په حالت کې دي. غیري عادي لویه پیښه مو په سترګو لیدل، د خوابدي حالت و. ټول ناست کسان لږ یا ډیر د فلج په حال کې وو. د سهار ګردي ډوډۍ د کوچو سره پر میز پرتې وې.
حالات ترینګلي و او زموږ په مغزو کې هم حالات غمجن وو. موږ ناست وو، د سهار نارې مو خوړي خو نه پوهیدلو چې څه او ولې پیښ شول؟ موږ په شوک کې وو. موږ لومړی تبصره په ټلویزیون کې واوریدل، یو څه مو ځان ارام کړو، چې ټول پیښ شوي حوادث وڅیړو. هولګر نیلسن هڅه وکړه چې د خپل موبایل څخه ډنمارک ته زنګ ووهي خو ټلیفونونه بند وو. لمر ځلیدي او ډنمارکي سیاسیون په سالون او باغچه کې مخ او شاته په خوځښت کې وو. دوي نه پوهیدل چې څه وکړي؟ په یوه شیبه کې د سفارت د میډیا مسول

راغي او سيون ته يي وويل چې تاسو ته ټليفون دي، دا د انفرميشن[۳۹] ورځپانه ده (ليکوال: دا يوه ډنمارکي ورځپانه ده). د ورځپاڼې اداره بريالی شوي وه چې سفارت ته ټليفون وکړي. سيون هم ټليفون واخيست. ژورناليست ورته وويل چې موږ خبر شولو چې تاسو سفارت ته راغلي ياست نو ځکه مې ټليفون در ته وکړی. سيون هغه څه چې ليدلي او تجربه کړی و، ژورناليست ته بيان کړل. ژورناليست پوښتنه وکړه چې هغه نورې (۱۱) الوتکې څه شوي؟ سيون ناڅاپه ورباندي ږغ کړل چې کومې الوتکې؟ ژورناليست ورته وويل چې تر اوسه هم ډيرې الوتکې په فضاء کې دي چې موږ ورباندې خبر نه يوو. سيون د هيلري کلنټن د کور لوري ته وکتل او ويي ويل هو شته (ژليکوال: د وارخطايی او يا د تعجب اصطلاح ده.)

لږ وخت وروسته کله چې لومړی ټبنتول شوې الوتکه د نيويارک د تجارتي مرکز پر شمالي برج ومښتله، جورج بوش په فلوريدا کې يوې ښوونځي ته د تلو په حال کې و.

کله چې ولسمشر بوش د يوې ټولګې مخې ته ولاړ و او غوښتل يي چې د تدريس جريان وګوري، د بوش مشاور، کارل روو[۴۰] ورته وويل چې يوه کوچنې دوه ماشينه الوتکه د تجارتي مرکز سره جنګيدلي ده. بوش ورته وويل چې کيدلای شی د پيلوټ غلطي وی او دا به يوه تصادفي پيښه وي. مخکې چې بوش ټولګې ته داخل شي، د بوش امنيتي سلاکارې کونډوليزا رايس[۴۱] وغوښتل چې د بوش سره ټليفوني خبري وکړي.

ښاغلي ولسمشر! يوه کوچنی دوه ماشينه الوتکه د تجارتي مرکز سره وجنګيدله خو د خبرو په جريان کې مخکنی خبری ته بدلون ورکړ، اضافه يي کړه چې نه د مسافروړونکو الوتکه وه، دا هغه څه دی چې موږ تر اوس پوري پوهيږو. بوش دوهمې ټولګی ته ننوت، او سهار په خير يي ماشومانو ته ووايه، زده کوونکي ولاړ شول او بوش يوه زده کوونکي ته لاس ورکړ وروسته بوش پر

---

- Information[۳۹]
- Karl Rove[۴۰]
- Condoleezza Rice[۴۱]

چوکۍ کښیناست او زده کوونکو د ښوونکي تر لارښوونې لاندې د پیټ ګوټ کتاب[٤٢] په لوستلو پیل وکړی.

د سهار پر (۹:۰۵) بجې مشرمشاور بوش ته نژدې شو، په غوږ کې ورته وویل چې بله الوتکه د دوهم برج سره وجنګیدل، امریکا تر برید لاندې ده. ولسمشر بوش اندیښمن او وارخطا ښکاریدې خو خپل فکري تمرکز ته یې د زده کونکو سره دوام ورکړ. وروسته بوش ډیر انتقاد شو چې ولې یې ژر غبرګون ونه ښود.

کله چې وروسته د ترهګري دغه برید څیرل کیدې، بوش ورته وویل چې ما اګاهانه ځان ارام ونیوي، د دې له پاره چې ملت په جګړه ایزه حالت کې خپل ولسمشر وارخطا او هیجاني ونه ویني.

ژورنالیستان د زده کوونکو شاه ته ولاړ وو او بوش ولیدل چې د ژورنالیستانو ټلیفونونو په زنګ وهلو پیل وکړي. خو بوش بیا هم اوه (۷) دقیقې ارام ناست و، کله چې زده کوونکو لوستل پای ته ورسول، بوش دوي ونازول او درسونه یې ورته ښه ارزیابي کړه.

په بله کوټه کې د معارف مشران، ژورنالیستان د ښوونځي مشران منتظر وو چې ولسمشر به د تدریس د میتود په اړوند خپل نظر وړاندې کړي، خو اوازه وه چې په نیویارک کې څه پیښ شوی دې. ژورنالیستانو خپلو مرکزونو ته زنګونه ووهل خو هیڅوک تر اوسه پوری د پیښو په بشپړ ماهیت نه پوهیدل. ولسمشر بوش هم د منتظرینو کوټې ته پر خپل وخت رانغلي. خو په دهلیز کې د خپل سر مشاور سره په ټلویزیون کې د پیښې جریان ولید، وروسته یې په ټلیفون کې د کونډل رایز او خپل مرستیال دیک چیني سره خبري وکړي. منتظرینو ته ناوخته راغلي او داسې وویل:

« اغلو او ښاغلو! اوس د امریکا له پاره سخته شیبه ده، په خواشینی باید ووایم چې تر لنډو خبرو وروسته به زه واشنګټن ته ولاړ شم: نن زموږ ملت د یو تراژیدې سره مخامخ دې، دوې الوتکې د نیویارک د تجارتي مرکز سره جنګول شوی دي، داسې ښکاری چې د ترهګری برید دې.» بوش علاوه کړه چې امر یې کړی دی چې موضوع ژوره وڅیړل شي تر څو عاملین یې وپیژندل شي

[٤٢] - The Pet Goat

نوموړي د يوې دقيقې په خاموشي خبري پای ته ورسولي، دوعا يي وکړل او د کوټې څخه ووت.

جورج بوش پر (۹:۳۵) بجې د ښوونځي څخه ووت او لس دقيقې وروسته د ورسره هيت سره هوايي ډګر ته ورسيدل. هوايي ډګر ته د تللو په جريان کې خبر شو چې دريمه الوتکه د دفاع وزارت د ودانۍ، پنتاګون سره جنګيدلي ده. بوش د موټر څخه خپل د کورني دا منيت حالت واخيست او د مرستيال ديکچينی سره يي هم ټليفوني خبري وکړي.

جورج بوش خپل مرستيال ته وويل چې داسې ښکاري چې موږ په کوچنی جګړه کې ښکيل يوو چې پنتاګون يي هم په نښه کړ، هر څوک چې وي د خپل عمل بيه به پری کړي.

د ولسمشر بوش امنيتي کسانو د لوی درستيز سره په همږغي وويل چې د بوش تلل واشنګټن ته خطرناکه دي. بوش ټينګار کولو چې بايد مرکز ته ولاړ شي خو وروسته يي د فشار په مقابل کې چې ورباندې قانع نه وه، پريکړه ومنله. د بوش الوتکه، ايرفورس ون پر[٤٣] (۹:۵۴) بجی هواته جګه شوه خو معلومه نه وه چې چيرته ځي. موخه دا وه چې الوتکه هر څومره ژر چې کيدلای شي، هوا ته جګه شي او ډيره ارتفاع ونيسي وروسته په الوتکه کې پريکړه وکړی چې چيرته ولاړه شي. تقريباً نيم ساعت مخکې ټولو ملکي الوتکو ته امر شوي وه چې هوا ته پورته نه شي او پر (۹:۴۶) بجو ټولې (۴۰۰۰) الوتکې چې په هوا کې وې، امر ورته وشو چې په نژدی هوايي ډګرونو کې کښيني. اوس د هوا او هوايي ډګرونو کنترول پوځ پرغاړه واخيست.

په سپينه مانۍ کې د ترهګريزو بريدونو سره د امنيتي ګروپ د مبارزې مشر ريچارد ای کلارک[٤٤] مصروف وو چې د رسمي مقاماتو غبرګونونه د خطرناکو خبرونو په اوريدو سره تنظيم کړي. ريچارد د دوهم برج تر ويشتلو وروسته سپينې مانۍ ته راغلي او وروسته د ولسمشر د مرستيال، ديکچيني دفتر ته ورغلي چې هلته د ولسمشر امنيتي سلاکاره کونډوليزه رايس هم ناسته وه. د ولسمشر مرستيال وپوښتل چې څه فکر کوی؟ کلارک ځواب ورکړ: د القاعده

- Air Force one[٤٣]
- Richard A. Clarke[٤٤]

برید دی او دوي علاقه لري چې څو بریدونه په یوه وخت کې تر سره کړي خو زه باور لرم چې بریدونه لا هم پای ته رسیدلي نه دي. ریچارد تقریباً دیرش کاله په سپینه ماڼۍ، د بهرنیو چارواو دفاع وزارتونو کې کار کړی و. په ۱۹۹۸ زکال بیل کلینټن ریچارد د امریکا پر ضد د ترهګرۍ بریدونو سره د مبارزې لومړی ملي تنظیم کوونکي مقرر کړي و چې د بوش په وخت کې هم ریچارد همدغې دندې ته دوام ورکړ. خو توپیر دا و چې بوش د کلینټن په کچه د ترهګرۍ بریدونو سره د مبارزې د تیارۍ ګروپ د کار سره ډیره علاقه نه درلودل. کلینټن په دی عقیده و چې د سړې جګړې په پای ته رسیدو سره ترهګرۍ جدي ګواښ ګڼل کیږي. بوش بی تجربې هیڅ د القاعدې د ګروپ د ترهګریزو پلانونو په چورت کې نه و، خو د کلارک په عقیده لوي ګواښ ګڼل کیدي.

اوس ترهګریز برید تر سره شوی دي او کلارک اړ و چې د ولسمشر د مرستیال دیکچني سره د ولسمشر جورج بوش تر راتلو پوری ګډ کار وکړي. کلارک، دیکچني د ډیرو کلونو څخه پیژاند چې د بل چا خبري ته یي غوږ نه نیوی. د دیکچني ظاهرې بڼه ارام او ملایم سړی ته ورته وه خو په حقیقت کې یي د ځان ساتو (محافظه کارانو) په توګه قوي او جدي عمل کولو. د امریکا رسنیو همیشه ادعا درلودل چې د هیواد په امنیتي چارو کې د ولسمشر بوش نظر نه عملي کیږي، دا ډول مسایل مرستیال ولسمشر دیکچني مخته وړي. د مرستیال ولسمشر په دفتر کې د امنیتي چارو سلاکارې رایس په رسمي توګه د روان بحراني حالت مشرتوب کلارک ته وسپاري یاني کلارک د امریکا د ملت د بحراني حالت تنظیم کوونکی شو. کلارک ټول هغه وزیران چې پیداکولو یي امکان درلود، ویډیویې کنفرانس ته د سپینې ماڼې د لویدیزې برخې په سالون کې راوبلل. د وزیرانو په مینځ کې د دفاع وزیر رامز فیلډ هم شامل و، په دغه شیبه کې مرستیال ولسمشر د سپینې ماڼې هغه مطمینه زیر زمینې ته چې د ماڼۍ په ختیزه خوا کې وه، ولاړ چې په بحراني حالاتو کې د ولسمشر د ساتلو له پاره جوړه شوی وه. د ویډیویې کنفرانس په پیل سره امنیتي سلاکاره رایس هم زیر زمینی ته ولاړه او د سپینې ماڼۍ کارمندانو ته اعلان شول چې د سپینې ماڼۍ څخه ووزي ځکه د برید خطر شته.

د ویډیو سالون و چې وروسته ساعتونه ټولې پریکړې هلته تنظیمیدلي. دا پریکړه چې ټولې ملکي الوتکې باید په هوایې ډګرونو کې کښیني په دی خاطر وشول ځکه پوځ ته واک ورکړل شوو چې د اړتیا په وخت کې نورې تښتول شوي الوتکې رانسکوره کړي. اندیَښنی هلته زیاتې شوې چې د امریکا د ملکي هوایي

چلند لوی[٤٥] مشر، جین ګریوی[٤٦] خبر ورکړ چې (۱۱) ملکي مسافر وړونکي الوتکې اوس هم په هوا کې دي چې اړیکې ورسره شلیدلي او راه دار کې هم نه لیدل کیږي، نو کیدلای شي چې تښتول شوی وي. کله چې پر پنتاګون برید وشو نو کلارک امر وکړ چې همدا شیبه باید د ټولو لویو ښارو د ساتلو له پاره جنګي الوتکې تیارې او هوا ته پورته شي. کلارک د یوه لنډ وخت له پاره د ویډیویي کنفرانس مسولیت بل چا ته وسپاري ځکه د ولسمشر مرستیال هغه زیرخاني ته د کوم هدایت له پاره وغوښت، په لار کې د ځان سره سوچ وکړ چې سپینه ماڼۍ تشه ده او دا حالت ښه نه دي، نوموړي د دی سوچ په اړوند وروسته په خپل کتاب کې ( د ټولو دښمنانو پر ضد)[٤٧] نومیړي دا مطلب څرګند کړی دي.

دا د القاعدې هغه ترهګریز برید و چې موږ یې خبرداري ورکړي وو، خو دا برید دومره پراخ او اغیزناک و چې موږ هیڅوخت داسې خیال کړی نه وو، پرته له دي چې اټومي وسله وکاروي. دواړه برجونه ونړیدل او د مړینې کچه کیدلای شي چې هره شمیره واوسي.

د ولسمشر الوتکه (ایر فورس ون) د شیږو جنګي الوتکو له خوا بدرګه کیده چې لږ وروسته د بارکسډیل[٤٨] پوځي هوایي ډګر په لویسیانا[٤٩] کې مځکې ته راکوزه شوه ځکه ولسمشر بوش غوښتل چې د امریکا ملت ته وېناه وکړی او په لنډو جملو کې داسې وویل: « نن سهار د سپین سترګو ماجراجویانو لخوا ازادي تر برید لاندې راغلل، خو باید غلطی ونه کړي چې امریکا به دوي پیدا او د خپلو ناوړه اعمالو په سزا به یي ونه رسوي.»

سره د دي چې ولسمشر په وینا کې سختې جملې وکارولې خو داسې نه ښکاریده چې اوضاع یې تر قابو لاندې ده. او هر ځل به یې لیکلي پاڼې ته کتل چې درست کلمات او لغاتونه استعمال کړی. د ولسمشر وینا په امنیتي لحاظ په ژوندي بڼه خپره نه شول، لومړي ثبت او بیا خپره شوه. ولسمشر بوش بیا په ایر فورس ون

---

[٤٥] - FAA
[٤٦] - Jane Garvey
[٤٧] - Mod alle fjender
[٤٨] - Barksdale
[٤٩] - Louisiana

کې د اوفوټ[50] هوايې ډګر ته چې په نيبراسکا[51] کې واقع دی، الوتنه وکړه او هلته په امنيتي جوړه شوي زيرخانه کې پټ شو. کلارک حالات تر کنترول لاندې راوستل، وروسته څرګنده شوه چې يوازې څلور الوتکې وي.

۱۲۰ جنګي الوتکو پر لويو ښارونو ګزمه پيل کړل، د هنګار کښتی د نيويارک وخواته را وخوځيدل. ولسمشر بوش د نيبراسکا هوايي ډګر څخه د اير فورس ون په واسطه د اندريوس هوايي ډګر ته الوتنه پيل کړه، دا هوايي ډګر د واشنګټن څخه بهر پروت دی. په دغه وخت کې يوازې د ولسمشر ملکي الوتکه په هوا کې وه. د ماښام تر اوو (۷) بجو لږ وروسته ولسمشر د خپلې الوتکې څخه کښته شو او د چورلکې په واسطه سپينې ماڼۍ ته راوستل شو. د شپې پر (۸:۳۰) بجې ولسمشر بوش د سپينې ماڼۍ څخه د امريکا ولس ته وينا وکړل:

« موږ به د ترهګرو او هغو تر مينځ توپير و نه کړو چې دغو ترهګرو ته يې ځای ورکړی دي.»

تر وينا وروسته ولسمشر بوش د خپل جنګي ټيم سره د سپينې ماڼۍ د ختيزې برخې په پټنځای کې غونډه وکړه. ولسمشر بوش په روښانه ټکو خپل نظر څرګند کړ چې کلارک يي داسې بيانوي: « تاسو ټول يي واورئ چې موږ په جګړه کې يوو او موږ غواړو چې په جګړه کې واوسوو تر څو جګړه پای ته رسيږي. بل هيڅ خبره نه شته، د جګړې له پاره هر څه ستاسو په اختيار کې دي. هر هغه موانع چې ستاسو په مخکې دي، ليري شوی دي. ټولې هغه پيسي چې تاسو ورته اړتيالري، ستاسو په واک کې به درکړل شي. دغه زموږ يوازنۍ اجندا ده.»

مهمه دا وه چې دغه بريد د ولسمشر بوش له نظره پر امريکا بريد و، نه داسې چې مخکې ترهګريزه بريدونه جنايي جرمونه ګڼل کيدل. په دغه خاطر ځواب بايد په جګړه، نه په حقوقي او قانوني ډول د يو شخص په مقابل کې مخته يووړل شی. دغه نظر د ډيره کي امريکايانو د ملاتړ وړ وو. دوې اونۍ تر ترهګريز

---

[50] - Offut

[51] - Nebraska

برید وروسته د نیویارک ټایمز [۵۲] او ث ب اس [۵۳] له خوا ټول پوښتنه تر سره شول چې (۹۲) سلنه امریکایانو د پوځي عملیاتو غوښتنه کول.

د ترهګریز برید لږ وروسته د طالبانو د حکومت ویاند، عبدالحی مطمین اعلان کړل چې پر امریکا ترهګریز برید د اسامه بن لادن لخوا نه دی شوی او ویي ویل: «پر امریکا باندې دغه ډول برید د عادي خلکو کار نه وو. دا کیدلای شی د امریکا د حکومت یو چل و چې تر سره شو. اوساما بن لادن دغه کار کړی نه دي او موږ د ترهګرۍ ملاتړي نه یوو.»

په عیني الفاظو اعلامیه د طالبانو مشر ملا محمد عمر خپره کړه. څو ورځې وروسته اوساما بن لادن د الجزیرې په تلویزیون کې اعلان کړل چې زه په تأکید وایم چې ما په دغه برید کې ګډون کړی نه دي، دا کیدای شی د ځینو کسانو لخوا شوی وي چې خپل شخصي موخې به یی درلودي.

خو د امریکا د ولسمشریزو ټاکنو پر وخت په ۲۰۰۴ زکال کې اوساما بن لادن په الجزیره تلویزیون کې اعلان کړل چې القاعدې په دغه بریدونو کې لاس درلودي او ما شخصاً مستقیمه برخه په کښي درلودل. کله چې اسراییلو پرلبنان په ۱۹۸۲ زکال کې برید وکړ او د برید په پایله کې د لبنان برجونه او ودانۍ ورانې شوي نو اوساما بن لادن دا کړنه د امریکا لخوا وګڼل. اوساما بن لادن وویل چې ما په هغه وخت کې پریکړه وکړه چې د امریکا برجونه ړنګ کړم تر څو امریکایان هم زموږ په شان درد احساس کړي او زموږ د ماشومانو د وژلو څخه لاس پر سر شي.

اوساما بن لادن وویل چې د الوتکې یوه تښتوونکي، محمد عطا ته ویل شوی و چې عملیات باید د (۲۰) دقیقو په جریان کې تر سره شي تر څو د بوش حکومت متوجه نه شي.

کله چې لومړی الوتکه د شمالي برج سره وجنګول شول، د ډنمارک په وخت د ماپښین (۱۴:۴۶) بجې وي.

---

[۵۲] - New York Times

[۵۳] - CBS

د ډنمارک د لوی درستیز مرستیال، جنرال یسفر هیلسیو [٥٤] د دفاع وزارت د قوماندې په دفتر کې ناست و، نوموړي د دفاع په وزارت کې دوهم مسول نفر و خو د ټول ډنمارک پوځي مسولیت یي په غاړه وه ځکه په دغه وخت کې لوی درستیز کریستین ویډت [٥٥] د ناټو په پوځي کمیټه کې غونډه درلوده. ټول افسران د نوموړي دفتر ته په منډه ورغلل، خبر یي ورکړ چې د امریکا د تجارتي مرکز سره الوتکه ټکر شوه.

د لوی درستیز مرستیال په ځواب کې ورته وویل، ښه، ښه، زه اوس راځم، تاسې کوم امریکایي فلم ګوري.

دا چې دغه (٥٣) کلن جنرال پخواني سړی و نو ځکه څه یي چې په زړه کې وه، مخامخ یې ورته وویل. نوموړي د درو وړونو سره په یوه پوځي کورنۍ کې لوی شوی و نو ځکه ډیپلوماسی د نوموړی کار نه و. افسرانو هڅه وکړه چې مرستیال جنرال ته قناعت ورکړي چې دا کومه ټوکه نه ده. جنرال په بیړه تلویزیون چالان کړ، د ثی ان ان [٥٦] په چینل کې وحشتناکه انځورونه ولیدل. فوراً لاس په کار شو خو پوځیانو مخکې د تیار سی قومانده ورکړی وه. سره د دي چې دا ناڅاپي پیښه وه خو نوموړی جنرال د جګړه ایزو حالاتو اوږده تجربه درلوده. نوموړي په ۱۹۹۰ زکلونو کې د بوسنیا په کورنۍ جګړو او وروسته د قوماندې د مرکز د مشر په توګه ډیري تجربي په لاس راوړي وي خو دا پیښه په بشپړه توګه نوي وه.

د عملیاتو مرکز د حالاتو په ارزونه پیل وکړ چې ډنمارک د دفاع وزارت کوم عملیات تر سره کړي. جنرال د دفاع وزارت مهمو ادارو ته ټیلیفونونه وکړل. پر داسې حالاتو یي بحث وکړ که چیری عیني پیښې په ډنمارک کې رامینځته شي، باید څه وکړو؟ داسې احتمال یي هم وارزولو که په ډنمارک کې الوتکه وتښتول شي او د راکټ ګټه ورڅخه واخلي نو د ډنمارک د دفاع وزارت کوم اقدامات وکړي چې هغه ونه کولای شي دا عمل تر سره کړي؟
موږ څو ځله د هوایي قواو ظرفیت کنترول کړي او تمرین مو تر سره کړ چې

- Jesper Helsø[٥٤]
- Christian Hvidt[٥٥]
- CNN[٥٦]

الوتکه د ډنمارک فضاء ته راننوزي. موږ د جرمني او ناروي څخه د الوتکو ننوتل د ډنمارک فضاء ته چې څه ډول يي کنترول کړو، تمرين کړل. خو جنرال يسپر دوو پيښو ډير انديښمن کړ:

لومړي پيښه يوه الوتکه وه چې د جرمني څخه د ډنمارک پر لور په هوا کې وه خو د مځکي څخه يې مخابري ته ځواب نه ورکولو نو د جرمني څخه جنګي الوتکې وروالوتلي خو کښينستلو ته يي اړه نه ايستله. څه وخت زموږ د دفاع وزارت ته اطلاع ورکول کيږي چې تښتل شوی الوتکه د ډنمارک فضاء ته ننوزي؟
دوهمه پيښه: که يوه الوتکه چې د اوسلو پر لوري الوتنې ته دوام ورکوي خو نابېره جهت ته بدلون ورکړي او د کوپنهاګن پر لوري الوتنې ته دوام ورکړي، د ډنمارک پوځ څومره وخت لری چې غبرګون وښيي؟

ايا الوتکه وويشتل شي او څوک د امر ورکولو واک لري؟

اوس يسپر هيلسيو وايي چې پوښتنې ډيرې وي خو ځوابونه لږ وو. موږ ډير مخکې روښانه کړی وه چې ډنمارک د دغې چارې تر عهده وتلای نه شي. موږ ته څرګنده وه چې په څه ډول موږ د بل هيواد څخه معلومات تر لاسه کړو، خو موږ نه پوهيدلو چې د پيښې په بيړنې حالت کې موږ بايد څه ډول غبرګون وښيوو. څوک د غبرګون ښودلو اجازه راکړي او په کومو شرايطو بايد غبرګون وښودل شي؟

هغه څه چې په بيړنی حالت کې شونی وو، تر سره شول مګر اساسي عملياتي پلان ډير وروسته بشپړ شو.

جنرال يسپر هيلسيو وايي چې دوه کاله وخت يي وغوښت چې هر څه تيار شي چې د صدارت څخه په يوه ليک کې د دفاع وزارت ته را وليږل شو، اوس د دفاع وزارت په پټ ارشيف کې خوندي دي. دا چې محرم اسناد دي نو ځکه په جزيياتو يي ټول ولس نه پوهيږي.

د سپتمبر د پيښې په پايله کې د ډنمارک د دفاع وزارت هم په عملي تدابيرو لاس پوری کړي په دی مانا چې پر پوځي قشلو، وسله کوټونو او ډيپو ګانو باندې پهرې ودريدلي. پوځي مرکزونو او د کار ځايونو ته پرته د پوځی کارتونو د ښکاره کولو څخه ننوتل منع شوه.

د پوځ مشرتابه د دغومره فعالیتونو سره سره د سیاسیونو تر نیوکو لاندې وه او حتی دا پوښتنه کېدله چې ایا دومره تیاري ته اړتیا شته؟ دا ځکه چې ډنمارک د ترهګریز برید په موخه بدل شوی نه وه.

جنرال یسپر هیلسیو په ځواب کې ورته وویل: که موږ وغواړو پوځي مرکزونه تقویه او تیار کړو، دا چاره تر سره کولای شوو. دا مهمه ده چې موږ سیګنال ورکړو چې موږ تیاري نیولی دي.

د جنرال یسپر ماشومان هم دغه تیاري ته حیران وو. دا چې د جنرال کور په یو پوځي مرکز کې و، نو کله چې به د کور سیمې ته ننوتل، باید خپل د پیژندګلوي کارتونه یې پهره دار ته ښودلای واي.

د جنرال یسپر پرته یو بل پوځي مشر په خپل سر یو نوښت وکړ، ځکه د همدغه پوځي مشر په آند دا ډېره مهمه وه چې پوځ تیاری ولری.

د بحري قواو مشر، کونترا ادمیرال [٥٧] ( ژ: ادمیرال اصطلاح د سمندری پوځونو د مشر له پاره استعمالیږي. دا رتبه دري پوړه ده چې د پورته څخه په ترتیب ادمیرال، د ادمیرال مرستیال او کونترا ادمیرال دی.) ټیم سلوټ ینسن [٥٨] د اغوس د ښار د سمندري پوځ د قوماندې د مرکز مشر ، چې د سپتمبر د (١١) نیټې په ورځ د مازدیګر لخوا کور ته د تللو په حال کې و. نوموړي د لاري په جریان کې نوکریوالانو ته ورغلی او د نیویارک د برجونو د نړیدلو انځورونه یې وکتل. نوموړی هم خپل پرسونل راټول او پوښتنه یې ورڅخه وکړه، موږ څه کولای شوو؟ د دوي جنګي کښتي په تمریناتو کې وي او ادمیرال پوهیدي که اړتیا پیدا شي، زموږ د کښتي راکټونه کولای شي چې ټښتول شوی الوتکه رانسکوره کړي. خو د کښتی راکټونه لیري ویشتونکی نه وو خو که موخه نژدی وی کیدلای شي وویشتل شي.

ادمیرال د خپلو همکارانو څخه وپوښتل: ایا کولای شوو خپل کښتي د کوپنهاګن د هوایي ډګر، کیستروپ [٥٩] سره نژدي تم کړو تر څو د هوایي ډګر او د پارلمان

---

[٥٧] - admiral, viceadmiral og kontreadmiral

[٥٨] - Tim Sloth Jørgensen

[٥٩] - Kastrup

د مانۍ، کريستينسبورګ [٦٠] ته ژر مينځ امنيت ټينګ کړي؟ د پوښتنې په ځواب کې هيڅ مخالفت نه وو، نو ادميرال پريکړه وکړه چې دا کار کوو. د کښتي مشرتابه ته امر وشو چې تمرينات توقف کړي.

ادميرال امر وکړ چې کښتی بايد حرکت وکړي او راکټونه يي د فير له پاره تيار شي. کښتي کوپنهاګن ته ورسيدل خو ادميرال ته د دفاع وزارت د مشرتابه څخه امر وشو چې بيرته دي خپل پخواني ځای ته وګرځي او خپلو تمريناتو ته دي دوام ورکړي. د کښتي شتون د هوايي ډګر سره نژدي اړتيا نه شته. د دفاع وزير، جان ټرايبورګ [٦١] د ټرين په واسطه د کوپنهاګن څخه د سوسيال ډموکراټانو د اتحاديې غونډې ته روان شو خو په لار کې د وزير د سکرتريت څخه زنګ ورته راغي چې بيرته را وګرځي. کله چې د دفاع وزير د ټرين څخه کښته شو، د وزير موټر تيار و او وزير د وزارت و لوری ته حرکت وکړی. وزير پوه شو چې سياسي مشر (صدراعظم) پاول نيوروف غاسموسن [٦٢] حتماً پر امريکا د ترهګريز بريد په تړاو مشخصه پوښتنه کوي چې ډنمارک څه کولای شي؟ کله چې وزير خپل دفتر ته ورسيدی، ټول اړوند امرين هلته د غونډې له پار راټول شوی وو. د ټولو سترګې د پوځ د استخباراتو د مشر، تورن جنرال يون او يورت [٦٣] لوری ته وه خو نوموړي همدا شيبه کوم ځانګړی ځواب نه درلود. موږ په داسې يوه مرحله کې وو چې ټوله لويديزه نړۍ په اندېښنه کې وه چې څه پيښ شوی دی؟ د دفاع وزير علاوه کوي چې موږ نه پوهيدلو چې دا څوک دي؟ څومره قوت لري؟ او نور څه پلانونه لري؟

د دفاع وزير پريکړه وکړه چې داسې څوک بايد پيدا کړی چې اضافي معلوماتونه ولري او دا شخص بايد د عملياتي پلان په اړوند معلومات راکړي چې که دا ډول پيښه په ډنمارک کې رامينځته شي، بايد څه وکړو؟ د دفاع وزير څو ځله خپل همکار د انګليستان د دفاع وزير، ګيوف هوون [٦٤] ته ټليفون وکړی. هغه د پيښې

- Christiansborg [٦٠]
- Jan Trøjborg [٦١]
- Poul Nyrup Rasmussen [٦٢]
- Jørgen O. Hjorth [٦٣]
- Geoff Hoon [٦٤]

په صورت کې د تښتول شوی الوتکې د رانسکورولو په تړاو د انګلیستان مقررات ورته بیان کړل.

د دفاع وزیر دا محاسبه هم وکړه که د سویډن د اټومي انرژي پر مرکز[٦٥] چې کوپنهاګن ته ډیر نژدي پروت دي، برید وشي، څه باید وکړو؟ د دفاع وزیر ځان تیار کړی چې راتلونکي څو شپې باید په وزارت کې تیري کړي. لومړی شپه باید د حکومت د امنیتي شورا په غونډه کې برخه واخلي او د بی صبرو وزیرانو پوښتنو ته ځوابونه ووایي. د دفاع وزیر پوهیدي چې د ډنمارک د بهرنیو چارو د غښتلي وزیر، موګنس لویکه ټافټ[٦٦] سره هم باید د مبارزې تیاري ونیسي ځکه هغه تر دفاع وزیر ډیر زیات پر امریکا نیوکې لري. موګنس لویکه ټافټ د ماپښین لخوا باید د ډیزاین په کنفرانس کې وینا کړې واي. د بهرنیو چارو وزیر، موګنس لویکه ټافټ د لومړي الوتکې د ټکر څخه خپل د سکرټر لخوا خبر شو خو نوموړي فکر وکړ چې دا به کومه ناڅپي پیښه وې. د بهرنیو چارو وزیر په بیړه ځان دفتر ته راورسولو او ثی ان ان تلویزیوني چینل یي چالان کړ چې دوهمه الوتکه د تجارتي مرکز سره وجنګیدله.

موګنس لویکه ټافټ وایي چې زه پوه شوم چې دا کومه ناڅاپي پیښه نه ده، په یو یا بل ډول جګړه ایزه عملیات دي. د بهرنیو چارو وزیر ونه کولای شواي چې د امریکي د بهرنیو چارو د وزارت سره اړیکې ټینګې کړی نو دا ستونزمنه وه چې د تلویز یون د لیدلو څخه پریکړه وکړي. د بهرنیو چارو د وزیر، موګنس لویکه ټافټ نظر د امریکا په تړاو ډیر پیچلي و، د صدراعظم پاول نیوروف غاسموسن او د دفاع د وزیر په ډول مثبت نظر یي نه درلودي.

د بهرنیو چارو وزیر، موګنس لویکه ټافټ ډیر کلونه د مالیې وزیر و، د ۲۰۰۰ زکال د ډیسمبر په میاشت کې د بهرنیو چارو د وزیر په توګه مقرر شو. نوموړي د امریکا د نوی ولسمشر جورج بوش سره د هغه د ځان ساتو (کانسرویټیو) نظریاتو په درلودلو سره علاقه نه درلودل

---

[٦٥] - Barsebek

[٦٦] - MogensLykketoft

موګنس لويکه ټافټ د ۲۰۰۱ زکال د مارچ پر (۵) نیټه امریکا ته سفر وکړی. کله چې د بهرنیو چارو وزیر د امریکایي لوړپوړو چارواکو سره غونډې درلودې، خپل مخالف نظر یي د دفاعي راکټونو د نصبولو په تړاو پټ نه کړ. نوموړي د امریکایانو سره په غونډو کې وویل چې د راکټونو نصبول د پیسو ضایع کول دي او هم دا چې امریکا ته دومره خطر متوجه دي، احساساتي او بی ځایه نظر وګڼئ.

د موګنس په آند د امریکایي راکټونو نصبول د شوروي اتحاد او امریکا تر مینځ نوي تسلیحاتي سیالی ته تازه نفس ورکوي. نوموړی امریکایي چارواکو ته دا هم په ډاګه کړه چې د امریکایي دفاعي راکټونو نصبول د ګرینلنډ د تولي په سیمه کې د هغه هیواد د خلکو اندیښنې راپارولي دي. د ګرینلنده خلک د دغو راکټونو د نصبولو د غبرګون څخه ډیرې اندیښنې لري.

موګنس لويکه ټافټ د دغو اندیښنو معلومات د دفاع وزیر مرستیال، پاول ولفو ویټز [٦٧]، د دفاع وزیر، ډونالډ رامزفیلډ [٦٨]، د بهرنیو چارو وزیر، کولین پاول [٦٩]، د امنیتي شوراسلاکاره کونډو لیزا رایس [٧٠] ته وړاندي کړل. موګنس لويکه ټافټ وایي، زما یاد دي چې د امنیتي شورا سلاکاره، کونډو لیزا رایس داسې راته وویله: موږ د دفاعي راکټونو په تړاو ټول مسایل څیړلی دي، د امریکا او شوروي اتحاد تر مینځ هیڅ ډول بیره او ډار نه رامنځته کوي خو ځیني کوچني هیوادونه مخالفت کوي او د نه نصبولو فشارونه واردوي. (ژ: د کوچنیو هیوادونو څخه یي موخه ډنمارک هم وه.)

تر ټولو سخت بحث د ډنمارک د سفارت په ماښامنۍ میلمستیا کې د موګنس لويکه ټافټ او د امریکا د بهرنیو چارو د مرستیال وزیر، ریچارد هس [٧١] تر مینځ وشوو. ریچار هس د موګنس پر خبرو په کلکه نیوکه وکړه او داسې ځواب یې ورکړی: عراق او نور شیطاني حکومتونو په ډیر لګښت هڅه کړی ده چې میلیاردونه ډالره ولګوي تر څو د راکټونو د جوړولو تکنالوژي ته پرمختګ ور

---

- Paul Wolfowitz [٦٧]

- Donald Rumsfeld [٦٨]

- Colin Powel [٦٩]

- Condoleez Rice [٧٠]

- Richard Haass [٧١]

کړي. د داسې سختو نيو کو او کلماتو کارول په يوه ډيپلوماټيکه ميلمستيا کې غيري عادي چاره وه. بايد ووايو چې دا کومه ناڅاپي او نه سنجيدونکي مشاجره چې د ډنمارک د بهرنيو چارو وزير په مخه اچولي ده، نه وه. موګنس لويکه ټافټ په ياد پاته دي چې ما غوښتل خپل امريکايي دوستانو ته په ډاګه ووايم چې موږ د دفاعي راکټونو د نصبولو په تړاو ډيره انديښنه لرو. دغه قوی مخالفت د امريکايانو په وړاندې د ځوان مونګس لويکه ټافټ سره د ويتنام د جګړې له وخت (۱۹۶۰ ـ ۱۹۷۰) څخه را پيداشوی و. نومو‌ړی په (۱۹۶۹) زکال د سوسيال ډموکراټانو په کنګره کې وړانديز کړی و چې ډنمارک بايد د ناټو د پکټ څخه ووزي تر څو پر امريکايانو فشار راوړي چې د ويټنام جګړه ودروي. پورته وړانديز په هغه وخت کې تصويب نه شو.

د سپټمبر د پيښې څخه دري اونۍ مخکې يوه پيښه وشوه چې امريکايانو په بی پروايي تيره کړه. موګنس لويکه ټافټ بايد د اګست پر (۲۳) نيټه په يوه کنفرانس کې چې د بهرني سياست په تړاو جوړ شوی و، د ګډبازار[۷۲] سره د ګډ کار په تړاو وينا وکړی.

موګنس لويکه ټافټ وايي چې د ادارو مشرانو يوه خاکه (مسوده) جوړه کړی وه چې بی تفاوتي د ورايه ور په کښي څرګنده وه. په دغه خاطر نوموړي د وړی (دوبي) کور ته ولاړ او هلته يي په دقت خپله يوه خاکه جوړه او د ادارو مشرانو ته يي وسپارله. د موګنس وينا د سختو نيوکو څخه ډکه وه او ټينګار يي کولو چې د اروپا د ګډ بازار هيوادونو ډير نژديوالی اړين دي تر څو د بوش د سياست په مخالفت کار وکړی. سره د دي چې د بهرنيو چارو د وزارت مسولينو د وينا څخه ډير سخت ټکې ليري کړل خو بيا هم د موګنس وينا د ارزښت څخه ډکه وه.

د موګنس لويکه ټافټ وينا داسې پيام درلود چې نړۍ بايد راويښه شي او نړۍ شموله سازمانونه د نړۍ د نارارامیو د له مينځه وړولو له پاره جوړ کړي. دا هم بايد ووايو چې اوسنی نړۍ د يوه سوپر طاقت لخوا اداره کيږي چې ځان ته د پلوړولو بازار لټوي او خپلې ملي ګټې په نظر کې نيسي. دا اروپايي ګډ بازار دي چې د نړۍ د ګډوډيو د مخنيوي توان لري. دا يوه لويه ضربه وه چې د ډنمارک د بهرنيو چارو وزير امريکا ته ورکړه. بله ورځ د

---

[۷۲] - EU

ډنمارک مشهورې ورځپاڼې بیرلینګسکه تیدننده [۷۳] په سرمقاله کې ولیکل: مونګس لویکه ټافټ پر امریکې برید وکړ.

د ځان ساتو (کانسرویټیب) د ګوندو د بهرنیو اړیکو مشر وویل چې دا خبري د موګنس د ځواني کلونو (۱۹۷۰) څخه سر چینه اخلي چې بیا یي را په زړه شوي. موګنس لویکه داسې وینا وکړل لکه یو ایت الله چې امریکا لوي شیطان ګڼي. موګنس د ځان ساتو سخته نیوکه په کلکه رد کړه. نوموړی اوس وایي چې زما نیوکه پر امریکا نه وه خو زما د نیوکې تیره څوکه د جورج بوش سیاست ته متوجه وه. په اروپا کې زموږ نظر د جورج بوش د نظریاتو سره توپیر درلودي نو ځکه ډیر قوي دلایل موجود وو چې اروپایان په جدي توګه ډیر نژدي کار سره وکړي.

د وینا څخه داسې ښکاریده چې په سوسیال ډموکراټانو کې دوه جهتونه شته. د موګنس لویکه ټافټ انتقادي نظر هم په ګوند کې ملا تړي لري. ډیرو سوسیال ډموکراټانو ته څرګنده شوه چې په راتلونکو ټاکنو کې د بوش د سیاست ډاره ونکې څیره د اندرس فوک غاسموسن [۷۴] سره په پرتله چې اوس په اپوزیشن کې دی او هم د بوش ملاتړی دي، ډنمارکیانو ته روښانه کړي. د سوسیال ډموکراټانو په غونډه کې مشرتابه څرګنده کړه چې په ټاکنو کې به د اپوزیشن (ښی لیبرال ګوند) په مقابل کې د بوش د سیاست څخه د دغه ګوند ملاتړ څخه ګټه پورته کړي. خو دا هر څه د سپټمبر د (۱۱) ترهګری برید څخه مخکی وه. تر برید وروسته موګنس ته هم دا موقع نه وه چې ځانګړی نظر ولري.

موګنس وایي چې د سپټمبر ترهګریز برید احساسات وپارول او حکومت ته څرګنده شوه چې نور د دي امکان نه شته چې نور نظرونه دي ځای ولري او هغه څه باید شوی وای چې د امریکایانو ستراتیژي وه.

د وخت صدراعظم پاول نیوروف غاسموسن [۷۵]، لویکه ټافټ او د دفاع وزیر جان ټرویبورګ د امنیتي شورا غونډې ته راوبلل. غونډه د سپټمبر د (۱۱) نیټې د ماښام پر اوه بجې جوړه شوه. په غونډه کې د ډنمارک د ځارګرې اداري مشر

- Berlingske Tidende[۷۳]

- Anders Fogh Rasmussen[۷۴]

- Poul Nyrup Rasmussen[۷۵]

بیګریټه ستمپه [۷٦] او د پوځې استخباراتو مشر یورګن یورت [۷۷] هم ګډون درلودي. غونډه پراخه شوه، د اقتصاد وزیره د کیڼ راډیکال ګوند مشره، مارینا یلوید [۷۸] او د کورنیو چارو وزیره، سوسیال ډموکراټه، کارین یسپسین [۷۹] چې د نجات اداره یې تر امر لاندي وه، هم غونډې ته راوبلل شوه. په عادي توګه دا ډول غونډې محرمانه جوړیږي خو په غیري طبعي توګه د غونډې د پیل څخه مخکي صدراعظم مطبوعاتي کنفرانس جوړ کړ. او د غونډې جوړولو اعلان یي هم وکړ.

د ډنمارک صدراعظم، پاول نیوروف غاسموسن په معمول ډول د یو میز شاته کښینستي او په غیري رسمي بڼه یي د ژورنالیستانو پوښتونو ته ځوابونه ویل. خو نن نوموړي د وینا میز ته په ډیر جدیت ودرید. دا چې ژورنالیستان پرته د پلان څخه په بیړه راغوښتل شوي وو، نو ځکه د وینا (خطابې) میز لیري شوی نه و، نو صدراعظم هم د میز څخه ګټه واخیستل.

دغه نوي طرز د سوسیال ډموکراټانو یوه ستراتیژي وه چې د سوسیال ډموکراټانو لومړی شخص غوښتل چې د دولتي شخص په توګه پر ترهګریز برید باندې ور ودانګي تر څو د راتلونکو ټاکنو د ګټلو له پاره یې د یوې اغیزناکې وسیلې په ډول وکاروي.

تر اتو کلنو وروسته د نیوروف غاسموسن حکومت چې دی صدراعظم شوی و، د کار څخه لویدلي و او د ۱۹۹۸ زکال په ټاکنو کې هم په یو ځوړند حالت بریالی شو نو ځکه دا وروستي چانس و، چې کیدلای شوای ځان ته نجات ورکړی.

صدراعظم په مطبوعاتي کنفرانس کې ښه وړ.غیدي او د ډنمارک امنیتي ځواکونه یې په لوړه کچه د تیار سي په حالت کې راوستل، سره د دي چې ورته څرګنده نه وه چې شاهي کورنی یا  دولت ته کوم خطر متوجه دي. صدراعظم د زړه له کومې د امریکا څخه ملاتړ اعلان کړی او علاوه یي کړل چې پر امریکا برید داسې دي لکه پر ټولو ډموکراټو ټولنو چې برید شوی وي.

---

- Stampe [۷٦]

- Jørgen O. Hjorth [۷۷]

- Marianne Jelved [۷۸]

- Karen Jespersen [۷۹]

صدراعظم اعلان کړل، هر هغه څه چې ډنمارک په واک کې لري د امریکا په ملاتړ به یې وکاروي. وروسته صدراعظم د دفاع وزیر په ملګرتیا د امنیت د شورا غونډې ته ولاړی، د ټولو پاملرنه او غوږونه د دفاع وزیر لور ته و. د دفاع وزیر وایي چې ما غونډې ته داسې معلومات وړاندې کړ: ما هڅه وکړه چې دوی ته ووایم چې د پیښې تر شاه د چا لاسونه وو، کوم وسایل یې په واک کې درلودل، دا ستونزمنه وه چې ټول مسایل د جزییاتو سره بیان کړم نو ځکه مې ورته وویل چې تاسو غوږ شي چې موږ ډنمارکیانو کوم تدابیر نیولي دي نو ځکه مې د ډنمارک د تیاري په تړاو په دقیق ډول معلومات وړاندې کړی.

د دولت څخه دباندې ګوندونو (اپوزیشن) مشر، اندرس فوک غاسموسن [۸۰] ډېر ژر غبرګون وښودې او د همدغې ورځې په ماپښین کې پیښ شوی ترهګریز برید، شوک ورکوونکې عمل وګڼي.

اندرس فوک غاسموسن د ښی لیبرال ګوند او د اپوزیشن مشر وویل: په امریکا کې د ترهګریز برید د قربانیانو کورنیو او د ټول امریکا ولس ته د زړه له کومې تسلیت وړاندې کوم او په پیښه باندې په ژوره توګه خواشینی یم. دغه عمل پر ډموکراسی برید و او ډموکراسی کولای شي چې دفاع وکړي، موږ به کمزوري کړنه ونه کړو. موږ د بنسټپالو د غیري انساني کړونو سره مقابله کوو او د پیښې عاملینو ته به سخته سزا ورکړو.

اندرس فوک غاسموسن د ورځې په پیل کې خپله میرمن [۸۱] چې په یوه ورکتون کې کار کاوه، په موټر کې راواخیستل، د لاري په اوږدو کې د راډیو څخه واوریدل، چې الوتکه د امریکا د تجارتي مرکز سره ټکر شوی ده. په پیل کې موږ فکر وکړي چې دا به یوه کوچنی شخصي الوتکه وي خو چې کورته ورسیدلو سی ان ان [۸۲] مو چالان کړی او پوه شولو چې پیښه ډیره ژروره ده. موږ ټوله ورځ د تلویزیون په کتلو تیره کړه نو ځکه د ماښام له پاره مو پیزا را وغوښتل.

---

[۸۰] - Anders Fogh Rasmussen

[۸۱] - Anne – Mette Rasmussen

[۸۲] - CNN

د مابنام لخوا صدراعظم راته ټليفون وکړی او د پيښې په تړاو يې لږ معلومات راکړی. حکومت هم ډير معلومات نه درلودي. د همدغې شيبې وروسته مې د صدراعظم سره په دوامداره توګه اړيکې ټينګې کړی.

د اندرس فوک غاسموسن يو مشاور د ګوند په دفتر کې خپل مشر داسې مايوسه وليد لکه په سياسي ډګر کې چې سخته ماتې خوړلی وي. علت يې دا و چې د ليبرال ښۍ اړخه ګوند تحليل مخکې تر دغه بريد داسې و چې صدراعظم، نيوروف غاسموسن چې د سوسيال ډموکراټانو مشر هم و، په سياسي ډګر کې ماته خوړلي ده خو اوس هر څه بله بڼه واخيسته.

د ليبرال ګوند او اپوزيشن مشر اندرس فوک غاسموسن وايي چې موږ نژدي وو چې د ټاکنو اعلان وکړو تر څو صدراعظم د حتمي ماتې سره مخامخ کړو. ولې داسې پيښه وشوه چې صدراعظم ډير ښه رول ولوباوه او په طبعي ډول صدراعظم داسې رول ولوباوه چې د کور په دننه کې دوباره خپل محبوبيت په لاس راوړي.

بله ستونزه دا وه چې اپوزيشن ته داسې څه پاته نه شوه چې د امريکايانو د خوښې له پاره يې اعلان کړي ځکه د سوسيال ډموکراټانو مشر او هم صدراعظم په څرګنده توګه اعلان کړل چې زموږ ټول توان د امريکا په چوپړ کې دي.

اندرس فوک غاسموسن لکه د شطرنج په لوبه کې کيشت او مات شو. په خپل دفتر کې ناست و او په تلويزيون کې د ښکاره کيدلو چانس هم نه درلودی. د اندرس فوک غاسموسن نظر هيڅ ارزښت نه درلودي ځکه صدراعظم هر څه په ښه وجه پر مخ بيول.

اندريس فوک غاسموسن وايي چې دا يوه سياسي اړتيا وه چې ما د حکومت څخه په ټاکلي موضوع کې ملاتړ کولو.

د سپټمبر پر (۱۲) نيټه د سهار پر اته بجي د بهرنيو چارو وزير، موګنس لويکه ټافټ د پارلمان ودانۍ ته د بهرنيو چارو د شورا د غونډې د پيل کيدو څخه مخکې راغلي. د هغه کسانو چې په واشنګټن کې وو، مرستيالان يې غونډې ته راوبلل. د نوموړی سره يو ياداشت و چې جورج بوش څو ساعته مخکې وينا کړي وه.

په غونډه کې د بهرنيو چارو وزير او د دفاع وزير همږغې شول چې دا بريد پر امريکا نه بلکې پر لويديزې ډموکراسۍ بريد دي او د بوش د هغې وينا سره چې

سزا ورکول یوازې ترهګرو ته نه بلکې هر څوک چې دغوو ترهګرو ته ځای ورکوي، بشپړه تایید شوه.

د سوسیالیست او یو موټې ګوندونو استازو اندیښنه ښکاره کړه چې پریکړې په بیړه نیول کیږي. لنډه دا چې یو غوڅ اکثریت (ډېره کیو) د حکومت د پلان څخه ملاتړ اعلان کړي چې امریکا ته د پوره ملاتړ سیګنال ورکړل شي. تر غونډې وروسته د بهرنیو چارو وزیر په مطبوعاتي کنفرانس کې رد کړل چې په لومړی پړاو کې به ترهګرو ته په سزا ورکولو کې ناټو شامل شي. نوموړی ادامه ورکړه چې امریکا به هغه څه وکړي چې اړتیا یې وي. زه ګومان نه کوم چې ناټو به په موضوع کې دخیله شي. د بهرنیو چارو وزیر وویل چې موږ د ډنمارک پر رول او مکلفیت چې د ناټو غړی هیواد دي، بحث و نه کړي چې په عملیاتو کې به برخه اخلي که نه؟

نوموړي وویل چې د ګډ بازار هیوادونو او ناټو پریکړه نه ده کړی چې په څه ډول به د ترهګریز برید په وړاندې ګډ غبرګون وښيي. همدا شیبه ډیر کسان لګیاه دي چې د موضوع په تړاو سوچ کوي. موږ به هم ارزونه وکړو چې زموږ پر ازادۍ ټولنې د دغې ظالمانه کړنې په مقابل کې په ګډه څه وکړو؟ دا ښکاره خبره ده چې اوسنی نړۍ د هغه نړۍ څخه چې موږ پخوا ژوند په کښې کولو، توپیر لری.

ارزونو د ناټو په مرکز بروکسل کې په شدت جریان درلود. دلته هم یو ګډوډ حالت و.

د سپټمبر پر (۱۱) نیټه د ناټو د اړیکو مشر، جیمي شیا [۸۳] د خپل همکار د فنلنډ د بهرنیو چارو د وزارت کارکونکي سره د غرمي ډوډۍ په خوړولو اخته وو. ناڅاپه اوازه شوه چې د امریکا د تجارتي مرکز پر برجونو برید شوی دي. د ناټو په رستورانت کې خلک په بیړه په خپلو موبایل ټلیفونونو لګیاه شول، مګر جیمي شیا په ټلیفون بوخت نه و، د خپل همکار سره یې د کوسوو [۸٤] د حالاتو په تړاو بحث کاوه. په ۱۹۹۹ زکال کې جیمي شیا په کوسوو کې د ناټو ویاند و، په

---

[۸۳] - Jamie Shea

[۸٤] - Kosovo

دغه خاطر د کوسوو د حالاتو بحث د نوموړی له پاره د نیویارک تر پيښې مهم ښکاريدی.

جیمې شیا وایي چې په خبرو کې مې واوریدل چې یوه پيښه شوی ده، کیدلای شي یوه کوچنی الوتکه ور سره ټکر شوی وي، خو بی ادبې به وي چې د دغې پيښې په خاطر د میلمه سره غرمنی ډوډی پريږدم.

د غرمنی ډوډی څخه وروسته څرګنده شوه چې دا کومه تصادفي پيښه نه وه. جیمې شیا د ناټو د مشرتابه د نورو غړو سره د ناټو د عمومي منشي، جیورج روبرټسن[85] په مشرتابه غونډې ته راوبلل شول. د مشرتابه غړي نه پوهیدل چې دا برید یوازې پر امریکا وشو او که پر نورو هیوادونو هم برید کوي. د ناټو دفتر په بروکسل کې د هوایې ډګر سره نژدي پروت دي، د ناټو عمومي منشي ډار درلود چې کومه تښتول شوي الوتکه به د ناټو د عمومي دفتر سره ټکر کړي. موږ ډیر بحث وکړ چې په څه ډول به په بیړه د پيښې په صورت کې دفترونه خالي کړو.

جیمې شیا وایي ما ورته وویل چې ډیره د شرمه ډکه خبره ده چې د نړی پيژندل شوي ګډ پوځ ناټو مشران مندې وهي او ځانونه پټوي. د پټن ځای په اړوند ډیر وړاندیزونه وشول چې یو یي هم په بروکسل کې د نڅاه سالون و. د بلجیم د مقاماتو څخه پوښتنه وشوه چې دوي کوم داسې ځای چې پخوا پوځي مرکز و او اوس تش وي، لري؟ باید دومره غټه ودانی وي چې زیات کسان د تجهیزاتو سره ځای پر ځای کړی.

خو د ناټو مشرتابه حیران شول چې ولې مخکې د کومې پيښې په صورت کې د ناټو د مرکز د تشولو او یا د تیاریو له پاره پلان جوړ شوی نه و. هیڅ وخت داسې سوچ شوی نه و چې د ناټو مرکز به تر برید لاندې راشي. مشرتابه پریکړه وکړه چې دوي به په ټیټه خاکي رنګه ودانی کې و اوسي.

په غونډه کې د امریکایانو سره د خواخوږی حس موجود وو او دوي غوښتل څه یي چې په واک کې وي، هغه مرسته به د امریکایانو سره وکړي. جورج رابرټسن د امریکا د بهرنیو چارو د وزیر کولن پاول سره اړیکه ونیوله او ویي پوښتله چې اړتیا شته چې ناټو مرسته وکړي؟ د بیلګې په توګه د پلټنې سپي چې د

---

[85] - George Robertson

قربانیانو د موندلو له پاره کار ور څخه واخیستل شي؟ لږ وروسته کولین پاول ورته وویل چې ستاسو د مرستې ټیم ته اړتیا نه شته ځکه زموږ د مرستو ټیمونه په کار لګیاه دي. جورج په تکرار وویل چې موږ باید یو څه وکړو ځکه امریکا د ناټو غړیتوب لري او موږ نه شو کولای چې لاس تر زنه کښینو.

د جورج رابرټسن یو نژدي همکار ایدګار بوکلای [۸٦] یوه ښه نظریه پیدا کړه. نوموړي د داسي یو ګروپ مشر و چې څه یې کولای شوای. هغه وخت چې د ترهګریز برید خبر په پراخه کچه خپور شو نو نوموړي د جورج دفتر ته ورغلی. د برید خبر په هر ځای کې تر غوږو کیدي، په دغه شیبه کې یوه الوتکه چې د بروکسل په لوري را الوتي وه، په مخابره کې ځواب نه وایه. خو دا څرګنده نه وه چې دا خبر درواغ دی که ریښتیا؟ نو ځکه د ناټو ټول هغه غړي چې مهمې دندې نه درلودي، رخصت شول خو د راتلونکي ورځي له پاره د مشورتي غونډې له پاره راوبلل شول.

کله چې ایدګار بوکلای د ناټو د عمومي منشي دفتر ته ورغلي نو د امریکا سفیر نیک بورنس [۸۷] او د کاناډا سفیر ډیوډ رایټ [۸۸] هم هلته ناست وو. د امریکا سفیر وویل چې په زرګونو انسانان وژل شوی دی. د کاناډا سفیر وویل چې موږ باید دخپل متحد امریکا سره مرسته وکړو.

ایدګار بوکلای موضوع ته ځیر شو چې پنځم پاراګراف دا حکم کوي. خو د ناټو عمومي منشي په خپله خوښه ترهګریز برید وغندلو ولې ایدګار بوکلای ورته وویل چې دا کافي نه ده، ځکه هر هیواد او موسیسې دا کار کوي. خو نوموړی سوچ کولو چې نور باید څه وکړو. همدا شیبه ممکنه نه وه چې د (۵) ارټیکل څخه د واشنګټن د قرارداد په اساس ګټه واخلو کوم چې د ناټو تعهد نامه په غیږ کې نیسي. کله چې په ۱۹۴۹ ز کال کې دغه موافقه جوړه شوه، هیڅوخت داسې ترهګریزې پیښې اټکل شوی نه وي. په (۵) ارټیکل کې داسې راغلي دي: « پر اروپایي او یا د شمالي امریکا د هیوادونو څخه پر یوه یا څو هیوادونو باندې وسلوال برید داسې ګڼل کیږي لکه پر ټولو غړو هیوادونو چې برید شوی وي.» غړي هیوادونه باید تر برید لاندې هیواد څخه ملاتړ وکړي. د قرارداد د (۵)

- Edgar Buckley[۸٦]
- Nick Burns[۸۷]
- David Wright[۸۸]

ارټيکل څخه موخه دا وه چې اروپايي هيوادونه په سوله او ارامتيا کې ژوند کوي او باور ولري چې پر دوي باندې د وسلوال بريد په وخت کې امريکا ور سره مرسته کوي. تر دوهمې نړيوالې جګړې وروسته هيڅ هيواد داسې اټکل کړی نه و چې د موضوع عکس به هم پيښ شي. خو اړينه وه چې اروپايي هيوادونو د خپل ملګری امريکا سره مرسته کړی وای.

ايدګار بوکلای باور درلود چې ارزونې به داسې پايلې ولري چې کومه پريکړه وشی او يا لږ تر لږه د (۵ ارټيکل) د فعالولو پريکړه د ناټو په نوښت صورت ونيسي. مګر څنګه دا ارټيکل په عمل کې پياده شي؟ مخکې ترهګريز بريدونه د ناټو په ساحه کې د ځانګړی بحث موضوع نه وه او په پريکړو کې کوم څرګند څه نه ليدل کيدل چې په پوځي برخه کې په څه ډول د ترهګريز بريد په صورت کې غبرګون وښودل شي. بيا هم د ناټو په ستراتيژيکو پريکړو کې چې دوه کاله مخکې تصويب شوی وی، يادونه يې شوی وه. په دی ډول يې يادونه شوی وه: که د ناټو هيوادونو امنيتي موخې په بل ډول د خطر سره مخامخ شی چې پراختيا پيدا کړي د بيلګې په توګه ترهګريز عمليات. ډيرو غړو هيوادونو ترهګری د يوه هيواد کورنۍ ستونزه ګڼله.

ايدګار بوکلای باوري و چې ناټو د يو نوی چالش سره مخامخ ده. نوموړی پوهيدي چې دغه موضوع د هغه مسوليت دي چې د ناټو د عمومي منشي سره مرسته وکړی چې په غونډو کې موضوع بحث ته واچوي. دا زما مسوليت دي او زه بايد په بيړه لاس په کار شم که وخت مې د لاسه ورکړ، بيا همدغه وخت لاس ته نه راځي. د دي پر ځای چې سړی بيځايه منډې ووهي، ښه دي چې فکر وکړي او په دقيق ډول وپوهيږي چې څه پيښ شوی دي.

د څو ساعتونو په جريان کې ايدګار بوکلای او د نوموړي همکارانو د يوې خاکې (اومه مواد) په توګه د پنځم ارټيکل په تړاو يو څه وليکل، د پوځ په تاريخ کې دا لومړی ځل و.

ايدګار بوکلای وايي: موږ کوم ځانګړی مکلفيت نه درلود چې بايد دغه کار وکړو. مګر موږ ګومان کولو چې دغه څه چې موږ کوو، درست دي.

د سپټمبر د یولسمي نیټې په ماښام، ایدګار بوکلای د لومړی ځل له پاره کار پیل کړ. د کار پیل د ناټو د سیاسي برخې د مشر، ګیونتر التین بورګ[89] په دفتر کې صورت ونیوی، ځکه د ایدګار بوکلای په آند د نوموړي ملاتړ اړین و.

ایدګار بوکلای د واشنګټن قرارداد غونډې ته یووړ، په غونډه کې یو ګڼون کوونکي پوښتنه وکړه چې برید وسلوال و؟ دا په پنځم ارټیکل کې مهمه خبره وه ځکه هلته لیکلي وه چې ترهګریز برید باید د وسلې په واسطه تر سره شوی وي. ایا الوتکه وسله وه؟ د نوی ترهګریز برید توپیر د پخوانیو مشهورو ترهګریزو بریدونو څخه د بیلګې په توګه د ارسک[90] باسکیسک[91] او کوردستان[92] څخه څه دی؟ غونډه کومې پایلې ته و نه رسیده. ایدګار بوکلای خپل دفتر ته ولاړ، د خپلو همکارانو سره یې پر ټولو شکمنو پوښتنو ژور غور پیل کړی.

ایدګار بوکلای وایي چې زموږ نظر دا وو چې الوتکې د وسلو په توګه کارول شوی دي.
ایدګار بوکلای په بحث کې ټینګار وکړ چې د دغه ترهګریز برید توپیر د پخوا سره په دی کې دي چې دا ځل د برید په نتیجه کې سولې او امنیت ته په ټوله شمالي اتلانتیک سیمه کې نقصان رسیدلی دي.

ایا دا برید د بهر څخه و او که د امریکا په دننه کې د ۱۹۹۵ زکال د برید په ډول چې د اوکلا هما په ښار کې بمي چاودنه وشوه؟ دا هم تر دغه شیبې پوري روښانه نه وه. که برید د امریکا په دننه کې د امریکایانو لخوا شوی وي، د ناټو مداخله غیري قانوني کوي. په دغه خاطر ایدګار بوکلای یوه شرطي اعلامیه په لاندې متن ترتیب کړل.

« موږ ولیکل که څرګنده شي چې دغه ترهګریز برید د بهر څخه پر امریکا شوی وی نو د واشنګټن پنځم ارټیکل فعاله کیږي.»

---

[89] - Gunter Altenburg
[90] - IRA
[91] - ETA
[92] - PKK

بل سهار ایدګار بوکلای د ناټو د عمومي منشي دفتر ته د پریکړې د خامې (اومو موادو) سره ورغلی. د ناټو عمومی منشي، جورج روبرسټن[۹۳] ځاکه ولوستله او تایید یې کړه. پریکړه امریکا ته ولیږل شول او د امریکا د بهرنیو چارو وزیر، کولین پاول هغه تایید کړل. د تایید خبر د ناټو د شورا تر غونډې مخکې راورسیدي. کله چې د شورا غونډه جوړه شوه، د امریکا د ولسمشر ملاتړ هم د اعلامیې څخه راورسیدي. په غونډه کې د ټولو هیوادونو استازو خبري وکړې، یوازې د بلجیم استازی غوښتنه وکړه چې پاتې معلوماتونه هم باید ژر بشپړ شي تر څو چې د ارتیکل د استعمال پاتې برخې روښانه شي.

د بلجیم حکومت اندیښنه داوه که پنځم ارتیکل ومنل شي نو هر عمل چې وغواړي کولای یي شي پرته له دی څخه چې بلجیم وربانديې اغیزه ولري.

ایدګار بوکلای وایي پورته جمله داسې هم تعبیر کیږي که امریکا بل هر هیواد اشغال کړي نو به پلمه کوي چې تاسو پنځم ارتیکل منلی دي نو دوباره پریکړې ته اړتیا نه شته. د غونډې پایله دا شوه چې باید دا پوښتنه د ناټو د حقوق پوه، بلډوین ډیویټس[۹۴] په واسطه روښانه کړي.

نوموړي د ارزونې پایله داسې اعلان کړل: دا په هر ملاتړي هیواد پوری تړاو لري چې کوم ډول عملیات اړین ګڼی، مخکې تر عملیاتو باید د ملګرتوب په ګډ چاپیریال کې پریکړه وشي.

بلجیم هم راضی شو، وروسته د شورا له خوا پریکړه د رایو په اتفاق تصویب شول. پریکړه په همدغه ماښام واستول شول او جورج روبیرټسن د ملل متحد سرمنشي کوفی حنان[۹۵] ته معلومات ورکړ.

د پریکړه لیک خامه چې شپاړلس ساعته مخکې د ایدګار بوکلای په دفتر کې جوړه شوی وه، ډیر بدلون ور په کښی را نه وستل شو. ایدګار بوکلای راضی و خو د تاریخي پریکړي په پایلو پوهیدي.

---

[۹۳] - George Robertson

[۹۴] - Baldwin de Vidts

[۹۵] - Kofi Annan

ایدګار بوکلای وايي چې د پریکړې پایله به دا وي چې ملګري هیوادونه به د هغو هیوادو په وړاندې پوځي عملیات وکړی چې برید یې تر سره کړی دي موږ دا کار په روڼو سترګو تر سره کوو او موږ د پوځي عملیاتو څخه ډار نه درلود.

د ډنمارک د بهرنیو چارو وزیر موګنس لویکه ټافټ [96] د سهار پر (۱۱,۴۵) په شخصي الوتکه کې بروکسل ته ولاړ چې د ګډ بازا د بهرنیو چارو وزیرانو په غونډه کې ګډون وکړي.

په کور دننه ډنمارک کې د ډنمارک صدراعظم پاول نیوروف غاسموسن په مطبوعاتي کنفرانس کې وعده وکړل چې د امریکا د غوښتنې په صورت کې به پوځي مرسته وکړي.

صدراعظم تر دغه شیبې پورې د موضوع په تړاو د پارلمان موافقه تر لاسه کړی نه وه.

ایدګار بوکلای وايي چې د ناټو په برخه کې داسې اټکل وشو چې دا به جګړه ایزه عملیات وي او موږ به خپل مسولیت تر سره کړو. که څه هم چې دا یو ترهګریز عمل و خو باید د جګړه ایز برید په ډول وګڼل شي ځکه ترهګریز برید د جګړې بڼه درلوده چې پر ډموکراټ او سوله ایز هیواد باندې تر سره شوه.

په بروکسل کې د اروپا ګډ بازار د بهرنیو چارو وزیرانو په ګډه غونډه کې د هر هیواد د بهرنیو چارو وزیر یو په بل پسې د خبرو کولو نوبت اخیستی. د ډنمارک د بهرنیو چارو وزیر موګنس لویکه ټافت وویل چې ډیره مهمه ده چې د امریکا څخه ملاتړ وکړو تر څو د ترهګرو پرضد مبارزې ته قوت ورکړو. د نورو اروپايي هیوادونو د بهرنیو چارو وزیرانو هم په تأکید سره وویل چې دغه ستونزه باید حل شي. د فلسطین او اسراییلو د شخړې په ډول د حل لار ورته ولټول شي.

تر دونیم ساعتو وروسته د بلجیم د بهرنیو چارو وزیر، لویس مایکل [97] د کنفرانسونو په کوټه کې د بلجیم د ملاتړ پریکړه لیک د امریکا څخه ولوست. د بروکسل په یوه بله برخه کې د ناټو سفیران سره جرګه وه او د پنځم ارټیکل په

---

- Mogens Lykketoft [96]

- Louis Michel [97]

اړوند يي بحث کولو. په همدغه وخت کي د ډنمارک د بهرنيو چارو وزير د ډنمارک لوري ته الوتنه وکړه تر څو د ماتم په هغه پروګرام کې چې د کوپنهاګن په يوه کليسا کې د واشنګټن او نيويارک د قربانيانو له پاره جوړه شوی و، برخه واخلي. د الوتنې په جريان کي د بهرنيو چارو وزير په ټليفون کې د ډنمارک د صدراعظم سره د پنځم ارټيکل د استعمال په تړاو خبري وکړي:

د بهرنيو چارو وزير ورته وويل: زه حيران يم چې دا موضوع ولې په دغه غونډه کې ياده شوه ځکه کوم اساسي مخالفت شتون نه درلود. پنځم ارټيکل هيڅوخت مخکی فعال شوی نه دی، نو د دغه ارټيکل د فعاله کيدو سره به څه پيښ شي؟ زه يو څه انديښمن شوم خو بيا هم ځای لري. د سياسي لحاظه بايد ارټيکل فعاله شی او دا کار به موږ وکړو.

په حقيقت کې د ډنمارک صدراعظم، پاول نيوروف غاسموسن [۹۸] پرېکړه کړی وه چې د پنځم ارټيکل څخه ملاتړ وکړي، په همدي ډول د دفاع وزير، جان ټرويبورګ [۹۹] هم ملاتړي و، خو د بهرنيو چارو وزير موګنس لويکه ټافټ [۱۰۰] ملاتړ محدود و.

د دفاع وزير جان ټرويبورګ وايي چې د بهرنيو چارو وزير زموږ د هوکي څخه راضي نه ښکاريده او خپل ملاتړ يي هم زړه نا زړه اعلان کړ.

کله چې د بهرنيو چارو وزير د کوپنهاګن هوايي ډګر ته راورسيد، د ماتم مراسمو ته لږ وخت پاته و چې پيل شي. د بدرګې موټرسايکلونه تيار وو او په بيړه يي د کليسا لوري ته حرکت وکړي. د بهرنيو چارو وزير وايي چې هيڅ وخت د کوپنهاګن پر سړکونو مې په (۱۴۰ کيلومتره په ساعت کې) رفتار نه وه کړي خو په ډيره بيړه يي کليسا ته ورسولم چې د ډنمارک ملکه، مارګريتا دوم هم هلته ناسته وه. کليسا د خلکو څخه ډکه وه. په هغه ماښام د پارلمان د بهرنيو چارو شورا هم د پنځم ارټيکل څخه ملاتړ اعلان کړي خو يوازې يوموټي لست ګوند( دا هغه ګوند دي چې د پخوانيو کمونستانو او نورو کيڼ اړخو اشخاصو څخه

---

۹۸ - Poul Nyrup Rasmussen

۹۹ - Jan Trøgjborg

۱۰۰ - Mogens Lykketoft

جوړ شوی دي او د کډوالو د راتلو سره ډیره علاقه لري او هر وخت یې په دفاع کې ولاړ دي) د پریکړې په مخالفت رایه ورکړه.

په همدغه شپه د ملل متحد د امنیت شورا تایید کړل چې امریکا حق لري چې د خپل هیواد څخه دفاع وکړي، ترهګر او هغه هیوادونه چې ترهګرساتي او دوي ته ځای ورکوي، برید وربانديې وکړي.

د امنیت د شورا په دفتر کې د (۱۳۶۸) نمبر پریکړه لیک د تاییدولو په وخت کې د امنیت د شورا ټول د (۱۵) غړو هیوادونو استازي ولاړ شول پرته له دې څخه په نورمال ډول یوازې د تایید لاسونه جګوي.

د ډنمارک د بهرنیو اړیکو د شورا غړي چې په نیویارک کې و، د دوي د مشر له خوا په کوپنهاګن کې د پارلمان د بهرنیو چارو و شورا ته لنډ رپورټ ورکړي خو نوموړو د ډنمارک څخه لیري ځانونه د بحثونو څخه ګوښه ګڼل. د ترور په ورځ نوموړی هیت په تش ښار کې د د سفارت څخه د خپل هوټل پرلوري چې په جورج ټاون کې واقع و، ولاړل. په همدغه ماښام سفارت د اوضاع احوال او تحلیل تر کار لاندې نیولی و چې د شپې په نیمایي کې ډنمارک ته ولیږ.ي تر څو په ډنمارک کې امنیتي شورا او د پارلمان د بهرنیو اړیکو شورا ګټه ورڅخه واخلي. لویه ستونزه دا وه چې د ډنمارک سفارت د امریکایي مقاماتو سره اړیکې نیولای نه شوای، خو یوه استثنا وه. د ډنمارک سفیر اولریک فیدرسپیل[۱۰۱] په سپینه ماڼۍ کې د یو لوړ پوړی چارواکی سره ښې اړیکې درلودي نو په لنډه توګه یې د هغه سره خبري وکړي. نور ټول معلوماتونه د سفارت د ځاني تحلیل او د مطبوعاتو څخه وو.

د ډنمارک سفیر وایي چې موږ دغه معلومات خپل حکومت ته ولیږ.ي.

«دغه ترهګریز برید به د پراخه غبرګون سره مخامخ شي، امریکایان به ډیر سخت، پراخه او مستقیم غبرګون وښیي. دا مهمه نه ده چې جمهوري غوښتونکی او یا ډموکرات ولسمشر وي، هر څوک چې ولسمشر وي د دغه برید په وړاندې غوږ.ونه کاڼه اچولی نه شي. موږ. ته څرګنده ده چې ډنمارک ځان پټولی نه شي

[۱۰۱] - Ulrik Federspiel

که غواړو چې د امریکا سره مو اړیکې ښه وساتل شي باید خپل لوري (د امریکایانو ملاتړ) معلوم کړو.»

په دا بل ماښام ډنمارکي هیت (چې هلته وو) ته د سفیر له لوري لنډ معلومات ورکړل شو. سفیر ورته وویل چې داسې اورېدل کیږي چې تر هگریزه برید د عراق په تړاو او ملاتړ شوی دی خو دا خبر په رسمي توگه د ډنمارک سفارت ته ورکول شوی نه و.

د سفارت یو نفر دغه خبر تر لاسه کړی و. د ډنمارک سفیر وایي چې زما یادیږي چې خبر د پنتاگون او یا د سپینې ماڼۍ څخه راوتلی و. دغه خبر د یو موتي گوند د مشرتابه غړي سیون سیونرگود[۱۰۲] متعجب کړ. سفیر دا هم وویل چې امریکایان ادعا کوي چې دا یوازې جنایي برید نه و، نو ځکه اړینه ده چې د ترهگرۍ په وړاندې جگړه وشي. دا جگړه به اوږده وی او عراق هم په کښې شامل وي. سیون سیونرگود وایی چې زه ناست وم او د حیرانتیا څخه مې خوله وازه پاتې وه. (ژباړن: په رښتیا هم د یو موتي گوند د مشرتابه د یو غړي خوله وازه پاته وه ځکه هغه پوهیدي چې امریکا ته څومره اسانه ده چې د زور څخه کار واخلي او بل هیواد د خپلو گټو له پاره په ناحقه تورن کړي او درواغ ور پسې ووایي.)

په ډنمارک کې د دفاع وزیر ته هم معلومات ورکړل شو چې امریکایانو د دغه ترهگریز برید سره عراق هم تړلی دي خو دا خبر تایید او رد نه شو. زه هم د خپلو سرچینو څخه ښکاره ځواب تر لاسه کولای نه شم چې عراق په څه ډول په موضع کې دخیل دي.

د عراق په تړاو خبر ناڅاپي نه وه چې د ډنمارک سفیر اورېدلی و. د عراق په تړاو د برید سره ډیر پراخ مفهوم او معنی شتون درلودي.

تر برید څو ساعتونه وروسته د امریکا د مشرتابه بحث بدلون وکړي. اوس یوازې د القاعده د شبکې په تړاو بحثونو جریان نه درلودي، دترهگري سره دمبارزې دټیم مشر،ریچارد کلارک[۱۰۳] په چورتونو کې ډوب وو. ټولو ویل

---

[۱۰۲] - Søren Søndergaard

[۱۰۳] - Richard Clarke

چې القاعده د برید تر شاه ده چې د سی ای ای [۱۰٤]لخوا لوری هم تایید کیدل خو نورو بیا بله اجنډا درلودل په ځانګړی ډول د دفاع وزیر، رامز فیلډ او د دفاع وزیر مرستیال، ولوف ویټز.

ریچارد کلارک وروسته په خپل کتاب کې [۱۰٥]وایي چې په پیل کې زه بیخی نه پوهیدم چې موږ ولی ناست یوو او پرته د القاعدي د غړو د نیولو او سزا ورکولو څخه نوري خبري کوو.

داسې ښکاریده لکه ما چې په چکوش پر سر ووهي چې د دفاع وزیر او مرستیال یي غواړي د ملي تراژیدي څخه د عراق اجنډا پر مخ بوزي. کله چې دغه حکومت مینځ ته راغي او حتی مخکی له دی څخه زیاد زور اچول کیدي چې د عراق پر ضد جګړه پیل شي.

ولوف ویټز [۱۰٦]د نوی ځان ساتو(نوو کانسرویټیو) متفکر و چې د د فاع په وزارت کې د عراق سره د لومړی جګړې (۱۹۹۱ زکال) په وخت کې د مشر بوش د منل شوو مشاورینو څخه و.

هغه وخت چې د امریکا پوځ د عراق پوځیان د کویټ څخه پر شاه کړل، ولوف ویټز غوښتل چې مارش ته دوام ورکړل شي او صدام حصین له مینځه یوسي چې مشر بوش ورسره همږغی نه و. په هغه وخت کې چې عراقي پوځونه د کویټ څخه وویستل شول، د امریکا پوځونه د بغداد په دوسوه کیلومتري کې تم شول ځکه د ملل متحد پریکړه داسې وه چې یوازې د عراق پوځونه د کویټ څخه ویستل شي.

وروسته ولوف ویټز په ښکاره وویل چې دا یوه غلطه پریکړه وه، دا موضوع یي هلته بیان کړل چې په ۱۹۹۸ زکال د کانګرس په کمیټه کې د صدام حصین سره د مخامخ ټکر په تړاو بحث کیدي. نوموړی علاوه کړل چې د صدام د قدرت د دوام یوازنی دلیل دا دی چې موږ په هغه وخت (۱۹۹۱ زکال) کې صدام حصین له مینځه نه یووړ.

---

[۱۰٤] - CIA

[۱۰٥] - Mod alle fjender

[۱۰٦] - Wolfowitz

ولوف ویټز وویل چې په خواشینی باید ووایم چې د صدام د له منځه وړلو ښه چانس د هغه وخت د جګړې په لومړی میاشت کې و، چې موږ د لاسه ورکړي.

د سپټمبر د (۱۱) نیټې په پیښه کې ولوف ویټز نوی چانس ولید چې صدام حصین د پوځي زور په مټ له مینځه یوسي. د ځان ساتو د نوې مفکورې ملاتړو عقیده درلودل چې د اسامه بن لادن ترهګریز برید پلمه کړي او پرنورو هیوادونو برید وکړي. لومړی موخه د صدام حصین لیري کول وه. د ځان ساتو د نوی مفکورې ځښتنانو عقیده درلودل چې د رژیم بدلون به د ډموکراسۍ د پیاده کولو پروسه په منځني ختیز کې پیل کړي. تر برید یوه ورځ وروسته په سپینه مانۍ کې د بحثونو په جریان کې ولوف ویټز دلیل ووایي چې ترهګریز برید دومره منظم و چې د یوه شخص او یا ګروپ په واسطه تر سره شوی نه دي، حتماً به د یو هیواد له خوا ملاتړ ورسره و او دا هیواد عراق دي. ریچارد کلارک او سی ای ای وړاندیز وکړي چې د ۱۹۹۳ زکال څخه وروسته عراق هیڅکله د ترهګری څخه ملاتړ نه دی کړي.

بحثونو جریان وموند، دلایل وویل شول، د بهرنیو چارو وزیر، کولن پاول هم پر عراق د برید سره مخالفت وښود او ویي ویل چې باید زیاته پاملرنه د القاعدې د له مینځه وړلو له پاره وشي.

ریچارد کلارک د کولین پاول په ملاتړ وویل که موږ د القاعدې د ترهګریز برید په غبرګون کې پر عراق برید وکړو، داسې معنا لري لکه جاپانیانو چې پرموږ په پیارل هاربور [۱۰۷] کې برید وکړی خو موږ یي په غبرګون کې مکسیکو اشغال کړو. پاول خوشبینه نه و او ویي ویل چې تر اوس پوری لا دا خلاصه نه ده.

وروسته ریچار کلارک وویل چې کولین پاول ربښتیا ویل چې د عراق خبره خلاصه نه ده ځکه د سپټمبر په (۱۲) نیټه ماښام بیا کولین پاول سپینې مانۍ ته راوغوښتل شو او د غونډې ګډون کوونکو ته د بوش له خوا داسې څرګند خبر واورل شوو:

---

[۱۰۷] - Pearl Harbor

« همدا اوس يي د حل لار پيدا کړی چې صدام يي تر شاه و، بايد په يو ډول يې ثابته کړی  چې صدام په يو ډول په بريد کې دخيل و.»

ريچارد کلارک لاس او پښې شو داسې ځواب يې ورکړ: ښاغلی ولسمشره! دا بريد القاعده کړی دي!!

«بوش په ځواب کې وويل: بلي، بلي، بلي زه ښه پوهيږم خو داسې څه وکړی چې صدام حصين په کښې شامل شي. وګورئ، زه غواړم چې واورم چې د صدام د ګډون په اړوند لږ څرک پيدا کړي.»

وروسته جورج بوش د څيړونو د کمسيون په وړاندې وويل چې زه د ريچارد کلارک د خبرو د ټولو جزياتو سره همږغی نه وم نو په خبرو کې ما يو ځل د عراق په تړاو هم وپوښتل.

زما خبري بايد غلطي تعبير نه شي نو په هغه وخت کې ريچارد کلارک وعده وکړه چې موضوع به وڅيړي.

کلارک خپل صادقو همکارانو ته دنده وسپارله چې پراخې څيړنې وکړی، د عراق هر ډول لږ يا ډيرې اړيکې د موضوع په تړاو ومومي. يوه اونۍ وروسته د امنيت شورا مشرې، رايس ته د څيړونو پايلې ورسيدي. د څيړونو پايله دا وه چې عراق د ترهګريز بريد په تړاو نه کوم پلان درلود او نه يي کوم ګډون ور په کښې کړی دي. د څيړونو پايلو دا هم وښودل چې د القاعده او عراق تر مينځ يوه ضعيفه اړيکه وه چې اوساما بن لادن د صدام حصين رژيم سيکولر ( چې د مذهب سره ډيره علاقه و نه لري) ګڼلی و. د کلارک د وينا له مخې د څيړونو پايلې ولسمشر بوش ته هم وليږل شوي. کلارک وايي، زه نه پوهيږم چې جورج بوش به کله د څيړونو پايلې لوستی وي؟ په هر صورت د څيړونو پايلې بی ارزښته وګڼل شوي.

يو بل لوړ پوړي متقاعد څلور ستوري جنرال، ويسلي کلارک [١٠٨] وايی.

د ترهګريز بريد څو ساعته وروسته ما وليدل چې د سپينې ماڼۍ خلک دا بريد په عراق پوري تړي.

---

[١٠٨] - Wesley Clark

جنرال ویسلي کلارک مخکی تر تقاعد په اروپا کې د ناټو عمومي قوماندان و او د ټولو غړو هیوادونو هوایي بمبارد یي پر صربیا[۱۰۹] رهنمایي کاوه تر څو صربیان اړ باسي چې د کوسوو[۱۱۰] څخه په ۱۹۹۹ زکال ووزي. نوموړي په صداقت او ربښتیا ویلو کې زیات شهرت درلود.

کله چې د سپټمبر ترهګریز برید تر سره شو، د سی ان ان[۱۱۱] خبري تلویزیون هڅه وکړه چې د دغه مجرب جنرال نظر د موضوع په تړاو واخلي.

نوموړي جنرال وایي چې تر مرکې څخه مخکی د سپینې ماڼۍ څخه ټلیفون راته وشو او غوښتنه یې راڅخه وکړه چې په مرکه کې باید ووایم چې دغه ترهګریز برید د حکومتونو دملاتړ څخه برخمن وو او صدام حصین بشپړ لاس په کښې درلودي. جنرال وایي ما ورته وویل چې دا کار به وکړم خو که اسناد شتون ولري، خو اسناد په واک کې نه ورکول کیږي. جنرال هم په مرکه کې ترهګریز برید په عراق پورې نه تړي.

په سپینه ماڼۍ کې تر برید وروسته دوي ورځې دغو بحثونو جریان درلودي. وروسته د سپینې ماڼۍ مشرتابه یوې موافقې ته ورسیدل: «امریکا باید په لومړی پړاو کې د القاعدې او طالبانو پر ضد په افغانستان کې د جګړې اعلان وکړي خو دا به د ترهګری پر ضد د جګړو لومړي قدم وي. په دوهم پړاو کې به جګړه عراق ته متوجه شي.»

د سپټمبر ۱۴ د جمعي ورځ د ډنمارک سفیر ته څرګنده شول چې امریکا په افغانستان کې د طالبانو پر ضد جګړه پیل کوي او د القاعده ټول کمپونه به بمبارد کړي. د ډنمارک سفیر په واشنګټن کې د سپټمبر د ویر په غونډه کې برخه واخیستل. د څو مذهبي سندرو تر ویلو وروسته جورج بوش هغه ځانګړي ځای ته ولاړ او کښیناست کوم چې جمي کارتر او بیل کلنټن هم هلته کښینستلي وو. په خبرو یي داسې پیل وکړ:

---

[۱۰۹] - Serbie

[۱۱۰] - Kosovo

[۱۱۱] - CNN

« نن مونږ ملي وير نيولی دي، مونږ نن د خدای په حضور کې، مړو او هغه کسانو ته چې تر اوس پوری تږي تم دي او د دوي دوستانو ته، دوعا کوو. د سی شنبې په ورځ زمونږ پر هيواد په اګاهانه ډول پراخ ظالمانه بريد وشو. مونږ دود، اور، دوړي او کړي اوسپنې په انځورونو کې وليدلي.» بوش دا وويل او وروسته يي د هغه کسانو سره چې لږ معلومات يي درلود، او مړی يي ليدلي نه وو، خبري وکړي. د بوش تر وينا وروسته د سپينو جامو درلودونکو کسانو د وير ځانګړې سندره د موزيک سره وويل.

د ډنمارک سفير وايي: زه د څارګرې ادارې، سی ای ای د[112] مشر، جورج تينيټ[113] څنګ ته کښينستلم، زه باوري وم چې موخه افغانستان دي. په نيغه يي څه ونه يل خو موخه په ښکاره افغانستان وه. دومره يې راته وويل چې اولريک! تيار اوسه، موضوع جدي ده. نو زه پوه شوم چې خبري جدي شوی دي او دا حتماً پوځي عمليات په نظر کې دي.

کله چې د ډنمارک سفير د پوځي بريد د پيل موده وپوښتل، ځواب يي داسې واوريد: په لنډه موده کې.

د ډنمارک سفير په بيړه ډنمارک ته خبر ورکړی چې د امريکا مشرتابه پريکړه کړی ده.

اوس نو په څه ډول بايد ناټو مرسته وکړي؟ په داسې حال کې چې پنځم ارټيکل فعاله شوی دي.

د دغه ارټيکل استعمال ساده خبره نه وه. امريکايان د ناټو د غړو هيوادونو د ملاتړ څخه خوشحاله وه چې په ګډه يي ځانونه د همکاري له پاره مکلف ګڼلی وو خو امريکايانو غوښتل چې ناټو د راتلونکو کسات اخيستونکو پوځي عملياتو څخه ليري وساتي.

يو غيری طبعي حالت رامينځته شو. د ناټو عمومي منشي، رابرټ بيرسټون او غړي هيوادونه منتظر وو چې د امريکا له خوا د دندو دقيق لست تر لاسه کړي تر څو اجرأ يي کړي. په ځانګړی توګه د افغانستان په تړاو، مګر هيڅ معلوم نه

---

[112] - CIA

[113] - George Tenet

شول. د ناټو عمومي منشي تر ډیر فشار لاندي و، د غړو هیوادونو دغه غیري عادي د همکاري لاس چې اورد شوی وو، که امریکایان ورڅخه ګټه وانخلي، ډیر به مایوسه شي. په دغه خاطر د ناټو عمومي منشي د غړو هیوادونو د دفاع وزیرانو اضافي غونډه د سپټمبر پر (۲۶) نیټه راوبلل.

په غونډه کې حالت اندیښمن او مایوس کوونکي و. د امریکا د دفاع وزیر د ډیر مصرفیت په وجه د غونډې د ګډون څخه بخښنه وغوښتل په بدل کې د دفاع وزارت مرستیال، پاول ولفوویټز[١١٤] غونډې ته راولیږي نو ځکه دا یو تاریخي غونډه شوه.

د ناټو د معلوماتو د څانګې مشر، جیمی شیا[١١٥] د غونډې جریان په لاندې ډول بیانوي:

« دا یوه ډیره غیري عادي غونډه وه، زه چې ډیر کلونه کیږي په ناټو کې کار کوم دا ډول غونډه مې نه یادیږي. د امریکا استازی وویل چې د سپټمبر برید یوازې پر امریکا حمله نه وه. دا برید پر موږ او تاسو ټولو وو، موږ غواړو چې ټول هغه څه درکړو چې تاسو ورته اړتیا لري. پاول ولفوویټز وویل چې زه تاسو ته وروسته راګرځم.

په حقیت کې پاول ولفوویټز وویل د همکاري څخه مننه مګر مانا یي دا وه چې تاسو ته اړتیا نه شته. د امریکا د ناټو سفیر، بورنس[١١٦] هم حیران شو ځکه نوموړی امریکایانو ته مشوره ورکړی وه چې د ناټو د مرستې د وړاندیز څخه ګټه واخلي. نوموړي په دې نظر و چې په دغه ډول ناټو په نړیوالو مسایلو کې شاملیږي. بورنس د بهرنیو چارو د وزارت او پاول ولفوویټز د دفاع وزارت اسازیتوب کولو. د پاول ولفوویټز ځواب د دفاع وزارت په استازیتوب و، په دغه خاطر د غړو هیوادونو پوځي استازو فکر وکړ چې دا پنتاګون دي چې په موږ ساتیري کوي.

---

١١٤ - Paul Wolfowitz

١١٥ - Jamie Shea

١١٦ - Burns

یو اونۍ وروسته امریکایانو د دندو یو لنډ لست راولیږي چې ناټو یي سرته ورسوي. دا دندې یوازې په اروپا کې وي چې د ناټو پوځونه د هغو امریکایانو ځای ډک کړي، کوم چې د پوځي عملیاتو د تر سره کولو له پاره افغانستان ته ځي. وروسته دندو ته پراختیا ورکړل شوه په دی مانا چې د ناټو معلومات ټولونکې (جاسوسي) الوتکي د امریکا د لویو ښارونو پر فضأ گزمه وکړي. اوس نو ناټو په جدي دندو وگومارل شوه.

په واشنګټن کې د ډنمارک سفیر، اولریک فیدرسپیل[۱۱۷] د أمریکایانو غبرگون ته منتظر و:

« د ترهگریز برید لږ وروسته په سفارت کې موږ په خپلو مینځو کې بحث ورباندې وکړي. ایا پنځم ارتیکل به د امریکایانو په نظر مثبت ښکاره شي یا به بد پر ولگیږي. دا ځکه چې امریکا د بل ډول مرستو امید درلودي. سفیر ډنمارک ته خبر ورکړی چې گومان نه کیږي، امریکایان به زموږ مرسته په خوښی قبوله کړي. په دغه خاطر د ډنمارک د دفاع وزیر د امریکا د دفاع وزارت د مرستیال په غیر طبعي سلوک باندې حیرانتیا ونه ښودل.

د ډنمارک د دفاع وزیر وایي: پاول ولفوویټز کړنه ادبي وه خو مرستې و نه منلې. موږ د موضوع څخه یو رښتیانۍ اخیستنه وکړه، ځکه د یو داسې حالت په وړاندې باید امریکایانو همداسې کړی وای. دوي په خپله کړنه داسې سیگنال راکړي چې د دغې دندې تر عهده موږ وتلای شوو. د دفاع وزیر په یاد پاته دي چې امریکایانو پرته د معنوې ملاتړ څخه نور څه نه غوښتل.

د ډنمارک د هغه وخت صدراعظم، پاول نیروف غاسموسن[۱۱۸] غوښتل چې نورهم مخته ولاړ شي، پنځه ورځې مخکې چې د دفاع وزیر د ناټو په غونډه کې گډون کولو، صدراعظم د پارلمان د بهرنیو اړیکو د کمسیون موافقه تر لاسه کړه چې د امریکا څخه ملاتړ وکړي. پاول نیوروف د امریکا د ولسمشر جورج بوش غوښتنه پر ځای وگڼله چې افغانستان باید اوسامه بن لادن او د القاعده شبکې نور غړي امریکا ته تسلیم کړي.

---

[۱۱۷] - Ulrik Federspiel

[۱۱۸] - Poul Nyrup Rasmussen

د ډنمارک صدراعظم وویل چې د بوش غوښتنه پرحق ده، ډنمارک په بشپړه توګه د امریکا څخه ملاتړ کوي. ما مخکې هم ویلې و او اوس بیا امریکا ته وایم چې موږ په ټوله لار کې درسره ملاتړي یوو. موږ به پوځي مرستې هم وکړو که امریکایان یې غوښتنه وکړي.

د دفاع وزارت مشرتابه په جدي توګه کار کولو چې معلومه کړي چې په افغانستان کې د پوځي عملیاتو له پاره په څومره کچه مرسته کولای شي.

د سپټمبر په میاشت کې د ډنمارک لوی درستیز، کرستینویډټ[۱۱۹] او د قرار ګاه عمومي مشر، یسپر هیلسیو[۱۲۰] دړې ځله د حکومت د لوړو پوړو چارواکو سره غونډې وکړي.

ینس هیلسیو وایې، موږ پریکړه کړي وه چې جنګي الوتکه[۱۲۱]، جنګې کښتئ او پلي سرتیري په عملیاتو کې برخه واخلي. البته د افغانستان د عملیاتو په مختلفو مراحلو کې کیدای شي ترانسپورتي الوتکه د[۱۲۲] په نوم هم په اختیار کې ورکړو.

د ینس هیلسیو له نظره صدراعظم پاول نیوروف غاسموسن پر ځای پوښتنې کولي او ژور معلومات یي غوښتي. صدراعظم د ډنمارک په سیاسي او ستراتیژیک اړتیا ښه پوهیدي چې د نورو هیوادو په څنګ کې د پوځي عملیاتو یوه برخه شي خو ینس هیلسیو د بهرنیو چارو د وزیر د نظریاتو سره علاقه نه درلودل.

ینس هیلسیو وایي، ما هروخت داسې فکر کاوه چې سیاستوال باید د دلایلو د وړاندې کولو په وخت کې د بدن خوځښت ته پام ونیسي او پریږدي چې کوم لغاتونه او څنګه دلایل وایي، خو د بهرنیو چارو وزیر دا کار نه شوای کولای. کله چې موږ به د خپلو راتلونکو دندو د اجرأ په تړاو انځورونه ښودل، نوموړی به ټول بدن قات کړی. د بهرنیو چارو وزیر، لویکه ټافټ به د موضوعاتو د

---

- Christian Hvidt[۱۱۹]

- Jesper Helsø[۱۲۰]

- F-16[۱۲۱]

- Hercullesfly[۱۲۲]

تشریح په وخت کې بې علاقه ښکاریدي خو صدراعظم به بیرته سم پر ځای کښیناوه. د لویکه ټافټ په یادیږي چې د دفاع وزارت د مشرانو سره په غونډه شکمن و.

کله به چې د پوځ خبري کیدلي، لویکه ټافټ وایي ما به هروخت د نیوکو څخه ډکې پوښتنې کولي سره د دي چې زه سل په سل کې پوهیدلم چې د سپټمبر د ترهګریز برید په تړاو موږ باید د امریکا سره خپله همدردي او ملاتړ وښیوو. ما د بوش حکومت ښه پیژندي چې څومره به دغه پوځي عملیات اوږده کړي نو ځکه دا چې موږ به ویل چې تر پایه به د امریکا ملاتړی یوو، زه یې په اندیښنه کې اچولی وم. زه د صدراعظم هغه مشهورې وینا چې په ټوله لاره کې به د امریکا ملاتړي یوو، اندیښمن کړی وم چې جګړه به کوم ځای ته ورسیږي. د پوځ مشرتابه ډیره علاقه درلودل چې د امریکایانو پر قدمونو مخته ولاړ شي او ډیر لګیاه وو چې امریکایان په لوړه ممکنه پیمانه د ډنمارک پوځي مرستو ته ښه راغلاست ووایي.

کله چې د دفاع وزیر د ډنمارک د پوځ امکانات بیان کړل، صدراعظم مننه وکړه او بس خو د دفاع وزارت مشرتابه بیا د لوړو پوړو سیاستوالو څخه څه وانه وریده. د دفاع وزیر د نورو وزارتونو د اړوندو ادارو مشرانو ته په ښکاره وویل چې په بیړه د پوځیانو استول ډیر مهم دي.

یسپر هیلسیوو وویل چې موږ باید د امکاناتو څخه په بیړه ګټه واخلو او ژر ووایو چې دغه دی موږ درسره ملاتړي یوو. دا بې ګټې کار دي چې پنځه میاشتې وروسته راښکاره شوو. د نړیوالو له خوا څخه به ډیر وستایل شوو چې د پیښې په بله ورځ (۱۰) پوځیان وړاندې کړو تر هغه چې پنځه میاشتې وروسته (۱۰۰) تنه په واک کې ورکړو.

د ډنمارک لوړپوړو چارواکو بحثونو ته دوام ورکړي چې پرته د ناټو د لارې، د څو انتخابي هیوادونو څخه به ډنمارک څومره مرسته وکړي که امریکا مراجعه وکړی؟

د دفاع وزیر وایي چې ما، د بهرنیو چارو وزیر او صدراعظم سره مشورې وکړي چې ایا ځانګړي پوځونه ولیږو که یا؟ وروسته مو پریکړه وکړه چې په دغه شیبه کې نه لیږو. دوه وزیران او صدراعظم نه پوهیدل چې دغه پوځیان به کومه دنده مخته یوسي.

د دفاع وزیر وایي: موږ ارزونه وکړه چې دا موضوع څومره ډرامتیزې کړو تر څو یوه لویه سیاسي پوښتنه ورڅخه جوړه شي. که موږ ځانګړي پوځیان ولیږو، اوموضوع پټه وساتو تر څو دا یو سرکس شي. د بل لوری څخه ټاکنې رانژدې دی نو ولسونه به موږ ملامت کړي چې جګړې ته تمایل لرو.

د بهرنیو چارو وزیر موګنس لویکه ټافټ ټینګار کولو چې زموږ پوځیان باید سوله ساتي ځواک وي د دي پر ځای چې په جګړه ایزه عملیاتو کې برخه واخلي. پرته له دي څخه دري واړه همږغې وو چې باید مرسته وکړو.

د اکتوبر پر (۱۵) نیټه لوی درستیز، کریستین ویډټ، د پوځي قرارګاه مشر، ینس هیلسیو، د دفاع وزیر او صدراعظم غونډه وکړه. ینس هیلسیو د غونډې څخه نوټ اخیستي و چې صدراعظم په دي ډول پر پوځي مرستو ټینګار کولو: « عملي سیاست وایي چې باید ګډون وکړو. حکومت او د بهرنیو چارو وزیر تر شاه پاته دي.»

صدراعظم د حکومت له پاره پر (۲۳) د اکتوبر وړاندیز د پریکړې له پاره تیار کړي خو د هغه څخه هیڅوخت څه جوړ نه شول. د صدراعظم له پار د ټاکنو د وخت اعلانول تر بل هر څه مهم و.

د ترهګریز برید وروسته په همدغه ورځ د ډنمارک لیږل شوي هیت وغوښتل چې د ډنمارک پر لورې الوتنه وکړي. د هیت غړو ټیپانو ته وینه ورکړه، نور پرته د یوې ترخې خاطرې په توګه چې په یاد یې وساتي بل څه یي نه شوای کولای.
د سپټمبر پر (۱۵) نیټه د شنبې په ورځ یې د ډنمارک پر لورې الوتنه وکړه او دا بله ورځ کوپنهاګن ته راورسیدل. په هوایې ډګر کې ډیر زیات ژورنالیستان منتظر وو، سیون سیونه ګورد [۱۲۳] بیخې په شوک کې شو. نوموړی فکر نه کولو چې د هیت راتلل به دومره په زړه پوری او جالب وي. یو ژورنالیست د نوموړي څخه وپوښتل: ته همږغې یې چې د ډنمارک بهرني پالیسي سخته شي؟

د یو موټي ګوند غړی حیران شو چې دا څه وایي؟ نوموړي اوس وایي چې تر دغه شیبې پوري دا موضوع د بهرني پالیسي په تړاو ماته کومه پوښتنه نه وه. موږ ولیدي چې جورج بوش د مسلمانانو مسجد ته ولاړي او څرګنده یې کړه چې

- Søren Søndergaard[۱۲۳]

دا برید په مسلمانانو پورې کوم تړاو نه لري. په واشنګټن کې پر نورو موضوعاتو خبري کیدلي ولې په ډنمارک کې بحث بل لورې ته تللي دی.

د ښی لیبرال ګوند مشر، اندریس فوک غاسموسن[١٢٤] مشاور مایکل کریستیسن[١٢٥] ته دا پوښتنه عجیبه نه وه، ځکه نوموړي پوهیدي چې د راتلونکو ټاکنو په خاطر د اسلامي بنسټپالو موضوع د یوې لوبې په توګه د ناست صدراعظم پر ضد کاروي.

د صدراعظم، پاول نیوروف غاسموسن ستونزه چې د سپټمبر د (١١) نیټې له پاره اجندا جوړه کړې، د بهرنیانو (کډوالو) موضوع یي خنډ و. او موضوع په ټولیزه توګه مسلمانانو ته متوجه وه.

مایکل کریستیسن وایي چې د اندرس فوک غاسموسن او د ډنمارک د خلکو ګوند (ژ: د کډوالو ضد ګوند) له پاره دا داسې یو وسیله وه چې د بمب په شان یي په ټاکنو کې د صدراعظم په مقابل کې ورځخه ګټه پورته کړي.

یوازې تر برید څلور ورځې وروسته د ډنمارک د خلکو ګوند په خپله کلنۍ غونډه کې پریکړه وکړه: په نني عصر کې زموږ لار چې ازادي، تمدن او ډموکراسۍ ده د هغه نړۍ څخه چې بنسټ یې پر اسلامې بنسټپالی ولاړ وي، بیله ده. د غونډې ګډون والو غوښتنه وکړه چې د بنسټپالو د هغو پنځو غوښتنو (ژ: د اسلام پنځه بناوي) پر ضد د ټولو وسایلو څخه په ګټه اخیستنه کلکه مبارزه وشي.

د ښی لیبرال ګوند مشر، اندریس فوک غاسموسن (ژ: د راتلونکو ټاکنو د صدراعظمي نوماند) د خلکو د ګوند د شدیدي لهجې څخه چې د مسلمانانو پر ضد یي وکارول، ځان ګوښه کړاو د دوي وینا یی لږ نرمه کړه. خو بیا هم د ډنمارک د خلکو ګوند په ټول پوښتنو کې پرمختګ وکړي، ښی لیبرال ګوند هم په بیړه شپږ ورځي وروسته د بهرنیانو (کډوالو) په تړاو د قانون سختولو وړاندیز وکړي. اندریس فوک غاسموسن د ښی لیبرال ګوند مشر په یو هوټل کې د غونډې په جریان کې خپل وړاندیز داسې بیان کړي: « د ډنمارک د بهرنیانو (کډوالو)

---

[١٢٤] - Anders Fogh Rasmussen

[١٢٥] - Michael Kristiensen

سیاست ډیر نرم دي او دا به د خواشینی حالت وي چې بله دا ډول ناوړه پیښه ووینو، نو باید هر څه ژر د کډوالو د قانون سختول تر بحث لاندې ونیسو.»

د ښی لیبرال ګوند په نظر د کډوالي د اخیستلو قانون باید سخت شي، ځکه چې دوي بنسټپاله نظریات لري. موږ باید وکولای شوو چې کډوال هغو هیوادونو ته ولیږلای شوو کوم چې د اعدام ورکولو سزا لاري. د قران شریف د هغو ښوونځیو سره چې زموږ د ارزښتونو سره په ټکر کې وي، مرستې وربندې ودرو.

د ډنمارک صدراعظم، پاول نیوروف غاسموسن د خپل دولتي موقف پر اغیزې باور درلود نو ځکه یې د ټاکنو نیټه یې د نوامبر (۲۰) نیټه اعلان کړل.

تر ټاکنو شپږ ورځې مخکې د دفاع وزیر په ډنمارکي ورځپاڼه کې اعلان کړل چې حکومت تیار وو چې په سلګونو پوځیان یې د افغانستان جګړې ته ولیږلي وای که امریکا او یا ملل متحد غوښتنه ورڅخه کړي وای. بیا هم د دفاع وزیر د ډنمارکیانو پوځیانو دنده په بشري مرستو کې ځانګړی وبلل او ویي ویل. « موږ تیار یو چې سوله ساتي او یا هم د بشري مرستو کارپوه پوځیان د ناټو تر سیوری لاندې د پنځم ارټیکل په چوکاټ کې ولیږو.»

ولې د ټاکنو پایلو وښودل چې ښی لیبرال ګوند د ټاکنو په کمپاین کې د کډوالو د راتللو پر شرایطو د سختو قوانینو وړاندیز، د مالیې د ډیرولو مخیوي او په روغتونونو کې د ا نتظار د مودې لږولو، بري د دوي په نصیب کړي. ترهګریز برید او راتلونکې جګړه د ترهګرو په مقابل کې هیڅوخت د ټاکیز کمپاین اساسي موضوع نه شول.

تر ټاکنو یوه اونۍ وروسته د ښی اړخې لیبرال ګوند مشر، اندریس فوک غاسموسن خپل نوي کابینه معرفي کړل. د ډنمارک نوی صدراعظم، اندریس فوک غاسموسن[۱۲۶] تر مخکني صدراعظم، پاول نیوروف غاسموسن ډیر زیات د امریکا سره نژدیوالي ته لیوال و او دا نژیوالي په پوځي برخه کې هم زیات و. دا نژدیوالي کوم سرحد نه درلودی، دا سیاست نه و، بلکې امریکا د هغه په زړه کې ځای درلودي.

- Anders Fogh Rasmussen[۱۲۶]

د حکومت نوو ګټونکو په دفاع وزارت کې غټ انقلابي بدلون راوستي، دا کار د ځینو لوړ پوړو افسرانو په واسطه تر سره شوو، هغو افسرانو چې ګومان یي درلود چې موږ مثبت بدلون راوستلای شوو. او په پایله کې په یوه درسته جګړه کې ور داخل شول، افسرانو هیڅوخت دا سوچ کړي نه وو چې دا جګړه به ډیر کلونه نیسي. (ژ: اوس دیارلس کاله وروسته څرګنده شوه چې نوي صدراعظم خپل پوځیان د مرګ کندي ته په خوښي ټیل وهل او ډنمارک یي په نړیواله کچه د اشغالګرو په لیکه کې ودرولو او هم یې د امریکا سره یو ځای د شرمه ډکه ماتی وخوړل.)

# دويم څپرکی

## پلان
د ۲۰۰۱ ـ ۲۰۱۱ زکلنو پوري

۱۳ نوامبر ۲۰۰۱ زکال: شمالي ټلوالي د امریکا د ځانګړو پوځیانو او الوتکو په مرسته کابل ونیوي. طالبان خپل اصلي مرکز قندهار ته په شاه شول.
۵ ډسمبر ۲۰۰۱ زکال: د بن نړیوال کنفرانس د مخالفینو په ګډون موافقه وکړه چې د افغانستان د راتلونکي لپاره یو اجرأتي پلان جوړ شي. یو انتقالي حکومت باید هیواد رهبري کړي او د اساسي قانون د جوړولو له پاره همږغي رامیځته شي، تر څو چې دوه نیم کاله وروسته د ولسمشر له پاره ټاکنې تر سره شي. پښتون، حامد کرزي د امریکا او ملل متحد په موافقه د طالبانو تر سقوط وروسته نوی مشر وټاکل شو. طالبان غونډې ته رابلل شوی نه وو.

۷ ډسمبر ۲۰۰۱ زکال: د طالبانو مشر د کندهار ښار څخه د چینایي موټرسایکل پر کونچوغه (ژ: د بل چا تر شاه چې سپور وي) وتښتیدي. امریکایان بریالي نه شول چې اوساما بن لادن او ملا عمر ونیسي.

۱۴ ډسمبر ۲۰۰۱ زکال: د ډنمارک پارلمان د رایو په اکثریت (حکومت، د ډنمارک د خلکو ګوند، کیڼ لیبرال ګوند، د عیسویانو ګوند او سوسیال ډموکراټانو موافقه رایه ورکړه) تصویب کړل چې د پوځ ښکاري او ښنا واحدونه د افغانستان جنوبي برخو ته د اسامه بن لادن او ملا عمر د نیولو له پاره ولیږي. (ژ: داسې څرګندیږي چې یو موټي ګوند او سوسیالست ګوند رایې ورکړي نه دي.)

اول جنوري ۲۰۰۱ زکال: د نوي کال په وینا کې نوي صدراعظم اندرس فوک غاسموسن امریکایان په دی ډول وستایل: د امریکایي ټولنې د جوړیدنې بنسټ پر شخصي ازادي، ډموکراسی، د بشر حقوقو ته درناوی او د مذاهبو په وړاندې زغمونکي باندې جوړه شوی دي. نوموړی علاوه کړه چې موږ به پرته د سولې د خبرو د ترهګرو پر ضد جګړه وکړو. او په دغه جګړه کې به امریکایان د ترهګرو پر ضد یوازي نه وي. (ژ: افغانانو د امریکایانو کړنې ولیدلې چې په کومه کچه د بشر د حقوقو درناوي کوي او اندریس فوک غاسموسن چې همدا شیبه د ناټو عمومي منشي دي، موږ وینو چې د سولې خبرو ته څومره عذر او زاري کوي او خپل پوځیان په ځړیدلو سرونو د افغانستان څخه باسي.)

د (۳۵) کالو څخه وروسته د لومړی ځل له پاره ډنمارکي پوځ ته په مخامخ جګړه کې دنده وسپارل شوه. په ډنمارک کې دا یوه ترخه پیښه وګڼل شوه.

د بهري قواو(۴۷) کلن ټیم سلوټ یورګنسن[127] د یو لایق افسر او ښه شنونکي په توګه پیژندل شوی و په همدي خاطر د راتلونکي له پاره د ډنمارک د دفاع د وزارت په لوړه څوکۍ کې مقرر شو. نوموړی د عادي پوځي مشر په توګه مقرر نه شو. نوموړي د سختګیرو جنرالانو په توګه چې خپل آمر پرته د بحث څخه تطبیقوي، نه و. نوموړي په هره موضوع کې د خپلو همکارانو مشورو ته غوږ نیوي. دغه مهربانه جنرال هم انتظار درلودی چې همکاران یې خپلې دندې په ښه توګه اجرأ کړي او خپل مسولیتونه وپیژني چې په معمولي ډول د پوځ په مینځ کې عادت داسي نه و. د جنرال دغه مهربانه حالت د هر پوځي د نظر څخه په مختلف

ډول تعبیر کیدي ځینو پوځیانو د جنرال مهربانه حالت د هغه قوت خو ځینو هغه ته د کمزوي پوځي په سترګه کتل. د نوموړي جنرال پوهې ته هیچا د پوښتنې نښه ایښودلای نه شوای.

ټیم سلوټ یونسن په ۱۹۹۹ زکال کې د دفاع وزارت د قوماندې مرکز عملیاتي مشر وټاکل شو او د نوموړی دنده په مستقیمه توګه د دفاع وزارت د مشر، کریستن ویډت[128] او د هغه وخت لوی درستیز اوه هیوغ ګولډبیرګ هوف[129] تر مشرتابه لاندې وه. ټیم سلوټ یونسن د خپلو همکارانو سره په ګډه باید ډیر محرم پلان جوړ کړی وای چې د ډنمارک د نړیوالو دندو د پوځي واحد څخه (۴۸۰۰) پیاده سرتیري د سربیا د پوځیانو پر ضد په کوسوو کې پیاده کړي. ټیم سلوټ یونسن په زیاته کچه د دې نظریې ملاتړی وه ځکه د دفاع وزارت مشرتابه ته څرګنده وه چې د اجرأتو دغه قابلیت چې ټیم سلوټ یونسن او هغه نور ځوانان لري، د کلنو څخه د مشر تابه په نظر کې وو.

په کوسوو کې حالت ډیر ترینګلی و. د سربیا د قوی مشر، سلوبودن میلاسوویچ په امر د سربیا سرتیري او نور توپکیان په کوسوو کې کور په کور ګرځیدل تر څو البانیان تیښتې ته اړ باسي. د کډوالو دغومره لویه شمیره د دوهمې نړیوالې

- Tim Sloth Jørgensen[127]

- Christian Hvidt[128]

- Ove Høegh Guldberg Hoff[129]

جګړې راوروسته پیښه شوی نه وه. د جګړې په دوران کې سربیانو قتل عام جوړ کړي، دوي د البانیانو ښځې او نارینه په ډله ایزه توګه وژل او په لویو کندو کې ښخول.

سره د دې چې د ناټو الوتکو د ۱۹۹۹ زکال د مارچ د میاشتي د ورستیو ورځو څخه څو اونۍ مسلسل د سربیا پوځي هدې په سربیا او کوسو کې بمبارد کړي، تر څو د سربیانو پوځونه د کوسوو څخه وباسي خو حالتو ډیر بدلون ونه کړي. د سربیا پوځونه تسلیمي ته تیار نه وو، په همدي وجه د امریکا او ناټو تر مینځ جدي خبرو دوام درلودي، چې پوځونه پیاده کړي که یا؟

د امریکا ولسمشر بیل کلینټون داسې وویل چې تیار نه دي چې پوځونه پیاده کړي خو د انګلیستان صدراعظم توني بلیر په څرګند ډول وویل چې تیار دي چې ۱۰۰۰۰ سرتیري ولیږي او په پیاده جګړې کې برخه واخلي.

په دغه وخت کې د ډنمارک د سوسیال ډموکراټانو د دفاع وزیر، هنس هیکروپ [130] ته امر وکړ چې د ۱۰۰۰ تنو پوځیانو استول او میشتول د سربیانو پر ضد په کوسوو کې وارزوي. پوځ غوښتل تیاري ونیسي چې د سایستوالو د احتمالي پریکړې په صورت د نومړي پوځي واحد ټول ۴۸۰۰ سرتیري د تللو له پاره تیار کړي.

ټیم سلوټ یونسن وایي چې سربیانو په عامه وژنه پیل کړي وه نو ځکه دا احتمال زیات و چې ډنمارک باید یو څه زیاته ونډه واخلي.

د ډنمارک جنګي الوتکي [131] د ناپولي په هډه کې د ناټو د عملیاتو له پاره د سربیانو پر ضد ځای پرځای شوې وي. د ډنمارک د پیاده قوتونو عملیات ډیر زیات خطرناکه وو. کله چې ټیم سلوټ یونسن په عملیاتو کې برخه واخیستل، نومړي د حالاتو څخه ناراضه ښکاری دي. نومړي یوازې د ډنمارکي سرتیرو وژلو او ټپي کیدلو اندیښمن کړی نه و، بلکې هغه باوري نه و چې نظم او امنیت به راوستلای شي.

ټیم سلوټ یونسن وایي: ماته دنده راکړل شوه چې څنګه د ډنمارکي سرتیرو پوځي واحد په کوسوو کې د یرغل له پاره وکاروم. دا په بشپړه توګه په ډنمارکي

- Hans Hækkerup[130]

- F-16[131]

پوځ کې نوی نظر و ځکه د ۱۸۶۴ زکال راوروسته موږ پوځي جنګي عملیات نه وه کړي. موږ د عملیاتو پلان جوړ کړي چې په څه ډول او کومه لار او دره کې برید تنظیم کړو، پلان مو د پوځ مشرتابه ته وړاندې کړی چې د هغوي خوښ شوو. ولې ستونزه دا وه چې موږ د پوځي واحد ګډون په جګړه کې څنګه تیار کړو، غټې کمبودي شتون درلود.

د ډنمارکي غښتلي پوځي واحد سرتیري او وسایل په لږه موده کې د دندې د اجرأ له پاره نه تیاریدل. دغه د نړیوالو دندو د اجرأ پوځي واحد څو کاله مخکې جوړ شوی و، په رسمي توګه ارزونه شوی وه چې کوچنی اوه (۷) نفري ګروپ باید په یوه اونۍ کې تیار شي خو دنده دا وه چې لویه ډله پوځیان باید په (۱۴) ورځو کې ولیږل شي. مګر د ټیم سلوټ یونسن ارزونه دا وه چې دا کار ناشونی دي.

د دفاع وزارت د کمي بودجې په خاطر تیاري دومره کمزوری و، دغه پوځي واحد چې موږ ورته په لوړ ارزښت قایل وو، هغه اړتیاوي نه شوای پوره کولای چې موږ غوښتلي. موږ اړ وو چې یوه چاره وکړو. سره د دي چې پر کاغذونو لیکل شوی وو چې د نړیوالو دندو پوځي واحد (۴۸۰۰) پوځیان دي په دنده وګومارل شي خو په واقعیت کې د دفاع وزارت د مشرتابه سره داسې څه شتون نه درلودي چې یوازې (۱۰۰۰) تنه پوځیان په دغومره لنډه موده کې تیار کړي. په ربښتیا سره د دغه پوځي واحد مهمې ستونزې چې د زده کړو، تریننګ او موادو کمښت یې درلودي، پټې وساتلې.

ټیم سلوټ یونسن وایي: ما په یوه الماري کې د نوموړي پوځي واحد یو رپوټ تر لاسه کړی چې په رپوټ کې د لویو کمبودیو یادونه شوی وه. هیچا ویلای نه شول چې ولې دغه رپوټ را برسیره شوی نه وه. عمومي دلایل دا وو چې د دفاع وزارت بودجه دومره تر فشار لاندې وه چې د پورته غوښتونو بشپړول ممکن کار نه و.

د قضیې عکس دا و چې د دفاع وزارت په مشرتابه کې پر ځان باور شتون درلودي ځکه ډنمارکي پوځیانو په نړیوالو دندو کې د ۱۹۹۰ زکلنو د بوسنیا او کروشیا په جګړو کې تجربې تر لاسه کړې وي.

موږ فکر کاوه چې موږ په لویه کچه تیاري لرو چې په جګړه کې برخه واخلو. که زه اوس شاه ته وګورم، موږ په هیڅ برخه کې تیاري نه درلودي. د ناټو د

نورو غړو هیوادو د پوځیانو په پرتله موږ ډیر نه پوهیدو نو ځکه زموږ څخه یې لس کاله وغوښتل چې تجربې ولرو او څه زده کړو.

په بالکان کې ډنمارکي پوځي واحد د سولې پیاده قوه وه. په دی مانا چې ډنمارکي پوځي واحد باید مخالفي ډلې لیرې سره ساتلي وای او هڅه یې کړی وای چې اوربند مراعات او د سولې قراداد ته درناوي وشی. داسې دنده یې نه درلوده چې برید وکړي او هیواد اشغال کړي.

ټیم سلوټ یونسن وایي موږ هیڅوخت جګړه کړی نه وه، یوازې مو په کتابونو کې د جګړې په تړاو لوستي وو او یا چا کیسې راته کړی وي.

میلاسوویچ د ۱۹۹۹ زکال د جون په میاشت کې خپل پوځیان د کوسوو څخه پر شاه کړه او یوه کوچني ولایت ته ولاړل نو ځکه ناټو خپل پوځونه داخل کړل او کنترول یې په لاس کې واخیست. هغه البانیان چې د خپلو کورونو څخه تښتیدلي وو، دوباره په قطارونو خپلو چور شوو او سوځیدلي کورونو ته په کوسوو کې راستانه شول. هیڅوک د دفاع وزارت د پټ پلان څخه خبر نه شو ځکه هغه په عمل کې پیاده نه شو. خو ټیم سلوټ یونسن او یو شمیر ځوانو پوځیانو ته څرګنده وه چې ډنمارکي پوځیان د پیاده جګړې له پاره تیار نه وو نو ځکه دغه حالت باید په پوځ کې بدلون وکړي. په پوځ کې بدلون ستونزمن کار و، سره د دي چې د برلین د دیوال چپه کیدو سره په ۱۹۸۹ زکال د شوروي تهدید له مینځه تللی و خو بیا هم د دفاع وزارت مشرتابه د سرحدونو په ټینګولو لګیاه و. موږ لا هم د سړې جګړې په دفاعي چارو لګیاه وو خو نړۍ د بیړنې بدلون په حال کې وه. ټیم سلوټ یونسن وایي: کله چې موږ په پوځ کې د بدلون وړاندیزونه رامخ ته کړل، ډیر یې متوقف شول او نه یې پریښودل چې تر لوړ پوړو سیاستوالو ورسیږي.

موږ په پوځ کې اپوزیشن نه درلود. خو په طبعي ډول د پوځ د مشرتابه جوړښت دا ډول و، ولې بیا هم خبرو په یو یا بل ډول په سمینارونو، کورسونو او مجلسونو کې دوام پیدا کړي.

موږ خپلې اندیښنې په غیري منظم ډول بیانولي، وروسته پوه شولو چې یوازې نه یوو او اړتیا شته چې په دی برخه کې څه وشي. موږ غوښتل چې هر څه نوي پیل کړو او پوښتنه وکړو چې موږ د پوځ څخه څه غوښتنې لرو؟ ټیم سلوټ

یونسن وایي د ۲۰۰۱ زکال د سپټمبر ترهګریز برید موږ ته ډیره اسانتیا پلاس راکړل چې خپل نظریاتو ته د عمل جامه واغوندو.

وروسته ټیم سلوټ یونسن د نوي مفکورې د ویاند په توګه وپیژندل شو. غوښتنه دا وه چې ډنمارکي پوځیان ټولې نړۍ ته په بشپړ قوت ولیږل شي. دا چارې ډیرې پیسې غوښتې خو لوړپوړي سیاسیون تیار نه وو چې ډیر لګښت وکړي، سیاستوالو غوښتل چې باید دقیقه ارزونه وشي او پیسې د هغو اضافي پوځي قشلو د تړلو څخه جوړې شي کوم چې په ساړه جنګ کې ودانې شوې وې. او په لوړه کچه د خوځندو پوځي واحدونو چې په لویه پیمانه اړتیا نه شته، بوجه لږ شي.

کله چې د ۲۰۰۱ زکال د نوامبر په میاشت کې اندریس فوک غاسموسن ۱۳۲ صدرات مقام تر لاسه کړ، د پوځ د پیاوړتیا مفکوره د یو شمیر پوځیانو په مغزو کې ول، ټیم سلوټ یونسن د اغوس په ښار کې د سمندري پوځونو د مشر په توګه کار کاوه، د ستر درستیز د مرکز څخه لیري و. یو بل لوي بدلون رامینځته شو چې په ۲۰۰۰ زکال کې جنرال یسپر هیلسیو د اوه هیوګه ګولبیرګ هاف په عوض د لوي درستیز په توګه وټاکل شو. جنرال یسپر هیلسیو د پوځ د اوپراتیفي کوماندو د مشرتابه څخه د ستر درتیز پر مقام وټاکل شو که څه هم نوموړي د هغو افسرانو څخه نه و چې پر جاري حالت یې نیوکه درلوده. نوموړي خپل سوچونه درلودل او د دفاع وزارت د ۱۹۹۹ زکال د قرارداد څخه خوښ نه و.

یسپر هیلسیووایي چې زما هیله دا وه چې ولس ته ووایم چې تاسو په کال کې د بیمې (۱۹) میلیارده کرونه د پوځ له پاره ورکوي خو دا پوځ هم ستاسي چوپړ کولای شي. همدغه علت و چې نوموړی جنرال غوښتل چې ښې لاسه ګوندونه د اندریس فوک غاسموسن په مشرۍ واک تر لاسه کړي تر څوپوځ ته ډیره پاملرنه وکړي. د اندریس فوک غاسموسن تر ټاکلو یوه میاشت مخکې امریکایانو موږ ته بلنه راکړل چې ارتباطی پوځیان د امریکا پوځي مرکز ته ۱۳۳ په فلوریدا کې ولیږو. د نوامبر په دوهمه نیټه ۲۰۰۱ زکال ډنمارکي پوځیان د

---

۱۳۲ Fogh Anders - Rasmussen

۱۳۳ - Central Command

امریکا د پوځ دغه مرکز ته ورغلل تر څو د ترهګرو پر ضد په افغانستان کې عملیات پیل کړي.

په نړیواله کچه د ترهګري پر ضد د جګړې بنسټ د جورج بوش په وینا سره د امریکا کنګرس ته د نوامبر په (۲۰) نیټه پیل او ټینګ شو. جورج بوش څرګنده کړه چې د جګړې پیل په افغانستان کې د ترهګری پر ضد لومړی قدم دي چې موږ یې په دغه پراخه جګړه کې اوچتوو. زموږ جګړه د القاعده څخه پیل کیږي خو همدلته پای ته نه رسیږي. دا جګړه به تر هغه وخت پورې به دوام مومي تر څو هر ترهګر ګروپ په نړیواله کچه پیدا، متوقف او وربانديږ بریالی شوو. امریکایان باید وپوهیږي چې دا یوازې یو برید نه دي، دا به دومداره او اوږده جګړه وي چې تاسو به تر اوس پورې ازمویلې نه وي. جورج بوش د نړۍ هیوادونه د یو انتخاب په مقابل کې ودرول: موږ به هر هغه هیواد تعقیب کړو چې ترهګرو ته مرستې او یا د پناه ځای ورکوي. ټول هیوادونه او ملتونه باید خپل انتخاب ښکاره کړي چې: زموږ سره دي او که د ترهګرو په څنګ کې دریږي. د بوش دا خبرو ډیر پراخ مفهوم درلودي ځکه نو دا جګړه د یو ټاکلي دښمن او یا یو هیواد په وړاندې نه وه چې تر برید وروسته بریالیتوب اعلان شي. د همدغې شیبې څخه باید امریکایان تیاري ولري چې د ترهګری او ښکیلو هیوادونو پر ضد جګړه دوامداره ده. د بوش دغه وینا د بوش د دکتورینو په نامه وبلل شول چې یو کال وروسته د یو سند په توګه د بوش د امنیتي ستراتیژي نوم په لاندې متن خپل کړي.

« د امریکایانو دښمنان یو ټاکلي ایډیالوژي، هیواد او یا شخص نه دي. دښمن ترهګري ده، هر قصدي یا سیاسي کړنې چې تاو تریخوالي ولري او پرته د کوم دلیل څخه د بی ګناو خلکو د نابودی سبب کیږي، ترهګري ګڼل کیږي. د ۲۰۰۱ زکال د سپټمبر په (۲۰) نیټه وینا کې بوش وویل: زموږ دښمني د اسلام سره نه ده مګر دا چې بنسټپال ترهګر او هغه حکومتونه چې دوي ته مرسته ورکوي. بوش په دقیق ډول لومړی تهدید د طالبانو څخه په ښښه کړ: (طالبان باید په بیړه عمل وکړي، دوي باید ترهګر موږ ته وسپاري پرته له دي نه به دوي هم د ترهګرو په سرنوشت اخته شي.

یو ورځ وروسته د جورج بوش پوځي پلان چې پر افغانستان به برید کوي، د جنګي مرکز[134] مشرتابه په غونډه کې تایید شو. د جنرال ټومي فرانک[135] دقیق پلان (دښمن ته سزا ورکول) د جورج بوش له خوا د اکتوبر په (۲) نیټه منظور شو. د عملیاتو له پاره د لایتناهي سولې نوم ورکړل شو خو بوش ویل چې باید مسلمانان تحریک نه شي.

دغه پلان څلور دورې (فازه) درلودل. لومړی باید امریکا او ملاتړي پوځونه پاکستان او ازبکستان ته انتقال شي. وروروسته باید الوتکې، ځانګړي قوتونه او د ځارګرې[136] ادارې پرسونل د افغاني جنګیالو سره په ګډه همکاري د القاعده کمپونه او طالبانومهمې نقطې وویشتل شي. په دریم فاز کې باید امریکایان خپل پوځونه پیاده کړي او جګړه پای ته ورسوي. څلورم فاز کې پلان داسې و چې امنیت او ستابلیتیت (ثبات) تأمین شي. دا یوازې پوځي پلان و، امریکایانو هیڅوخت د بیا رغوني پلان د افغانستان د عام ولس د ژوند له پاره نه درلود.

لومړی فاز چې پوځونه ځای پر ځای شي، سمدلاسه پیل شو او وروسته بوش په یوه راډیویي وینا کې طالبانوته د اکتوبر په (۶) نیټه اخطار ورکړي. طالبانو امکان درلودي چې ټول ترهګر تسلیم کړي، کمپونه یې وتړي او عملیات یې بند کړي. څرګند اخطار ورکړل شو خو د طالبانو څخه وخت تیر شو.

په پاکستان کې د طالبانو سفیر، ملا عبدالسلام ضعیف په یوه خبري کنفرانس کې دغه غوښتنې رد کړي او علاوه یي کړل چې امریکایان باید اسناد او شواهد وړاندې کړي چې اوساما بن لادن په ترهګریز برید کې ګډون درلود. که امریکایان دا کار وکړي نو طالبان به د القاعده مشر ونیسی او د اسلامي شریعت د قوانینو په رڼا کې د افغانستان په دننه کې محکمه کړي. د طالبانو پورته نظریات د امریکایانو له خوا په کلکه رد شول او پرته د کوم شرط یي د اوساما بن لادن تسلیمول و امریکایانو ته وغوښتل.

د امریکایانو برید پر افغانستان باندې تر هغه وخت پورې چې اوساما بن لادن ، مړ او یا ژوندي نیول کیدي پرته د قید او شرط څخه بریالیتوب نه ګڼل کیدي. دا کافي نه وه چې طالبان د واک څخه لیري شي. امریکایي څیرونکو ډیرې هڅې

---

- Central Command [134]

- Tommy Franks [135]

CIA [136] - البانو سفیر په پاکستان

وکړي چې د نړۍ تر ټولو زیات تر تعقیب لاندې ترهګر څیره په واقعي توګه خلکو ته وروپیژني خو باید ووایو چې اوازې او خبري ډیري وي ولې واقعیتونه ډیر لږ وو.

د ټیپ کستونه، ویډیوګانې چې د نومورړی پیغامونه ږغول شوی وو، د سپټمبر تر (۱۱) نیټې مخکې په ټوله نړۍ کې تیت وو. په ثبت شوو ویډیو ګانو کې بن لادن ډیر خطرناک نه ښکاریدي. نري، خوش څیره، د لوي ږیري او ملایم اواز درلوونکي و، څه چې د نوموړی د خولي څخه راوتل، سړی غلط نه پوهیدي. د نوموړي پیغام مسلمانانو ته د جهاد مکلفیت او د امریکایانو وژل وو.

د اساما بن لادن پلار محمد بن لادن چې د ودانیو جوړولو شرکت یي درلودی، شتمنه کورنۍ وه او د شاهي کورنۍ سره یې ښې اړیکې درلودي. یوې تاریخي پیښې د ځوان بن لادن په ژوند کې بدلون راوستي. په ۱۹۷۹ زکال د پخواني شوروي اتحاد پوځونه پر افغانستان را توي شول تر څو د خپلو ملاتړو کمونستانو د حکومت ستنې ټینګي کړي او د اسلامپاله ډلو په مقابل کې جګړه وکړي. ځوان مسلمانان د ټولې نړۍ څخه د شوروي اشغالګرو سره د جهاد په موخه افغانستان ته ولاړل. په ۱۹۸۰ زکال اوساما بن لادن د جهاد په نیت د شورویانو په مقابل کې افغانستان ته وخوځیدي. په افغانستان کې د افغاني خدماتو دفتر د (مکتب الخدمت) په نوم پرانیستي او د ځوانو مسلمانانو د جذب له پاره یي اعلانونه خپاره کړل چې ځوانان په جهاد کې ونډه واخلي. د دغې موسیسې تر شاه عبدالله یوسف اعظم چې د عربي مجاهدینو په مینځ کې د ډیر محبوبیت څخه برخمن و، ولاړ و. دغو دوو کسانو ګډ کار پیل کړي چې ځوانان جذب کړي. اوساما بن لادن د مجاهدینو د سفر او استوګنې له پاره د ترینڼګ په مرکزونو کې چې د پاکستان او افغانستان په سرحد کې واقع وو، د پیسو پیداکولو دنده واخیستله.

د افغانستان جګړه د امریکا او سړې جګړې (شوروي اتحاد) تر مینځ د جګړې له پاره ګټه ورڅخه اخیستل کیده. د امریکا څارګرې اداري سی ای ای[137] مجاهد جنګیالي د پاکستان د څارګرې اداري، ای اس ای[138] واسطه د جګړې له پاره ټریننګ ورکاوه، وسلې او سټینګر راکټونه یې ورکول تر څو چې الوتکې او چورلکې په نسکوري کړي. ډیري کسان نظر لري چې اوساما بن لادن په عربي هیوادونو کې د جهاد له پاره چنده (پیسې راټولولي) کول ولې

[137] - CIA

[138] - ISI

مجاهدینو ته لویدیزو هیوادونو هم مرستې ورکولې. لارس لویکه غاسموسن ۱۳۹ د ښی لیبرال ګوند (ژ: دا هغه کس دي چې تر اندریس فوک غاسموسن وروسته صدراعظم شو خو اوس په ۲۰۱۴ زکال کې د ښی اړخې لیبرال ګوند مشر دی او دا دی په ۲۰۱۵ زکال بیا صدراعظم شو) غړی په ځوانې کې افغانستان ته ولاړی، مجاهدینو ته یې پیسې ورکړې او په افغاني جامو کې انځورونه ورسره واخیستل.

کله چې په ۱۹۸۹ زکال شورویانو خپل پوځونه د افغانستان څخه ویستل، لس کاله تنده جګړه شوی وه نو ځکه مجاهدینو هم په لوړه کچه د جګړې مهارتونه تر لاسه کړي وو او پر څو ډلو ویشل شوی وو. په همدغه کال اوساما بن لادن په خپل مرکز کې د القاعده له پاره ډېر فعالیت وکړي او نوموړي د مشر مقام تر لاسه کړي. د نوموړی موخه دا وه چې د شرایطو څخه ګټه واخلې تر څو د جهاد له پاره قوتونه راټول کړي چې په راتلونکی کې ګټه ورڅخه واخلې. د دې چارې له پاره په خپل خوښه ځوانان لږ نه وو. توله بهرني تربیه شوی مسلمانان مجاهدین خپلو هیوادونو ته ستانه شوه، خو په عامه توګه دغه مجاهدین په خپلو هیوادونو کې ښه استقبال نه شول. اوساما بن لادن هم خپل هیواد، سعودي عربستان ته ولاړی، نوموړي ویدیویي او عادي کستونه چې د جهاد او د امریکې پر ضد ویناوي ور په کښې ثبت شوی وي، هر ځای ږغول. نوموړي په خپلو ویناوو کې دا هم څرګندول چې امریکا په عربي هیوادونو کې ډېر نفوذ لري. د نوموړی کستونه د هغو مجاهدینو له خوا چې د افغانستان د جګړې څخه خپلو هیوادونو ته راغلي وو، په پراخه کچه تبلیغ شول.

کله چې عراق په ۱۹۹۰ زکال کویټ اشغال کړي، اوساما بن لادن د عربستان شاهي کورنی ته یو وړاندیز وکړی. نوموړی وویل چې زه غواړم خپل ملګري مجاهدین راټول کړم او کویټ د عراق د اشغال څخه ازاد کړم. ولې شاهی کورنۍ د اوساما وړاندیز رد کړ او په بدل کې د امریکا سره ملګري شو، امریکایي پوځیانو ته یې په عربستان کې ځای ورکړي او شپږ میاشتې وروسته کویټ ازاد کړل شو. کله چې اوساما او د هغه ملګرو د عربستان د شاهي کورنی پر پریکړه چې کافرانو ته یې د عربستان په پاکه خاوره کې ځای ورکړی، اعتراض وکړی، شاهي کورنۍ د هغه پاسپورت ورڅخه واخیست (ژ:مانا تابعیت یې ورڅخه واخیست).

[139] - Lars Lykke Rasmussen

اوساما بن لادن بریالي شو چې د ۱۹۹۱ زکال په اپریل کې د عربستان څخه وتښتي او د سوډان اسلامي حکومت ته ورشي تر څو د سوډان په مرکز خرطوم کې استوګنه پیل کړی. په سوډان کې اوساما د ملي اسلامي جبهې د مشر حسن الطرابي ۱۴۰سره ګډ کار پیل کړ. اوساما بن لادن په سوډان کې کرنیزې (زراعتي)، فابریکي او د ودانیو جوړولو (ساختماني) پروژې

تأسیس او د افغانستان څخه راغلو بیکارومجاهدو جنګیالیو ته یې کارونه ورکړل. نوموړي د منځني ختیز د ټولو بنسټپالو له پاره دترینننګ مرکز هم جوړ کړ. دا کار نوموړي لس کاله په افغانستان کې هم کړی و. سودان د وسلوالو بنسټپالو مرکز شو.

د اوساما بن لادن بنسټپال، برید کوونکي او ورانونکي عقیدې نوي مسلمانان هم ځانته راجلب کړل. په نوی یمو (۹۰) کلنو کې د اسلامي هیوادونو ستونزې مشترکې وي. د ماشومانو د زیږدنې زیاتوالي او د مرګ و میر کمښت ، زیات ځوانان په راتلونکي کې چې د کار او وزګار پته نه وه، د تیاري سره لاس او ګریوان کول. ډیر ځوانان مذهبي ښوونځیو (مدرسو) ته تلل چې دغو ځوانانو ته د قران کریم حفظول ډیر مهم وو. یو شمیر نورو ځوانانو په تخنیکي او یا عمومي زده کړو د خپلو هیوادونو په دننه او یا بهر کې پیل وکړې خو په ټولیزه توګه یې د زده کړو څخه ګټور کار اخیستلای نه شوای. ډیر ځوانان به د راتلونکی څخه ناامیده شوه او په اسانی سره د اسلامي بنسټپالو عقایدو ښکار کیدل چې د اسلام نورعادي قوانین یې د پام څخه غورځول. همدغه علت و چې د اوساما بن لادن ملاتړي په اسلامي نړۍ کې د «تکفیري» او نور مسلمانان د سستو او بایلونکو مسلمانانو په نومونو شهرت درلودي. په دغه وخت کې نړۍ د بن لادن فعالیتونو ته ځیرنه وه. خو د ۱۹۹۳زکال د فبوري په میاشت کې د امریکا د تجارتي مرکز ۱۴۱دپارکنګ په یو موټر کې یو قوي بم ځای پر ځای شوی و. د انفجار په پایله کې شپږ کسان مړه او تر (۱۰۰۰) تنو زیات ټپیان شول. د څیړونو په پایله کې امریکایي مقامات نتیجي ته ورسیدل چې د بم ایښوونکو او اوساما بن لادن تر مینځ تړاو شته. اوساما بن لادن د پیښې څخه بی خبري ښودل، خو دا موضوع د ډیرو بحثونو د راپورته کولو سبب شول چې ایا اوساما په پیښه کې

---

- Hassen al-Turabi[۱۴۰]

- Word Trade Center[۱۴۱]

لاس درلودی که یا؟ ولې امریکایي مقامات باورې وو چې د بم ایښوونکو څخه یو هم اوساما بن لادن دي.

اوساما بن لادن د سعودیانو په سترګو کې اغزی شو او په ۱۹۹۴ زکال کې د سعودي تابعیت ورڅخه واخیست. دوه کاله وروسته امریکایان او د سعودي حکومت بریالي شول چې د سوډان حکومت قانع کړی چې اوساما بن لادن د خپل هیواد څخه وشړي. خو دوي و نه کولای شواي چې د اوساما د تریننګ د مرکز د انتقال مخ و افغانستان ته ونیسي. هغه وخت چې شوروي پوځونه د افغانستان څخه ووتل، افغانستان د کورنۍ جګړې په لمبو کې سوځیدي. کله چې مجاهدینو، شورویان د افغانستان څخه وشړل او وروسته یې افغان حکومت هم ونړاوه نو خپل په منځونو کې د واک پر ویش باندې په خونړیو جګړو بوخت وو. دا جګړه هغه وخت پای ته ورسیدل چې یو ځوان ملا د افغانستان د جنوبي ختیزو برخو څخه د ملا محمد عمر په نامه د ځوانانو مسلمانانو یو جنبش جوړ کړي او د طالبانو نوم یې ورباندې کښیښود. د دغه ډلې ډیر غړي د افغانستان او پاکستان د سرحدي سیمو د قبایلو غریب ځوانان وو چې په مدرسو کې د قران کریم زده کړې کړی وي. طالبانو د پاکستان د څارګرې ادارې د پوځي مرستې په پایله کې ډیر ژر د افغانستان لویه برخه تر ولکې لاندې راوستله. یوازې د افغانستان په شمال کې شمالي ټلوالي مقاومت وښودي.

کله چې اوساما بن لادن د افغانستان په خاوره کې پښه کښیښودل، یو بنسټپال اسلامي حکومت یې جوړ کړی چې د طالبانو د تعبیر په اساس د شریعت قانون یې تطبیقولو. د کابل راډیو د شریعت د راډیو په نوم ونومول شول چې ټول ورځ یې د قران شریف تلاوت کولو. هر ډول انځور اخیستنه او انځور ځړونه منع شوه، نارینوو باید ږیرې پریښودلي واي، ښځې د ښوونځیو او کار تللو څخه منع شوې. ښځو یوازې کولای شي د شرعي محرم سره بهر ته راووځي او باید بوغره یې کړي وي چې ټول بدن یې په کښې پټ وي. د مجرمینو جزا سنګسار او یا په دار ځړول وو. طالبانو د اسلامي غورځنګ څخه ملاتړ کولو او د تریننګ مرکزونه یې جوړ کړل. د اوساما د راتلو سره سم د تریننګ ډیري مرکزونه د القاعده په واسطه کنترول کیدل او د نوو راجذب شوو طالبانو ژوند سخت وو. ټول ورځ د تریننګ په مرکزونو کې د منډې، پروت، پر څنګو خوځښت، د کلاشینکوف، دهشکې. لاسي بم، راکټ انداز او نورو پوځي وسایلو په تمرین او زده کړه تیریدل.

نور قوانین يي څرګند وو چې د ترینینګ په وخت کې باید اسلامي قوانین مراعات شي او د ورځي پنځه وخته لمونځ ادأ شي. د وسلو او مرمیو څخه پرته د ښونکي د اجازې څخه ګټه اخیستل ممنوع و. باید د بستر روجایي ګانې او نورې جامې په اونۍ کې یو ځل ومینځل شي. د استوګنې سیمه پاکه وساتل شي او د ترینینګ د مرکز څخه لیري ولاړ نه شي. هرډول سیاسي بحثونه، د نشه ای توکو څخه ګټه اخیستل او هر ډول جارو جنجال منع کړه شوي وو او هم ټول له وخته باید د خوب کوټو ته ولاړ شي.

اوساما د څلورو نورو بنسټپالو اسلامي مشرانو سره په ۱۹۹۸ زکال یوه فتوا صادره کړه:

« هر مسلمان مکلف دي چې د امریکا او د هغوي د ملاتړو اتباع ووژني، په هر هیواد او په هر ځای کې چې امکان وی.» دلایل يي دا وو چې امریکایانو د عراق د جګړې (۱۹۹۱ زکال) له پاره په سعودي عربستان کې پوځي اډه جوړه کړي ده چې مسلمانان وځپي، تیل يي غلا کړي او د یهودانو دولت اسراییلو ته مرستې ورکړي چې د اوساما بن لادن په آند باید اسراییل د مځکې د کرې څخه محوه شي. څو میاشتي وروسته تلویزیوني شبکې[۱۴۲] اوساما سره مرکه وکړه، نوموړی وویل چې ترهګری یوه وسیله ده چې د امریکایانو وحشتونه د عربانو او اسلام په وړاندې په ټپه ودروي. ژورنالسیت ورڅخه پوښتنه وکړه چې عادي امریکایان هم باید ووژل شي؟

د اوساما ځواب داسې و: موږ د امریکایي پوځیانو او عادي امریکایانو تر مینځ توپیر نه کوو. دا زموږ موخه ده او وروسته يي د امریکا خلکو ته لاندې پیام ولیږي:

« که امریکایانو ته د دوي ژوند ارزښت لري او غواړي چې اولادونه یی ارام ژوند ولري، دوي باید داسې حکومت وټاکي چې ملي ګټو ته ارزښت ورکړي او د امریکایانو غوښتنې په عمل کې پیاده کړي نه دا چې د اسراییلو غوښتنې ورته مهمې وې. که دغه غیري عادلانه حالت دوام ومومي، ناچاره یو چې جګړه د امریکا خاورې ته انتقال کړو.

---

[۱۴۲] - ABC-TV

په ۱۹۹۸ زکال د اګست په اومه نیټه د (۴) دقیقو په توپیر لومړی د کینیا په پلازمینه، نایروبي او وروسته د تانزانیا په پلازمینه، دارالسلام کې د امریکا پر سفارتونو ترهګریز بریدونه وشول. دا پیښې څه کم دوي مشاشتي د اوساما بن لادن تر مرکې وروسته رامینځته شوې. په نایروبي کې (۱۲) امریکایان او (۲۰۱) تنه نور چې زیاتره یې د کینیا اوسیدونکي وو، ووژل شول او څه د پاسه (۵۰۰۰) تنه ټپیان شول چې تقریباً ټول یې ملکي وګړي وو. وروسته اوساما د افریقایانو د وژلو په تړاو په دفاع کې وویل چې په اسلام کې د اړتیا په صورت کې د دوي وژل هم اجازه شته. نوموړي څرګنده نه کړه چې د ترهګریزو بریدونو تر شاه د نوموړي اساسي لاس و که نه؟ خو موضوع یي هغه فتوا ته راجع کړل چې مخکې ورکړل شوی وه.

د ولسمشر بل کلینټن په امر په افغانستان کې د خوست په شاوخوا کې د القاعده پر څو مرکزونو د راکټونو فیرونه وشول خو اوساما بن لادن و نه وژل شو او هغه مرکزونه وروسته د القاعده لخوا جوړ شول.

دوه کاله وروسته د امریکا پر جنګی کښتۍ ۱۴۳ یمن هیواد د ادن سمندرې ښار کې ځانمرګی برید وشو. امریکایانو بیا هم اوساما بن لادن تورن کړ چې دغه برید یې تر سره کړی دي خو اوساما دا تورونه رد کړل.

د اوساما بن لادن ترهګریز ګروپ یو کلاسیک ګروپ نه و، په بدل کې داسې ګروپ و چې په نړۍ کې د نورو ترهګرو ګروپونو سره په ځانګړی توګه په منځني ختیز او اسیا کې اړیکې درلودي. د امریکا له پاره لویه ستونزه دا وه چې څنګه دغه ټول تیت و پرک ترهګریز ګروپونه وټکوي؟

سره د دي چې ځانګړې پوځي ځواکونه د اوساما بن لادن د نیولو له پاره افغانستان ته ولیږل شول خو بیا هم د نیولو په تړاو یې ستونزې ډیرې وې. دغه خطرناک ترهګر همیشه په خوځښت کې وو، نو ځکه لویه ستونزه وه چې هغه پیدا کړو. مخکې نوموړي د خپلو اړیکو له پاره د سټلایټ ټلیفون څخه ګټه اخیسته ولې د دی له پاره چې موقعیت یې تثبیت نه شي نور یی دا کار نه کولو.

امریکایانو د ۲۰۰۱ زکال د اکټوبر پر اومه (۷) نیټه پر افغانستان برید پیل کړ. په لومړی برید کې (۳۱) هدفونه وویشتل شول. جورج بوش په یوه تلویزیوني

- USS Cole[۱۴۳]

وینا کې وویل چې د امریکا پوځ زما په امر د القاعدې د ټریننګ پر مرکزونو او د طالبانو پر پوځي تاسیساتو بریدونه وکړل. د بمونو اچونه پر ټولو پوځي مرکزونو د رادار او نورو پوځي وسایلو د ړنګولو له پاره په جدي توګه دوام ومومند. د امریکا پر تجارتي مرکز د ترهګریز برید څخه پنځه اونۍ وروسته د امریکا ځانګړی پوځونه د اکتوبر پر (۱۹) نیټه د ازبکستان څخه والوتل او په پراشوټ کې د طالبانو پر ضد د ځمکنۍ جګړې له پاره د افغانستان په خاوره کې کوز شول. یوه اونۍ وروسته د انګریزانو په سلګونو پوځونه هم افغانستان ته ورسیدل. دغو پوځي ځواکونو د شمالي ټلوالي په ملاتړ د طالبانو پر ضد جګړه پیل کړه. شمالي ټلوالي د افغانستان د خاورې لس سلنه چې تاجیکان او ازبکان وو، تر خپلې ولکې لاندې درلودل. د شمالي ټلوالي ډیر جنګیالي د نیویمو (۹۰) کلنو په جګړو کې د ظالمو او وحشي جنګیالیو په توګه شهرت درلودې. د ۲۰۰۱ زکال د اکتوبر په میاشت کې شمالي ټلواله په حقیقت کې د افغانستان د ډیرکیو (اکثریت ) سره چې پښتانه و، په جګړو بوخت شول.

د امریکا څارګرې ادارې، سی ای ای ارزونه وکړه چې شمالي ټلواله تقریباً (۲۰۰۰۰) جنګیالي لري خو طالبان د خپل خوښو (داوطلبانو) په ګډون تقریباً (۴۵۰۰۰) جنګیالي لري. د دی سره چې د امریکا څارګرې ادارې د شمالي ټلوالي د ملاتړ له پاره پټ پلان جوړ کړی و خو د بل کلینټن حکومت نه غوښتل چې شمالي ټلوالې ته وسلې ورکړي. د جګړه مارو د جنایتو لست ډیر اوږد وو، چې د نشه توکو د تجارت څخه بیا تر قتلونو پوری ور په کښې شامل وو. د بلی خوا د دوي رښتینتوب په پیسو او ژوندي پاته کیدلو پوری تړلی وو. دوي کیدلای شوای د پیسو په مقابل کې رانیول شوی وای، آن په بعضی حالاتو کې، طالبانو هم دوي په پیسو رانیول. د امریکا حکومت جرأت نه درلود چې په دوي باور وکړي.

اوس شرایطو بدلون موندلي وو نو ځکه د امریکا ولسمشر جورج بوش د مرستو شین څراغ ورته روښانه کړي چې د طالبانو په مقابل کې د غشي کار ورڅخه واخلي.

د لویدیزو هیوادونو د بم غورځونکوو الوتکو او ځانګړو پوځیانو په مرسته شمالي ټلواله وتوانیدل چې په لږ وخت کې طالبانو ته ماتي ورکړي خو په څنګ کې شمالي ټلوالي ډیر جنایتونه هم وکړل. نیول شوی طالبان او د القاعده غړي په بیره چارماري کیدل خو په ځانګړی توګه د جګړه مارو یو قوماندان ډیره

پاملرنه ځانته جلب کړل. جنرال دوستم چې په ظلم او وحشت کې شهرت درلود، مخالفینو ته یې ډیرې شکنجې ورکولي او وروسته یې وژل. عیني شاهدان وایي چې په څه ډول نوموړي طالبان په کانتینرونو کې اچول، چې د لوړي او تندې څخه مړه شي او وروسته یې پر کانتینرانو ډزې کولي چې ژوندي کسان هم له مینځه ولاړ شي. (ژباړن: هیره دي نه وي چې په دغه وژونو کې په نیغه د امریکا لاس و، زما رایادیږي چې د کندوز د زندان په تړاو د امریکا د دفاع وزیر، رامز فیلډ د تلویزیون پر پرده وویل چې موږ دغومره زندانیانو ته ځای نه لرو، مانا یې دا ول چې باید ووژل شي. دا هغه زلمیان وو چې په خوښه او یا زور یوازې د طالبانو د سرتیرو دنده یې درلودل، چې د اټکل له مخې ۵۰۰۰ تنه دغه بې گناه او ناخبره ځوانان د امریکا په مستقیم قومانده ووژل شول، البته د شمالي ټلوالي ټولو مشرانو لاس په کښې درلودي.) خو په همدي ډول فهیم خان هم د مشهورو جګړه مارانو څخه و. نوموړي په ختَه تاجک او د بې بند وباره جګړه مارو لوړ پوځي مشر و. د بشر د حقوقو د کمیټې د راپور پر بنسټ د فهیم خان جګړه مارو د (۱۹۹۲ ـ ۱۹۹۶ زکلنو) په دوران کې د عام ولس په وړاندې ډیر جنایتونه وکړل. د ۲۰۰۱ زکال د سپتمبر د (۱۱) نیټې څخه دوي ورځې مخکې د شمالي ټلوالي مشر، احمدشاه مسعود د القاعده له خوا ووژل شو او پوځي ځای ناستي یې فهیم خان شو.

د نوامبر په (۱۳) نیټه شمالي ټلوالي د کابل ښار ونیوي او طالبان د افغانستان جنوب خپل مرکز ته په شاه شول. دري اونۍ وروسته د ۲۰۰۱ زکال د ډسمبر په (۷) نیټه طالبانو کندهار هم پریښود. په همدي توګه د طالبانو مشر ملا محمد عمر د یو ارزانه چینایي موټرسایکل پر کونچوغه د کندهار د ښار څخه ووت. د امریکایانو او انګریزانو ګډ پوځي ځواکونه د ښار څخه بهر ځای پر ځای شول. په همدي ډول د کندهار د پخواني والي (ژ:ګل اغا شیرزی) او حامد کرزي (ژ: راتلونکي ولسمشر)، «۳۰۰۰» تنه ګډ قومي ځواکونه د کندهار پر لوري ور روان وو. د کندهار په تسلیمیدو او د ملا محمد عمر په تښتیدو سره په افغانستان کې د جګړې لومړی تاریخي پړاو پای ته ورسیدی. حامد کرزي (پښتون) د لومړی لنډ مهاله (د افغانستان اسلامي جمهوریت) اداري مشر وټاکل شو. ولې د طالبانو د مشرانو اوهم د القاعدې د مشر، اوساما بن لادن او د هغه ملاتړو د نیولو تلاښ روان و خو جګړه اود هغوي واک پای ته ورسید. دا پروسه دومره په بیړه پای ته ورسیدل چې امریکایي جنرالانو یې وړاندوینه کړی نه وه.

کله چې د ډنمارک مطبوعاتو د امریکایانو د بیړنۍ بریالیتوب خبرونه خپرول، د ډنمارک صدراعظم، اندریس فوک غاسموسن د ناټو د مشرتوب له پاره په نظر کې ونیول شو. جورج بوش د اندریس فوک غاسموسن د ملاتړ څخه مطمین و. سره د دې چې بوش د ناټو څخه پوځي مرسته نه وه غوښتي خو بیا هم اندریس فوک غاسموسن ته وویل شول چې د ډنمارک ځانګړي پوځي واحد ته په هلمند کې اړتیا شته چې د اوساما بن لادن او طالبانوپه نیولو کې کوم چې د جګړې څخه تښتیدلي او پټ دي، مرسته وکړي.

کله چې اندریس فوک غاسموسن تر ټاکنو وروسته هڅه کوله چې د ځینو ګوندونو سره حکومت جوړ کړي تر څو اکثریت تر لاسه کړي نو د ګوندونو سره یې ګډه غونډه جوړه کړه، د حکومت په پروګرام کې دقیقه پوښتنه دا وه چې: ایا تاسو زما سره همږغي یاست چې افغانستان ته ځانګړي پوځي واحد ولیږو؟ د اپوزیشن له خوا څخه ځوابونه روښانه نه وو، سړي نه پوهیدي چې تایید دی یا رد.خو هغو ګوندونو چې صدراعظم حکومت ورسره جوړولو په څرګند ډول یې د هوکې ځواب ووایه.

اندریس فوک غاسموسن وایي: «په دغه خاطر د حکومت د پروګرام بنسټ داسې کښیښودل شو چې ډنمارک د امریکایانو جدي ملاتړ کوي، کیدلای شی چې وروسته په افغانستان کې د ثبات له پاره هم مرسته وکړو خو همدا شیبه د جورج بوش غوښتنې ته باید مثبت ځواب وویل شي چې ځانګړي پوځي واحد ولیږل شي.
اندریس فوک غاسموسن د ډسمبر پر (۴) نیټه د پارلمان په پرانیستونکي وینا کې د پارلمان (۱۷۹) غړو ته د خپل ایډیالوژي په تړاو څرګنده وینا وکړه. اندریس فوک غاسموسن ځکه ټاکنې وګټلې چې د ډنمارکي سیاست منځنۍ لار یې ونیول نو ځکه یې د سوسیال ډموکراټانو وټونه ځانته راخپل کړل. په وینا کې نوموړي د رایه ورکولو ازادي د هر فرد حق وبولې چې بیروکراسۍ لږ شي او بهرني سیاست څرګند وي. ډنمارک باید په لومړۍ لیکه کې ولاړ وي او صدراعظم داسې بیان کړل:«ډنمارک باید مسولیت واخلي چې په نړۍ کې ازادی او سوله تامین شي. نوموړی علاوه کړه چې د ډنمارک ارزښتونه د امریکایانو سره همږغې دي.»

که ډنمارک د نړۍ د ستونزو د حل په خاطر خوځښت کوي دا په دی خاطر دي چې موږ د حق او عدالت په اړوند بنسټیز ارزښتونه لرو. موږ خپل ځینې

ارزښتونه رايګان لاسته راوړی نه دي. موږ د دغو ارزښتونو د په لاس راوړولو له پاره مبارزه کړی ده او نورو د همدغو ارزښتونو د ساتلو له پاره چې ډموکراسۍ او ازادی ده، مبارزې ته دوام ورکړی دي. نو ځکه موږ د امريکا او نورو ملاتړو هيوادونو سره د مرستې ږغ پورته کړي چې د نړيوالې ترهګری پر ضد جنګيږو.

کله چې اندريس فوک غاسموسن په ١٩٨٢ زکال (٢٩) کلن و، امريکی ته يي سفر وکړی او هلته يي پوهنتونونه او ځيني نور علمي مرکزونه وليدل نو د رونالد ريګن د سخت ښۍ اړخې بهرني سياست تر اغيزې لاندې راغي. که څه هم اندريس فوک غاسموسن د ټاکنو په دوران کې د ډنمارک د سياست منځنۍ لار واخيستل تر څو چې ټاکنې وګټي خو په حقيقت کې صدراعظم د جورج بوش د ځان ساتي (محافظه کارانه) بهرنۍ پاليسي خوښه کړه. د حکومت او د ډنمارک د خلکو د ګوند ګډ کار بنسټ د کډوالو د راتلو په وړاندې د کډوالي د قانون سختول او د کورنې سياست په تړاو يو شمير نورو مسايلو ، ګډ دريځ جوړولو.

کله چې اندريس فوک غاسموسن په پارلمان کې د ډموکراسۍ او ازادی په تړاو ويناه کول، د ملل متحد کنفرانس د افغانستان د راتلونکي حکومت د جوړولو په اړوند پای ته ورسيدي.

په کنفرانس کې د شمالي ټلوالي استازو يوه اونۍ د راتلونکی حکومت د مشرتابه په تړاو تاوده بحثونه کړی وو، کنفرانس په پيترسبورګ کې چې څو کيلومتره د بن څخه واټن لري، په يوه قيمتي هوټل کې جوړ شوی و. د ملل متحد ځانګړی استازې د الجزاير اوسيدونکی لخدر ابراهيمي[144] او د المان د بهرنيو چارو وزير، جوشکا فيشر[145] غونډې مشرتوب په غاړه درلودي. د شمالي ټلوالي برسيره دري نور ګروپونو هم په غونډه کې ګډون درلودي. د روم څخه د پښتنو استازي (١١) تنه چې د پخواني پاچا محمد ظاهرشاه لخوا معرفي شوي وو. ظاهرشاه په ١٩٧٣ زکال کې د کودتاه په واسطه د واک څخه ليري شوي و. دوهم ګروپ د پاکستان د کډوالو څخه وو او دريم ګروپ د کوپيرن څخه چې د ايران سره يي نژدی اړيکې درلودي، په غونډه کې ګډون درلودي. يو مهم ګروپ رابلل شوی نه وو. سره د دي چې طالبانو په جنوبي

- Lakhdar Brahimi[144]
- Joschka Ficher[145]

افغانستان کې د پښتنو په مینځ کې ډېر نفوذ درلودي، مګر غونډې ته رابلل شوی نه وه.

کله چې د ډسمبر پر (۵) نیټه اندریس فوک غاسموسن پارلمان ته وینا کړی وه، په سبا ورځ د بن په کنفرانس کې د افغانستان له پاره اجراییوي پلان جوړ شوی و. لنډه مهاله اداره باید جوړه شي چې په ګډ تفاهم اساسي قانون تصویب شي او د ۲۰۰۴ زکال د اګست په میاشت کې ولسمشریزې ټاکنې تر سره شي. دا ځرګنده وه چې پرته د پښتون مشر څخه لنډه مهاله حکومت بریالي کیدای نه شي. د تاریخ په اوږدو کې پښتانه ډېره کې وو، که شاهي او یا جمهوري نظام و، مشر یې پښتون و. په همدې خاطر (۴۴) کلن حامد کرزي د امریکا او ملل متحد په خوښه د لنډ مهالې ادارې مشر وټاکل شو. د حکومت غړي (۲۹) تنه وو چې شمالي ټلوالي ته مهم مقامونه، د کورنیو چارو، د دفاع او بهرنیو چارو وزارتونه ورکړل شوه. په رسمي توګه پریکړه وشوه چې لنډ مهاله اداره به د ډسمبر د (۲۲) نیټې څخه د ملل متحد د پوځي قواو په مرسته افغانستان اداره کوي.

د انګلیستان صدراعظم توني بلیر دقیقه اطلاع نه درلودل چې د ډنمارک نوی صدراعظم په کوم ساعت د نوموړی دفتر ته را رسیږي. د ډنمارک صدراعظم د ډسمبر په (۵) نیټه د انګلیستان د صدراعظم رسمي استوګنځای ته[١٤٦] په لندن کې ورسیدي. تر پنځه دقیقي انتظار وروسته توني بلیر هم راورسیدي او روغبړ یې سره وکړی، بخاري ته ودریدل او عکاسانو انځورونه واخیستل. تر یوه ساعت لږ زیات دواړه مشرانو د سهار په ناري باندې خبري سره وکړي. وروسته دواړه دروازې ته راووتلل او بیا یې لاسونه سره ورکړل. توني بلیر ولاړ او اندریس فوک غاسموسن یې خبر لوڅو ته پریښودي.

د ډنمارک صدراعظم وویل: موږ د سهار پر قهوه باندې ډیري په زړه پوري خبري وکړي چې د اوږدي دوستي سبب کیدای شي. نوموړی وویل: زه نوی یم او باید دلته شیان زده کړم. زه ډېر خوښ یم چې لومړی مشر توني بلیر و چې ماته یې مبارکي راکړه او انګلیستان ته یې د راتللو بلنه راکړه. دا ډېر ښه ده چې شخصي اړیکې ټینګي کړو او زه به هم په ښه وجه د ګډ بازار د مشرتوب په دوره کې د ډنمارک ګټو ته درسته پاملرنه وکړم. د افغانستان د جګړې په تړاو د تړلو دروازو شاته خبري وشوي. د اندریس فوک غاسموسن په نظرد توني بلیر مشرتوب د افغانستان په جګړه کې اغیزناکه و چې موږ (ډنمارک) یې هم

---

- Downing Street nummer 10[١٤٦]

اماده کړو تر څو د ترهګري پر ضد جګړه وکړو. اندریس فوک غاسموسن څرګنده کړه چې حکومت تیار دی چې په جګړه کې مرسته وکړي.

په همدغه شپه چې اندریس فوک غاسموسن دوباره کوپنهاګن ته راورسیدی، د پارلمان د بهرنیو اړیکو کمسیون ته یي د وعده شوي پوځي مرستې ټولې برخې روښانه کړي. هغه ډنمارکي پوځی واحد چې د تمرین له پاره د امریکا د فلوریدا پوځي مرکز ته تللي و، حکومت ته یي اطلاع ورکړل چې امریکا غواړي چې د ډنمارک پوځي واحد باید د ترهګری سره د مبارزې له پاره د افغانستان جنوب ته (هلمند) ته واستول شي. د بهرنیو اړیکود کمیټې په غونډه کې وړاندیز وشو چې الوتکه او ځانګړي پوځي واحد باید تیار شي. په غونډه کې د دفاع وزیر سوینډ ایج ینبیو [۱۴۷] او د بهرنیو چارو وزیر پیر ستي میولر [۱۴۸] هم ګډون درلودي.
تر غونډې وروسته اندریس فوک غاسموسن څرګنده کړه چې:«داپوځي عملیات به تر هغه دوام ومومي چې القاعده او طالبان تارو مار شي او اوساما بن لادن ونیول شي. په دغه خاطر د حکومت ملاتړ د پورته پوځي عملیاتو څخه اړین دي. د امریکایانو سره د بحث په نتیجه کې به څرګنده شي چې په کومه کچه ډنمارک مرسته وکړي.

د پارلمان د بهرنیو اړیکو د کمیټې په غونډه کې د حکومت سره د پخواني حکومت ګوندونو هم ملاتړ اعلان کړي.

د سوسیال ډموکراټانو پخواني صدراعظم پاول نیوروف غاسموسن [۱۴۹] وویل چې موږ د پوځي عملیاتو په تړاو ورته نظر درلودي: « موږ پر خپل وعده ټینګ یوو چې د ترهګري سره د مبارزې له پاره چمتوالي لرو.»

د سوسیال ډموکراټانو مشر، صدراعظم اندریس فوک غاسموسن ته بلنه ورکړه چې د ډنمارک پوځي مرستې باید د عام وګړو سره وي. ځکه اړینه ده چې په افغانستان کې هر څه ژر بشري مرستې پیل شي.

د دي خبرو څخه څرګنده شوه چې سوسیال ډموکراټان په یو حالت کې راګیر دي چې د دوو بدو څخه باید یو انتخاب کړي. دا یوه عادی موضوع نه وه چې د

---

- Svend Aage Jensby[۱۴۷]

- Per stig Møller[۱۴۸]

- Poul Nyrup Rasmussen[۱۴۹]

اندریس فوک غاسموسن د پریکړې څخه ملاتړ وشي. که چیري سوسیال ډموکراټان په واک کې وای، څرګنده وه چې حکومت به د ملل متحد تر سیوري لاندې د لیږدوونکي (انتقالي) حکومت د ساتلو له پاره پوځي مرسته کړي وای خو ځانګړي پوځیان یې د جګړې له پاره نه لیږل. اوس ډنمارکي پوځیانو دنده د افغانستان په جنوب کې د القاعده او طالبانو د جګړه مارو نیول او پلټل وو. خو اوس سوسیال ډموکراټانو ومنل چې د ترهګري سره د مبارزې له پاره به ځانګړی پوځي ځواکونه افغانستان ته ولیږي.

د سوسیال ډموکراټانو مخکني د بهرنیو چارو وزیر، موګنس لویکه ټافټ [۱۵۰] د پریکړې څخه خوښ نه و.

موګنس لویکه ټافټ وایي چې د حکومت تر بدلون وروسته موږ ګوندي غونډه وکړه چې افغانستان ته څه ډول پوځي مرستې ورکړو. ما دلایل وړاندې کړل چې دا به هوښیاره چاره نه وي چې ځانګړي پوځیان ولیږو. د مشرتابه نورو غړو وویل چې امریکایانو د پوځي مرستې غوښتنه کړې ده او موږ د بل انتخاب چانس نه لرو.

موګنس لویکه ټافټ وویل: زموږ له پاره دا یوه پرنسیپي پوښتنه ده چې د ډنمارک بهرني سیاست د نړیوالو فعالیتونو په تړاو څرګند وي او باید پوه شوو چې څومره مخته ولاړ شوو. زما په آند ډنمارک باید د جګړې په لومړی لیکه کې ځای ونه لري. موږ باید د جګړې په وروستۍ لیکه کې د افغانستان د ثبات له پاره مرسته وکړو. خو دغو بحثونو ګټه نه درلودل ځکه د مخ راګرځولو چانس نه و.

یوازي سوسیالیست ګوند [۱۵۱] یو موټي لست د اندریس فوک غاسموسن وړاندیز رد کړي. د سوسیالیست ګوند د دفاعي چارو مسول، ویلي سویندل [۱۵۲] وویل: صدراعظم غواړي چې څرګنده کړی چې یو قوي شخص دي. که د پوځي مرستو موخه د بشري مرستو له پاره وي، موږ به یې ومنو.

اندریس فوک غاسموسن د ډنمارک پخواني وعده چې د ملل متحد د سوله ساتو ځواکونو سره به مرسته کوي، هم منل خو علاوه یې کړل چې ډنمارک به دوې پوځي دندې په افغانستان کې مخته بوزي. خو اندریس فوک غاسموسن د ډسمبر

---

[۱۵۰] - Mogens Lykketoft

[۱۵۱] - SF

[۱۵۲] - Villy Søvndal

پر (۵) نیټه وویل په دغه شرایطو کې لازمه نه ده چې ډنمارک د ملل متحد د سوله ساتو ځواکونو سره مرسته وکړي، که دغه چارې ته اړتیا احساس شي، ښه به وي چې د اسلامي هیوادونو پوځیان په افغانستان کې ځای پر ځای شي. همدا علت و چې ډنمارکي پوځیان د سختي جګړې له پاره د امریکایانو سره یو ځای د افغانستان په جنوبي سیمو کې تیاري نیوي. د پارلمان د بهرنیو اړیکو د کمیټې تر غونډې دوي ورځي وروسته، پوځي مشرانو، سرتیرو او افسرانو ته اطلاع ورکړل چې د ازادي په نامه جګړه ایزو عملیاتو ته تیاري ونیسي. د پوځي مشرانو په لیک کې تاکید شوی و چې د راتلونکو عملیاتو په تړاو باید ټول پټه خوله وي او عامو وګړو ته معلومات ور نه کړل شي. د عملیاتو له پاره تیاري، زده کړې، او د عملیاتو د دقیقې نیټې، حال باید پټ وي، علت یي د عملیاتو بریالي پای ته رسول او د اشخاصو د امنیت ساتل یاد شوي و. هر څه باید په بشپړه توګه پټ وساتل شي.

څلور ورځي وروسته د ډسمبر پر (۱۱) نیټه د عملیاتي قوماندانی دفتر د دفاع وزارت د عملیاتو دفتر ته ولیکل:« د هغه ګروپ د پاره مرسته په کار ده چې د امریکایانو پوځي مرکز[153] په کندهار کې لیږل کیږي. په لیک کې یادونه شوی و چې دغه پوځي ګروپ د دښمن د پیداکولو دنده لري او د الوتکې[154] غوښتنه شوی وه چې پوځي ګروپ افغانستان ته ورسوي. دا چاره هغه وخت تر سره شوه چې د ډنمارک پارلمان د پوځي ګروپ لیږل چې د امریکایانو سره به په جګړه ایزه عملیاتو کې ګډون کوي، پریکړه کړی نه وه. د پوځ په دننه کې د تیاري نیول د پوځ د لوي درستیز په نظر پر ځای او اړین کار و. نوموړی وایي چې موږ پوهیدلو چې ژر به پارلمان پریکړه وکړي او په بله ورځ زموږ پوځ الوتنه کوي. موږ هر څه د پارلمان تر پریکړې څخه مخکې تیار کړل.
د ښکاري ګروپ افسر، نورمن کریستینسن[155] نوامبر په میاشت کې د هغه کورس مشر و چې د جنګي الوتکو پوځیان یی د کلنیو تمریناتو له پاره د کاروف[156] په هوایی ډګر کې بوخت کړی وو. د ښکاري پوځ مشر[157] نوموړی ته

- Camp Rhino i Kandahar[153]
- C-130[154]
- Norman Kristiansen[155]
- Karup[156]
- Frank Lissner[157]

ټليفون وکړی چې يو ځل راشي او د يوې مهمې دندې په تړاو مشوره ورسره کوي.

نوموړي د ښکاري پوځ مرکزي دفتر ته په البورګ[۱۵۸] کې ولاړ. نوموړي ډير باتجربه پوځي و چې د ملل متحد تر چتر لاندې يې ډيري بريالي دندې تر سره کړي وي. کله چې د مشر دفتر ته ورسيدي هغه ورته وويل: د امريکايانو د پوځ مشر دلته و او زموږ مرسته يې په افغانستان کې وغوښتل، اوس به موږ څه کوو؟ دلته دوي د سرتيرو پر شمير او دندو په تړاو ډيري خبري وکړي.

نورمن ورته وويل چې (۳۰ ـ ۴۰) تنه پوځيان کافي دي خو مشر يې ورته وويل دا شميره لږه ده. ستونزه دا وه چې ښکاري پوځيان د ملکي پرسونل په تدريس بوخت وو نو ځکه دغه شميره به د ځانګړو پوځيانو په څنګ کې غيري فعال وای. خو نورمن مشر ته وويل چې د خپل صلاحيت څخه کار واخله او هدغه کسان د تدريس په عوض ورکړل شوي دندې ته راوبوله. د شميرې په تړاو ډير بحث وشو خو وروسته پريکړه وشوه چې نور پوځيان به هم په دغه بحث کې ګډ وکړي.

نورمن وايي وروسته ما پر پلان کار کولو او پايله دا شوه چې د شنا پوځي واحد هم په دنده کې را ګډ کړو.

د دفاع وزارت مشرتابه نور پوځي واحدونه په خوځښت راوستل چې د امريکايانو سره په سختو عملياتو کې ګډون وکړي او هم د ملل متحد د عادی عملياتو له پاره په کابل کې په دنده وګومارل شی.

د ۲۰۰۱ زکال د ډسمبر په مياشت کې د زري وسايطو د پرسونل مشر خپل سرتيري مخکې د کرسمس څخه رخصتي ته واستول تر څو د کرسمس په شپو ورځو کې جګړه ايزه تمرينونه ورباندې وکړي. د پوځ لوي قوماندانې پوښتنه کوله چې څه وخت يې پرسونل، افغانستان ته د ليږولو له پاره تيار دي؟ په بيړه د سرتيرو د ټولولو چارې پيل شوي او وروسته صحي معاينات او واکسينونه بايد شوی واي. د زري وسايطو مشر ته د عملياتو جزييات څرګند نه وو خو اټکل يې کاوه چې د دوي سرتيري او په زرګونو نور سرتيري به د ملل متحد تر چتر لاندې د انګريزانو د پوځي مشرتابه لاندې عمليات وکړي. موخه دا وه چې په

- Aalborg[۱۵۸]

کابل کې مهمې دولتي ودانۍ او هوايي ډګر وساتي. د ډنمارک څخه د (۱۳۰) تنو پوځیانو غوښتنه وشوه. پوځي دلګۍ تیارۍ درلودي که د ملل متحد تر پروګرام لاندې د سوله ساتو ځواکونو په لیکه کې مرسته وکړي.

د زده کړو افسر لارس یوهنسن[۱۵۹] سهواچ کولو چې راتلونکې دنده به ډیره په زړه پوري وي نو غوښتنه یې درلوده چې د افغانستان یوه نقشه ومومي. لارس یوهنسن د کوپنهاګن په ښار کې د کتابونو پلورنځیو ته ورغلي تر څو یو ښه نقشه پیدا کړي خو یوازې عادی نقشې وی. تر ډیرو هڅو وروسته د یوې پلورنځي مشر په خپل ګدام کې په پرتلیزه توګه د افغانستان او کابل ښار ښې نقشې ورته پیدا کړي. نوموړي د روحي لحاظه دندې ته تیاري ونیوي. لارس یوهنسن پوهیدي چې کیدلای شي دنده یو څه خطرناکه وي په هر صورت د جګړې سیمې ته د تللو په حال کې یم.

سره د دي چې د دوي د ټیم دنده د معلوماتو راټولول وو خو لارس یوهنسن تیاري درلودي چې د اړتیا په وخت کې په جګړه ایزو دندو کې ګډون وکړي.

د لارس یوهنسن په نظر د دوي پوځي ټولګي کولای شوای چې جګړه ایزه عملیات تر نورو پوځي واحدونو په ښه توګه تر سره کړي.

په دغه ورځ د ډنمارک په پارلمان کې د ډنمارک ګډون په جګړه کې ډیر تاوده بحثونه راوپارول. حکومت وړاندیز وکړي چې موږ ځانګړي پوځونه، ث ۱۳۰[۱۶۰] ټرانسپورتي الوتکه او اف ۱۶[۱۶۱] جنګي الوتکه جګړې ته لیږو. دغه هغه پلان و چې د ډنمارک حکومت اته ورځي مخکي امریکایانو ته وړاندی کړي و. د پارلمان د بحثونو یوه شپه مخکې د امریکا سفیر ستوراټ بیرنیسټین[۱۶۲] په ډنمارک کې د ډنمارک صدراعظم ته د وړاندې شوي پلان هوکي وویل.

د وړاندیز په تفصیل کې ویل شوی و چې د ډنمارک پوځي مرسته به په هغه ځای کې میشت شي چې خطر به شتون ولري. د دفاع وزارت د څارګرې اداري

---

[۱۵۹] - Lars Ulslev Johannsen

[۱۶۰] - C-130

[۱۶۱] -F-16

[۱۶۲] - Suart A. Bernsein

مسولينو ارزونه کړي وه چې په ټوليزه توګه د پوځي واحدونو پر ضد د تهديدونو او خطر درجه لوړه ده.

نور هيڅ چا شک نه درلود ي چې ډنمارکي ځانګړي پوځونه به په جګړه کې برخه وانخلي. د پوځونو دغه حالت د حکومتي ګوندونو او اپوزيشن تر مينځ بحران او اختلافات رامينځته کړل. د پارلمان تر غونډې څو ساعته مخکې د سهار پر اته بجو حکومت د سوسيال ډموکراټانو سره د موګنس لويکه ټافت په مشرۍ او د کينې راډيکال ګوند د غړو سره د نيلس هيلويګ پيټرسن په مشرۍ چې دواړه د بهرنيو چارو پخواني وزيران وو، بحثونه پيل کړل. البته په غونډه کې د سوسيال ډموکراټانو مشر پاول نيوروف غاسموسن او د کينې اړخه راډيکال ګوند مشرې ماينه يلويد[١٦٣] ګډون درلودي. دواړو ګوندونو د حکومت د وړانديز سره مخالفت وښودي او څرګنده يي کړه چې حکومت ترجيح ورکړي چې د امريکايانو په «دايمي ازادۍ»[١٦٤] عملياتو کې برخه واخلي او انتظاريي و نه کړي چې د امنيت شورا په نژدې راتلونکې کې پريکړه کوله چې د ملل متحد سوله ساتي پوځي واحدونه کابل ته د هيواد دثبات او سولې ساتلو له پاره وليږي. په حقيقت کې دوي ورځي وروسته د انګليسانو حکومت بايد د ملل متحد په هغه کنفرانس کې ګډون کړی واي چې د افغانستان له پاره يي د سوله ساتو ځواکونو په تړاو پريکړه کوله. سوسيال ډموکراټانو او کينې اړخه راډيکال ګوندونو هيله درلوده چې د ډنمارک حکومت بايد انتظار ايستلي وای چې د ملل متحد د پوځونو اړتيا څرګنده شوی وای. دواړو ګوندونو څرګنده کړه چې د ډنمارک پوځ محدود امکانات لري، دا چې حکومت پريکړه کړی ده چې ډنمارکي پوځيان به د امريکايانو سره اوږه په اوږه په سخته جګړه کې برخه اخلي نو چانس ډير لږ و چې د ډنمارک پوځ به دومره امکانات ولري چې د ملل متحد د سوله ساتو پوځونو سره هم برخه واخلي. په همدغه وخت کې دفاع وزارت د دوو تير کلنو په موده کې کلنی بودجه (۴۵۲) ميليونو کرونو ته جګه کړی وه کوم چې پارلمان په اضافي توګه ورته منظور کړی وه. د پخواني حکومت ګوندونو غوښتل چې د ملل متحد تر بيرغ لاندې د بشري مرستو او سوله ساتو ځواکونو کې مرسته وکړي چې د ډيرې مودې څخه د ډنمارک په کلتور بدل شوی دی. دغه ګوندونو ځانونه تر فشار لاندې احساسول ځکه پخواني صدراعظم پاول نيوروف غاسموسن د خپل حکومت په وخت کې د امريکايانو سره وعده

[١٦٣] - Marianne Jelved

[١٦٤] - Enduring freedom

کړی وه چې د امریکایانو سره تر وروستی شیبې مرسته کوي.
اندریس فوک غاسموسن ښه په یاد کې پاته دی چې د اپوزیشن سره یي چې د پریکړې څخه ناراضه وه، غونډه درلوده:« نه پوهیږم چې سهار د وخته وه او که دا چې ټاکنې بایللی وي، خو مزاج یي جوړو نه و.» ما اپوزیشن ګوندونو ته معلومات ورکړي چې حکومت پریکړه کړی ده چې وړاندیز ومنوو او ځانګړي پوځیان ولیږو. دا پریکړه ځکه ما وکړه چې پیا کیسکو[165] (لا ډنمارک د خلکو ګوند) مشري ومنل چې د پوځیانو لیږل ښه دي.

د اپوزیشن ټولو غړو، نیوروف، یلوید، موګنس او نیلس هیلویګ ځانونه یو او بلې لورې ته کول تر څو ځان د دغې پریکړې څخه ځانونه خلاص کړي. کله چې د اپوزیشن ګوندونو مشران د صدراعظم د کوټې څخه ووتل، اندریس فوک غاسموسن باوري نه و چې د دغو دوو ګوندونو (سوسیال ډموکراټانو او کیڼ لیبرال) ګوندونو موافقه د سرتیرو په استولو کې د ځان سره لري نو ځکه خپله پریکړه یي پرته له دوي څخه وکړه.

اندریس فوک غاسموسن وایي چې موږ پخوا هم پوهیدلو چې بشپړ اکثریت به زموږ سره د سرتیرو په لیږرولو کې همږغې نه شي نو ځکه مو په حکومت کې د شاملو ګوندونو سره خبري کړي وی چې په هر صورت به سرتیري لیږو. نوی صدراعظم، اندریس فوک غاسموسن تر ټاکنو یوازې ( ۲۳) ورځې وروسته د ډنمارک د بهرني سیاست د لسګونو کلنو دود مات کړی. په دی مانا چې پرته د لوي اکثریت څخه یي په جګړه کې ګډون وکړي. خو صدراعظم دغه موضوع د ځان سره پټه وساتل، عام ولس او اپوزیشن ته یي په همدا شیبه او وروسته هم هیڅ معلومات ور نه کړ. دا موضوع تر هغه وخت پوري پټه وه چې یو نیم کال وروسته د عراق جګړه پیل شول.

د ۲۰۰۱ زکال د ډسمبر پر (۱۳) نیټه د پارلمان د بهرنیو اړیکو په کمیټه کې سوسیال
ډموکراټانو او کیڼ راډیکل ګوندونو د صدراعظم وړاندیز په ناخوښي ومني. اندریس فوک غاسموسن وایي: زه فکر کوم چې مخکنې صدراعظم، پاول نیوروف غاسموسن ځان مجبور ګڼې چې پریکړه ومني، ځکه هغه د خپل صدرات په وخت کې ورته وینا کړی و. تخریشکوونکي دا و چې د بهرنیو چارو پخواني وزیر، موګنس لویکه ټافټ د پارلمان په غونډه کې د ماښام پر (۱۷:۲۵)

- Pia Kjærsgaards[165]

بجې د سټيج سرته پورته شو او داسې وويل: موږ اړيوو چې دغه پريکړه ومنو، مګر ښه به دا وای چې موږ ډير زور د عملياتو پر هغه برخه اچولی وای کوم چې په نيغه د بشري ناورين د مخنيوي سره تړاو لري.

(ژ: پورته دوه ګوندونه د جګړې سره سخت مخالف وو خو سياسي مجبوريت د جګړې منلو ته اړ کړی وو.)

د کيڼ راډيکل ګوند سياسي مشر، هيلوي پيټرسن هم نيوکه درلوده، ويې ويل:«زموږ د ګوند په استازيتوب بايد ځرګنده کړم چې د ډنمارک پوځيان بايد د انګريزانو تر مشرتابه لاندې د افغانستان د ثبات په راوستلو کې برخه واخلي ځکه د دغې پروسې مهارت موږ ډنماركيان لرو، کله چې موضوع د سوله ساتو ځواکونو وي موږ په بشپړه علاقه برخه په کښی اخلو ځکه د کلنو ښخه دا ډول چارې په دود راته پاته دي.

پارلمان د بهرنۍ پاليسې په اړوند نوی کړښه وټاکل چې راتلونکي ډير کلونه به د ډنمارک پر بهرني سياست اغيزه ولري. د ډنمارک د خلکو ګوند د لومړی ځل له پاره د ډنمارک پر بهرني پالسيي اغيزه وښوده. دغه ګوند د لومړي ځل له پاره د سرتيرو د ليږولو په موضوع کې ګډون وکړی په داسې حال کې چې نوموړی ګوند د پوځيانو د ليږلو سره د بالکان هيوادونو ته مخالفت وښودي. د نوموړی ګوند نظر هميشه دا و چې د ډنمارک پوځ بايد د ډنمارک سرحدونه وساتي. دا ګوند په پيل کې د ښۍ اړخوو ګوندونو د حکومت جوړولو ملاتړ اعلان کړي، ياني په کورنې سياست کې راښکاره شوو خو دا ځل يي بهرني سياست ته هم ګامونه ورواخيستل. همدا علت و چې د نوموړی ګوند مرستيال او د بهرنيو چارو مسول پيټر سکووروف[١٦٦] په پارلمان کې سټيج ته جګ شو او د موګنس لويکه ټافټ په مقابل کې سخت دريځ خپل کړي. سوسيال ډموکراټانو ته يي ور په زړه کړه چې په اتيايمو کلنو کې د ناټو سره د پوځي همکاريو مخالفت کاوه. نوموړي وويل چې اوس بيا سوسيال ډموکراټان خپل زاړه سياست ته ورګرځيدلي دي، دغه تور داسې و، لکه پر ټپ چې مالګه ودوړوي. سمدستي موګنس لويکه ټافټ سټيج ته پورته شو او ځرګنده يي کړه چې موږ زاړه وخت ته نه ګرځوو.

---

[١٦٦] - Peter Skaarup

د سوسیال ډموکراټانو صدراعظم، پاول نیوروف غاسموسن په نیویمو (۹۰) کلنو کې ډیره هڅه وکړه چې تیر کلونه هیر کړي او د ناټو د پوځي عملیاتو څخه ملاتړ وکړي.

پیټر سکووروف او د همدغه ګوند مشرې، پیا کیسګورډ[۱۶۷] سوسیال ډموکراټانو ځیلو او بی اعتبار کولو ته دوام ورکړې او دوی یي تورن کړل چې په بهرنی سیاست کې یو بی باوره ګوند دي. د ډنمارک د خلکو ګوند تلاښونه د دي له پاره و چې د حکومت سره یو ګډ بلاک جوړ کړي. پیټر سکووروف اوس وایي چې سوسیال ډموکراټان د ټاکنو تر بایللو وروسته وارخطا ښکاریدل نو ځکه یي د پوځي مرستو څخه ځان ګوښې ته کولو. همدغه علت و چې اندریس فوک غاسموسن هڅه وکړه چې زموږ ملاتړ تر لاسه کړي تر څو اکثریت یي خپل کړي وي. دغه ستراتیژي د دي باعث وګرځیدل چې د ډنمارک د خلکو ګوند خپل سیاست د ډنمارکي پوځ په تړاو، بدلون ورکړي او د پوځ رول یي په نړیوالو کړکیچنو کې ومني.

پیټر سکوروف وایي: موږ پخوا غوښتل چې د ډنمارک پوځ د هیواد دننه او د خپلو سرحدونو ساتنه وکړي، کله چې د سپټمبر ترهګریزه پیښه رامینځته شوه، موږ هم اړینه وګڼله چې د امریکا او ناټو تر څنګ ودریږو او پر امنیتي سیاست مو بیا غور وکړي.

موګنس لویکه ټافټ وایي په پیل کې مې د پیټر سکوروف حمله پر سوسیال ډموکراټانو توکې ګڼلي وې وروسته وپوهیدلم چې هغه جدي دي. د ډنمارک د خلکو ګوند ته چې د حکومت سره د یوځای کیدلو چانس لاسته ورغلي، ناڅاپه یې بریالیتوب تر سترګو شوو. دوي غوښتل په ټوله پروسه کې بشپړ ګډون وکړي او اعلان یي کاوه چې راشئ زموږ سره یو ځای شئ. ژر به دا په پارلمان کې په یوه سیاسي واقعیت بدل شي.

د کیڼ راډیکال ګوند غړی او پخواني د بهرنی چارو وزیر، هیلوی پیټرسن د ډنمارک د خلکو د ګوند د نوي ستراتیژي څخه یو څرګند واقعیت ته په لاندې توګه ورسیدي:

---

[۱۶۷] - Pia Kjærsgaard

« په ۱۹۹۹زکال د ډنمارک پوځي ګډون د دي له پاره و چې دسربیان وحشیانه بریدونه د کوسوو پر ولسونو ودروي ځکه مسلمانان یي په بیرحمۍ وژل نو ځکه د ډنمارک د خلکو ګوند د پوځ د ګډون سره مخالفت وکړي. اوس په افغانستان کې موضوع بله بڼه لري. په افغانستان کي مسلمانان ځپل کیږي ځکه بنسټپالو د امریکا پر تجارتي مرکز برید کړي دي. دا چې دا ځل مسلمانان ځپل کیږي نو د ډنمارک د خلکو ګوند د ډنمارک د پوځ ګډون اړین ګڼي. یو ځل موضوع په ښه روښنایي کي وڅیړئ. د لویدیز جګړه د مسلمانانو پر ضد د ډنمارک د خلکو د ګوند پر طبعیت جوړه راغله.»

د سوسیال ډموکراټانو تر مینځ مخکې د (۱۳) ډسمبر څخه چې په پارلمان کې موضوع وړاندې کیدل، په داخلي غونډو کې ډیر تاوده بحثونه وشول. لویه پوښتنه دا وه چې ګوند په ټولیزه توګه د اندریس فو ک غاسموسن وړاندیز په جګړه کې د ګډون له پاره د امریکایانو تر څنګ ومنئ که یا؟ د سوسیال ډموکراټانو د دفاع پخواني وزیر جان تریوبورګ [۱۶۸] وایلي: موږ په یوه لومه کې رابنکیل شوو، ځکه تر ټاکنو مخکې (د ټاکنو څخه څو اونۍ تیرې شوې وي) زموږ د حکومت مشر، پاول نیورف غاسموسن د امریکا بشپړ ملاتړ اعلان کړي و. په دومره لنډه موده کې د آس بدلول څه اسانه چاره نه وه. موږ نور امکانات نه درلودل او پاول نیوروف غاسموسن هم په هغه وخت کې بله چاره نه درلوده. نوموړی علاوه کوی کله چې زموږ ګوند اپوزیشن ته ولاړي، نو د موګنس لویکه ټافټ او پاول نیوروف غاسموسن د عقایدو بنسټیز توپیر د امریکا په تړاو ډیر شدت وموندي.

د سوسیال ډموکراټانو د دفاع پخواني وزیر جان تریوبورګ په یاد کې پاته دي چې: د ګوند په دننه کې دغه بحثونو څو کلونو دوام درلودي. مهمه پوښتنه دا وه چې موږ هغه سیاست ته د امریکا په تړاو دوام ورکړو کله چې د حکومت واک مو په لاس کې وو؟ او که په یوه لږه کچه د امریکا ضد سیاست خپل کړو؟

د ښۍ لیبرال ګوند مشر او صدراعظم اندریس فوک غاسموسن هم د ډنمارک د خلکو د ګوند د ملاتړ څخه حیران و. نوموړي فکر کولو چې د ترهګرۍ پر ضد په مبارزه کې به یو پراخ اکثریت د سوسیال ډموکراټانو او کیڼ رادیکال ګوندونو په ګډون رامینځته شي.

---

[۱۶۸] - Jan Trøborg

د صدراعظم مشاور، مایکل کریستنسن وایي: پاول نیوروف غاسموسن په جال کې ښکیل و ځکه هغه لږ موده مخکې چې صدراعظم و، وعده کړی وه چې د امریکا سره به په ټوله پروسه کې ملګری وی. اندریس فوک غاسموسن ګومان نه کولو چې د ډنمارک د خلکو ګوند به د بهرنیو چارو په پالیسي کې زیات مهارت لري.

د پارلمان د بحثونو په جریان کې د دفاع وزیر، سوین ایج ینسبیو[169] په عیني وخت کې د بهرنیوو چارو د وزارت سرپرستي هم کول، د موګنس لویکه ټافټ د ارامولو له پاره داسې وویل: «موږ نه شو کولای چې په کافي اندازه بشري مرستې وکړو، تر څو چې په بشپړه توګه باوري نه شوو چې موږ هلته پوره مسلط یوو. نوموړی وایي چې ما موګنس لویکه ټافټ مطمینه کړي چې زموږ پوځونه به د بشري مرستو په تړاو هڅه وکړي تر څو چې بشري مرستې په ښه توګه ورکړل شي.»

نژدې دوه ساعته بحث وشو او د ماښام پر (۱۸,۴۵)بجې وړاندیز د پارلمان د دفاعي چارو د کمیسون له خوا تر بحث لاندې ونیول شو. په عادی توګه یو وړاندیز باید دوه ځله په پارلمان کې تر بحث لاندې ونیول شي مګر د حکومت بیړه وه چې وړاندیز ومنل شی ځکه د حکومت له نظره د افغانستان موضوع ډیر ارزښت درلودی.

د دفاعي چارو کمیټې ته یې د شپې تر (۲۳) بجو وخت ورکړي چې خپلې پوښتنې وړاندې کړي. حکومت ونه کولای شواي چې وخت مراعات کړي نو ځکه د وړاندیز په تړاو ټولې پوښتنې نژدې سهار وختي د (۴) بجو په شاوخوا کې وړاندې شولې. لنډیز دا دي چې د فاعي چارو د کمسیون ډیر غړو د ډسمبر پر (۱۳) او (۱۴) نیټو خوب و نه کړي.

د یو موټي لست د ګوند د مشرتابه غړي، کیلد البیرټسټن[170] وړاندیز د تصویب په دوهمه دوره بحث کې وایي چې د پارلمان کار د بیړې په وجه کښته درجې ته ورسیدي. د وزیرانو د ډلې څخه یوه وزیر په کمیټه کې ځواب ووایه

[169] - Svend Aage Jensby
[170] - Keld Albrechtsen

چې وروسته يي رغنده رول درلود. هغه وويل چې ډنمارکي پوځيان مکلف دي چې په جګړه کې د ژينو لاندې قوانين مراعات کړي.

په دا ډول لانجه کې دواړه لوري مکلف دي چې د پوځي وسايلو څخه تر ممکنه وسه په محدوده کچه ګټه واخلی. ټول هغه پوځونه چې د امريکايانو په ملاتړ په جګړه کې برخه اخلي د دغو قوانينو په رعايت مکلفيت لري. په همدي ډول ډنمارکي او نور پوځيان چې په جګړه کې ښکيل دي د ژينوو د قوانينو څخه د ځان ساتلو د حقوقو په تړاو ګټه پورته کولای شي.

موږشک نه درلودي چې ډنمارکي سرتيري د بنديانو سره قوانين مراعات کوي. بر سيره پر دي د شپې په غونډه کې وزير ګرانټي راکړل چې حکومت به بنديان هغو هيوادونو ته نه ورکوي چې د شکنجه کولو او د مرګ د سزا خطر وي. ډنمارکي پوځيان نه غواړي چې د بنديانو په تړاو قضاوت وکړي ځکه ډنمارکي پوځونه د امريکايانو تر مشرتابه لاندې عمليات مخته وړي. په حقيقت کې ورکړل شوي ګرانټي په عمل کې کوم مفهوم نه درلودي. دا هم اسانه خبره نه وه چې ډنمارکي پوځونه جګړې ته ليږل کيدل خو وروسته څرګنده شوه چې د امريکايانو او ډنمارکيانو تر مينځ د بنديانو په ساتلو کې بنسټيز توپير موجود وو.

د نوامبر پر (١٣) بوش د جګړې د پيل امر ورکړ او امريکايان به ترهګر تر عدلي تعقيب لاندې ونيسي، دغه امريې نوي حقوقي قوانين د ترهګرو سره د مبارزې په تړاو په غيږ کې درلودل. يانې پټه امريکايي محکمه چې امريکايي افسران يي قاضيان وو. د محکمې پر پريکړه د دوباره شکايت حق موجود نه و، او کولای يي شوای چې مجرمين اعدام کړي.

بوش وويل چې د ترهګرو په تړاو موږ نه شو کولای چې د عادي مجرمينو په ډول پر اسنادو او شواهدو پريکړه وکړو، ځکه په عمل کې دا چاره ناشوني ده.

په امريکا کې حقوق پوهانو په بيړه د بوش پر پريکړې اعتراض وکړي. د حقوقو پروفيسور، يلې[١٧١] لورو سلګونو حقوق پوهانو په ملاتړ وويل چې د بوش پريکړه د امريکا د اساسي قانون او د ژينو د کنوانسيون سره په مخالفت کې ده. بحثونه دومره تاوده شوه چې تر ډنمارک پورې هم راورسيدل، دوو مشهورو

---

[١٧١] - Yale

ورځپانو پولیټکن ۱۷۲او بیرلینګسکه تیدنده ۱۷۳بوش د پټې پوځي محکمې څخه واټن ونیوي.

په پورته توګه د بندیانو په تړاو پریکړې عادي عدلي قوانین تر پښو لاندې کوي، حتی په امریکا کې بنسټپالو ځان ساتو (محافظه کارانو) هم د توپک د ډزو په څیر د اعتراض اوازونه جګ کړل.

ډنمارکي ورځپاڼې پولیټکن د نوامبر پر (۱۸) نیټه ولیکل: پوهیږو چې چې لویدیز هیوادونه په جګړه کې دي، پوهیږو چې نړۍ د سپټمبر تر (۱۱) نیټې وروسته د پخوا په څیر نه ده، خو غوښتنه دا ده چې ځینې سخت شرایط د امنیت په تړاو د منلو وړ نه دي. برعکس هر څه بدلون نه دی کړی، د بیلګې په توګه بدلونونه په افغانستان کې جوته کوي، چې د ترهګری پر ضد د جګړې وروسته هم یو ورځ راتلونکي ده. په دغه ورځ باید د لویدیزو هیوادونو ارزښتونه په ځانګړی ډول د بشر حقوقو ته د درناوي بشپړ مراعات شوی وي او کومه صدمه یې نه وي لیدلي. (ژ: په خواشینۍ باید وویل شي چې لویدیزو او په ځانګړي توګه امریکایي پوځونو داسې ضد بشري کړنې وکړي چې افغانان لا څه د نړۍ تاریخ به یې هم هیر نه کړي.)

اته ورځې وروسته ډنمارکي ورځپاڼې بیرلینګس تیدنده ولیکل: موږ هیله درلوده چې امریکایان به افکارو ته بدلون ورکړي او یو مناسبه پریکړه به وکړي: دا به بدبختي وی چې اوساما بن لادن او د هغه سري په دي ډول مجازات شي چې زموږ د ټولنې ډموکراتیک نورومونه له نظره څخه ورغځول شي.

د لویدیزو هیوادونو تمدن باید نورو ته څرګنده کړي چې دښمنانو ته هم د عادلانه محکمې امکانات ور کوي. (ژ: د افسوس ځای دا دي چې تاسو لویدیزو هم په عمل کې وښودل چې امریکایانو ستاسو په ملاتړ د نړۍ په تاریخ کې بیساري جنایتونه وکړل. داسې ښکاري چې ستاسو ډموکراتیک ارزښتونه یوازې ستاسو د خلکو له پاره په پام کې نیول کیږي، د نړۍ نور ولسونه بی ارزښته ګڼۍ.)

---

۱۷۲ - Politiken

۱۷۳ - Berlingske Tidende

د پارلمان په غونډه کې سوسيال ډموکراټانو او کيڼ راډيکال ګوندونو د نيوکو او اختلافونو سره سره، د وړانديز ملاتړ اعلان کړي خو سوسياليست او يو موټي ګوندونو مخالفت وښودي.

د سوسياليست ګوند مشر ويلي سوينډال [174] پوښتنه وکړه: ايا پارلمان مکلف دي چې سرتيري داسې جګړې ته وليږي، چې په دنده او موقعيت يي هيڅ معلومات نه لرو؟ يوازې دومره پوهيږو چې د امريکايانو تر امر به لاندې وي. ايا د پارلمان اکثريت لږ سوچ کړي دي چې پر کومو شرايطو پريکړه کوي؟

د يوموټي ګوند يو مشر، کيلد البريشتسن [175] ليوې وړاندوينې سره رامخته شو: «روانه جګړه چې د مختلفو ګروپونو تر مينځ جريان لري، د پرمختګ په حال کې ده. قوی احتمال شته چې جګړه به ډيره اوږده او په کورنۍ جګړه بدله شي. په خواشينۍ بايد ووايم چې په وروستيو لسيزو کې دا جګړه په دود بدله شوی ده. نو ځکه زه فکرکوم چې د ډنمارکي پوځيانو ګډون به نوي ويټنام ازمويي. تر څو تاسو د رايه ورکولو لاس اوچتوي، بايد زما وړاندې شوی نظر په پام کې ونيسي. (ژ: وړاندوينه سل په سل کې رښتيا شول او سياستوال اوس بايد خپل ولس ته ځواب ووايي.)

وړاندوينه د دفاع د وزير له لوري د ميز څخه ليري وغورځول شوه. هغه وويل چې د ټولو هغو ګوندونو څخه چې زموږ ملاتړ يي وکړي او مسوليت يي ومني، مننه کوم او درناوي ورته لرم. ټول هغه ګوندونه چې مخالفه رايه يي ورکړه، درناوي نه ورته لرم.

په پارلمان کې پر وړانديز (۱۹) ساعته بحث وشو چې وروسته وټونه واچول شول. سوسيال ډموکراټانو، ځان ساتو (کنسرويټوو)، ښی ليبرال، د ډنمارک د خلکو ګوند، کيڼ راډيکال او عيسوي ګوندونو مثبته رايه ورکړه [176] سوسيالست ګوند، يو موټي لست او د سوسيال ډموکراټانو دوو غړو، ټامس اديلسکوواو ليسا ميتيسن منفي رايې ورکړي [177] (ژ: دا چې موضوع تاريخي

---

[174] - Villy Søvndal

[175] - Keld Albrechtsen

[176] - Socialdemokrater, Konservative, Venstre; Danske Folkeparti, Radikal venstre, Kristeligt Folkeparti

[177] - SF, Enhedslisten, Thomas Adelskov og Lisse Mathiasen

ارزښت لري په ترتیب سره په پورته ډول د ګوندونو او اشخاصو ډنمارکي نمونه لیکم.)

موګنس لویکه ټافټ (ژ: سوسیال ډموکراټ د بهرنیو چارو پخواني وزیر همیشه د جګړې سره مخالف و) د سیاسي واقعیت په لیدلو سره اړ شو چې موافقه رایه ورکړي او ډنمارکي سرتیري جګړې ته ولیږي.

موګنس لویکه ټافټ وایي: زه د اندریس فوک غاسموسن پریکړې ته حیران نه شولم ځکه ما د نوموړي ځلور کنجه وچ سیاست سره بلدتیا درلودل نوموړي په ظاهر سره نړیوال سیاست پیاده کاوه خو په واقعیت کې غوښتل چې د ډنمارک د بهرني سیاست لورې ته بدلون ورکړي چې د ډنمارک فعالیتونه پوځي بڼه واخلي.

شپږ ورځې وروسته د ملل متحد د امنیت شورا پریکړه وکړه چې په کوم چوکاټ کې د حامد کرزي د لیږدوونکي (انتقالي) حکومت سره پوځي مرستې وکړي. دا پوځي مرستې چې (۱۸) هیوادونو ګډون په کښې درلودي د ایساف[۱۷۸] په اتوم یي ونومول شول. د ایساف په ځواکونو کې بریتانیا، المان، هسپانیا، او فرانسې لویه ونډه درلوده. موخه (۵۰۰۰۰) سرتیري وه چې ډنمارک هم ګډون په کښې درلودي.

د کرسمس درخته او تحفې تیارې وي. د ټانک د پوځي واحد مشر، کرسمس په داسې حال کې په خپل کور کې جشن ونیوي چې د سفر ټول توکې یي تیار کړی وه. د ډسمبر پر (۲۶) نیټه د پوځي واحد مشر د بانهالم د پوځي دلګۍ د مشر په ملګرتیا لندن ته والوتل، موخه دا وه چې د انګریزانو سره په ګډه تیاري ونیسي. پلان دا و چې وروسته کابل ته الوتنه وکړي او د خپلو پوځیانو سره یوځای شي.

تر کرسمس لږ مخکې نوموړی خپل سرتیري ډنمارک ته ولیږل چې وروستي واکسینونه وکړي. د واکسینونو له پاره دري ځایونه ټاکل شوي وو. د ډنمارک د پاره مهمه دا وه چې نړۍ ته سیګنال ورکړي چې ډنمارک په خطرناکه جګړه کې د امریکا سره ګډون کوي. په دغه وخت کې ډنمارک وویل چې موږ به په یوه ټاکلې کچه سرتیري د ملل متحد تر چتر لاندې د سوله ځواکو پوځیانو په توګه وګومارو.

---

- ISAF – International Security Assistance Force[۱۷۸]

د ټانک د پوځي واحد مشر فزيکي او روحي تياري درلودی چې افغانستان ته ولاړ شي خو سفر وځنډيدي. کله چې نوموړي د افغانستان نقشه رانيولي وه، زړه يي وه چې ليري يې وغورځوي خو يو څنګ ته يي کښيښودل چې کيدای شي کومه ورځ ور ته په کار شي.

نوموړي د فزيکي لحاظه ډير سخت تمرينونه کړی وو نو ځکه يي غوښتل چې په عمل کې خپل پوځي مهارت وښيي. شپږ مياشتي وروسته دا ورځ راورسيدل چې نوموړي د دندې د اجرآ کولو له پاره افغانستان ته وليږل شو. (ژ: يوازې ډنمارکيان نه وه چې زموږ پر ولس باندې د خپلو جګړه ايزو تمرينونو د اجرأ ډيره علاقه يې درلودل بلکې د نورو هيوادو په ګډون انګريزان او امريکايان هم ډير تږي وو چې د خپلو موډرنو وسلو په مټ زموږ بی وزلي ياغي ولس وځپي. لږ وروسته څرګنده شوه چې همدغه د نړۍ وحشي ځواکونه د ځان په ساتلو لګياه وو، د غارونو څخه را وتلای نه شوای، د جګړې اشتها يي مرګوني وځپل شول او په مړو سترګو يي خپل پوځونه تر لوی بريده د افغانستان څخه ويستل. افغانانو دا ځل د نړۍ

وحشيترينو پوځونو ته د عبرت سبق ورکړي.)

ولې د ښکاري او شنا د ګروپ پوځيانو دندې و نه ځنډول شوي. ځانګړو پوځونو ته چانس په لاس ورغلي چې خپل پوځي مهارتونه د افغانستان په جنوب (هلمند) کې په نمايش کښيږدي. د سړې جګړۍ په وخت کې که د وارسا تړون غړي هيوادونه د ناټو سره په جګړه اخته شوی وای د ډنمارک د ځانګړو پوځيانو له پاره د جګړې د جبهې په وروستۍ برخه کې ځای ټاکل شوی وو. کله چې د برلين ديوال په ۱۹۸۹ زکال ونړيدي، دښمن له مينځه ولاړ. د ځانګړو پوځيانو د شتون دليل څه وو؟ دغه ډله پوځيانو په ۱۹۹۰ زکال کې هڅه وکړه چې نوی شخصيت پيدا کولو يا د شتون دليل وپلټي. ښکارې او ځانګړو سرتيرو داسې يوڅه بايد کړی وای چې سياسيونو او ماليه ورکوونکو د دوي د شتون اړتيا ليدلای. د پلان يوه برخه دا وه چې

د پوليسو سره مرسته وکړي او ډير کلونه دغه پوځي واحدونه پر دوو برخو وويشل شول. يوه برخه د پولسيو سره په لويو موضوعاتو لکه د نشه ای توکو په تړاو مرسته کوله چې پوځيانو دغه چاره د ځان له پاره تور کار باله او بله ډله په پوځي تمريناتو بوخت وو چې د زمان د غوښتنو سره پرمختګ وکړي.

نوي دنده د دغو پوځيانو له پاره يوه ښويدنه وه. په پيل کې ښکاري پوځيان دندې ته وليږل شول خو ژر د دفاع وزارت مشرتابه ته څرګنده شوه چې ليږل شوي پوځيان په يوازيوالي دغه دنده مخته وړلای نه شي. دوي به په کافي کچه د ګزمې د دندې له پاره نه وي. وروسته موږ د امريکايانو سره وږغيدلو او پريکړه مو وکړه چې د ښکاري پوځيانو سره د شنا واحد هم يوځای شي خو د دغو دوو ډلو پوځيانو تر مينځ ښه ناخوالو شتون درلودي.

دغه دوو ډلو پوځيانو ځانونه يو د بل سيالان ګڼل. د خواشينۍ ځای دا و چې ډيرو يو د بل سره خبري هم نه کولې. د پوځي تمرينونو په وخت کې هم د دوي تر مينځ حالت ښه نه وو.

د ښکاري سرتيرو په آند د شنا پوځي واحد د عملياتو سره پر مځکه هيڅ بلديتا نه لري، دوي اړتيا درلودل چې تمرين وکړي او ځانونه د جګړې له پاره تيار کړي. دوي دومره مغرور وو چې زموږ څخه يي هم پوښتني نه کولې. د وخت په تيريدو سره ستونزې يو څه حل شوی خو وروستۍ ستونزه دا وه چې د دغه ګډ پوځي واحد مشر به څوک وي؟

د دفاع وزارت مشرتابه دواړه مشران د ښکارې واحد مشر، فرانک لسنر ١٧٩ او د شنا پوځي واحد مشر، دان راسموسن ١٨٠ غونډې ته راوبلل. د پوځ مشرتابه دوي ته په څرګنده توګه وويل چې دغه عمليات د دغه او يا هغه پوځي واحد د نوم لوړولو له پاره نه دي بلکې دا عمليات د ډنمارک لپاره دي. پايله دا شوه چې فرانک لسنر د ګډ پوځي واحد مشر او دان راسموسن د مرستيال په توګه وټاکل شو.

د پوځ يو بل لوړپوړی چارواکي وويل چې زموږ ډنمارکي سرتيرو ګډون د امريکايانو سره يو ځای د افغانستان په جنوب کې کومه اړتيا نه وه، بلکې دا يو سياسي پريکړه وه. امريکايانو غوښتل چې په جګړه کې سياسي ملګري ولري.

---

- Dan Rasmusseen[١٨٠]

د پوځ لوی درستیز، یسپر هیلسیو ﷲ اپاره دا یوه په زړه پوري دنده وه. د سپټمبر د (۱۱) نیټې پیښې وروسته ډنمارکي پوځ ته امکان لاسته ورغي چې په نړیوالو کړکیچونو کې برخه واخلي. سره د دي چې د جګړې د پیل کیدو علت تراژیدی و خو د ډنمارک پوځ باید د چانس څخه ګټه پورته کړي وای.

یسپر هیلسیو وایي چې: ځکه ماته هم په زړه پوري وه چې د هغې ډلې سرتیرو سره چې همدا شیبه تیار وو، دندې ته ولاړ شم. نوموړي نن وایي چې دا یوه هڅه وه چې موږ ته ښکاره شي چې سیاسیون تر کومه کچه د پوځ د زده کړو او پوځي وسایلو د اغیزې څخه کار اخلي؟ خو دا پوښتنه ژر حل شوه ځکه د ډنمارک صدراعظم د ۲۰۰۲ زکال د نوي کال د ماښام په وینا کې وویل: د امریکایانو سره د ملاتړ اعلان زما د حکومت د ټول دوران له پاره لوړ ارزښت لري.

په وینا کې صدراعظم د زړه له کومي د امریکایانو څخه مننه وکړه.

د ډنمارک صدراعظم د نوي کال په وینا کې خپل خبرو ته داسې دوام ورکړي:

د ډنمارک صدراعظم وویل: « د سبتمبر د (۱۱) نیټې پیښه ډیره غمګینه وه، دا یو زړه بوګنونکي پیښه په واقعیت واوښتل. دا پیښه د هر انسان زړه ور ټپي کوي، پیښه د هغه ملت (امریکا) په وړاندې وشول چې همیشه ازاده نړۍ یې پوروړی ده. امریکایانو د نړۍ ټول ترهګر ګروپونه د دښمنانو په څیر وګڼل. د امریکا ټولنه پر ډموکراسۍ، فردي ازادي، د بشر حقوقو ته درناوی او د مذهب پر ازادي جوړه شوي ده. (ژ: د امریکایانو له لوری د بشر حقوقو ته درناوی په افغانستان او عراق کې نړیوالو ته څرګند شو!!!.) ټول لویدیز هیوادونه هم په ورته ارزښتونو جوړ دي. دغه ارزښتونه وو چې موږ دا امکان په لاس راوړ چې خپل هیوادونه د فقر څخه و مرفه ټولنو ته ورسوو. اوس هم دغه ارزښتونه دي چې موږ ورڅخه دفاع کوو. موږ پرته د کوم جوړجاړې څخه باید د ترهګری پر ضد وجنګیږو. د همدغو جنایتکارانو پر ضد په جګړه کې باید امریکا یوازی نه وی. نو همدا علت و چې موږ (ډنمارک) د خپلو مرستو ورکولو اعلان وکړي.

ډنمارک د امریکا غوښتنې ته د پوځي مرستو د ورکولو ژمنه د افغانستان د جګړې په تړاو وکړه. ډنمارک تیار دي چې د ملل متحد په غوښتنه په افغانستان

[۱۸۱] - Jesper Helsø

کې د سوله ساتو ځواکونو په پیاوړتیا کې هم مرسته وکړي. د دې خبرې ویاړ کوم چې ډنمارک هم مرسته کوي، او تاسو چې افغانستان ته تلونکي یاست همیشه به زموږ په یاد کی یاست. موږ ممنون یوو چې د سولې او ازادی د ټینګښت او راوستلو له پاره په خپل هیواد او نړۍ کې جنګیږو. پای

## پټ عملیات
۲۰۰۱ ـ ۲۰۱۲ زکلونه

لنډیز:
۲۱ / ۱۲ / ۲۰۰۱ ز کال: په دغه دشپې ناوخته پنځه ډنمارکي سرتيري، دوه موټران او لږ ډول ډول وسایل د کندهار په هوایي ډګر کې کښته شول.

۲۲ / ۱۲ / ۲۰۰۱ زکال: ډنمارکي الوتکه د کندهار په هوایي ډګر کې تر لږ تم کیدو وروسته د پاکستان پر لوري والوته او د پاکستان د یعقوب اباد په پوځي مرکز کې  دتیلو اخیستلو له پاره کښته شوه. الوتکه تر مجموعي ۲۲ ساعته الوتنې وروسته د کمپ رینوو [۱۸۲] په خامه هوایي ډګر کې راکوزه شوه. دا الوتکه د امریکایی سرتیرو د انتقال له پاره موظفه شوه.

۲۳ ـ ۲۷ ډیسمبر ۲۰۰۱ زکال: په دغه موده کې ډنمارکي الوتکې د پاکستان د پاسني او یعقوب اباد څخه تر کمپ رینوو [۱۸۳] پوري د سرتیرو او وسایلو د انتقال دنده درلوده.

۱۰ / ۱ / ۲۰۰۲ زکال: ډنمارکي سرتيرو چې په اوبو کې د شنا قابلیت هم درلودي د کندهار هوایي ډګر ته راورسیدل.

۸ / ۲ / ۲۰۰۲ زکال: ډنمارکي تبعه حاجي عبدالرحمن سلیمان د کندهار څخه د ګوانتانامو زندان ته انتقال شو.

۱۴ / ۲ / ۲۰۰۲ زکال: څلورو ګزمه کوونکو سرتیرو د پکتیا په ولایت کې یوه لاری موټر ودراوه، دری کسان د یو هلک په ګډون یې د کندهار زندان ته ولیږل

---

[۱۸۲] - Camp Rhino
[۱۸۳] - په هلمند د امریکایانو پوځي کمپ دی.

خو بیرته ازاد شول ځکه هغه ملا چې تر تعقیب لاندی و، د دوی په مینځ کې نه وه.
د ۲۰۰۲ زکال د مارچ میاشت: ډنمارکي سرتیرو د پکتیا ولایت د خوست په سیمو کې په پوځي عملیاتو پیل وکړي او په سیمه کې یې د القاعده دغرنیو پټن ځایونو په اړوند رپوټ ورکاوه.

۱۷ / ۳ / ۲۰۰۲ زکال: ډنمارکي سرتیرو د امریکایانو سره د کندهار د سنګسار په سیمه کې عملیات وکړل، ۳۱ کسان یې ونیول خو څو ورځي وروسته ازاد شول.

تفصیل:
کله چې د ډنمارک صدراعظم اندرس فوګ غاسموسن د ۲۰۰۲ زکال د نوی کال د پیل وینا ډنمارکیانو ته واورول، د افغانستان په جګړه کې د ډنمارکي سرتیرو د ګډون په اړوند یې هیڅ و نه ویل، سره د دي چې په دغه شیبه کې د ډنمارکي سرتیرو د ګډون څخه یوه اونۍ تیره شوی وه.

ډنمارکي الوتکې د امریکایانو د جګړې ستړي سرتیري د جګړې د ډګر څخه ایستل او نوی یې ورته راوستل. جګړه په پټه پیل شوی وه، سرتیرو، پیلوټانو او افسرانو حق نه درلودي چې خپلې کورنۍ خبرې کړي چې دوی چیر ته ځي او کومه دنده سرته رسوي. ډیر داسې خطر و چې هر څه ګډوډ شي. د جګړې له پاره دقیق ترتیبات د نوی کال تر وینا (۱۹) ورځي مخکې نیول شوی وو. د هوایي ډګر پرسونل ډیرې اونۍ نه پوهیدل چې څه به کیږي خو ټولو د کال د پای ته رسیدو د دودیزې میلمستیا[۱۸٤] له پاره چې د پنجشنې په ورځ د ډسمبر پر (۱۳) نیټه جوړیدل، خوشحال وو. په میلمستا کې د ډنمارکي دود پر بنسټ د نورو عذاو تر څنګ بیر، د سیل په نامه ماهي، اینه (جګر) او د سنپس په نامه شراب پر میز ایښودل کیږي. په همدغه ورځ د ډنمارک پارلمان د ډنمارکي سرتیرو ګډون د افغانستان په جګړه کې د دوهم ځل له پاره تر بحث لاندي نیولي وو.

۱۸٤ ـ د ډسمبر میاشت په ټولو عیسوي مذهبه هیوادونو کې د کرسمس جشن نیسي. د جشن اصلي نیټه د ډیسمبر ۲۴ نیټه ده خو په موسساتو کې یوه ورځ تر دغه نیټې پورې د غذا په خوړولو سره جشن نیول کیږي.

په همدغه سهار پیلوټانو د هوایي ډګر په مرکز کې د سهار ناري وکړي، باقیمانده ورځ یي تر میلمستیا تر وخت پوري په ټوکو او خبرو تیره کړه ځکه زیات کار نه و. ټوله تقریباً د هوایي ډګر (۵۰) تنه کارکوونکي د پیلوټانو، میخانیکانو، د راه دار اونورو ځانګو کارکوونکي میلمستیا ته خوشحال وو.
د میلمستیا وخت راورسیدي، ټوله دمیز پر شاوخوا کښیناستل او د لومړی بیر په خلاصولو یي پیل وکړي. په دغه شیبه کې په ناڅاپي ډول خبرې په جدي لهجه پیل شوي. د هوایي ډګر د یوې ځانګې د امر مرستیال را دمخه شو او داسې یي وویل: داسي کسانو ته اړتیا شته چې په لنډو شګلونو (خامه) هوایي ډګرونو کې الوتکه جګه او کښته کړای شي ، د هوا څخه مواد وغورځولای شی او سرتیري د پراشوټ څخه وغورځولای شي.

۲۷ کلن اولریک لوهمان مایکلسن [۱۸۵] یو د هغو دوو، دوهم پیلوټ و، چې یادشوی تمرینونه یي کړی وو نوځکه نومړی د دندې له پاره وټاکل شو. کله چې پیلوټ خپل د ټاکلو په اړوند واوریدل، فکر یي وکړ چې هر څه به د پلان له مخي تنظیم شوی وي. خو دا هم عجیبه وه چې د عیسوي جشن په جریان کې د یوې داسې دندې له پاره ځوک ټاکل کیږي چې د ډنمارک څخه په ډیر لیري واټن کې پروت دي. پیلوټ او اړوند کارکوونکي د ټولیدو په کوټه کې راغونډ شول.
په کوټه کې کارکوونکو د پیلوټ څخه د دندې د ځای او جهت پوښتنه وکړه خو پیلوټ دومره ویلای شوای چې د جنوب پر لوري الوتنه کوو. که ځای او موخه معلومه نه وي او د لاري په اوږدو کې د ټولو هغو هیوادونو څخه چې الوتکه ور څخه تیریږي، اجازه نه وی تر لاسه شوی، لویه ستونزه ده چې دا ډول ترانسپورتي الوتکه و دندې ته وګومارل شي.

پیلوټ فکر وکړ چې زما سرموته د افغنستان بوی راځي، خو بیاهم داسې سوچ یي وکړی چې الوتنه د افغانستان و یو ګاونډې هیواد ته امکان لري، هلته وسایل او امریکایي سرتیري کښته کړي که اړتیا و امریکایان به الوتکه واخلي او دجګړې ډګر ته په افغانستان کې الوتني کوي. ډیر ژر ځواب پیدا شو چې الوتنه د بحرین پر لوري ده چې پنځه سرتیری، دوه موټرونه او یوه اندازه پوځي تجهیزات په الوتکه کې وړل کیږي. د الوتکې پرسونل پرنقشه کار پیل کړي چې کومه لار ونیسي او د تیلو اخیستلو له پاره د سفر په جریان کې چیرته کښته شي.

---

[۱۸۵] - Ulrik Lohmann Mikkelsen

د نقشې څخه معلومه شوه چې تیل باید په کریټا کې واخلي. خو ژر په بحرین کې د الوتکې کښینستلو بدلون وکړې.

د پوځ مشرتابه ته په یو پټ رپوټ کې معلومه شوه چې سرتیري او ورسره پرسونل باید افغانستان ته د جګړې له پاره ولاړ شي.

دامریکایانو او ډنمارکیانو تر منځ د کار په پیل کې د اړیکو ستونزه رامنځته شوه. امریکایانو وغوښتل چې ډنمارکیان باید کمپ رهینو[186] ته ولاړ شي. ډنمارکیانو فکر کاوه چې دا کمپ په عمان کې دي خو د ډسمبر پر (۱۳) معلومه شوه چې کمپ د افغانستان په جنوب لویدیز کې پروت دي. وروسته داسې ښکاره شوه چې د الوتکې عمله به په کمپ رهینو کې اوسیږي خو سرتیري به د امریکایانو په مرکز چې د کندهار په هوایې ډګر کې تر جوړونې لاندې دي، پاته کیږي.

دا لومړي ځل و چې په ډنمارکي ترانسپورتي الوتکه کې سرتیري د جګړې په ډګر کې پیاده کوي.

د ډسمبر پر (۱۸) سهار الوتکه د الوتنې له پاره تیاره وه. د الوتکې پرسونل باید پنځه شپې په دنده کې وي او د ډنمارکي عیسوی جشن ورځې ته دوباره خپل هیواد ته راستون شي.

د الوتکې پیلوټ وایي: زما او زما دملګرې دا لومړی جشن و چې د خپلو والیدینو سره مو زموږ په ګډ کور کې چې تازه ور کډه شوی وو، باید تجلیل کړی وای.

د سهار پرشپږ بجې د ویالویسه (ژ: په ډنمارک کې د یوې سیمې نوم دي) د هوایي پوځي ډګر مرستیال، سیون اندرسن[187] ته د خپل لومړی امر لخوا تلیفون وشو چې ځان سفر ته تیار کړي خو نه غواړي د ځای په اړوند په تلیفون کې ووایي. نوموړي فکر وکړی چې یا به بحرین او یا به تمپا (فلوریدا) وی چې دواړه ځایونه د کال په دغه موسم کې تاوده وي او د ډنمارک په څیر هوا سړه نه وي نو ځکه یې د وړي جامې په بکس کې ځای پرځای کړي، ځکه هلته به لمر ځلیږي. موخه دا وه چې بحرین او تمپا ته داسې کسان واستول شي چې د

[186] - Camp Rhino
[187] - Søren W. Anddersen

امریکایانو سره اړیکي او قومانده تنظیم کړي. د مرستیال میرمن د بیړني تللو سره چې د عیسوی جشن په ورځو کې وي، ناخوښه وه خو مرستیال دنده په زړه پوري ګڼل. په بیړه یي د جشن سوغاتونه خپلو دري اولادونو او د کورنۍ نورو غړو ته ورکړل. کله چې نوموړي هوایي ډګر ته ورسید، امر ورته وشو چې لومړی بحرین او وروسته د جګړې ډګر افغانستان ته تلونکي دي. په بیړه یي الماری پرانیستل، یوځي خولی او نور تجهیزات یي چې د امریکا څخه مخکې راوړی وه، را واخیستل او یوه تو مانچه یي هم راواخیستل خو په تیرو لسو کالو کې یي یو ډز هم کړی نه و. د نوموړي دنده دا وه چې د عملیاتو په جریان کې د ترانسپورتي الوتکې قومانده پر غاړه ولري. د نوموړی د لیږلو علت د هغه د لوړي رتبې په خاطر و ځکه امریکایان نه غواړي چې د قوماندې په مرکز کې د کښته رتبه افسر سره خبري وکړي. مشرانو د الوتکې د یولس تنو کارکوونکو له پاره پراشوټونه تیار کړی نه وو ، چې د الوتکې د لګیدلو په وخت کې کارځنې واخلي. خو مرستیال په بیړه پراشوټونه برابر کړل. موږ د دغې الوتکې سره په جګړه کې برخه نه وه اخیستې نو ځکه نه پوهیدلو چې کومو وسایلو ته اړتیا شته. د پراشوټونو درلودل مو اړین وګڼل. پیلوټ وایي چې الوتکه هوا ته پورته شوه، معلومه شوه چې دغه وسایل کافي نه وو. یو سرتیري پراشوټونه خلاص کړل او دهر کس له پاره یي احتیاطي او یا اصلي پراشوټ برابر کړ. په کریټا کې مو په باران او تیاره کې شپه تیره کړه، بله ورځ د ډیسمبر پر ۲۰ نیټه مو د بحرین پر لوري الوتنه پیل کړه. په زړه پورې دا وه چې امریکایان نه پوهیدل چې د امریکایانو مرکز ته د ډنمارک یوځي الوتکه راځي. ستونزه لویه شوه. په پیل کې امریکایانو فکر وکړ چې موږ د تخنیکي ستونزې له کبله بیړنۍ ناسته کوو. دا ستونزه حل شول. موږ ته دمشرتابه لخوا ویل شوی وو چې په رڼا ورځ به د کندهار پر لورې الوتنه کوو. خو امریکایانو راته وویل چې دا خبري هیرې کړي ځکه یوازې جنګې الوتکې د ورځې د الوتلو اجازه لري. ترانسپورتي الوتکې باید د شپې په تیاره د امنیت په خاطر د کندهار په هوایي ډګر کې کښینې. په همدې ډول پیلو ټ ته وویل شول چې د ډیسمبر په ۲۱ نیټه ډنمارکې سرتیرې د شپې په تیاره کې د کندهار په هوایي ډګر کې کښته کیږي. وروسته باید الوتکه کمپ رهینو ته الوتنه وکړی تر څو دا بله ورځ امریکایي سرتیري او تجهیزاتو ته انتقال ورکړي. کله چې پیلوټ د کاري پلان څخه خبر شو، په ډنمارک کې خپلې دوستې نجلۍ ته زنګ وواهه. هغې د دغه خبر په اوریدو سره په غصه شوه او د دفاع وزارت ته یي ښکنځل وکړل خو پوهیده چې ملګری یي دنده خوشي کولای نه شي.

کمپ رهینو د کندهار جنوب لویدیز لوري ته په ۱۹۰ کیلومتري کې په یوه لویه دښته کې واقع دي. دلته یو شګلن هوایي ډګر(د الوتکې د کښیناستلو سړک) او یوه خاورینه ودانې شته . دغه سیمه د نوامبر په میاشت کې د طالبانو څخه نیول شوی وه. په دغه ځای کې د نشه ای توکو فابریکه وه چې تریاک یي په الوتکه کې انتقالول. اوس د رهینو کمپ د امریکایانو او استرالیانو د سرتیرو مهم مرکز و. د ډیسمبر په پیل کې د طالبو بندیانو له پاره هم د دغه کمپ څخه ګټه اخیستل کیدل. هغه طالبان به چې د افغانستان د شمال څخه راوستل کیدل، دلته راوستل کیدل. په دغه کمپ کې د امریکایي طالب، جان والکر لینده[۱۸۸] څخه هم پوښتنې او ګرویږنې وشوي. دغه امریکایی د طالبانو سره یو ځای شوی و او د شمال د قواو پر ضد یي جګړه کول. نوموړي ژر په مطبوعاتو کې د پاملرنې وړ وګرځید. هغه وروسته شکایت وکړ چې د پوښتنو په وخت کې ډیري ورځې په تړلو سترګو ناست و، لاسونه یي اولچک او پښې یي زولانه وي. په لوڅ وجود یي په یوفلزي کانتینر پوري تړلی و چې یوازي یي یوه شړۍ پر اچولي و. نوموړی د ډیسمبر پر(۱۴) نوموړی امریکایي هنګار کښتۍ ته انتقال شو. د هنګار کښتۍ نوم[۱۸۹] دي.

د ډنمارک د پوځي ترانسپورتي الوتکې دنده دا نه وه چې د جګړې زندانیان انتقال کړي. د پیلوټ په قول په اصل کې اجازه نه وه چې زندانیان په دغه الوتکه کې انتقال شي. د ډنمارک د هوایي فوځ مشرانو د امریکایانو سره ځینې ژمنې کړی وې چې باید بعضي محدودیتونه په کښي رعایت شوی وای. ډنمارکې الوتکې د مړو د انتقال حق هم نه درلودي. دا الوتکه یوازې د سرتیرو او پوځي تجهیزاتو له پاره ټاکل شوی وه.

د الوتکې دواړو پیلوټانو ته د رهینو د کمپ پر لور د الوتنې له پاره فقط یو کوردینات ورکړل شو چې باید د ډیسمبر په (۲۱) نیټه الوتنه وکړي خو داچې قیر شوی اویا شګلن هوایي ډګر دي او څومره اوږدوالی لری، معلومات یي نه درلودي اوحتي دا معلومات هم ور سره نه وو چې هوایي ډګر کومې لورې ته موقعیت لري.

---

- John Walker Lindh[۱۸۸]
- USS Peleliu[۱۸۹]

لومړی پیلوټ، یسپر کریستنسن [۱۹۰] او د الوتکې نورو کارکونکو پر دغه حالت احتیجاج وکړي. اساسي ستونزه دا وه چې امریکایانو د ډنمارک الوتکې په خپل امنیتي پوښښ کې منظور کړی نه وې نو هره ډنمارکي پوځي الوتکه چې د جګړې زون ته یې الوتنه کوله، ټول معلومات یې په واک کې نه ورکول کیدي. دغه دلیل و چې پیلوټانو د ډیسمبر په (۲۰) نیټه ټول اړین معلوماتونه نه درلودل، لکه د راډیو فریکونسي، د الوتکې د پرواز جهت او په سیمه کې کومې پوځ الوتکې په الوتنه بوختي دي. په ډنمارک کې پیلوټانو ته ویل شوی وو چې ټول اړین پټ معلوماتونه به په بحرین کې پیلوټانو ته ورکړل شي خو دا چاره تر سره نه شوه. ډنمارک تر دغه وخت پوري هم په قبول شوی لیکه کې شامل نه و.

پیلوټ، یسپر کریستنسن وایي چې ما د مخابرې هغه فریکوینسي نه درلودل چې په هوا کې د نورو الوتکو سره اړیکې ونیسم چې په کومه ارتفاع په هوا کې دي او زه د هوایي ډګر په حالت چې زه باید الوتکه وربانديي کوزه کړم، خبر نه وم.

پیلوټ، یسپر کریستنسن په ډنمارک کې د هوایي فوځ مشرتابه ته زنګ وواهه چې الوتنه نه شي کولای. زه د لومړي پیلوټ په حیث د الوتکې د نورو کارګرانو اومسافرینو مسولیت لرم. زما را یادیږي چې مشر تابه ته مې وویل چې زه په پټو سترګو په تیاره کې الوتنه نه شم کولای.

د مشرتابه له خوا ځواب دا و چې دغه عملیات د ډنمارک له پاره ډیر ارزښت لري. پیلوټ بریالی شو چې د فکس له لاری ځینې معلوماتونه د مسول ډنمارکي څخه چې په تیمپو(په امریکا کې د قوماندې مرکز) کې ناست و، تر لاسه کړی خو معلومات کافي نه و. که څه هم معلومات کافي نه و خو زه تر فشار لاندي وم چې د ډنمارک له پاره په جګړه کې د ډنمارکي سرتیرو ګډون ډیر ارزښت لري، نو مې د الوتنې له پاره ځان تیار کړي. ما ځان مکلف وګڼې چې د ډنمارک په پوځي هوایي ډګر، کاروف [۱۹۱] کې د یاداشت په کتابچه کې ولیکل شي چې زه د پیلوټ په حیث دغه الوتنه بامسولیته نه ګڼم.

---

[۱۹۰] - Jesper Kristensen

[۱۹۱] - Karup

د ډيسمبر په (۲۱) نيټه ماښام ناوخته ترانسپورتي الوتکه د کندهار په لور والوته. الوتکه د وچو دښتو په تيارو کې په داسې حال کې چې د هوايي ډګر څراغونه خاموش وو، هوا ته پورته شوه.

دا الوتنه لکه د پيلوټ سترګې چې وتړي او الوتکه په نامعلومه فضا کې هوا ته پورته کړي، ورته وه. دا ځکه چې اړين معلوماتونه مو په واک کې نه وو خو الوتکه د هيواد په جنوبي برخه کې په دو جګړه ايزو سيمو کې الوتلي وه. هيڅ امريکايي پيلوټ په دغه برخه کې د الوتلو جرأت نه درلود خو ډنمارکي پيلوټ د حالاتو د ترينګلي حالت څخه خبر نه و. که موږ د حالاتو څخه خبر واى، کيداى شواى چې د الوتکې د الوتنې جهت ته مو بدلون ورکړى واى. پيلوټ وايي چې موږ بيلې کومې ځانګړى اړتيا څخه خپل ژوند په خطر کې واچاوه. الوتکه بيله خطره کندهار ته د رسيدو په حال کې شول، کله چې تقريباً (۵۰) متره د هوايي ډګر ته ورسيدل د الوتکې څراغونه يي روښانه کړل. د الوتکې د کښينستولو ليکه د بمونو په وجه شګلنه او ډبرينه وه نو ځکه الوتکه پورته پورت وغورزيدل خو ټيرونه مو ارام کړاى شواى. په څو دقيقې کې سرتيري او وسايل د الوتکې څخه کښته شوه او الوتکې په بيړه په توره شپه د يعقوب آباد په لورى الوتنه وکړه. خطر بياهم لږ نه شو ځکه د پاکستاني هوايي ډګر دموقعيت په اړوند کره معلومات نه و. په نيمه شپه مو په داسې هوايي ډګر کې الوتکه کوزه کړه چې هوايي ډګرته ورته نه وه. د هوايي ډګر سره مو مخابراتي اړيکه ټينګه کړه تر څو موږ يي سم ځاى ته رهنمايي کړي. د پاکستان په هوايي ډګر کې مو تيل واچول او بيرته مو د افغانستان د رهينو کمپ هوايي ډګر په لوري الوتنه وکړه چې هلته شپه تيره کړو.

د پاکستان په هوايي ډګر کې يو امريکايي پيلوت، ډنمارکي پيلوټ ته وويل چې د لارى پيداکولو لپاره د شپې د کمپيوتري ګوګل پروګرام څخه کار واخيستل شي. د کښينستولو ليکه په ريګو کې يو خط و چې په دوو بغلونو کې څراغونه لګيدل. امريکايي پيلوټ خبر نه و چې ډنمارکى پيلوټ دا ډول وسايل نه لرى نو ځکه امريکايي پيلوټ وويل او خدايه دوى په تياره تونل کې روان دي. په دغه سوچونو کې هوايي ډګر ته راورسيدلو او په مخابره کې مو ورته وويل چې څراغونه روښانه کړى، ځواب دا و، چې روښانه دي. خو موږ وويل چې درسته روښنايي غواړو. که ډيره اړينه وى، اصلي څراغونه به روښانه کړو. ما ډنمارکي پيلوټ سوچ وکړ چې امريکايان موږ عجيبه ګڼي ځکه د ويشتلو خطر شته. موږ ډنمارکي پيلوټان اړ وو ځکه بايد هوايي ډګر مو ليدلي واي چې الوتکه

ور په کښي کوز شي. (۴۵) د قيقي موږ پر ميدان وګرځيدلو تر څو امريکايان د هوايي ډګر پر څنډو قوي څراغونو نصب کړي، روښانه کړل.

نژدي د سپيدو وخت و چې الوتکه کوزه شوه او پيلوټانو په دغه ورځ (۲۲) ساعته الوتنه کړی وه. دغه ساعتونه د نورمال الوتنې دوه برابره دی چې يو پيلوټ اجازه لري. کله چې د الوتکې څخه را کښته شولو، څو امريکايي چورلکي مو په دوړو کې وليدلي. د سهار رنګه سترګې د راښکاره کيدو په حال کې وي، سره د دي چې ډير ستړی وو خو بيا مو هم د رواج له مخې تر الوتنې وروسته بير وچښل.

پيلوټ په دی سوچ کې ډوب شو چې په دښته کې د ډنمارک د کرسمس بير چې د واورې سمبول يي درلود، ځانګړي چاپيريال يی منعکس کاوه. ستونزه دا وه چې امريکايان نه پوهيدل چې ډنمارکي ترانسپورتي الوتکه په هوايی ډګر کې راکوزه شوی ده. کله چې ډنمارکي پيلوټانو هيله وښودله چې د امريکايانو په واک کې به وي چې د دوی سرتيري او تيپان انتقال کړی نو يي اجازه پيدا کړه چې په هوايي ډګر کې واوسي.

راتلونکې شپې په دومداره توګه مو د رهينو کمپ ، کندهار، يعقوب اباد او د پاکستان د بحري ډګر ترمينځ الوتنې کولي. استراليايي سرتيري، امريکايي سرتيري او پوځي تجهيزات مو انتقالول. د الوتنې په جريان کې ټول څراغونه مړه وو. د الوتکې د کوزولو او کښته کولو په وخت کې مو عمودي، زيګزاک مانوري کولي چې په کښته ارتفاع کې د دښمن د ګوليو ښکار نه شوو. زموږ ترانسپورتي الوتکه هم د امريکايانو د پوځ يو برخه شوه، نو ځکه مو وروسته ټولو پټو مهمو معلوماتونو ته لاس رسي پيدا کړي، کوم چې مخکې مو نه درلود. د الوتکې پيلوټ ، اولريک لوهمان ميکلسن وايي: موږ يوازې مواد تسليمول او خپل په نووبښت مو دحل لار پيدا کول. په ټوکو مو يو او بل ته ويل چې يوازي مو يو قانون مات نه کړ هغه دا چې د الوتنې په جريان کې مو شراب و نه چښل. د هوايي ډګر مشرتابه په دی اړوند هيڅ اداره نه درلوده.

امريکايي جنګي سرتيري هم موږ ته يوه تجربه وه ځکه سرتيري مو په الوتکه کې په دومره شمير کښينول چې هيچا د وزن د زياتوالي او يا دسرتيرو د تړلو سوچ نه کاوه. سرتيري به د الوتکې لوری ته مارش شول او پر فرش تر هغه وخته کښينستل چې نور به د ناستي ځای نه و.

کله چې الوتکه د پاکستان په پاسني نومی هوایي ډګر کې راکوزه شوه، یو امریکایي سرتیری چې وجود یې شخ شوی و، په الوتکه پاته شو په داسی حال کې چې نور سرتیري راکوز شول. د الوتکې یو کارکوونکی هڅه وکړه چې د امریکایي سرتیري سره مرسته وکړي خو د یو امریکایي افسر لخوا ډنمارکي کارکوونکی ته وویل شول: ته به مرسته نه ورسره کوی که هغه د دی توان نه لری چې ولاړ شی نو په څکیدلو (چارغووک) دی د الوتکې څخه کښته شی.

ډنمارکي ترانسپورتي الوتکه د ډیسمبر پر (۲۸) نیټه ډنمارک ته راورسیدل. موږ په الوتکه کې بحث سره وکړي چې د تشویق له پاره باید پر اوږو مدالونه راونښلوي ځکه په دغه ډول شرایطو کې مو سرتیري افغانستان ته انتقال کړی دي.

تر نوی کال وروسته مو د هوایي ډګر د مشرتابه سره د کاروپ په هوایي ډګر کې غونډه وکړه. زموږ هیله دا وه چې زموږ د ستونزو او تجربو په اړوند به پوښتني را څخه وکړي او په ستونزو به و پوهیږي چې پلان خراب جوړ شوی و تر څو په راتلونکی کې دا ډول غلطي تکرار نه شي. خو د مشرتابه له نظره هر څه ښه تیر شوی وو چې دا ډول ارزونه زموږ د مایوسی سبب وګرځیده. پیلوټ د مشرتابه جنرال ته وویل چې موږ یي اړ ایستلو چې داسې الوتنه وکړو چې هیڅ وخت باید شوی نه وای. خبري پورته او کښته شوي تر څو موضوع غالمغال ته ورسیده او جنرال په قهر شو.

موږ احساس وکړ چې مشرتابه زموږ نیوکه چې درست تیاری نیول شوی نه و، په قهر او غوصه کړل. خو مشرتابه وانګیرل چې د دوی کار ته لږ ارزښت ورکوو، په داسې حال کې چې لوړی رتبې یي درلودي. زموږ دلیل دا وو چې موږ اضافه قابلیت درلود بیله دې چې کافي وسایل په لاس کې ولرو. ډګروال سیون اندیرسن زموږ په ستونزه باندي پوه شو. غونډه ډیره خرابه تیره شوه، د هوایي ډګر مشرتابه په دی نه پوهیدل چې موږ یي په افغانستان کې د عملیاتو دندې ته تر کومو شرایطو لاندي لیږلي وو. ډګروال سیون اندیرسن را سره همږغی و او اوس د هوایي قواو مشر دي. د دغه الوتنې خاطره د هوایي قواو ټول پرسونل ته ورسیده چې د راتلونکې له پاره د عبرت اخیستلو په توګه وګڼل شوه. د دفاع وزارت لوی درستیز، یسپر هیلسیو [١٩٢] د دغه الوتنې د

[١٩٢] - Jesper Helsø

جزيياتو څخه خبر نه شو ولې زموږ د بحث مطالب ورته ورسيدل. نوموړی يوازې دومره وويل چې ما پيلوټانو ته ويلی وو چې بايد حالات قابو کړي. موږ بايد الوتنه کړې وای خو دغه ډول الوتنه بايد دوباره تکرار نه شي.
د ژمي په يخنې کې د جنوري په دريمه نيټه د ډنمارک نوی صدراعظم، اندريس فوک غاسموسن[۱۹۳] د البورگ په هوايي ډگر کې کوز شو. نورمن کريستنسن[۱۹۴] او نور پرسونل و صدراعظم ته ښه راغلاست ووايه. زموږ د قوتونو يوه برخه افغانستان ته د تللو په تياري بوخت وو نو ځکه هغه معمولي تشريفات چې د ډنمارک د ملکې او يا لوړپوړو وزيرانو د راتللو په وخت کې تر سره کيدل، صرفنظر شول، ځکه سرتيرو ته ويل شوی وو چې دوی بايد ټول تمرکز د راتلونکې دندې د ښه اجرأ په خاطر وکړي. صدراعظم د هوايي ډگر د تاسيساتو څخه کتنه وکړه او هغو سرتيرو ته يي چې ژر به د افغانستان جنوبي سيمو ته د دندې له پاره ليږل وليږل شي، لاس ورکړي، وروسته يي لنډه وينا وکړل.

نورمن کريستنسن وايي: د صدراعظم ليدنه زموږ له پاره ځکه ډير ارزښت درلودي چې په سياسي ډول زموږ څخه د ملاتړ په مانا وو. پخوا له دي نه به دري ورځي مخکې ټليفوني خبر راکړل شو چې تاسو و افغانستان ته د تللو له پاره ځانونه چمتو کړي.

موږ ډير خوشحاله شولو چې صدراعظم زموږ ليدنه وکړل زموږ عميات به دولت ته ډير ارزښت ولري. د بل لوری څخه دا عمليات ځکه ارزښتناکه وه چې ځانگړو ځواکونو او نښان ويشتونکو په گډه په عملياتو کې ونډه اخيستل. ځکه د ډيرې مودې څخه داسې فکر کې دي چې دغه دوه پوځي واحدونه يو دبل په مقابل سيالي کوي نو دا هم يو ازموينه وه چې دواړه واحدونه يو ځای عمليات وکړي.

د صدراعظم ليدني د نښان ويشتونکو د پوځي واحد پر مشر، فرانک ليسنر[۱۹۵] ډيره مثبته اغيزه وکړه. نوموړي دري ورځي وروسته د منني يوليک په لاندي متن وليکي.

---

[۱۹۳] - Anders Fogh Rasmussen

[۱۹۴] - Norman Kristensen

[۱۹۵] - Frank Lissner

« ښاغلي صدراعظم! ستاسو لیدنه زموږ د ټولو له پاره یو ویاړ وو. موږ د ډنمارکیانو، سرتیرو او افسرانو په توګه ستاسو په لیدنه ویاړ کوو. په ځانګړي توګه د نښان ویشتلو او د شنا پوځي واحدونه ستاسو لیدنې ته په ډیر قدر ګوري، ځکه موږ به ژر په پوځي عملیاتو کې ګډون وکړو.

حکومت او پارلمان ډیره مهم تصمیم نیولي دي چې د ډنمارک ګډون د ترهګرو په ځپولو کې پریکړه کړی ده. موږ د نښان ویشتلو او د شنا پوځي واحدونه ویاړ لرو چې د ډنمارک په استازیتوب په دغه مهمه دنده کې خپل تر توان پوري فعاله ونډه واخلوتر څووکولای شوو چې د صدراعظم، حکومت او پارلمان د غوښتنو اوهیلو مطابق دنده اجرا کړلای شوو. په لیک کې قوماندان د صدراعظم د لیدنې انځورونه هم ورولیږل.»

بله ورځ د پوځ د لوړي قوماندانۍ څخه په محرمانه ډول عملیاتي ګروپ ته په لاندې متن امر صادر شو:

« د امریکایانو عمومي قوماندانې کولای شي چې ډنمارکي پوځ ته دندې وټاکي او ډنمارکي پوځ مکلف دي چې د امریکایانو امر تر هغه کچې چې ډنمارک چوکاټ مراعات شي، اجرأ کړي.

دغه سل نفري ډنمارکي وسلوال ګروپ ته د ضربتي ګروپ [196] نوم ورکړل شو چې په ټولو پوځي عملیاتو کې د طالبانو او القاعده د ځپلو په خاطر کوم چې د نړیوالو قوتونو له لوري پرمخ بیول کیږي، ګډون کوي او کومه استثنا ور پکښې نه شته.

د ډنمارک د نښان ویشتلو او د شنا پوځي واحدونه په ټولو جګړه ایزو عملیاتو کې ګډون کوي او کولای شي چې دښمنان زنداني کړي. مخکې له دې چې پوځونه حرکت وکړي، د قواو مشر، فرانک لینسر ته امر وشو چې هره ورځ د حالاتو، دندو په اړوند د قوماندې مرکز ته اطلاع ورکړي. همدا ډول هدایت ورکړل شو چې د ځانګړو عملیاتو او اجرأتو په اړوند هم باید مرکزته رپوټ ورکړل شي.

---

[196] - Task Group Ferret

د امریکا لویه ترانسپورتي الوتکه، ثی ـ ۱۷[197] د ۲۰۰۲ زکال په (۹) نیټه د ډنمارک د البورګ په هوایي ډګر کې راکوزه شوه. پوځي وسایل په کانټینرو کې بار او په الوتکه کې ځای پر ځای شول. همدا ډول (۱۰۰) د نښان ویشتونکو او شنا د واحدونو سرتیري په الوتکه کې کښینستل. د ټولو په آند هیله وه چې دغه عملیات به په بریالیتوب پای ته ورسیږي. ټول خوښ ښکاریدل ځکه د یوې رښتیني جګړې په لور په حرکت کې وو. په الوتکه کې یو ژباړن هم ناست و چې په وروسته کې به مهم رول ولوبوي. نوموړي په ۱۷ کلني کې د کډوال په توګه د ایران څخه ډنمارک ته راغلي و او ډنمارکي تابعیت یې درلودي. ژباړن د مکلفیت د دورې تر پای ته رسوولو وروسته د نړیوال پوځي واحد سره قرارداد لاسلیک کړی و. نوموړي په ۱۹۹۲ زکال کې کرویټن ته هم لیږل شوی و. دا چې نوموړي په فارسي خبري کولای شوای نو باور کیدي چې په دري ژبه هم ږغیدای شي ځکه په افغانستان کې ډیر کسان په دري ژبه پوهیږي. کله چې سرتیري تر لنډې وقفي وروسته په جرمني کې د کندهار پر لوري والوتله د جنوري د میاشتي په لسمه نیټه الوتکه په کندهار کې راکوزه شوه. په پوځي کمپ کې یوه بله پیښه په جریان کې وه. امریکایانو د بندیانو لومړی ډله په الوتکه کې کښینول او د ګوانتامانو د نوي زندان (کیوبا) په لور یې باید الوتنه کړی وای. دغه جریان ته د ډنمارکي سرتیرو پاملرنه وا نه واوښتل.

نورمن کریستنسن وایي: زه خبر نه وم چې په کمپ کې جیلخانه شته.

ډنمارکي سرتیرو په راتلونکو میاشتو کې دنده درلوده چې د امریکایانو سره د طالبانو او د اوساما بن لادن د ترهګرو په ځپلو اویا نیولو کې مرسته وکړي. په دغو عملیاتو کې ډنمارکیانو، امریکایانو، انګلیسانو، کاناډایانو، استرالیانو، نیوزرلینډیانو، جرمنیانو او نارویجیانو(۱۳۰۰) تنو ګډون درلودي چې د ضربتي ګروپ ک ـ بار، واحد[198] یې جوړ کړی و.

امریکایانو د ځانګړو سرتیرو ډله د اکتوبر په نیمایي کې جوړه کړي وه چې روبیرټ هارورډ[199] یې مشر و. یوه میاشت وروسته ځانګړو سرتیرو په

---

[197] - C-17
[198] - Task Group K-Bar
[199] - Robert Harward

جنوب کې د کمپ روهین سره د سمندري سرتیرو په ګډون عنلیات پیل کړل. خو د ډیسمبر پر۱۵ نیټه د ک ـ بار ضربتي ګروپ واحد دایمي استوګنځي د کندهار هوایي ډګرته انتقال شو. سره د دي چې ځانګړي واحدونه د یوی میاشتي په موده کې هلته وو خو په نا امیده سترګو یي د ډنمارک ځانګړي سرتیریو ته کتل. خاوري هر لورې ته پرتې وي، د ریګو په رنګ ودانۍ داسي ښکاریدې چې برید پر شوی دي. کړکۍ او دروازې لړ وي، ودانۍ د دننه خوا څخه هم ښه نه ښکاریدې. د طالبانو د تښتې نښانې په ودانۍ کې ښکاریدي. هر لور ته نالیچې پرتې وي، ډیر بد بوی د تشنابونو او پخلنځي څخه پورته کیدي. د طبعیت لوی غرونه چې سترګو ځار کولای شوای ښکاریده. خولې مو د ریګو ډکې او مځکه یخنې وه.

په سلګونو امریکایي سمندري سرتیري د امریکایي ک ـ بار ضربتي ګروپ د واحدونو له پاره په کمپ کې د ودانیو په جوړولو بوخت وو. انجنیرانو د پاته شوو بمونو او وسلو په انفجار باندي بوخت وو.

ډنمارکي سرتیري په کمپ کې د خپلو واحدونو له پاره په همدغه ځای کې د ځانونو له پاره د ځانګړي کمپ په جوړولو بوخت وو چې د میولر کمپ [٢٠٠] نوم یي ورکړي. تقریباً د ۸۰۰ مترو په واټن په همدغه کمپ کې د سلګونو افغاني بندیانو له پاره جیلخانه وه.

ډنمارکي نښان ویشتونکو او د شنا واحدونو ته یي یوه زړه ډبرینه ودانۍ په واک کې ورکړل چې وړې کوټې یي درلودي. باید ټول وسایل او امکانات د پخلنځی، تشناب په ګډون د اړیکو دوسایلو له پاره همدلته ځای شوی واي. ډیر ډنمارکي سرتیري د خوب په کڅوړه ډوله بستره کې په کوچنیو خیمو کې ویده کیدل. داچه یخني وه او د شپي لخوا د تودوخي درجه منفي لس ته کښته کیدل، د خوب په کڅوړو کې یخني ډیره وه، په ربښتیا چې د ځای کمبود ډیر و.

وسلې مو پر سر باندي په چنګک ځړیدلي، شخصي سامانونه مو په بکسونو کې تر بسترو لاندي پراته وه او غذایي مواد په ځانګړې خیمه کې ساتل کیدل. ټوله شپه امریکایي ترانسپورتي الوتکې د موادو او وسلو په وړلو او راوړلو مصروفې وي نو ځکه د الوتکو پورته کیدل او کښته کیدل ټوله شپه جریان درلودي.

---

٢٠٠ - Camp Mjølner

په هغه ورځ چې د ډنمارک ځانګړو سرتیرو د البورګ څخه الوتنه وکړل، د ولسمشر بوش ویاند، ایر فلیشر [۲۰۱] اعلان وکړ چې رسمي بندیان په افغانستان کې جنګي مجرمین نه دي، بلکې ناقانونه جګړه مار دي. د جنګې بندیانو اصطلاح د ژینو د کنوانسیون مطابق هغو کسانو له پاره کاریږي چې رسمي یونیفورم ولري او په ښکاره وسلې ولري. ویاند وویل چې د دغې اصطلاح استعمال به وارزول شي چې ایا جنګې بندیان د ژینو د کنوانسیون پر بنسټ زنداني شي که یا؟ په اوس مهال کې دغه کسان ناقانونه ګروپونه دي نو ځکه دوی به د ناقانونه جګړه ایزه ګروپونو په توګه وارزول شي.

دوي ورځي وروسته د امریکا د دفاع وزیر، ډونالډ رومزفیلډ [۲۰۲] په یو مطبواتي کنفرانس کې موضوع نوره هم روښانه کړه. د دفاع وزیر وویل چې د زندانیانو سره به د ژینو د کنوانسیون مطابق کړنه ونه شي. دوی به د جګړې څخه د نیول شوو زندانیانو په توګه و نه ساتل شي ځکه دوی ناقانونه وسلوال دي. دا چې څنګه کړنه به د بندیانو سره وشي، د دفاع وزیر څرګند ځواب و نه وایي. خو دومره یې وویل چې د زندانیانو سره به داسې مناسبه کړنه وکړو چې څه ناڅه د ژینو کنوانسیون سره مطابق وي، خو دا ډول چې مناسبه کړنه به څه وي، د امریکا حکومت به پریکړه کوي چې څه ډول کړنه مناسبه ده. په همدغه مطبوعاتي کنفرانس کې د دفاع وزارت څلور ستوري جنرال، ریچارد مایرز [۲۰۳] وویل چې دغه زندانیان ډیر خطرناک کسان دي نو دغه ډول به د دوی سره کړنه وشي.

په همدغه شپه امریکایي ترانسپورتې الوتکې، ث ـ ۱۴۱ [۲۰۴] لومړي ډله زندانیان د کندهار څخه تر ۲۷ ساعته الوتنې وروسته په کیوبا کې د ګوانتامانو زندان ته ورسول. زندانیان په داسې حال کې چې ولچک، زولانه او خولۍ یې په سر وراغوستي وي، زندان ته دننه کړل.

---

[۲۰۱] - Ari Fleischer

[۲۰۲] - Donald Rumsfeld

[۲۰۳] - Richard Myers

[۲۰۴] - C-141

دغه مرکز په ۱۹۰۳ زکال کې امریکایانو د کیوبا څخه کرایه کړی و چې د فیډل کاسترو د واک په موده کې هم اعتبار درلودي. دا چې د ګوانتامانو زندان د امریکا په خاوره کې نه و، نو امریکایانو داسې پلمه کول چې دا سیمه زموږ په خاوره کې نه ده نو ځکه زندانیان د امریکا د عدلي سیستم په چوکاټ کې حقوق نه لري.

د ګډ بازار [۲۰۵] سفیر په واشنګټن کې تر دغه اعلان وروسته پر موضوع بحث پیل کړی. د دفاع د وزیر د څرګندونو برسیره بیا هم د ګډ بازار سفیر د بوش د حکومت پر نظر مطمین نه و. پر دغه بنسټ د جنوري پر ۱۵ نیټه د ډنمارک سفیر خپل د بهرنیو چارو وزیر ته د یو ایمیل په ترڅ کې داسې ولیکل: « عمومي نظر دادي چې تر اوسه هم څرګنده نه ده چې امریکایان به د زندانیانو سره څنګه کړنه وکړي.»

په ایمیل کې اندیښنه د ورایه ښکاریده زموږ به نظر که د جنګي زندانیانو نوم ورکړي ښه به وي ځکه جنګې بندیان زیات حقوق لري. د دفاع وزیر زندانیانو ته د غیري قانوني جګړه مارانو [۲۰۶] اصطلاح وکارول. د دفاع وزیر په اګاهانه ډول د جنګي زندانیانو اصطلاح نه کارول ځکه جنګي زندانیان د ژینو د کنوانسیون په چوکاټ کې ګڼل کیږي.

په هر صورت د امریکا د بهرنیو چارو وزارت له لوري د ډنمارک سفارت ته اطلاع ورکړل شول چې د زندانیانو سره به د ژینو د کنوانسیون مطابق کړنه وشي او زندانیانو ته به هیڅ جزا(فزیکي جزا) ور نه کړل شي. نن د بهرنیو چارو په وزارت کې د یو بحث په جریان کې د ډنمارک سفیر، اولریک فیدرسپیل [۲۰۷] ته په مسخره وویل شول: د کارکوونکو مفکوره دا وه چې د زندانیانو څخه یوازې تحقیق او پوښتنې وکړي. سفیر وایي چې د امریکایانو معلومات په زړه پوري دی او بندیان نه مجازات کیږي. دغه ایمیل د سفیر او نورو لخوا لاسلیک شوی وو.

---

[۲۰۵] - EU

[۲۰۶] - Unlawful combatants

[۲۰۷] - Ulrik Federspiel

کله چې کندهار ته راورسیدل، لومړي دنده ډنمارکي پوځي مشر، نورمن کریستنسن  ته ورکړل شوه. خو دا د ډنمارکي سرتیرو د ګزمې دنده نه وه. د نیوزرلاینډ ځانګړو سرتیرو د دندې په جریان کې ژباړن ته اړتیا درلودل او د ډنمارکیانو څخه یې د ایراني ژباړن د مرستې غوښتنه وکړه. ډنمارکیانو دا غوښتنه په دې شرط ومنل چې د ژباړن د ساتنې له پاره باید یو ډنمارکي وي نو ځکه نورمن کریستنسن د ژباړن د ساتنې دنده پر غاړه واخیسته. د ژباړن او د ډنمارکي سرتیرو د دلګۍ مشر نورمن کریستنسن تر منځ جنجال وشو. نورمن کریستنسن ژباړن ته وویل چې ته به یو توپک او یو شاجور مرمۍ درسره واخلې. ژباړن په دې نه پوهیده چې نورمن کریستنسن د عیني دندې له پاره توپک، لس شاجوره مرمې، لاسي بمونه او نور دځانه سره اخلې او ژباړن باید یو توپک او شاجور مرمې د ځانه سره ولري.

دلګۍ مشر نورمن کریستنسن ژباړن ته وویل چې ته د جګړې له پاره نه یې روزل شوی خو ته باید باور ولرې چې تا به زه سالم رارسوم او هم دا چې ۲۵ سویزرلنډي سرتیري شته چې موږ یې باید امر ومنو.

ژباړن سره د دې هم ډیر جنګي تجهیزات راواخیستل ځکه د لوژستیک مسولینو ته یې ویلي و چې د عملیاتو مسول راته وویل چې ډیر څه باید راواخلم خو د ژباړن دا کړنې نورمن کریستنسن ډیر په غوصه کړ. او پر ژباړن یې غالمغال وکړ خو ژباړن ورته وویل چې د لږ وسلې درلودل زما امنیت ته خطر متوجه کوي.

په عملیاتو کې یو څه ستونزه پیښه شوه ځکه یو سویزرلنډی سرتیري لږ په پښتو پوهیدي نو ژباړن ته یې وویل چې ته ژباړنه درسته نه کوي خو نورمن کریستنسن ورڅخه دفاع وکړه. په هر صورت چې کمپ ته راغلل، حالت ښه نه وه. نورمن کریستنسن خپل لوړ آمر، فرانک لینسر ته وویل چې زموږ ژباړن د دغه دندې وړتیا نه لري خو نورڅه پیښ نه شول.

د جنوري پر ۱۷ نیټه ژباړن او فرانک لینسر د امریکایانو د تحقیق مرکز ته ولاړل. کله چې امریکایان وپوهیدل چې ډنمارکیان داسې یو ژباړن لري چې په فارسي اوپښتو پوهیږي نو د مرستې غوښتنه یې وکړه. فرانک لینسر ومنل خو په ډنمارک کې د ژباړن دنده ډیره محدوده ټاکل شوی وه. ژباړن باید په مستقیم تحقیق کې ونډه وانخلي خو کولای شي چې د ابتدایي پوښتنو ژباړنه وکړي او

اصلي دنده يي د اسنادو ژباړنه وه. په دغه نيټه آمر فرانک لينسر په يو محرمانه رپوټ کې د قوانداني مرکزته داسې وليکل.

« د تحقيق مرکز ژباړن ته اړتيا لري چې د اشخاصو څخه لاسته راغلي اسناد او يا د دښمن څخه د پاتي شوو اسنادو ژباړنه وکړي. ژباړن نه غواړي چې د تحقيق په جريان کې ژباړنه وکړي. آمر فرانک لينسر وليکل چې د ژباړن ګډون د تحقيق په جريان کې زموږ له پاره د معلوماتو ښه سرچينه کيدلای شي، ما چې په مختصره توګه د تحقيق مرکز وليد نو تاييدوم چې د تحقيق دغه ميتود دهغو تحقيقاتي تمريناتو سره برابردي کوم چې موږ په ډنمارک کې کړی وو. » دا د ډنمارکي نورمونو څخه مخالف معلوماتونه دي ځکه په دغه وخت کې ډنمارکي سرتيري داسې تربيه شوی و، که څوک بندي کړي بايد د تحقيق او پوښتنو په وخت کې شکنجې څخه کار وانخلي.

د بوويکس په[208] نامه د تحقيق نه مخکې تمرين داسې و چې زنداني به په جبر اوږد وخت داسې کښينول شو چې په زحمت وي، لوړ اواز په اوريدل کيدي، تيز څراغونه يي پر سترګو مخامخ وربرابرول او داسې حالت به يي ورباندي راوستي چې ځای او وخت يي نه پيژندي. دا ډول جزاوي د ژينو د کنوانسيون سره په مخالفت کې دي.

ډنمارکي امر په راپور کې دا هم وليکل: په عمومي ډول طالبان او بهرني جګړه مار د امريکايانو او دملاتړو قواو څخه دومره ډار لری چې په باور سره فکر کوي چې د نيولو په صورت کې وژل کيږي.

فرانک لينسر د دغه محرم رپوټ د ليږلو سره سره وروسته وليکل چې ما د زندانيانو شکنجه کول ليدلي نه دي، يوازې کيدلای شي، زندانيان و جيل ته د انتقال په وخت کې په ډير سرعت انتقال شوی وی چې ازار به يی احساس کړی وي.

د ډنمارک د هغه وخت لوی درستيز، يسپر هيلسيو په هغه وخت کې وويل ما د جنوري د ۱۷ نيټې څخه کوم ځانګړي رپوټ ليدلي نه دي خو اوس وايي چې ما ته د فرانک لينسر د شفاهي معلومات څخه داسې ښکاره شوه چې وړاندوينه کيدای شوای چې د ډنمارکيانو له خوا د بنديانو تسليمول و امريکايانو ته کيدای

[208] - POWEX

شي چې ستونزې رامنځته کړي. د هيلسيو په قول فرانک لينسر د ليکلی اطمينان غوښتنه کوله چې په راتلونکې کې مسوليت نوموړی ته متوجه نه شي. هيلسيو وايي چې دا عجيبه ده چې د بنديانو ستونزه مخکې د رپوټ څخه د دفاع وزارت تر بحث لاندې نيولې وي او رپوټ ډنمارک ته ټيليفوني ورکړل شوی و، عجيبه داده چې په هغه وخت کې په ټيليفوني رپوټ اکتفاء شوی وه خو نن د ليکلي راپور غوښتنه کيږي.

د فرانک لينسر د رپوټ څخه يوه ورځ وروسته د دفاع وزارت رهبري هيت ته انديښنه پيدا شوه چې څنګه بنديان و امريکايانو ته تسليم کړو په داسې حال کې چې په امريکا کې اعدام جواز لري. موضوع د بهرنيو چارو وزارت سره شريکه شوه ځکه د پرنسيپ له مخې سرتيري د بهرنيو د چارو وزارت له خوا ليږل شوی وو. د بهرنيو چارو وزارت ارزيابې دا وه چې موږ بايد باور ولرو چې امريکايان د بشري قوانينو رعايت کوي. د دفاع د وزارت د استازي په قول د بهرنيو چارو وزارت د دغه ادعا له پاره کوم دلايل وړاندې نه کړل. د دفاع وزارت دغه استازې د خپل وزارت د حقوق پوه څخه غوښتنه وکړه چې يو نوټ نوشته کړي. نوټ د جنوري په ۱۸ نيټه وليکل شو. د نوټ څخه د دفاع وزارت تشويش په ډاګه څرګند وو.

د دفاع وزارت د امريکايانو سره د يو تعهد لاسليک کول غوښتل، چې د دغه تعهد په صورت کې به ډنمارکيان و دوی ته بنديان تسليم کړي، ځکه دوه دليله موجود وو:

- د ډنمارک د دفاع وزارت مشرتابه انديښنه درلوده چې د بنديانو حقوق به د ژينو د کنوانسيون مطابق رعايت نه شي.

- په امريکا کې د اعدام جزا مجاز ده. نو ځکه بنديان بايد امريکايانو ته تسليم نه شي.

د ډنمارک د دفاع وزارت د امريکايانو سره د بنديانو د تسليمولو پر موضوع بحث پيل کړي چې په يادداشت کې د اعدام د جزا په اړوند خپله انديښنه وړاندې کړي. په ياداشت کې علاوه کړل چې که امريکايان د بنديانو په اړوند د ژينو د کنوانسيون مطابق عمل وکړي نو د ډنمارکيانو له پاره همد اوس کومه ستونزه نه شته چې نيول شوی بنديان امريکايانو ته تسليم کړي. ولې دا په هيڅ ډول باوري نه وه.

ستونزه هغه وخت رامنځته شوه چې ډنمارکي لوري باوري نه درلودي چې امریکایان به د دوی شرایط ومني. د خبرو په جریان کې د امریکایانو سره د «ناقانونه وسلوالو» اصطلاح تبادله شوه. وروسته ډنمارکي لوري خپل نظر په څرګند ډول په لاندې متن ولیکي:

« دا مهمه ده چې جوته کړو، تر هغه وخت پوري چې دیو جنګي زنداني مقام او درجه معلومه نه وي، تر هغه وخته باید زنداني د ژینو د قانون د دریمي فقري او د مل شوي ضمیمي په مطابق وساتل شي. د زنداني مقام باید د یوې منل شوې محکمې له خوا تشخیص شي.»

تر دي مو ښکاره نظر څرګند ولای نه شوو. په دغه خاطر په یاد داشت کې دري نهایي غوښتنې ذکر شوی چې د مقابل لوری د حیرت وړ وګرځیدلي.

د ډنمارک د بهرنیو چارو وزارت نظر دا و، هغه زندانیان چې د ډنمارک له خوا بندیان شي، باید امریکایانو ته تسلیم کړل شي، څکه ډنمارک پر امریکایانو باور لري چې امریکایان به خپل مکلفیتونه رعایت کړي. دا یوازې د باور موضوع و په داسې حال کې چې د حقوقي او هم د بوش دحکومت د ګونګ نظر په وجه ټوله مسایل روښانه نه وو. پایله یو څه وه خو په یاد داشت کې دلایل او غوښتنې بل څه وې. که ډنمارکیانو زندانیان و امریکایانو ته تسلیم کړی واي، ستونزه د بشر د حقوقو په تړاو د ژینو د قانون په اړوند موجوده وه.

دپوځ یو لوړ پوړي چارواکی چې د حالاتو څخه خبر و، وایي چې پریکړه څکه سیاسي وه چې: یادداشت یو قانوني تشریح وه چې په پایله کې پریکړه وشوه چې موږ پر امریکایانو باور لرو چې د بندیانو سره به دبشر د حقوقو مطابق کړنه کوي. دغه ډول پریکړه حقوقي بڼه نه لري بلکې سیاسي پریکړه ګڼل کیږي.

د اداري مشر،نیلس کییر [۲۰۹] وایي چې دغه یاد داشت د دفاع وزیر او د دیپارتمنت مشر دواړو لوستی وو. البته دغه یاد داشت یوازني سند و چې د ډنمارکیانو موقف د امریکایانو په اړوند چې د زندانیانو سره څنګه چلند کوي، ټاکي.
اصلي خبره دا وه چې د ډنمارک حکومت پر امریکایانو د مخالفت په شتون کې

---

[۲۰۹] - Niels Kjær

هم باور درلودي. دغه خط د بهرنیو چارو وزارت او د دفاع وزارت و چې باید منل شوای وای مګر د دفاع وزارت د قوماندې مرکز هم مخالفت ونه کړي.

د پوځ رهبري هغه غوښتنه چې د امریکایانو سره د بندیانو د ورسپارلو په اړوند باید قرارداد لاسلیک کړی وای، هیره کړه. اوس نو سیاسي پریکړه وشوه چې کافي ده پر امریکایانو باور وشي. د یادداشت لنډیز دری ورځې وروسته د جنوري په ۲۱ نیټه دپوځ د قوماندي مرکز ته ولیږل شو خو د اړوندې اداري مشر د لاس په خط دومره ولیکل:« ډیره پیچلي موضوع ده.»

په عیني ورځ د ډنمارک د سفارت څخه په کاناډا کې په زړه پوري داسې خبر راغي چې: د کاناډا د دفاع وزارت په نیوکه سره د نیول شوو بندیانو تحویلول په افغانستان کې امریکایانو ته نه کوي. داسې څرګنده شوه چې د کاناډا ډیر سیاستوال، د خلکو د حقوقو ازاد کارپوهان، او د بشر د حقوقو سازمانونه په دی نظر دي چې په افغانستان کې د القاعده جنګیالي زندانیان حق لري چې د ژینو د کنوانسیون په مطابق چلند ورسره وشي. برسیره پر دغه باید کاناډا داسې د قوماندي ازاد مرکز (په امریکایانو پوري تړلی نه وی) جوړ کړي چې د کاناډایانو بشپړ باور وربانده وي.

د کاناډا دغه غبرګون په مختلفو ورځپاڼو کې تر بحثونو لاندي ونیول شوو چې د دغه تشریح یوه کاپي د ډنمارک د فاع وزارت ته هم ورکړل شول. د کاناډا دغه غبرګون د ډیرې پاملرنې وړ وګرځیدي، ځکه کاناډا د امریکا نژدي ملاتړی هیواد و او د ایجورینګ فریډم[210] په عملیاتو کې د ډنمارک په ډول ګډون کړی و، او کاناډایانو هم باید بندیان د کندهار په هوایي ډګر کې د امریکایانو د تحقیق مرکز ته تسلیم کړی واي. د جنوری(۱۸) نیټه د بهرنیو چارو په وزارت کې د منډو ورځ و. د وزارت حقوقي مشاورینو د اماده ګې له پاره دفاعي ټکې د بهرنیو چارو د وزیر، پیټر ستی میولر[211] له پاره ولیکل. په دغه ټکو کې ډیره پاملرنه د امریکا پر چلند باندې د زندانیانو سره چې د بشر د حقوقو د سازمانونو له خوا تر سختو نیوکو لاندي دی، پاملرنه شوی وه. برسیره پردغه په ټینګه ویل شوی

---

[210] - Enduring Freedom
[211] - Per Stig Møller

و چې د ملل متحد د بشر د حقوقو د ځانګې مشر کمیسار، میري روبینسن[212] څرګنده کړي ده چې ټول زندانیان حق لري چې د ژینو د کنوانسیون مطابق کړنه ورسره وشي.

پیټر ستی میولر د حقوقي مشاروینو د غوښتني سره سم باید ویلي وای چې حکومت تأکید کوي چې « په دغه جګړه کې نیول شوی زندانیانوسره باید د بشري حقوقو درعایت له مخې چلند وشي او باید دبنسټیزو قوانیو رعایت ګرانتي شي کوم چې د بشر دحقوقو په قوانیو کې وضاحت لري.» د بشر د حقوقو ساتل په دې مانا دي چې: د زنداني مورال ، پرنسیپونو او مذهب ته درناوی کول او هم زنداني حق لري چې د جرم په اړوند یي عادلانه محکمه وشي. د دغو څرګندونو سره سره د امریکا له خوا د نه رعایت کولو په صورت کې چې څه غبرګون به وښول شي څه ونه ویل شول.

پیټر ستی میولر بیاهم په تأکید وویل چې موږ پر امریکایانو باور لرو چې د خپلو نړیوالو مکلفیتونو درناوی کوي. ټول اسناد د ډیپارټمانت مشر، نیلس بیرنسټین ته[213] فکس شول. اوس پیټر ستی میولر وایي چې په هغه وخت کې ما د امریکایانو له خوا د خطر کوم سیګنال احساس کړی نه دي.

موږ د ناقانونه وسلوالو په اړوند ډیر بحث کولو ځکه دغه اصطلاح د بشر د حقوقو په تشریح کې ځای شوی نه و خو دبشر د حقوقو د قوانینو مواد هم د تجربو په پایله کې بدلون مومي. ناڅاپه نوي ډول وسلوال منځته راځي چې د بشر د حقوقو تر پوښښ لاندی نه وي. دوی پوځي جامې نه اغوندي دا چې دوی ناقانونه وسلوال وو نو دوي د بشر د حقوقو په چوکاټ کې نه ارزول کیدل نو ځکه ما د ناقانونه وسله والو اصطلاح نه ردول. د حکومت له پاره د پاملرنې وړ دا وه چې ولسمشر بوش ویل : د زندانیانو سره به د بشري حقوقو د رعایت له مخې چلند وشي. دغه هغه څه وه چې زموږ له پاره یي ډیر ارزښت درلودي.

د امریکا د دفاع وزیر، ډونالډ رمزفیلډ په عیني وخت کې په ټینګار وویل چې د بندیانو سره به ښڅګه چلند وشي. په ۱۹ / ۱ / ۲۰۰۲ نیټه نوموړي په څرګند ډول ولیکل چې: امریکي پریکړه کړی ده چې د القاعده او د طالبانو جنګیالي

---

[212] - Mary Robinson
[213] - Nils Bernstein

چې د دفاع وزارت په کنترول کې وي، جګړه ایزه زندانیان نه ګڼل کیږي نو ځکه د ژینو د کنوانسیون ۱۹۴۹ زکال د حقوقو څخه ګټه اخیستلای نه شي.

د دفاع وزیر دومره یادونه وکړه چې د زندانیانو سره به بشري چلند وشي خو دا به په دومره کچه وي چې د پوځونو د اړتیاو سره برابر والي ولری.

د کندهار د هوایي ډګر د تحقیقاتو په مرکز کې زندانیانو په وارو وارو تجربه کول چې د تحقیق دغه میتود د پوځ اړتیا ده. د تحقیق جریان په یو سیستم کې چوکاټ بندی شوی و چې وروسته به د ډیرو زندانیانو او د تحقیق د مرکز د مشر بیانونه د شکنجو په اړوند ولولئ.

یو ۱۹ کلن زنداني، مرات کورناز چې په اصل کې د ترکیې دي مګر په المان کې لوی شوی دي. د ۲۰۰۱ زکال د اکتوبر په میاشت کې د قران شریف د زده کړې له پاره پاکستان ته ولاړ. نوموړي تصمیم درلود چې د یوې مذهبي نجلۍ سره واده وکړي نو اړینه یي ګڼله چې په مذهبي زده کړو کې لوی لاس پیدا کړی. په ۱ / ۱۲ / ۲۰۰۱ ز کال کې د یوې پوستې له خوا په پاکستان کې ونیول شو چې د ۳۰۰۰ ډالرو انعام په بدل کې امریکایانو ته ورکړل شو که څه هم د نوموړي د پیداکولو پلان موجود نه و. ولې امریکایانو یو نورم ټاکلي و چې پاکستاني چارواکو ته د یوه تروریست د زنداني کیدو په بدل کې ۳۰۰۰ ډالره ورکړي.

نوموړي په خپل کتاب (زما د ژوند پنځه کاله) کې، لیکي چې څنګه دی خپله او نور زندانیان د پاکستان څخه و کندهار ته انتقال شول. لاسونه او پښې ولچک او زولانه وه، په سر یي تورې خولۍ را اغوستي وي او دیوال ته یي تخته کړی وو. د الوتنې په جریان کې امریکایي سرتیري مخ او شاته زموږ د ځارنې له پاره تلي خو موږ به یي په میخ دار شلاخه، د توپک په قنداق او سوکانو وهلو. کله چې الوتکه په هوایي ډګر کې کښینستل، د دیوال څخه یي کش کړم او سخته چپلاخه یي ووهلم، د خولۍ څخه مې څه لیدلای شوای، کله چې متوجه شوم تیز څراغونه مې ولیدل. وروسته مې ولیدل چې زندانیان عکاسي کیږي تر څو وښیي چې تروریستان یي د افغانستان په خاوره کې نیولي دي په داسې حال کې چې موږ د پاکستان پولیسو ور تسلیم کړي وو.

په هوایي ډګر کې هر زندانې پر مځکه رانسکوریدي او یو سرتیري به یي پر ملا ناست و. مرات کورناز بې هوښه شو کله چې سترګې یي خلاصي کړي،

ويني چې يو سرتيري يې پر سر وهي، نوموړي يې اړ ايستي چې په وهلو وهلو ولاړ شي او هغه خيمې ته ور شي چې يو افسر ميز ته ناست ، قلم او كاغذ ورسره وو. سرتيري يې جامې په قيچي پريكړې كړې، نو د اولچک او زولانه ليري كولوته اړتيا نه وه، جامې يې ليري او لڅ لپړ يې ودرولم. افسر د نوم او د زيږيدو ځای راڅخه وپوښت، څه ويښتان يې را څخه وشكول او دناړو نمونه يې راڅخه واخيستل. ابې جامې يې راكړي او په لاس باندې پلاستيكي ٥٣ نمره راوتړل.

مرات كورناز يې د همدغه پوځي كمپ په يوه برخه كې چې ازغی لرونكی سيم پر راتاو شوی و، د نورو بنديانو سره واچاوه. همد دا ډول سيمه د ميخ لرونكي سيم په واسطه هم تړل شوی وه چې دوو پهره دارانو دومداره ګزمه كول. دا بله ورځ مرات كورناز متوجه شو چې سرتيري نور هم د كمپ په جوړولو لګياه دي. زندانيانو بايد خپل حاجت په يو شين سطل كې رفع كړي واي كوم چې سرتيرو به د ازغي لرونكی ديوال څخه را وغورځاوه. موږ ته يې ډيره لږ ډوډۍ او دڅښلو له پاره څه راكول. تر ټولو سخته د تحقيق كول و. دوه سرتيري به دننه راغلل او د زنداني نمره به يې وويل. بيا به يې لاسونه او پښي را اولچک اوزولانه كول او خيمې ته به يې بوتلم چې هلته به يو افسر په انګريزي راته ږغيدي چې زه ډير لږ وربانديې پوهيدم. هر ځل به يې چې پوښتنه راڅخه وكړل چې په القاعده او طالبانو پوري تړلي وی؟ زما ځواب نه، نه. زه نه پوهيږم چې اوساما بن لادن چيرته دي مګر زما ځواب د تحقيق مشر نه قانع كولو.

هر ځل به چې ما دوی ته د نه، ځواب وركړ، سرتيري او افسر پر مخ باندې ووهلم. په ساعتونو به دوی زه اړ ايستلم چې د ټليفون شميري او نومونه ورته وركړم او د چپلاخو باران به دوام درلودي. د تحقيق مشر به په وارو وارو تكراروول چې مرات كورناز ترهګر دی او بيا خپل كور ليدلای نه شي.

هر ځل تر پوښتنو وروسته به بيرته خپل ځای ته يووړل شوم او بل زنداني به يې د پوښتنو له پاره بوتي. دا جريان په ورځو ورځو دوام درلودي، كله به چې بيرته راغلم، دوعا به مې وكړل. يخني ډيره وه، ځانونه مو سره نژدې كول چې لږ تاوده شوو. هر زنداني د پوښتنو په وخت كې وهل كيدي. د ځينو به لاس، زامه، پښي، ګوتي، پزه او دبدن نور ځايونه ټپي او يا مات وو. ځيني زندانيان يې تر پوښتنو وروسته بيرته نه راوستل. مرات كورناز به ډير ژور فكر كاوه چې د دغو كسانو سره يې څه وكړل؟ ايا د دی ځای څخه يې بل ځای ته انتقال

کړل؟ بله ورځ يي زه هم د يو ځای ځخه بل او هغه بل ځاي ته بوتلم تر څو د سرتيرو خيمو ته راورسيدم په يو کوچني خيمه کې واچولوم. کله چې پوښتنې را څخه پيل کولي ما سوچ وکړ چې د پخوا په ډول مې پر ګونډو کښينوي مګر نه. دا ځل يي پرې ايستلم، پر لاسونو، پښو، او وجود مې سرتيري کښينستل او د برق شوک يي را کړ، تر هر شوک وروسته يي پوښتنه کول چې نظر ته مې بدلون ورکړي دي؟ زما ځواب، نه، و. د برق په وجه مې ټول وجود شخ پاتې کيدي، ناري او چيغې مې وهلي. برقي شوکونو تر هغه دوام درلود تر څو بيهوښه به شولم.

وروسته يي په اوبو کې د غوټه کولو په واسطه جزا راکول. د اوبو څخه ډک يو شين بالون و چې زما سر به يي ورغوټه کړ، اوبه مې په سږمو او خوله ننوتي، تنفس مې نه شو کولای. وروسته به يي پښې او لاسونه را وتړل او په پښو به يي سر چپه وځړولم. تر جزاو وروسته يي په وقفو د ډاکټر په واسطه معاينه کولم. لاسونه او پښې مې پړسيدلي، په پښو او لاسونو کې مې درد نه احساساوه خو د وجود نورو برخو په ځانګړي ډول زړه مې ډير درد درلودي. ما اقرار نه کاوه نو ځکه زه به يي بيا اوبيا وځړولم، په دغه جريان کې مې يو بندی وليد بې له دي چې ډاکټر يي وګوري، ځړيدي. وروسته يي وجود وپړسيدی او شنه ټپونه يي پيدا کړل، د زړه قفس يي لوړ او کښته حرکت نه درلودی او تنفس يي نه شوای کولای. وروسته مرات کورناز نور بنديانو ته ور انتقال کړي، هغوي کيسه ورته وکړه چې ډير نفر د ځړيدلو په وخت کې مړه شول. دغه دليل و چې ځيني زندانيان د تحقيق څخه دوباره نه راستنيدل. د تحقيق د مرکز څخه بهر حالت تر دي هم خراب و. يوه شپه مې يو بندي وليد چې په وهلو کې مړ کړی. بندی به يي په شړۍ کې وپيچی او وروسته به يي د ټوپک په قنداق او لغتو واهه تر څو چې په وينو کې به ډوب شو او بله ورځ به يي بل ځای ته انتقال کړی. يوه ورځ يو ګروپ بنديان يي زموږ د مرکز څخه انتقال کړل، ژر اوازه شول چې ټوله زندانيان د مرکز څخ بل ځای ته انتقالوي. مرات کورناز د نيټې اټکل کولای نه شوای خو لومړي ګروپ زندانيان د ۲۰۰۲ زکال د جنوري په دوهمه نيټه ګوانتامانو ته انتقال شول. دا هغه ورځ و چې ډنمارکي سرتيري دغه کمپ ته ورسيدل.

نوموړي په خپل کتاب کې وايي چې دوه جرمني سرتيري د المان د ځانګړې واحد څخه (چې د ډنمارکيانو سره د ک ـ بار په ضربتي ګروپ کې وو) ، راغلل. زه يي د کمپ څخه هلته بوتلم چې يوه لاري موټر ولاړ و، زه يي په داسې حال

کې چې جرمني سرتيري ولاړ وو، د دوی مخې ته وغورځولم. يوه جرمني سرتيري تر ويښتانو ونيولم او سر يې راښخه تاو کړی، په سترګو مو سره وکتل. او ويې ويل، پوهيږې چې موږ څوک يوو؟ موږ جرمني سرتيری د ک اس ک[۲۱۴] (د جرمني ځانګړي سرتيري) څخه يوو. نوري څو لغتې ووهلم او په خندا راښخه ولاړل.

په وروسته اونيو کې ډير زندانيان انتقال شول. د ۲۰۰۲ زکال د فبوري په مياشت يوه ورځ مورات کورناز چې سترګې تړلي، په غوږونو کې د اوريدولو موانع نصب، توري د لامبو عينکي (سترګی) پر سترګو يې د ګوانتانامو پر لوري والوزاوه. مورات کورناز په ګوانتامانو کې ۱۶۰۰ ورځې تيري کړي. د زندان دا موده د وهلو، ترټلو، غيري بشري تهديد او دومداره کوټه قلفي سره مل وه، په داسې حال کې چې امريکايي چارواکي په ۲۰۰۲ زکال کې وپوهيدل چې نوموړی بيګناه دي.

په ۲۰۰۲ زکال کې د المان څارګرې اداري ومنله چې مورات کورناز په غلط ځای کې په غلط وخت کې و. مورات کورناز د بنسټپالو مسلمانو د محصلينو د ګروپ غړی و خو په القاعده پوري يې تړاو نه درلودي. مورات کورناز په ۲۰۰۶ زکال کې د زندان څخه ازاد شو. د مورات کورناز معلومات يوازنی سرچينه نه ده. د بشر د حقوقو سازمانونو د ډيرو هغو زندانيانو څخه چې د کندهار په زندان او هم دتحقيق په مرکزکې چې د امريکايانو تر کنترول لاندي وه، وخت تير کړی، معلوماتونه راټول کړي دي. وهل، بې خوبي اود يخنۍ شوک د زندانيانو د بيان اصلي موضوعات وو. د زندانيانو او امريکايي سرتير په مينځ کې د کندهار امريکايي زندان، د پلاپی کمپ[۲۱۵] (د وهلو ځای) نوم خپل کړی و. د افغانستان په نورو امريکايي زندانونو کې به بنديان د کندهار وزندان ته په استولو سره وډارول شول که به يې د پوښتنو په وخت کې مرسته نه کوله.

[۲۱۴] - KSK
[۲۱۵] - Camp Flappy

دوهم کال د بشر د حقوقو اداري د ټولو امریکایي زندانانو په اړوند چې په افغانستان کې تر ۲۰۰۱ زکال وروسته جوړ کړی وو، څرګنده ارزونه وړاندي کړل:

« د باور وړ اسناد شتون لري چې زندانیان وهل شوی او نورې فزیکې شکنجې ورکړل شوی دي. همدا ډول اسناد شته چې امریکایانو زندانیان په لویو ځینځیرونو ډیر سخت تړل، د یخنی شکنجې او بې خوبي یي ورکولي. نوري جزاوي او شکنجې هم ورکول شوی دی چې د نړیوالو قوانیو سره په ټکر کې وه.

ټولو امریکایي د تحقیق امرین په کندهار کې د بندیانو د شکنجه کولو څخه خوښ نه وو. وروسته نهو تنو امریکایي د تحقیق امرینو اعلان کړل چې د تحقیق دغه ډول میتود ډیر خراب دي، سره د دي چې ولسمشر بوش اعلان کړی و چې ناقانونه وسله وال د ژینو د کنوانسیون د مفاداتو څخه برخمن کیدای نه شي. د امریکا پو ځ د تحقیق له پاره خپل ځانګړي میتود لري چې د [۲۱۶] په نوم یادیږي. په دغه مقرره کې د تحقیق میتود څرګند دي.

« دغه مقرره په ۱۹۹۲ زکال کې دوباره په نویو معلوماتوبډایه شوه. موخه دا وه چې باید باور وربانديي وشي. یو دلیل دا و چې وهل او ترټل او ډارول منع دی. او هم هر ډول فزیکي، روحي شکنجې او نورې نامناسبې سزاوي منع دي. د شکنجو او وهلو په نتیجه کې راټول شوی معلوماتونه د باور وړ نه ګڼل کیږي ځکه زندانیان د دردر او شکنجو څخه د خلاصون په خاطر هر څه ویلای شي.»

د تحقیق میتود په لوړه کچه د ژینو د کنوانسیون د موادو سره مطابق جوړ شوی و چې په کندهار کې د تحقیق ډیرو مشرانو د دغه قانون په اجرأ باندي ځانونه مکلف ګڼل. د تحقیق د مشرانو پریکړه د امریکایي پوځ وکیلانو ته د ۲۰۰۲ زکال د فبوري د (۱۰ ـ ۱۸) نیټو په موده کې واستول شول. د زندانیانو شکنجو د جنوري په وروستیو او د فبوري په پیل کې صورت نیولي وو.

---

[۲۱۶] - US Army Field Manual 34-52

د شاهدانو د سترګو ليدلي حال تقريباً پنځه کاله وروسته د امريکا د اتباعو د حقوقو د ساتلو د سازمان [۲۱۷] له لوري د خلکو په اطلاع ورسيدى. دغه معلومات په کندهار کې د

تحقيقاتي ګروپ [۲۱۸] د کړونو څخه چې د هغو بنديانو بيان وو چې د کندهار په همدغه زندان کې بنديان شوی وو، لاسته راغلی وه.

د تحقيق مشرانو تشريح کړل چې دوی څنګه زندانيان د سکسي، روحي شکنجو، په لغتو وهلو اونورو سزاګانو په حالت کې ليدلي وو. يو زنداني بيان کړل چې نوموړی ته يي برقي شوکونه ورکړی دي. په ځينو حالاتو کې د تحقيق مشرانو د زندانيانو انځورونه په داسي حال کې چې شکنجه کيدل، اخيستل، تر څو چې اسناد راټول کړي. د تحقيق دو مشرانو بيان کړل چې د جنوري په دريمه نيټه يي ځکه تحقيق معطل کړ چې يو زنداني ډير ژړل او وجود يي ريږديدي

زنداني بيان کړل چې د يو ماشين په واسطه برق ورکړل شوی دي، او هم پنځو امريکايي سرتيرو وهل ورکول.

د شاهدی په جريان کې د تحقيق يو مشر وليکل: « زه خپل کار کوم او خپل کار د پوښتنونکي او انسان په توګه په مسوليت او جدي توګه تر سره کوم. زه د ژينو د کنوانسيون سره پيژندګلوي لرم او پوهيږم چې د ژينو کنوانسيون څه غواړي. که زه د ژينو کنوانسيون مراعات نه کړم نو ولې به دا حق ولرم چې د نورو پوځيانو څخه به دا انتظار ولرم چې هغه دی رعايت کړي؟»

د شاهدانو د معلوماتو له مخي دغه کړني د پوځ لوی آمر ته معلومات ورکړل شوی وه، خو لوی آمر قوانين په کمپ کې سخت کړل. ولې مرسته يي ونه کړه. يوه مياشت وروسته د تحقيق د يو آمر لخوا نوی معلومات وړاندي شول. نوموړی وويل چې يو زنداني د زندان جامې پر ځان باندي ځيرلي وي کله چې ما زنداني وليد، مخ يي څو ځايه پړسيدلي و، د دي څخه جوته کيدل چې زنداني څو ځله پر مخ وهل شوی و.

---

[۲۱۷] - American Civil Liberties Union(ACLU)

[۲۱۸] - Task Force 202

زنداني داسي معلومات راکړی چې د پهره دار له خوا امر راته وشو چې ولاړ شه او دا چې زه ولاړیدای نه شوم ځکه پښنو مې احساس نه درلود نو په وهلو یې پیل وکړي، وروسته دوې شپې په لغتو وهل او ترټل راکړل شول. د دی له پاره چې د زنداني شکنجه کول او وهل ثابت کړای شي، د تحقیق مشر دزنداني د سر څخه انځورونه واخیستل او د اسنادو سره یې مل کړل. یو بل زنداني د تحقیق مشر ته ویلي و چې زه د کمپ د پهره دار یوې او بلې خواته غوزولوم او وهل یې را کول. د دغه زنداني حالت دومره خراب و چې د تحقیق مشر، پوښتنې معطل کړي.

په افغانستان کې د بندیانو سره کړنې د ملاترو هیوادونو د سرتیرو او څار ګرو ادارو دتودو بحثونو موضوع و. د ۲۰۰۲ زکال د جنوري په لسمه نیټه چې د ډنمارک ځانګړي پوځ سرتیري کمپ ته راورسیدل. د ۲۰۰۲ زکال د جنوري په لسمه د انګلیستان د څارګرې ادارې[۲۱۹] یو مامور د امریکایانو د چلند په اړوند د بندیانو سره خپل مرکزي ادرې ته یو رپوټ ولیږی.

نوموړی څارګرې اداري بله ورځ یو یادداشت ترتیب کړاو په افغانستان کې د انګلیستان د څارګرې ادارې، اس ای اس، ټولو کارکونکو ته ولیږی. په یاداشت کې خبرداری ورکړل شوی و چې په هغه تحقیقاتو کې چې د جبر څخه کار اخیستل کیږی، باید ګډون ونه کړي او په ټینګه ویل شوی و چې امریکایان باید وپوهیږي چې موږ د بندیانو سره د ناسم چلند په صورت کې ګډون نه کوو او هم زموږ دمنلو وړ نه دي. په هیڅ صورت باید د، اس ای اس، لخوا د تحقیق په جریان کې او یا هم د تحقیق په اړه بندیان مجبوره نه شي.

د ۲۰۰۲ زکال د جنوري په ۲۲ نیټه دامریکایانو چلند د ډنمارک په پارلمان کې تر بحث لاندې ونیول شو. د ډنمارک د بهرنیو چارو وزیر، پیر ستي میولر په ټینګار وویل چې د بندیانو سره باید انساني چلند وشي چې دا چلند باید دخلکو د انساني حقوقو مطابق وي. نوموړی ومنل چې د امریکا د دفاع وزیر، ډونالډ رومز فیلډ وینا کیدلای شي په مختلفو ډولونو تعبیر شي. وینا دومره دقیقه نه ده چې سړي فکر وکړی چې بشري حقوق په نظر کې نیول کیږي. خو بهرنیو چارو وزیر، پیر ستي میولر پارلمان ته ونه ویل چې څلور ورځې مخکې د بهرنیو چارو د وزارت او د دفاع وزارت حقوق پوهانو د جنوري د ۱۸ نیټې

---

[۲۱۹] SIS -

يادداشت داسی ارزولي دي چې په واقعيت کې ستونزه موجوده ده. په ارزونه کې داسې ليک شوی و:« په اوس وخت کې ستونزه شته ځکه د امريکايانو د چلند په اړوند انديښنه شته چې دوی به په کومه کچه شرايط مراعات کړي»

د ډنمارک په پارلمان کې د راډيکال او يو موټي ګوندونو مشران د غونډي د بحث څخه راضي نه وو.

دوي د بهرنيو چارو وزير مخاطب کړ: ايا تاسو ته د شرم ځای نه دي چې ډنمارک په نيغه په جګړه کې ګډون لري خو د بشري اوليه حقوقو څخه سرغړونه کيږي؟ دوي د وزير څخه وپوښتل چې نه غواړي چې ولاړ شي او د امريکايانو څخه د موضوع په اړوند دقيق معلومات وغواړي اوکه دا کافي ګڼې چې پر امريکايانو په هر وخت کې باور لري، چې دوی هر څه سم تر سره کوي؟

وزير ځواب ورکړ: موږ په طبعي ډول حالات څارو چې څه پيښيږي خو د ، ثی ان ان، [220] په يو کليپ سره پر امريکايانو قضاوت نه کوو. ناڅاپه وزير يو عجيب معلومات غونډې ته وړاندی کړي: زه بايد ووايم چې موږ غواړو په نيغه د امريکا سره وږغيږو ولې هغه به په بله رابطه وی. زه بايد ووايم چې د ډنمارک حکومت خبر دي چې دوی د ډنمارک يو تبعه زنداني کړی دی. موږ د هغه په اړوند بشپړ معلومات لرو خو نه غواړم چې اوس نور معلومات وړاندي کړم. فوراً د بحث بڼه بدله شوه او نور تيوريک بحث نه و.

اتلس کلن سليمان حاجي عبدالرحمن په دغه شيبه د کندهار په زندان کې دي. د نوموړی مور ډنمارکي او پلار يي انګليسي دی. په هر هيواد کې زياته موده ژوند کړی دی. د نوموړي مذهبي افکار په اهسته ډول بدلون وموند. کله چې نوموړي د تلويزيون پر پرده د روسانو بمبارد د چيچنيا پر پلازمينه ليدي، باوري شو چې بايد په نړی کې د خپلو مسلمانانو وړونو په څنګ کې وجنګيږي. سليمان حاجي عبدالرحمن به جهادي جګړه مار وي.

نوموړی په ۲۰۰۱ زکال کې افغانستان ته ولاړ چې د جګړې تمرين وکړي او وروسته چيچنيا ته ولاړ شي او د مسلمانانو په ګټه وجنګيږي. خو د نوموړی د معلوماتو له مخی هيڅکله خپل موخې ته ونه رسيدي ځکه پر امريکا باندې د سپټمبر د ۲۰۰۱ زکال پيښه رامنځته شول، نوموړي پاکستان ته ولاړ او هلته

---

[220] - CNN

زنداني شو. د بهرنيو چارو د وزير د معلوماتو له مخي چې پارلمان ته يي د ۲۰۰۲ زکال د جنوري په (۲۲) نيټه ورکړل، نوموړي په افغانستان کې زنداني شوی و په داسې حال کې چې دا خبره رښتيا نه وه، سليمان په واقعيت کې په پاکستان کې زنداني شو. سليمان په هغه کتاب (ډنمارکيان په ګوانتامانو کې) کې وايي چې د کمپ په زندان کې توهين شوی دی. و کمپ ته د راوستلو په وخت کې نوموړی او نور زندانيان په داسې حال کې چې توري خولي يي په سر وراغوستي وي، ووهل شول او هم يي په لغتو ووهل. د ۲۰۰۸ زکال د فبوري تر اتمې نيټې مخکې چې زه ګوانتانانو ته لیږل کيدلم، په کندهار کې امريکايانو په خيمه کې لڅ لېږ کښينولي وم او زما په تناسلي الي يي ريشخند واهه او هم يي په زور ويښتان راباندي وخريل. د سليمان څخه لڅ انځورونه واخيستل. د خريلوماشين يي د يوې ښڅې سره و او د نوموړي تناسلي ته په اشاره به يي ويل ته د سپين نژادو خلکو له پاره شرم يی. کله چې به يي ماشين د لاسه ولويد او بيرته به يي راپورته کړ نو دسليمان په وجود کې به يي ښخ کړ. په ګوانتامانو کې په يو قفس ډوله ځای کې چې دوه متره مربع وو، واچول شوم او تر ۷۴۷ ورځو وروسته په ۲۰۰۴ زکال کې د زاندان څخه ازاد شو. نوموړي د ګوانتامانو په زندان کې تروروستۍ شيبې امريکايانو ته ويل: که زه ازاد هم شم، دا چې زما اسلامي فريضه ده، جهاد کوم. کله چې د نوموړې د ازادولو وخت رانژدي شو د تير بيان سربيره يي لاسليک وکړ چې د امريکايانو او د هغو د ملاتړو پر ضد به په ترهګريزو فعاليتونو کې ونډه نه اخلي او جهاد به نه کوي.

د ۲۰۰۲ زکال په ژمي کې حاجي سليمان هغه ايراني ژباړن وليد چې د ډنمارکي سرتيرو سره لیږل شوی و. حاجي سليمان پوه نه شو چې ژباړن د نوموړې څخه به تحقيق وکړی. نوموړي چې د هغه پر جامو د ډنمارک بيرق وليد، فکر يي وکړ چې نوموړي ډنمارکي د ډنمارک د پوځ د څارګرې ادارې څخه دي. خو د دده په نظر سرتيري ډير مهربان و ځکه يوڅه خواړه شيان او هم يي د غاښوبرس او کريم ورکړل. څو ورځي وروسته همهغه سرتيري(ژباړن) د يوبل نفر سره راغي او بل نفر يي ماته د خپل امر په نوم راوپيژند. دا د ډنمارکيانو د سرتيرو مشر، فرانک لينسر و، خو سليمان و نه پيژاند. دا ځل دغو نفرو د، اف بی ای، [۲۲۱] د يوه کس سره په ګډه تحقيق وکړي. پوښتنې په پاکستان او افغانستان کې د سليمان د استوګنې په اړوند وي.

---

[۲۲۱] FBI -

د بهرنيو چارو د وزير، پير ستي ميولر تر هغه وينا يوه ورځ وروسته چې و پارلمان ته يي پر امريکا باندې د بشپړ باور په اړوند وکړل، امريکايانو په کندهار کې د ک ـ بار ضربتي پوځونو په واسطه په عملياتو پيل وکړي. د پوځيانو دمعلوماتو له مخې د جنوري مياشتي ۲۳ سهار ځانګړو پوځيانو د حضار خادم قلعه پر کلي بريد وکړي. د څارګرې ادارې د رپوټ له مخې په دغه کلي کې طالبانو په مختلفو ودانيو کې چې د هرې ودانۍ په مينځ کې نيم کيلومتر واټن و، شتون درلودي. دغه کلي د اروزګان په ولايت کې چې ۱۶۰ کيلومتره د کندهار د شمال شرق لوري ته واقع دي او مخکي د طالبانو د مشر ملا عمر د استوګنې ځای و.

امريکايي ځانګړي پوځيان د چورلکو په واسطه هلته انتقال شول او وروستۍ لار پوځيان پياده ولاړل. د لاري په اوږدو کې په دواړو ځايونو کې پر پوځيانو ډزې وشوي. په پايله کې ۱۸ طالبان مړه او ۲۷ طالبان ونيول شول چې د کندهار وزندان ته را انتقال شول. په لنډه توګه لوی بری و. د عملياتو پايله دا شوه چې د امريکا د دفاع وزير، ډونالډ رومزفيلډ اعلان کړل چې امريکايي پوځيانو يو شمير د طالبانو مشران نيولی دي.

يوه ورځ وروسته فرانک لينسر خپل د قوماندې مرکز ته د حالاتو راپور په جزيياتو داسي وليکي: د پوځي عملياتو په نتيجه کې ۲۷ تنه نيول شوی دی چې و کندهار ته را انتقال شول.

ستونزه دا وه چې وژل شوي او نيول شوي کسان طالبان نه وو. دا هغه افغانان وو چې د حامد کرزي ملاتړي او د طالبانو په خلع سلاح لګياه وو. يو مرکز چې امريکايانو بريد وربandي کړی و، د طالبانو يو مرکز و خو دا بل ځای يوه ښوونځي و چې په لنډه مهاله توګه د طالبانو څخه نيول شوې وسلې ساتل کيدي. ۱۸ تنه چې وژل شوی وو هم د دولت ملاتړی وو. يوازې ستونزه دلته پای ته نه ورسيدل. عيني شاهدانو وويل چې څو مړي دوی وموندل چې لاسونه يی تړل شوی وو او د شاه لخوا ويشتل شوی وو. په دی مانا دا چې دغه کسان اعدام شوی وو.

دغه (۲۷) تنه بنديان چې ژوندي پاته شوی وو، په کندهار کې د تحقيق مرکز ته انتقال شول. وروسته د ۲۰۰۲ زکال د فبوري په مياشت کې زندانيانو د امريکا رسنيو ته د بيلګې په توګه واشنګټن پوست ته د وهلو اوترټلوپه هکله چې څه ډول دوی ترټل کيدل اوپه لغتو وهل کيدل، وويل: ډير زندانيان دومره وهل کيدل

چې بیهوښه به شوه. یو زنداني چې نوی د دولت په پولیسو کې مقرر شوی و، امریکایي ورځپاڼې ته وویل: دوی موږ پر سر، ملا او پښتیو کې وهلوو. ډیري ورځې تیري شولې چې د تحقیق مشر وپوهیدي چې یو غمجنه تیر وتنه شوی ده. لږ وروسته بندیان ازاد شول او بخښنه ورڅخه وغوښتل شول. د امریکا څارګرې اداري د دولت استازي نوموړی کلی ته ولیږل چې د پیښې تاوان ورکړي. د هر مړی پر سر دو ژلو کسانو وراثانو ته (۱۰۰۰) ډالره ورکړل شول.

د امریکا د ځانګړو پوځیانو د خاطراتو په کتاب د (۱۹۸۷ ـ ۲۰۰۷) ز کلنو د عملیاتو رپوټ نومي کتاب کې دغه تیروتنه یادداشت شوی ده. په یاد داشت کې دومره راغلي دي چې د ناڅرګنده دښمن د ځپلو له پاره په عملیاتو کې ستونزې وې. په ځانګړي ډول د جګړې په لومړی میاشت کې د نه تایید شوو رپوټونو پر آساس عملیات تر سره کیدل. وروسته د امریکا پوځي تحقیقاتو بیله دي څخه چې د زندانیانو تشریحات په نظر کې ونیسي، وویل چې د زندانیانو سره ناوړه چلند شوی نه دي.

ولې د امریکایانو ناوړه چلند پر ژباړن بې تاثیره نه وه. د (۲۷) تنو تر زنداني کیدو څو ورځې وروسته فرانک لینسر په یو رپوټ کې خپلو مشرانو ته ولیکل چې ژباړن د ژبې د اړتیا د پوره کولو له پاره د امریکایانو له خوا ګټه ورڅخه اخیستل کیدل چې وروسته ژباړن د هغه څه په خاطر چې د امریکایانو چلند یې د بندیانو سره لیدلي و، یوه اونۍ استراحت واخیستي چې یو څه یې روح ارام شي.

د کندهار په کمپ کې د ډنمارکي ځانګړو سرتیرو په مینځ کې د اروزګان ماجرا ډکو عملیاتو په اړوند بحثونه کیدل. ټول ډنمارکي سرتیري سخت نا ارامه وو. دا عملیات یې د امریکایانو ټیپیکه کړنه وبلله او د هغه متل سره یې پرتله کوله چې: «لومړي فیر کوي او وروسته پوښتنه کوي».

ډنمارکي سرتیرو ته د بندیانو په اړوند د چلند قانون په بشپړه توګه ثابت او روښانه وټاکل شوو. د ۲۰۰۲ زکال د جنوري په (۲۲) نیټه د ډنمارکیانو د قوماندي مرکز د زور او قدرت د استعمال په اړوند لاندې امر صادر کړي: د ناقانونه وسلوالو سره هم باید د جنګي بندیانو په ډول چلند وشي. په تاکید امر صادر شو چې ډنمارکي سرتیري مسولیت لري چې د ټولو بندیانو سره انساني چلند وکړي، زندانیان د جنګې بندیانو په ډول حقوق لري.

په همدغه ورځ د لومړی ځل له پاره د ډنمارک عامو وګړو ته په سطحي توګه هغه څه بربنډ شول چې په کمپ کې تیریدل. ډنمارکي ورځپاڼې پولیټیکن ته معلومات په لاس ورغي چې په دغه کمپ کې د ډنمارک یو تبعه هم زنداني و. تر دغه شیبې پورې هیڅوک نه پوهیدل چې نوموړی سلیمان حاجي عبدالرحمن نومیږی. د ورځپاڼې په لومړی پاڼه کې دغه سرلیک تر سترګو کیدي: ډنمارکیا ن په یو ډیر خراب کمپ کې ځای پر ځای شوی دي. د ورځپاڼې مقاله د واشنګټن پوست او نیوریاک ټایمز د مقالو پربنسټ لیکل شوی وه چې اساسي ټکي یې ولولئ:

« هوا ډیره سړه ده خو د تودولو وسایل نه شته. د زندانیانو د کوټو فرش ختین دي، کوچني کوټې دي چې د اغزی لرونکی سیم په واسطه سره بیلې شوې دي او همیشه ګروپونه روښانه دي.»

د امریکایانو د مرکزي قوماندي د مرکز یوی قوماندان ، مایکل میریمان[222] ورځپاڼې ته وویل: د امریکا سیاست دا نه وه چې د کمپ په اړوند عامو وګړو ته معلومات ورکړي خو په تاکید یی وویل چې د زندانیانو سره انساني چلند کیږي او د زندانیانو په اړوند د ژینو د کنوانسیوان مطابق کړنه کیږي. خو سره د دی فرانک لینسر اندیښنه درلودل چې د زندانیانو سره به څه چلند کیږي کله چې کوم زندانی یې د امریکایانو زندان ته تسلیموي. فرانک لینسر په خپل راپور کې د ۲۰۰۲ زکال د فبوري په (۴) نیټه خپل د قوماندي مرکز ته ولیکل: ستاسو امریه مې د زور د استعمال په اړوند تر لاسه کړه خو روښانه نه ده. زه غواړم چې باوری شم تر څو زندانیان چې د ډنمارکیانو سره وي، د ژینو د کنوانسیون مطابق چلند ورسره وشي. فرانک لینسر غوښتنه کړه چې د دفاع وزارتونو په سطحه باید خبري وشي چې امریکایان باید څنګه چلند د بندیانو سره وکړي.

فرانک لینسر وویل چې زه نه پوهیږم چې وروسته د بندیانو سره څه کیږي البته دا سوچ یې د هغو بندیانو په اړوند و چې د کندهار څخه ګوانتامانو ته لیږل کیدل. په یادداشت کې نوموړي په څرګنده ولیکل:« زه به د خپل هیواد په استازیتوب د ژینو دکنوانسیون د موادو مطابق عمل وکړم تر څو زندانیان په دغه کمپ کې وي» یوه ورځ وروسته فرانک لینسر ته د دفاع او بهرنیو چارو د وزارت له

[222] - Michael Merryman

خوا سياسي ملاتړ اعلان شوو. فرانک لينسر په ورځني رپوټ کې د مرکزي قوماندي د دفتر له خوا داسې پوهيدلي و چې موږ باور لرو چې امريکايان د بنديانو سره او يا د هغو بنديانو سره چې د ډنمارکيانو لخوا د دوی زندان ته تسليميږي د کنوانسيونو مطابق چلند کوي.

بيا هم مهمه خبره دا وه چې د «باور» لغت استعماليدي. د ډنمارک له خوا د بنديانو سره چلند د امريکا په تړاو پر باور بناء و چې امريکايان د بشري قوانيونو مطابق چلند کوي په داسې حال کې چې د امريکا د حکومت نظر د بشري قوانيو څخه بل شی و.

د فرانک لينسر د حالاتو ارزونکي رپوټ د بحري قواو مشر، تيم سلوت ينسن او[223] د شنا د واحدونو مشر ته ليږل کيدي. فرانک لينسر اوس وايي چې د پوځ مشرتابه په هغه وخت کې د بنديانو حالت ته په دومره کچه چې وروسته يې پاملرنه وکړل، توجه نه کوله. وروسته د ستونزو بڼه بيخي بدله شوه. د دی سره د ډنمارک د ځانګړو قواو مشر د بنديانو په اړوند انديښنه درلوده. فرانک لينسر د کره (دقيق) ستونزو سره مخامخ وو خو تيم سلوت ينسن وايي چې موږ په سياسي لحاظ لاسونه پاک وو.

تيم سلوت ينسن وايي: موږ هيڅ وخت سل په سل کې مطمينه نه وو چې د زندانيانو په اړوند څه وکړو ځکه په ډنمارک کې چارواکو خپل ښکاره سياسي دريځ نه درلودي.

د امريکايانو دريځ د زندانيانو سره د چلند په اړوند د ولسمشر بوش لخوا د ۲۰۰۲ زکال د فبوري په (۷) نيټه ټاکل شوی و، البته فقط دوي ورځي وروسته فرانک لينسر تلاښ کړي چې په دي اړوند په خپل رپوټ کې اطمينان تر لاسه کړي. د بوش سياسي دريځ دا و چې د القاعده او طالبانو جنګيالي د جنګې اسيرانو حقوق نه لري.

ولسمشر بوش وعده وکړه چې د زندانيانو سره به انساني کړنه وشي او د کنوانسيونو په اړه به پوځي اړتياوې په نظر کې ونيول شي.

---

[223] - Tim Sloth Jensen

ډنمارکي ښکاري او د شنا سرتيرو نه په زندانيانو او نه هم د زندانيانو په کمپ کې سوچ کاوه. دوی يوازې دا سوچ کاوه چې په جګړه کې برخه واخلي او خپله پوځې وړتيا وازمويي، تر څو د القاعدې او طالبانو جنګيالي وځپي. ستونزه دا وه چې ډنمارکي قواوي د دندو د ويش په وخت کې د لست په وروستۍ برخه کې ليکل شوی وو. امريکايانو ته مهمې او سختې دندې سپارل کيدلې خو ډنمارکيان به د احتياطي قوې په توګه د جګړې په ډګر کې د انتظار او تيارسي په حالت کې وو. هر ځل به چې امريکايان يوې دندې ته ولاړل، هيڅ وخت يی ډنمارکيان نه ګومارل. د دندې د پای ته رسيدو وروسته به ډنمارکيانو دوباره کمپ ته الوتنه را وکړه پرته له دې چې په عملياتو کې برخه واخلي.

په دې خاطر ډنمارکيانو ډير وخت د کمپ څخه په (۲۰) دقيقې د موټر د رفتار په واټن تمرين کولو. د ترينڼګ مرکز د ترنک په فارم کې و چې په تيرو وختونو کې د روسي پوځيانو د ترينڼګ مرکز و، څو زاړه بلاکونه يې درلودل او پر څلورو خواو يې ديوال و. خو په زړه پورې دا وه چې په همدغه ځای کې د طالبانو د واکمنۍ په وخت کې د القاعده جنګياليو (ترهګرو) پوځي تمرينونه کول. يو د هغه پيلوټانو څخه چې امريکايي الوتکه يې و تښتوله او د سپتمبر په يولسمه نيټه يې د امريکا پر ستر تجارتي مرکز وجنګول، په همدغه کمپ کې تمرين کړې و. د القاعده لخوا يو وخت يو ويډيويي فلم وښودل شو چې په همدغه کمپ کې محمد عطا په تبسم سره شاوخوا ګرځيدې.

په دغه کمپ کې د ۲۰۰۲ زکال د جنورې په مياشت کې ډنمارکي او د نورو هيوادونو سرتيرو د نښان ويشتلو او د لاسي بمونو د غوزولو تمرينونه وکړل، په حقيقت کې ژمي په همدغه ډول تير شو.

نورمن کريستنسن وايي چې موږ ته څو محدودي دندې وسپارل شوی چې دغه کړنې زموږ سرتيري په غوصه کړه.

د ماښام د ډوډۍ خوړلو پر وخت د فبورې د مياشتي په (۱۴) ماښام ډنمارکي سرتيرو ته الارم ورغيدې. د امريکا د جاسوسی بې پيلوټه الوتکې لخوا داسي بيړنۍ خبر خپور شو چې ملا د ودانۍ څخه ووتي او په خوځښت کې دی. دغه خبر د ملا خيرالله خيرخوا په اړوند و. ملا خيرالله د طالبانو د وخت وزير و او د تيښتي په حالت کې و. ملا خيرالله د پکتيا په ولايت کې د يوې ودانۍ څخه راوتلي او د شمال په لور په حرکت کې و. دا لومړې ځل و چې ملا خيرالله د طالبانو تر سقوط وروسته ليدل شوی و خو د امريکا هيڅ پوځي ګروپ تيار نه

و چې په دومره لنډ وخت کې د دندې د اجرأ له پاره تیار شي. خو ډنمارکیان د نیم ساعت په جریان کې تیار شول. څلور ګروپونه یې تیار کړل چې د مرمي ضد واسکټونه، وسله، مرمي ، لاسي بمونه او مخابره یې ورسره واخیستل.

ډنمارکي سرتیري په منډه د چورلکو میدان ته ورسیدل او په دوو، ام اچ ـ ۵۳ چورلکو[۲۲۴] کې کښیناستل او په تیاره کې د ملا خیرالله د موټرو په کاروان پسې الوتنه وکړه. ډنمارکیانو یوه بې پیلوټه، ام کیو-۱ الوتکه[۲۲۵]، یوه درنده او په وسلو بار، ای ثی ـ ۱۳۰ چورلکه[۲۲۶] اویوه ښکاري الوتکه په اختیار کې درلودل، د اړتیا په وخت کې کولای شوای چې جیټ جنګي الوتکې، اف ـ ۱۶ را[۲۲۷] وغواړي.

د جاسوسی الوتکې هغه لاری چې ګومان کیدي، ملا خیرالله ور په کښې شته، تعقیبول او ترانسپورتي چورلکه یي د هدف خواته د مخابري په مرسته رهنمایي کول. تقریباً (۲۰) دقیقې وروسته چورلکه پر سړک کښینسته او ښکاري چورلکې لاري محاصره او د قوي پروجکتور روښنایي یي د موټر د سیټ خواته سیخه کړه. یوه چورلکه هم د لاري پر سر د تهدید په شکل په هوا کې وه تر څو لاري موټر ودروي. ډنمارکي سرتیري د ترانسپورتي چورلکې څخه راکښته شول. دري افغانان نارینه او یو هلک د موټر څخه په داسې حال کې چې لاسونه یې پر سر نیولي وو، راکښته شوه. دوی مقاومت ونه کړي نو څو دقیقې وروسته ډنمارکي سرتیري د خپلو بندیانو سره والوتل. د بندیانو په سرونو یې خولي ور واغوستلې. د دغه عملیاتو په جریان کې یو ټک هم ونه شو.

بله ترانسپورتي الوتکه دیوې ودانۍ څنګ ته کښینسته چې کیدای شي د طالبانو او یا القاعده یو مرکز وي، په بیړه ډنمارکي سرتیري ودانۍ ته ننوتل. دوي په ودانۍ کې څوک پیدا نه کړل. او دا هم څرګنده شوه چې ملا خیرالله په لاري موټر کې نه و. د لاري سورلي بې ګناه کسان وو چې په کندهار کې وکمپ ته په الوتکه کې بیول شوی وو. وروسته دری نیول شوي کسان د لس کلن هلک په

---

[۲۲۴] - MH-53
[۲۲۵] - MQ-1
[۲۲۶] - AC-130
[۲۲۷] - F-16

ګډون خوشي شول. دوی ته ډوډي او د اوبو بوتلونه ورکړل شول او دوباره تر خپل لاري موټر پوري په الوتکه کې ولیږدول شول. غلطي داسي پیښه شوی وه چې الوتکې یوه لاری تر څارن لاندي نیولي وه چې الوتکې ته بله دنده ورکړل شوه، کله چې الوتکه دوباره دندې ته راوګرځیده، په بدل کې بله لاری تر څارنې لاندی ونیول.

وروسته په بل وخت کې ملا خیرالله د امریکایانو له خوا ووژل شو. دغه عملیات د ډنمارک ځانګړو سرتیرو ته په زړه پوري نه وه ځکه یوازي د ډنمارک ښکاري سرتیرو په عملیاتو کې ونډه واخیستل. د شنا سرتیري په غوصه وه. دغو سرتیرو هم دوي میاشتي په ډنمارک او افغانستان کې تمرینات کړی وو خو دوي په لومړی وخت کې په درستو عملیاتو کې ګډون ونه کړي. د ډنمارک د دغو دو سیالو پوځي واحدونو تر منځ بیا جنجال رامنځته شوو. د ډیرو ښکاري سرتیرو په وینا دغه جنجال هیڅوخت ارام نه شو. په افغانستان کې د عملیاتو په جریان کې وروسته هم د دوی تر منځ جنجال نور هم زیات شو. د دواړو پوځي واحدونو قوماندانانو د ستونزې په اړوند خبري سره وکړي. خو نو هغوي په تعجب وایي چې موږ فکر نه کاوه چې ستونزې به دومره جدي وي.

سره د دي چې ډنمارکي سرتیرو ملاخیرالله پیدا نه کړی خو امریکایانو عملیات بریالي وګڼل. د امریکایانو مثبت ارزونه د ډنمارکي سرتیرو له پاره ارزښت درلود ځکه دوی د ۲۰۰۲ زکال د مارچ په دوهمه نیټه چې د شاهی کوټ په سیمه کې عملیات پیل شول، ګټه تری واخیستله. د جګړې ستراتیژي دا و چې باید د القاعده جنګیالي د دوخواو څخه کلابند شي چې د تیښتي لاره ونه لري. امریکایان د عملیاتو په جریان کې د القاعده د سخت مقاومت سره مخامخ شول، هغوي د پټن ځایونو څخه په ماشینګړو، لاسي بمونو او راکټونو برید ورباندي پیل کړي. ډنمارکیان په نیغه د جګړې په ډګر کې نه وو. کوچني ګروپونه یي د چورلکو په واسطه د جبهي شاته انتقال شول. ډنمارکیان د تورې بورې سیمې د غرونو په مهمو ځایونو کې ځای پر ځای شول. ډنمارکیان په پټن ځایونو اوستراتیژکونقطو کې د څار له پاره چې طالبان او القاعده جنګیالي څه کوي، ځای پر ځای وو.

د غرونو په څوکو کې د ډنمارکي سرتیرو پورته کیدل د دوی انرژي مصرفول. د اکسیجن کمښت د غرو په څوکو کې تر دري، څلورو کیلومترو واټن وروسته سرتیري تر ډیر فشار لاندي راوستل. سرتیري په واورو پوښلو غرونو څوکو

کې د لاسونو ټینګولو هڅې کولې تر څو داسې ځای ومومي چې د دښمن څخه ځان پټ کړي. تر هرکیلومتر وروسته د وجود انرژي کمیدل، ځیني داسې سرتیري هم وو چې د عملیاتو په پای کې مایع د پیچکاري له لارې ورته ورکول کیدل.

د (۲۰۰۲) زکال د فبوري په میاشت کې د ژمي څپې د افغانستان څخه ټولې شوی نه وي. په دغه وخت کې د ډنمارک د دفاع وزیر، سویند ایج ینسبیو[۲۲۸] د پوځي زرهي وسایطو په واسطه د کابل څخه ووت تر څو په خپلو سترګو سره د جګړې ډګر ووینې او د ډنمارکي سرتیرو سره لیدنه وکړي. لار کنډ او کپر او ختینه وه. تر ډیرو ساعتونو سفر څخه وروسته د وزیر سره ورسره ملګري د امریکایانو تاریک هوایي ډګر ته ورسیدل تر څو د کندهار په لوري والوزي. د دغه سفر موخه د ډنمارکي سرتیرو سره لیدنه وه. ایراني ـ ډنمارکي ژباړن امکان پیدا نه کړی چې د وزیر سره لیدنه وکړي. ژباړن هیڅکله دا امکان پیدا نه کړ چې خپل معلوماتونه د عوامو په اطلاع ورسوي ځکه ژباړن هیڅکله نه غوښتل چې ځان رابښکاره کړي. دوه کاله وروسته د ژباړن څخه د دفاع وزارت حقوقي مشاورینو پوښتنې وکړي او د یو رپوټ په بڼه یې راجستر کړي. بیاهم دغه رپوټ پټ وساتل شو، دلیل یې دا و چې د ډنمارک اړیکې د بهرنیانو سره او هم د ژباړن په خاطر په نظر کې نیول کیږي. خو دا ممکنه ده چې د ژباړن معلوماتونه چې د دفاع وزرات حقوقي ادارې ته یې ورکړی دي، راټول شي. ژباړن د امریکایانو د تحقیق په جریان کې ګډون درلود. ژباړن ته مخکې د تحقیق د پیل څخه ویل شوي و چې کیدلای شي، دردونکي حالات رامنځته شي. کیدای شي د تحقیق په جریان کې امریکایان پر بندیانو چیغې او نارې ووهي ځکه د امریکایانو دغه ډول غبرګون د سپټمبر د یولسمې نیټې تر پیښې وروسته د پوهیدو وړ دي.

ژباړن د دفاع وزارت حقوقي کارکوونکو ته بیان کړل چې بندیان به اړ ایستل شول چې خپلې تناسلي الې را وباسي او د خپل کورنۍ غړو ته جرق ووهي. بندیان به په مغزي ووهل شول تر څو سر به یې پر مځکه ولګید. د اوږده وخت له پاره به بندیان پر ځنګنو کښینول کیدل، درانده ولچک اوزولاني به یې په لاسونو او پښو کې وو او سترګې به یې هم تړلي وې. په (۶ ـ ۷) پیښو کې ژباړن لیدلي و چې بندیان به په نیغه وهل کیدل. ژباړن دا هم لیدلي و چې بندیان

[۲۲۸] - Svend Aage Jensby

به لخ لېږ وو او یو پر بل به یي سره سپاره کړل او بیا به یي انځورونه ورځخه اخیستل. ژباړن یو (۸۰) کلن زوړ زنداني لیدلي و چې په وهلو کې ځو غاښونه د لاسه ورکړی وو. ژباړن ته داسې معلومات هم لاسته ورغي چې زندانیان کیدلای شي وځړول شي که پر امریکایانو ډزې وکړي.

ژباړن په پوځي کمپ کې و چې دري ستوري جنرال راغي او د سرتیرو سره یي ستړي مه شی وکړل. ژباړن وایي چې ما جنرال ته وویل چې د ده له پاره به د پاملرنې وړ وي چې د کمپ په حالاتو خبر شي. جنرال یو جګړن ته دنده ورکړه چې د حالاتو جاج واخلي. ژباړن خپل د سترګو لیدلي حال فرانک لینسر او هم د پوځ موظف کس چې د ځارګرې ادرې مسول و، بیان کړل خو هغو ه دومره وویل چې حالات دغه ډول دي. ژباړن دامریکایانو د تحقیق د مرکز سره تر یوې مودې کار وروسته (۱۸ / ۲ / ۲۰۰۲) د دغې دندې ځخه ګوښه شو. وروسته ژباړن د فرانک لینسر او یو امریکایي جنرال سره لیدنه وکړه. امریکایي جنرال ژباړن ډیر وستایه ځکه جنرال یي د کمپ د حالاتو ځخه خبر کړی. ژباړن د فبوري په (۲۸) ډنمارک ته راولیږل شو. ژباړن په حقیقت کې باید د ۲۰۰۲ زکال د جولای په میاشت کې ډنمارک ته راستون شوی واي خو یوازې اوه اونۍ په افغانستان کې تیري کړي. ژباړن وویل چې د ډنمارک د پوځي ځارګرې اداري مسول، هولګر [٢٢٩] تهدید کړی چې خوله باید پټه ونیسي. اجنټ ژباړن ته ویلي وه چې امریکایان ستا په تعقیب کې دي. د ژباړن د خولې خبره ده چې ډیره موده نوموړي فکر کولو چې امریکایان یي وژني. ژباړن د راز نه رسوا کولو یوه سټنډرډه فورمه لیې اسلیک کړی وه خو هولګر ورته ویلي وه که ته خپل د سترګو لیدلي حال بیان کړي په (۵۰) کلنو زندان به محکوم شي چې هیواد ته دی ملي خیانت کړي دي. د ځارګرې اداري اجنټ هولګر د دفاع وزارت حقوقي اداري ته ومنل چې په ژباړن یي د امنیتي دلایلو په خاطر د رازساتلو فورمه لاسلیک کړی وه. اجنټ ومنل چې کیدلای شي دا یي هم ویلي وي چې د رازونو د رسواکولو په خاطر زنداني کیږي. اجنټ وویل چې ما هیڅکله د ژباړن د خولې ځخه د بندیانو د وهلو او ټکولو په اړوند ځه اوریدلي نه دي.

فرانک لینسر هم د دفاع وزارت حقوق پوهانو ته وویل چې نوموړي د ژباړن ځخه د زندانیانو د شکنجو په اړوند د امریکایانو د تحقیق په مرکز کې ځه اوریدلي نه دي. خو دا یي ومنل چې د یو بوډا سړی په اړوند چې پر مخ زخمي

[٢٢٩] - Holger

شوی و، ژباړن ورته کیسه کړی وه خو دا زخم د کمپ څخه بهر د نیولو او ترانسپورت په وخت کې واقع شوی و. د ډنمارکي سرتیرو د کمپ مشر فرانک لینسر ومنل چې د یو امریکایي جنرال په ګډون یې د ژباړن سره غونډه وکړه او امریکایي جنرال د ژباړن د معلوماتو په اساس چې بوډا سړی پر مخ ټېپي شوی و، هدایت وکړ چې په دغه اړوند باید څېړنې وشي.خو فرانک لینسر هیڅوخت د دغه پیښې په اړوند دفاعي مرکزي اداري ته خبر نه دی ور کړي. د ژباړن لیږل ډنمارک ته د اوږې په برخه کې زخمي کیدل و چې وروسته یې تاوان هم ورکړل شو. په کار کې د ژباړن ټپي کیدل د فرانک لینسر لخوا په یو یاداشت کې وستایل شو او امریکایانو ته یې داسې ولیکل: « ژباړن په رښتیا چې ډیر ښه کار کړی دي او د نوموړي د ژبې د پوهې څخه په درست ډول ګټه اخیستل شوی ده. د ژباړن کارکول د امریکایانو له خوا مثبت وارزول شو.»

د ژباړن اړیکي د ډنمارکي سرتیرو سره د کندهار او بګرام په هوایي ډګرونو کې د عملیاتو په ترڅ کې خواږه نه وه.

ښکاري سرتیري، لارس میولر په[٢٣٠] خپل کتاب « ښکاري ٢٠٠» کې بیاکړن کړی دي چې څنګه نوموړي او نورو سرتیرو د ژباړن په اړوند څېړنې کړی دي.

لارس میولر وایی چې د ژباړ ن کمپیوتر مې پرانیستی په کمپیوتر کې مې یو انځور ولیدی چې ژباړن د سرتیري جامې په تن او وسله یې په قهر نیولي و په داسې حال کې چې دغه جامې نوموړي ته هیڅوخت ورکول شوی نه دي. لارس میولر وایی چې انځور جعلي و خو په درست ډول جوړ شوی و. په کمپیوتر کې د پوځ پټ رازونه لیکل شوی وو چې لارس میولر ټول انځورونه او هغه فیلمونه ټول پاک کړه ځکه چې کیدای شي چې غلطه استفاده ورڅخه وشي.

کله چې ژباړن ډنمارک ته راورسیدي د هغو ترخو تجربو په علت کوم چې لیدلي وې، روحي ناارامي یې درلودل. په (٢٠٠٣) زکال د جولای په میاشت کې ژباړن د دفاع وزارت سایکلوژیست تر معالجې لاندې ونیول شو. دلته باید ژباړن د هغه، سی ډی په[٢٣١] اړوند چې بندیان یې شکنجه کول، سایکلوژیست ته

---

[٢٣٠] - Lars Møller

[٢٣١] - CD

معلومات ورکړی وای. دا به هغه انځورونه وو چې لارس میولر د کمپیوتر څخه پاک کړي وو. وروسته لارس میولر پښیمانه وه چې ولې انځورونه پاک کړل.

لارس میولر په ټینګاروایی چې پاک شوی انځورونه د زندانیانو د شکنجو نه وه یوازي هغه انځورونه وو چې د بندیانو په سروونو خولي اغوستي وي. کله چې ژباړن د روحي ناروغیو له کبله د تاوان غوښتونکي شو، د دفاع وزارت موضوع تر پاملرنې لاندې ونیول.

فرانک لینسر په لیکلې ډول د ژباړن تورونه چې بندیان شکنجه کیدل، رد کړل. البته موضوع په داخل کې و نو ځکه د دفاع وزیر او لوی درستیز د موضوع څخه خبر نه وو.

هغه وخت چې ډنمارکي زنداني سلیمان حاجي عبدالرحمن د ګوانتامانو د زندان څخه خوشي شو او په خپل کتاب کې د ژباړن یادونه وکړه چې د نوموړي څخه ژباړن د کندهار په زندان کې تحقیق کړی دي، موضوع رابرسیره شوه.

کله چې د دفاع وزارت حقوقي اداري د شپږو میاشتو په جریان کې څیړنې پای ته ورسولي، موضوع یی ختمه اعلان کړل. امریکایانو د ژباړن تورونه رد کړل نو په دغه وجه موضوع ختم اعلان شول.

ډیر کلونه وروسته په (۲۰۱۱) ز کال یو افغان زنداني په ډنمارکي محکمه کې د شکنجو په وجه تاوان وغوښت، نو ژباړن دوباره د خپل بیان ډیره برخه را ژوندي کړل.

ژباړن وویل چې زما د هغه وخت بیان څه واقعیتونه او څه هم زما خیالونه وو. ځینې پیښې ما خپله لیدلې وې خو ځینې اوازې وې چې ما خپل د لیدونو په ډول بیان کړي.

ژباړن خپل تیر بیان چې د لڅ لیږو زندانیانو کیسه چې سر پر سر به پراته وو، کړی و، هیره وه. ژباړن وایي چې ما خپله داسې زندانیان چې اړ ایستل شوی، د خپلو کورنیو انځورونو ته جرق ووهي، لیدلي نه دي، خو دغه کیسې ژباړن د امریکایي سرتیرو څخه

اروېدلي دي او د بنديانو وهل او شکنجه کول يي اروېدلي او لیدلي نه دي. ژباړن منې چې څو ځله يي زندانيان لیدلی وو چې سر به يي په يو ټوټه کې ور وپیچي کله چې سره به يي ټيټ نه نيوي. دغه د ژباړن په آند شکنجه وه چې بیان کړی وه. ژباړن ټپي زوړ سړی لیدلي و چې مخ يي په وينو لړلي و کله چې کمپ ته دتحقيق له پاره راوستل شو. دغه زوړ سړی د هغو (۲۷) نفرو څخه و چې امريکايانو د اروزګان په غمګينو عملياتو کې نيولی و. ډير بنديان به غمجن او په ژړا وو نو ځکه ژباړن فکر کړی و چې شکنجه شوی دي خو کیدلای شي چې د دوی ژړاوی د روحي فشار پایله وه.

د امريکا د تحقيق مسولين ځوان افسران وو چې لږ څه په محلي ژبه هم پوهيدل او تحقيق يي خپل کولو. د ژباړن څخه هغه وخت ګټه اخيستل کيدل چې په تحيقيق به د پوهيدلو ستونزې وې. کله به چې ژباړن د تحقيق مرکز ته ولاړ، زندانيان يي لیدلای شوای. دوی به ډاريدل او وږي به وو. د شپې به يي ډير ساړه شوی وه ځکه يخني وه او يوازې يي شړې درلودلې. د تحقيق ځينې افسران ډير سخت چلنده وه چې زندانيان به يي د پوښتنو په جريان کې پرځنګنو او سرونه کښته کښينول، خو بيا هم ارام خلک وو. ژباړن يو موده علاقه نه درلوده چې د تحيقيق مرکزته ولاړ شي. د بنديانو سره چلند د ژباړن په شخصيت کې بدلون راوست.

يو سهار له وخته د سهارنۍ په غونډه کې، ټولی مشر، نورمن کريستنسن څخه امريکايانو د مرستې غوښتنه وکړه.

امريکايانو ته راپور راغلی و چې د طالبانو يو مشر دوباره خپل کورته راستون شوی دی ځکه چې په کور کې د څراغونو روښنايي ښکاريده. نوموړي يو لوړ پوړی طالب و چې امريکايانو غوښتنه درلوده چې خپله يي چاره وکړي، مګر امريکايانو مرستې ته اړتيا درلوده ځکه د هغه کور په نژدې کې د قران شريف ښوونځي (مدرسه) وه. ډار و چې کيدای شي په مدرسه کې د طالبانو جنګيالي ځای پر ځای شوی وي. ډنماريکانو دغه دنده واخيستله چې د عملياتو کود، ای کيو- ۰۵۸ [۲۳۲] ايښودل شوی و. عمليات د قندهار ښارد لويديز په (۵۰) کيلومتری کې تر سره کيدل. دا سيمه د سنګسار په نوم ياديدل کوم چې ملا عمر په ۱۹۹۵ زکال کې د طالبي نهضت خښته کښيښودل.

---

[۲۳۲] - AQ058

امریکایانو د ډنمارکیانو سره په ګډه د عملیاتو د اماده ګي له پاره دقیق پلان ترتیب کړي. د دواړو هیوادونو سرتیرو په ګډه او په بیل بیل ډول تمرینونه وکړل.
نورمن کریستنسن د ډنمارکي سرتیرو چې شمیره یې (۱۵) تنه وو، مشري په غاړه درلوده. خو د عملیاتو مشر امریکایي، کریس[۲۳۳] و.

سرتیري په پنځو وسایطو کې د توري شپې د تیاري په مرسته د مارچ په (۱۷) نیټه حرکت وکړي. یوه توپ داره چورلکه موظفه شول چې هوایي څار وکړي او د اړتیا په وخت کې د دښمن هدفونه بمبارد کړي. تر موخي پوري رسیدل دوه ساعته اټکل شوی وو خو امریکایي او ډنمارکي سرتیرو په بیلو بیلو وسایطو(خپلو وسایطو) کې حرکت وکړي ځکه د ندې د اجرأ په وخت کې سره بیلیدل چې هر واحد خپل د هدف پر لوری باید تللي وای.

ډنمارکیان د تګ په جریان کې بشپړ خاموش وو او د عملیاتو له پاره تیار وو. صحرایي جامې او د مرمی ضد جامې یې په تن، وسلې او په شپه کې د لیدلو وسایل هم ورسره وو. ډنمارکي مشر افسر، نورمن کریستنسن فکر نه کولو چې د قران شریف په ښوونځي کې به طالبي جنګیالي د شپې له طرفه شتون ولري. نوموړي افسر فکر کولو چې ډنمارکي سرتیري د عملیاتو مسولیت نه لري یوازي مرستندوی دنده لري چې د ناڅاپې برید په وخت کې به د امریکایانو سره مرسته کوي. نورمن کریستنسن په حیرت کې ولویدی کله چې د کشف الوتکې سیګنال ورکړی چې د ښوونځي په شاوخوا کې نفر لیدل کیږي. ما دغه خبر خپل سرتیرو ته ورکړي خو هغوی داسي وانګیرل چې کیدلای شي دغه کسان ځایي اوسیدونکي وي. افسر وایي ما دا اړتیا نه احساسول چې باور وکړم چې دغه کسان به طالب جنګیالي وي. کله چې سنګسار ته ورسیدل، ډنمارکیان د ښوونځي پر لور چې د کلا هزار خادم په کلي کې و، روان شول او امریکایان د طالبانو د مشر د کور لوري ته وخوځیدل. کلي تیاره وه او په کوڅو کې هیڅوک نه ښکاریدل. ډنمارکیانو په بیړه ښوونځي پیداکړل او د برید له پاره تیار شول. نورمن کریستنسن صبر کولو چې عملیات پیل شي. انتظار د امریکایانو د امر ورکولو له پاره و ځکه عملیات باید په یو وخت کې پیل شوی وای. ولې عملیات وځنډیدل؟ نورمن کریستنسن وایي چې امریکایان د ټاکلي کور په پیداکولو لګیاه وو خو موږ د ښوونځي مخي ته منتظر وو. دا ډیره خطرناکه لوبه وه ځکه د

[۲۳۳] - Chris

طالب د شتون په صورت کې کیدای شوای موږ يې ليدلي واي. نورمن کريستنسن د راډيو له لاري د امريکايانو د عملياتو مشر، کريس څخه پوښتنه وکړه چې څه پيښه ده. ځواب دا و چې موږ لار غلطه کړی وه او ژر به ټاکلي سرای ته ورسيږو. وخت تيريدی، دوم ځل نورمن کريستنسن بی صبره شو او بيا يې د راډيو له لاري وپوښتل چې څه پيښه ده او تاسي چيري ياست؟

ځواب بيا هم دا و چې موږ غلط کورته ورغلي وو. ډنمارکي افسر په بې صبري ورته وويل چې اصلي کور پيدا کړي که نه موږ ښوونځي ته ننوزو. خو بيا يې هم څه انتظار وکړ او بيا يې وپوښتل اوس څه پيښه ده؟

دا ځل د عملياتو مشر امريکايي افسر وويل چې موږ اوس هم اصلي کور نه دی موندلی خو تاسو کولای شی چې داخل شي.

د ډنمارکي سرتيرو د موقعيت څخه د ښوونځي په دننه کې داسي ږغونه تر غوږ کيدل چې په دننه کې څه فعاليت جريان لري. ډنمارکي مشر افسر پريکړه وکړه چې همدا اوس بايد عمليات پيل شي، مخکي له دي څخه چې طالبان زموږ موقعيت ومومي. سرتيري په بشپړه توګه د بريد له پاره تيار شول.

ځانګړو سرتيرو په بيړه د ښوونځي پر يوه دروازه بريد وکړي، خو په دروازه کې يوې ګوښې ته څلور افغاني وسلوال ولاړ وو او فوري يې د خپلو وسلو مخ د ډنمارکي سرتيرو خواته برابر کړي.

ډنمارکي مشر افسر، نورمن کريستنسن وليدل چې د ډنمارکي سرتيرو دلګۍ مشر په ډير مهارت داسې مانور وکړی چې د افغاني وسلوالو له پاره ستونزمنه شول چې ډزې وکړي که دا کار يې پيل کړی واي، د افغاني وسلوالو په ضرر تماميدي.

ډنمارکي سرتيرو د لاس په اشاره افغاني وسلوال ته خبر ورکړي چې وسلې پر مځکه کښيږدي، هغوي په ډيره ارامي وسلې کښيښودلي او لاسونه يی د تسليمي په ډول پورته کړل. ډنمارکيانو په بيړه د افغاني وسلوالو لاسونه په پلاستيکي تارونه وتړل او مشر افسر نور سرتيري د ښوونځي دننه ته واستول. د ښوونځي په دننه کې ډير کسان ووچې ډنمارکي سرتيري يې وارخطا کړل، ځکه په کافي ډول سرتيري نه وو چې ټول وساتي. نورمن کريستنسن وايي که دوي په ناڅاپي توګه بريد کړی وای، نو غټه ستونزه رامنځته کيده. نورمن کريستنسن د عملياتو مشر ته د راډيو له لاری خبر ورکړ، په کوم ځای کې چې موږ قرار لرو، ډير کسان شته.

د عملیاتو مشر، کریس په ځواب کې وویل چې موږ هم ټاکلي کور چې باید د طالبانو مشر هلته وی، موندلی دی او د کور په ټولو لګیاه یوو. نوموړي علاوه کړل چې نوی امر ته انتظار وباسی. د ښوونځي د داخل څخه مشر ډنمارکي افسر ته خبر ورکړل شو چې موږ وسلې هم وموندلي. د دغه خبر سره مشر ډنمارکي افسر ډیر وارخطا شو، داسي سوچ یي وکړ چې د طالبانو نه برسیره کیدای شي د هغوي د وسلو ډیپو هم شتون ولري. نوموړی دا سوچ هم وکړی چې دا ځای یوازې د قران شریف د زده کړي ښوونځي نه وه بلکې د طالبانو مرکز وو.

نورمن کریستنسن د عملیاتو مشر ته بیا خبر ورکړی چې موږ د لویې ستونزې سره مخامخ یوو، په بیړه باید مرسته راولیږي، ځواب مثبت و. دا دی همدا ګړي امریکایي سرتیري در رسیږي. د کور د دننه څخه ږیرور (۳۱) کلن افغانان راویستل شو چې د ټولو لاسونه تړلي او کښینول شول. په وروسته شیبه کې دلګی مشر د زیرخانې څخه پیسي، او ډول ډول وسلې راکټونه، ماشینګړي او لاسي بمونه راواخیستل. په ناستو کسانو کې یو سپین ږیري هر ځل به ولاړ شو او په څه ویلو به یي پیل وکړی. نورمن کریستنسن فکر وکړی چې سپین ږیري د دوی ویاند دي. هر ځل به سپین ږیري ته د لاس په اشارو او انګلیسي وویل شول چې باید کښیني او ارامتیا وساتي. د ډنمارکي سرتیرو دلګي مشر احساس کړل چې سپین ږیري په اندیښنه کې ښکاریدي او په حیرت کې و چې څه پیښنه ده؟ نن نوموړي فکر کوي چې څومره به ښه وای چې ژباړن شتون درلودای تر څو د سپین ږیري په خبرو پوهیدلي وای. زما نه په یادیږي چې ولې زموږ سره ژباړن نه و. نه پوهیږم چې ژباړن نه و او که په وسایلو کې د ژباړن له پاره ځای نه و؟ فکر کوم چې د ژباړن شتون موږ اړین نه وه ګڼلي ځکه موږ فکر نه کاوه چې په ښوونځي کې به څوک وي.

نورمن کریستنسن وايي چې لږ ګړي وروسته امریکایي سرتیري په بیړه راورسیدل او د جګړې له پاره تیار وو، خو ما ورته وویل چې ارام اوسئ، موږ د حالاتو کنترول په لاس کې لرو. امریکایانو په سرای کې څوک ونه موندل. د عملیاتو مشر، کریس په حیرت شو چې دومره ډیر افغانان یی ولیدل کوم چې ډنمارکي سرتیرو نیولي وو. د نوموړي په پلان کې دا نه وه نو ځکه یي مرکز ته په کندهار کې زنګ وواهه. نوموړي ورته وویل چې موږ ډیر افغانان نیولي دي، څه ورسره وکړو؟ کریس ارویدل چې د قوماندي په مرکز کې هم اندیښنې راپورته شوی او تاوده بحثونه کوي. ولې کریس دوامداره غوښتنه کول چې یو

چورلکه د بنديانو د انتقال له پاره راوليږي خو دا غوښتنه رد شول، هغوي دليل وړاندي کړي چي چورلکې د نورو دندو د اجرأ له پاره ګومارل شوی دي. کريس د موټرانو غوښتنه وکړل خو دا غوښتنه هم رد شول. د مرکز څخه هدايت وشو چي بايد بنديان راولي خو د انتقال چاره يي بايد هلته وکړي. د ښوونځي سره دري پايکپ ټويوټا موټرونه وو چي د هغوي څخه يی دوه چالانه شوه.

نورمن کريستنسن هير دي چي امريکايانو ژباړن درلودی که يا؟ ايا امريکايانو د سپين ږيري او يا نورو بنديانو سره خبري وکړي؟ نوموړي علاوه کوي چي موږ د بنديانو د راجستر د پروسيجر تمرين درلودي خو بنديان مو راجستر نه کړل.

دلګي مشر وايي: کله چي موږ پريکړه وکړه چي افغانان بوزو نو ځکه مو راجستر نه کړل چي بايد د ويښتيانو او نوکانو نمونه مو اخيستي وای او هم مو د ګوتو نښانونه اخيستی واي.

موږ چي د کندهار په ښار کي د بنديانو سره تيريدولو، د سهار روښنايی خپره شوی وه. خلکو دوکانونه خلاصول او افغانانو ته چي په موټرو کي ناست وو، لاسونه ښورول. د دلګي مشر د وينا له مخي بنديانو هيڅ خفګان نه درلودي او موږ ته عجيبه ښکاريدل. د لاري په اوږدو کي د بنديانو يو موټر خراب شو، هغه مو د سړک يو څنګ ته ودراوه او بنديان په يوه موټر کي سره کښينستل.

کله چي د کمپ دروازې ته ورسيدلو، بنديانو غوښتل چي صحراګښت ته ولاړشي نو ځکه لاسونه مو ورخلاص کړل. د کمپ د دروازي په خوله کي امريکايي پوليس او د پوځ افسران منتظر وو، د بنديانو په سرونو يي خولۍ واغوستلي. بنديان مو بيرته موټر ته پورته کړل او د تحقيق مرکز ته مو بوتلل.

د نورمن کريستنسن د وينا له مخي امريکايانو په ډيره ارامي سره بنديان زندان ته داخل کړل. د هغه وخت څخه وروسته ډنمارکي سرتيرو بنديان ليدلي نه دي.

نورمن کريستنسن د عملياتو د مشر په توګه بايد يو رپوټ برابر کړی وای چي عمليات په برياليتوب پای ته ورسيدل. وروسته نوموړی بيده شو خو لږ وخت وروسته يو سرتيري د خوب څخه را وپاڅاوه او خبر يي ورکړ چي بنديان طالبان نه وو بلکي د حکومت کسان وو او بايد بيرته خوشي شي.

نورمن کریستنسن داسې سوچ وکړی چې دا ښه کار و نه شو. امریکایانو د بندیانو وسلې واخیستلې خو ډنمارکیانو د دوي پیسې وساتلې. مخکې له دې نه چې مشر بیده شي، پیسې یې هم امریکایانو ته ولیږلې. خو لږ ګړي وروسته بیا هم نورمن کریستنسن یې د خوب څخه راوپاڅاوه ځکه د امریکایانو د عملیاتو مشر، کریس او یو امریکایي ډګروال غوښتل د نوموړي سره خبري وکړي. امریکایانو وویل چې د ډنمارکي سرتیرو څخه بندیانو شکایت کړي دي چې ګواکې زندانیان یې وهلي دي. خو د ډنمارکي سرتیرو پورته یادشوي مشر په ټینګه وویل چې د نیولو او ترانسپورت په وخت هیڅ داسې پیښه نه ده شوي هر څه ارام و. امریکایي افسرانو دغه معلومات نوټ کړي، او ولاړل. لکه مخکې مو چې وویل چې ډنمارکي سرتیرو ژباړن د ځان سره نه درلود. سره د دی هم فرانک لینسر د حالاتو دارزونې په رپوټ کې ولیکل چې نیول شوی کسانو د پوښتنو په وخت کې ضد او نقیض ځوابونه ورکول نو ځکه زموږ په آند دغه کسان یا طالبان او یا یې هم ملاتړي وګڼل شول نو ټوله مو کمپ ته راواستل. په همدغه رپوټ کې (۱۸ / مارچ / ۲۰۰۲ زکال) لیکل شی و چې دا بریالي عملیات و چې د تحسین وړ وګرځیدل. ولې د دوهمې ورځې په رپوټ کې راغلل چې دا طالبان نه بلکې د افغانستان د پوځ کسان وو. امریکایانو پرته له دی نه چې ډنمارکیان خبر کړي، دوي ورځې نور یې هم همدغه کسان په زندان کې وساتل.

سې شنبه (۱۹ / مارچ / ۲۰۱۲ زکال) د امریکا د دفاع وزارت (پنتاګون) یوې سرچینې په واشنګټن کې د ای پی خبري[۲۳۴] اژانس ته وویل چې (۳۱) نیول شوی افغانان داسې معلومیږي چې طالبان نه دي خو بیاهم تر اوسه څرګنده نه ده او معلومه نه ده چې څه وخت به خوشي شي.

د پوځویاند دغه عملیات د نمونې په توګه یاد کړل، ویې ویل چې موږ ته ستونزمنه ده چې په دغه غیر علاقه (هغه سیمه چې قانون نه ور پکښې پیاده کیږي) سیمه کې د دوست او دښمن تر منځ توپیر وشي. دلیل دادي چې وسلوال کسان خپل لوري ته د مختلفو مشرانو د واک په وخت کې بدلون ورکوي. خو د کندهار په ولایت کې د ای پی خبري اژانس د ځانګې یو ژورنالیست، چارلس هینلی[۲۳۵] چې په جنګي خبر ټولولو کې تجربه درلوده، پریکړه وکړه چې د

---

- AP[۲۳۴]
- Charles Hanley[۲۳۵]

سنګی سار د سیمې موضوع ژوره وڅیړي. د سیمې قهریدلو خلکو وویل چې دغه بندیان شوي کسان په واقعیت کې د طالبانو ضد امنیتي ځواک وو چې د عارف نورزي کسان وو. عارف نورزي د حامد کرزي په کابینه کې د سپکو صنایعو وزیر و. دوي ورځې وروسته دغه کسان ازاد شول چې یاد شوي ژورنالیست خبري ورسره وکړي. پر دغو کسانو په وضاحت سره د وهلو علایم ښکاریدل. د دغوکسانو څخه ډیرو یي پر بدن تور او آبي علامې درلودي او د ځینو پر مخونو دمنګوچو کولو(مخ چې په نوکانو خوږ وي) علامې ښکاریدلي. د ټولو سرونه خریل شوی وو او د پکو (پر سره چې هیڅ ویښتان و نه لري) په شان ښکاریدل او دا یو ډول دیني سپکاوي ګڼل کیدي. چارلس هینلی دغه جریان وروسته ډنمارکي ورځپاڼې، یولند پوستن ته[۲۳۶] بیان کړی او علاوه یي کړل: یو مجرب رپوټ ورکوونکي لیدلای شي چې دغه ډول غوصه او قهر د پلمې په توګه (ساختګي) وی او یا په واقعیت هغوي غوصه او قهریدلي وو.

نوموړي ژورنالیست په (۲۳ / مارچ / ۲۰۰۲ زکال) نیټه د سنګی سار د سیمې په اړوند یو راپورتاژ خپور کړی. په راپورتاژ کې افغانانو بیان کړل چې دوي څلور ورځې د امریکایانو سره بندیان وو چې په لومړي دوو ورځو کې د تحقیق په جریان کې وهل او ټکول کیدل او هم په لغتو یي وهل. (۳۵) کلن فدامحمد وویل چې زما پوښتۍ( دملا یوه برخه) مخکې ماته او ډیره ضعیفه وه. د چارلس هنلي د لیکنې له مخې د فدامحمد د یوې سترګې ډیره برخه شنه وه. فدامحمد ویلي و چې دوي به زه پورته کړم او پر یو ډبرې به یي وغورځولم. ډیر دردناکه حالت و. ما نه شواي کولای چې پوړمخې (پر نس) پریوزم. که به مې حرکت وکړی په لغتو به یي ووهلم.

افغانانو وویل چې دوي یي په اوسپنیز قفس کې واچول، کله چې به مو خبري سره وکړي، د جزا په ډول به مو اوږد وخت لاسونه د شاه له خوا پر مغزي نیولي وو.
چارلس هینلی د امریکایي کمپ د مسول څخه وغوښتل چې د موضوع په اړوند خپل نظر ووایی خو هغه په بشپړه توګه هر ډول شکنجه ردول.

افغانانو د عملیاتو په ترڅ کې د دوي د نیولو او د انتقال په وخت کې و کمپ ته شکایت نه درلود. په لغتو او چپلاخو وهل د تحقیق په جریان کې صورت ونیوي.

---

[۲۳۶] - Jylland Posten

د واشنګټن پوست خبر لوځي، جان ورډ انديرسن [۲۳۷] درې ورځي وروسته د چارلس تر ليدلو د سنګی سار سيمې ته ولاړی او په ټوليز ډول يی د شخصيت پيژندني ـ ۳۹ [۲۳۸] ډول راپور وړاندې کړي.

څلورنيم کاله وروسته د ډنمارکي ځانګړو سرتيرو د عملياتو سياسي ستونزې و دولت ته راپورته شوي. دا ستونزې د ډنمارک راډيو د مستند فلم تر(پټه جګړه) [۲۳۹] نوم لاندې راپورته شولي. پوښتنه دا وه چې ډنمارکي سرتيرو په داسي شرايطو کې بنديان و امريکايانو ته تسليم کړي وو چې د ډنمارک حکومت پوهيدي چې امريکايان د ژينو کنوانسيون نه مراعات کوي. دهغه وخت د دفاع وزير، سيون ګيده [۲٤۰] د مستند فلم په اړوند د پوليټيکن ورځپاڼي ته د ۲۰۰۶ زکال د ډيسمبر په مياشت کې وليکل چې زه په دې عقيده وم چې زندانيان دکنوانسيون د مواد مطابق جنګي بنديان نه وو. د دفاع د وزير د وينا له مخي ډنمارکي سرتيرو د قران شريف په ښوونځي کې ارزيابي وکړل چې نيول شوي کسان د دولت مخالف جنګيالي نه دي.

همدغه ځواب يو کال مخکي د دفاع وزارت د پارلمان دفاع کميسون او د بهرنيانو شورا ته وړاندې کړي و. خو بايد وويل شي چې دغه معلومات د ډنمارکي سرتيرو دتشريح سره توپير درلودي. دوي دغه نيول شوي کسان د دولت مخالف جنګيالي ګڼل او هم يي دغه کسان جنګي بنديان ګڼل که څه هم امريکايانو بل نظر درلودي.

د ډنمارکي سرتيرو مشر، فرانک يسپر وويل چې نيول شوی کسان هغه وخت امريکايانو ته تسليم شول کله چې موږ راجستر کړل. خو په حقيقت کې دا کار شوی نه و. خو وروسته همدغه افسر ومنل چې دی نه پوهيدي چې دغه بنديان په څه ډول راجستر شوی وي. ما ځکه دا فکر وکړی چې نورمال پروسجر همداسي و.
د ډنمارک صدراعظم، اندريس فوک غاسموسن د پارلمان د ستيج څخه ټولې

---

[۲۳۷] - John Ward Anderson

[۲۳۸] - Identisk139

[۲۳۹] Den - hemmelige krig

[۲٤۰] - Søren Gade

نیوکې رد کړې. د صدراعظم خبري په دی اړوند ډیرې جدي وي او یوه نیوکه یې هم نه منل. صدراعظم د دفاع وزیر سره په ګډه د ۲۰۰۶ زکال د ډسمبر په (۱۳) نیټه د پارلمان د بهرنیو چارو کمسیون ته یو رپوټ وړاندې کړې چې د ډنمارک حکومت یې د دغو تورونو څخه پاک وګڼې. صدراعظم هغو ژورنالیستانو ته چې د پارلمان په ودانۍ کې راټول شوی وو، وویل: دغه رپوټ د اسنادو سره مل نه دي کیدای شي کله چې بندیان د ډنمارکیانو له خوا امریکایانو ته تسلیم شوی وی، شکنجه شوی وي. د شکنجو ردول د پنتاګون د ځواب په آساس و چې ډنمارک ته یې په دی ډول ویلی وو: امریکایانو په ټینګار ویل چې په ټاکلي موضوع کې هیڅ داسې معلومات نه شته چې بندیان دی شکنجه شوی وي.

وروسته حکومت د یوې سرچینې په حواله وویل چې دوي معلومات تر لاسه کړي دي چې په دغه ټاکلي موده کې بندیان شکنجه شوی نه دي، دا چې دا د باور وړ سرچینه کومه وه، معلومات یې ورنه کړي.

وروسته ډنمارکي ورځپاڼې، یولند پوسټن ولیکل چې: معلومات د نړیوال سره صلیب د مشر، یعقوب کیلینبرګر [۲٤۱] له خولې څخه په یوه غرمنې کې د ۲۰۰۲ زکال د مارچ په (۱۹) د ګډ بازار د ډنمارک استازو ته معلومات ورکړی وو. د دغو خبرو لنډیز د ډنمارک د بهرنیو چارو وزارت ته په لاندې ډول بیان شو:

د سره صلیب استازو د امریکایانو (۱۵۰) بندیانو ته په افغانستان کې د لیدلو وخت پیدا کړي، د بندیانو سره په ټولیز ډول د امریکایانو له خوا د سختو امنیتي تدابیرو په عملي کولو سره ښه چلند کیدی. باید وویل شي چې د سره صلیب د مشر بیان یوه عمومي ارزونه وه په ځانګړي ډول (۳۱) بندیانو ته متوجه نه وه.

په رپوټ کې دا هم څرګنده شوه چې ډنمارکي مقامات په دغه وخت کې د بندیانو په حالت خبر نه وو او اړینه هم نه وه چې باید خبر وای چې بندیان د امریکایانو له خوا شکنجه کیږي. دغه ارزونه د واقعیتونو سره په توپیر کې وه.

د ډنمارکي پولیټکن ورځپاڼې په لومړي پاڼه کې د جنوري په (۲۴) په کندهار کې د بندیانو د فزیکي حالت په اړوند په یخنۍ او پارازیتونه کې معلومات وړاندي

---

[۲٤۱] - Jakob Kellenberger

شو او د ډنمارک په يو بله ورځپاڼه، بيرلينګس ټيدنه [242] د فبوري په (۱۲) نيټه د اروزګان د غمګينو عملياتو په اړوندمعلومات وړاندي شو او امريکايان د بنديانو په مقابل کې په شکنجو تورن شول.

دغه ليکنه د نيويارک ټايمز څخه ژباړل شوی وه چې ډيرو بنديانو په تفصيل سره د امريکايانو له خوا د بنديانو وهل، ترټل او شکنجې بيان کړې وې. يوه ورځ وروسته بيا هم په پوليتيکن ورځپاڼه کې تر ( افغاني بنديان وهل کيږي) سرليک لاندې ليکنه خپره شوه.

په داسې حال کې چې حکومت د مستند فلم ټول تورونه ردول، د دفاع وزير يوازې يوه غلطي ومنل، ډنمارکي سرتيرو بايد دغه (۳۱) بنديان راجسترکړي واي مخکي له دی نه چې امريکايانو ته يي تسليم کړی واي. اوس د ډنمارک پخواني صدراعظم، اندريس فوک غاسموسن ټينګار کوي چې د ډنمارک د حکومت کړنې درستې وې. نوموړي وايي چې رښتيا داده چې زه په هغه وخت کې نه پوهيدم چې امريکايان بنديان شکنجه کوي. په هغه وخت کې څو ځله دصدراعظم څخه وپوښتل شوه چې تاسو په رسنيو کې اوريدلي نه دي چې امريکايان بنديان زوروي، خو د ده ځواب يوازې دا و چې پر امريکايانو باور لري چې بنديان نه زوروي او د هيڅ ډول شکنجې په اړوند معلومات نه لري. عيني خبري نوموړي په پارلمان کې هم وکړلي. اوس پخوانی صدراعظم ، اندريس فوک غاسموسن وايي: ما ته لومړي ځل د ۲۰۰۴زکال د اپريل په مياشت کې څرګنده شوه چې جدي ستونزې شته ځکه چې ډير وحشتناکه او ډارونکي انځورونه په عراق کې د ابوالغريب د زندان د عامه پوهاوي له پاره خپاره شوه. غاسموسن وايي چې هر هغه څه چې د ابوالغريب په زندان کې تير شوی دي، وحشتناکه وه، مګر دا کړنې بايد پر ډنمارکيانو ونه تپل شي. زما په آند د ډنمارکيانو په تړاو د زندانيانو موضوع تحريک اميزه ده او د واقعيتونو سره اړخ نه لګوي. زموږ افسران وايي چې دوي د تحقيق په مرکز کې د بنديانو د زورولو او شکنجو څخه خبر نه وو. خو د بل لوري څخه همدغه افسران د افغانانو کيسې ردولای نه شي ځکه دوي د تحقيق مرکز ته د ورتللو اجازه نه درلوده. خو دري ډنمارکي افسران چې په اطمينان سره ويلای شوو چې د تحقيق مرکزته ورتللای شول عبارت دي د فرانک ليسنر، پوځي ډاکټر او ايراني ژباړن.

---

[242] - Berlingske tidende

فرانک لیسنر همیشه په تأکید ویلي دي چې د ژینو د کنوانسیون څخه په سرغړونه خبر نه دي. پوځي ډاکټر هم د دفاع د وزارت د معلوماتو له مخي د شکنجه کولو کومه پیښه معلومات نه دی ورکړي. یوازې د ژباړن رنګارنګ معلوماتونه چې لیدلي او اوریدلي دي، چې بندیان شکنجه کیدل، بیان شوی دي.

د سنګې سار د (۳۱) تنو بندیانو څخه یو کس اجازه پیدا کړه چې د ډنمارک د دولت په لګښت د ډنمارک په دولت دعوه وکړي. غوث الله ترین د ډنمارک د دفاع وزارت څخه ۵۰۰۰۰ کرونه د تاوان په ډول وغوښتل ځکه نوموړي ادعا درلودل چې حقوق یي پایمال شوی دي. د غوث الله ډنمارکي وکیل دلایل وړاندي کړل چې ترین د ډنمارکي سرتیرو له خوا په داسې وخت کې امریکایانو ته تسلیم شوی دي چې ډنمارکیان پوهیدل چې امریکایان کنوانسیونونه د بندیانو په تړاو نه مراعات کوي. د کنوانسیون مطابق د یو زنداني تسلیمول بل هیواد ته چې د شکنجه کولو او یا د مرګ د سزا ورکولو خطر وي، غیري قانوني ګڼل کیږي. دوسیه د ډنمارک د مرافیعې محکمې ته واستول شول. د ۲۰۱۱ زکال د جنوري په میاشت کې د قوي اندامو درلودونکي افغان په داسې حال کې چې تسبیح یي اړولي د محکمې په (۱۷) نمبر سالون کې د قاضیانو په وړاندې خپله د نهو کالو زړه کیسه بیان کړل. غوث الله وویل چې زه په هغه وخت کې (۲۲) کلن وم چې د طالبانو تر سقوط وروسته مې د دغې سیمې د امنیت ساتلو د یو ګروپ مشرتوب په غاړه واخیست. زه عمومي قوماندان نه وم خو یو مشر وم. زموږ د ګروپ دنده وه چې محلي ستونزې او ترافیکي پیښې حل کړو. موږ پر لاري ګزمه کول خو پوځي یونیفورم مو نه درلودي. د ترین په قول د قران شریف ښوونځي د طالبانو په وخت کې جوړه شوی وه خو کله چې زما امنیتي ګروپ جوړ شو دغه ځای په عادي ښوونځي بدل شو. نوموړي دوه وړونه، شپږ او اته کلن درلودل چې همدغه ښوونځي ته تلل. ښوونځي د امنیتي کسانو د استوګني ځای هم و او هلته ویده کیدل. د دوي وسلې د ښوونځي په زیرخانه کې وې او د معاشونو پیسي هم هلته ساتل کیدلي.

په دغه شپه چې ډنمارکي سرتیري راغلل، ترین ګزمه تیره کړی وه. ترین د خپل موټروان سره په ښوونځي کې ویده وه. دوي په یوه کوټه کې ویده وه ځکه که کومه بیړنی پیښه شوی واي، ترین د خپل موټروان سره د پیښې ځای ته باید تللي واي. ترین د یو پهره دار په واسطه د خوب څخه ویښ کړل شو او ورته وویل شول چې بهرني سرتیري د ښوونځي لوري ته راځي. غوث الله ترین خپل نفرو ته امر وکړی چې ارام اوسئ او په وسله باید لاس ونه وهي. ترین فکر

کاوه چې ممکن ګزمه وي او د مرستې له پاره راغلي وي. يو ناوړه حالت به نه رامنځته کېږي. ترين وايي چې هيڅ داسې امکان نه و چې ما د بهرنيو سرتيرو سره خبري کړي واي او پوه کړي مې واى چې موږ د دولت امنيتي کسان يوو. کله چې موږ يو، يو يې د کوټو څخه راويستلو، امر يې وکړي چې بايد کښته وګورو. کله چې موږ يې د کندهار د ښار په منځ کې تيرولو، موږ سوچ وکړی چې زموږ دولتي ادارو ته به مو ورولي تر څو وپيژندل شوو.

په بيړه يي په کندهار کې امريکايانو ته تسليم کړو او شکنجې پيل شوي. امريکايي سرتيرو په شګلنه مځکه کې پر خيټه وغورځوولو او خولۍ يې په سر راواغوستلي او بايد چوپ پراته واي. د سپيانو غپاوي او ډير تخريش کوونکي لوړ ږغ وو. زه فکر کوم چې (۲ ـ ۳) ساعته په دغه ډول تير شول. تږی شوم او اوبه هم نه وي. ځوانو هلکانو زموږ په منځ کې په ژړا پيل وکړي، ترين تسليت ورکاوه چې ارام اوسې. يو پهره دار پر سر په لغته ووهلم چې خوله مې په شګو کې ډوبه شوه. په دغه ډول يي زموږ څخه ټولې جامې ويستلې، بدنونه مو لڅ او خولۍ مو پر سر وي. او بيا يي نورې جامې راباندي واغوستلي. وروسته يي تر ويښتانو ونيولو او په قفس کې واچولو. خوب ته يي نه پريښودولو، پهره دار کشولو او په جبر يي مخ او شاته زغلولو او بيا يي ځنګون کيچ ډير وخت کښينولو. (۶ ـ ۷) ځله يي تحقيق راڅخه وکړولو. تر درو ورځو وروسته يي خوشي کړو. د غوث الله وروستۍ خبره د امريکايانو د معلومات سره چې بنديان مو ۴۸ او که ۷۲ ساعته وروسته خوشي کړل، برابره ده. غوث الله وويل چې زما د ژوند سخته او ترخه خاطره همدغه ده.

غوث الله ترين وويل چې د هغو شکنجو په وجه روحي نا ارامي لري او اوس دوا خوري، نه شي کولای چې خپلې ورځني چارې تر سره کړي.

کله چې محکمې د ۲۰۱۱ زکال په اپريل کې پريکړه وکړه، چې ترين د تاوان مستحق نه دی. محکمې وويل دا چې د ترين خبري رښتيا او يا درواغ دي، ارزښت نه لري خو د ډنمارک د دفاع وزارت مسول نه دي. محکمې د شاهدانو دبيان او ټولو اسنادو تر څيړلو وروسته پريکړه وکړه چې د ډنمارک د دفاع وزارت نه يې معلومات درلودي او نه يې داسې شک درلودي چې په کمپ کې بنديان شکنجه کيږي. نو ځکه د بنديانو ورکول و امريکايانو ته غيري مسولانه عمل نه ګڼل کيږي. دغه د محکمې د پريکړې لنډيز وه.

په امریکا کې ډنمارکي سفیر، اولریک فیدرسپیل [۲۴۳] مصروف وو چې ډنمارکې سرتیري د افغانستان په جنوبي سیمو کې په عملیاتو بوخت وو.

سفیر باید د ۲۰۰۲ زکال د فبوري او مارچ په میاشتو کې و امریکا ته د ډنمارک د صدراعظم، اندریس فوک غاسموسن د لومړی سفر له پاره تیاري نیولاي وای. د ډنمارک د صدراعظم او سپیني ماڼۍ تر منځ دا ډول بوختیا هر وخت نه وي خو اندریس فوک غاسموسن هر څه بشپړ درست غواړي چې د ډنمارک سفیر د نورو ډنمارکي صدراعظمانو سره پرتله نه شي. سفیر لومړي د صدراعظم د پروګرام د ترتیباتو په لاس لیکلي نسخه ولوستل، دا لومړي ځل و چې ما د اندریس فوک غاسموسن د کار میتود سره اشنایي پیدا کړل.

سفیر وایي: د سفارت او دصدراعظم د دفتر سره دومداره اړیکې وې چې د طوفان بڼه یي درلوده، ډیر کوچني جزییات مو سره کنترولول. د صدراعظم د اقامت د مودې ټول فعالیتونه د وخت له مخې سنجول شوی وو چې د دغو فعالیتونو د لیکلو څخه د سفر د ترتیباتو یو کتابګوټي جوړ شو.

د صدراعظم سفر د ۲۰۰۲ زکال د مارچ پر (۲۲) نیټه پلان شوی و نو ځکه نوموړی نه غوښتل چې د ناڅاپي پیښې سره مخامخ شي، په دغه خاطر د سفر د ترتیباتو په کتابګوټي کې ټول معلوماتونه درج وو: سپینېماڼۍ ته د ننوتلو د دروازې شرایط، د هګۍ ډوله کوټې جزیات ، چیرې صدراعظم باید کښیني (د دي له پاره چې اشتباه و نه کړي)، کوم سیاسي او یا هم شخصي بحث پیل کړي؟ دا اسانه نه وه چې داسې یو کتابګوټي ترتیب کړو ځکه صدراعظم لا نور جزیات غوښتل، هر ورځ د صدراعظم دفتر او سفارت په کتابګوټي کې نوي جزیات اضافه کول. صدراعظم نه غوښتل چې کوم څه ناخبره پیښ شي. په دغه خاطر صدراعظم یوه ورځ مخکي چې د واشنګټن د څلورو موسمونو [۲۴۴] په هوټل کې و، ټول کتابګوټي ولوست. سهار د تر (۷) بجې مخکې را پورته شو او خپله همیشنی منډه ی د ډنمارکي او امریکایي باډیګارډانو تر څارنې لاندي وکړل. د سهار پر (۹,۳۰) بجې په تور کدیلاک لیموسین کې د سفارت د غړو په ګډون کښیناست. لیموسین په ډنمارکي او امریکایي بیرغونو ښکلي شوی وو او د صدراعظم موټر د امنیتي ګارډ په بدرګه د سپینې ماڼۍ پر لوري حرکت وکړی.

---

[۲۴۳] - Ulrik Federspiel

[۲۴۴] - Four Season Hotel

کله چې ډنمارکي پلاوي  سپيني ماڼی ته ننوتل، لومړي د روزويلټ کوټې ته ننوتل او د ميلمنو په کتاب کې صدراعظم لاسليک وکړی. تر لسو بجو لږ وروسته د هګۍ ډوله کوټې دروازه پرانيستل شول. خبر لوڅو د ولسمشر او ميلمه هيت رواجي انځور واخيست او غونډه پيل شوه. کله چې د امريکا د ولسمشر سره پر سياسي مسايلو بحث کيږي، د پاملرنې وړ ده چې څوک يي څنګ ته ناست دي. شکايت نه شی کولای. د ولسمشر ټول نژدي کسان حاضر وو. ولسمشر جورج بوش د بهرنيو چارو د وزيرکولين پاول[٢٤٥]، د ولسمشر مرستيال، ديکچيني[٢٤٦]، امنيتي مشاوره، کونډولای رايس[٢٤٧] او د ولسمشر وياند، اير فليشر[٢٤٨] ځوا بدرګه کيدي. تر دي لوړ تشريفات نه کيدل.

بله موضوع دا ده چې ولسمشر څومره دغه ملاقات ته ارزښت ورکوي، د غونډې لږ وخت ولسمشر د خپل ميلمه سره تر ټړلو دروازو شاه ته تيروي. تقريباً (٢٥) دقيقي د ډنمارک صدراعظم ته په نظر کې نيول شوی وي خو زيات نور وخت يي هم ونيوي. تقريباً د دوي ملاقات يو ساعت وخت ونيوي. يوازې دغه وخت ته په کتلو غونډه بريالي وه.

د ډنمارک سفير په غونډه کې ګډون کړی و او د هغه له نظره په غونډه کې د پيل څخه فضأ ډير دوستانه وه. په ځانګړي ډول شخصي خبرو ډير ارزښت درلود.

د ډنمارک سفير په کتابګوټي کې صدراعظم ته ليکلي و چې ولسمشر بوش د ځواني په وخت کې د هغه وخت د ډنمارک د سفير د زوی، ډيټليو کنوت وينټر فيلډ[٢٤٩] سره د يلی په[٢٥٠] پوهنتون کې يو ځای درس لوستلي دي او دوي دواړه په يوه کلوپ کې هم وو. دغه ډنمارکي جنسي اړيکه د يو بل هلک سره درلودل او هميشه د هغه کوټې ته چې بوش يو ځای ژوند ور سره کولو، ورتلي

- Colin Powell[٢٤٥]
- Dick Cheney[٢٤٦]
- Condoleezza Rice[٢٤٧]
- Ari Fleischer[٢٤٨]
- Ditlev Knuth-Winterfeldt[٢٤٩]
- Yale[٢٥٠]

نو د بوش سره یي هم پیژندګلوي درلودل. برسیره پر دغه ټولو محصلینو په هر پنځو کلونو کې یو ځل سره لیدل. ما صدراعظم ته ویلي و چې کیدای شی، ولسمشر د هغه ډنمارکي په اړوند پوښتنه وکړي. سفیر علاوه کوي چې ربښتیا بوش هم دا کار وکړي او صدراعظم زما(سفیر) خواته وکتل چې ته هغه ښه پیژني، په دغه ډول مجلس دوام وکړی. بوش وویل چې ما باید هغه هم ټولګي لیدلای واي خو دا کار ونه شو او په ټوکو یی وویل کاشکي ډنمارک ته ولاړشم. صدراعظم ته موقع په لاس ورغلل او بوش ته یی وویل چې اوس دا امکان شته چې تاسو ډنمارک ته راشي، بوش په مننه دا بلنه ومنل. سفیر وایي چې زه پوهیدلم چې په ځانګړي ډول د ملاقات په پیل کې بوش دغه ډول موضوعاتو ته ډیر ارزښت ورکوي. ځکه سړی هر وخت کولای شي د خسته کونو موضوعاتو په اړوند بحث وکړي. مهمه دا وه چې فضأ دوستانه وی او ربښتیا هم فضأ دوستانه شول.

اوس د ډنمارک پخواني صدراعظم، اندریس فوک غاسموسن دا مني چې هغه څه چې مهم و، نوموړي ولیدل.

د ډنمارک پخواني صدراعظم وایي: ما احساس کړل چې ډنمارک داسي یو حکومت لري چې په بشپړ ډول د امریکا سره د ترهګري پر ضد ولاړ دي. موږ افغانستان ته سرتیري ولیږل او بوش د مننې موقع پیدا کړل. ما احساس کړل چې امریکایان دا مني چې ډنمارک خپل تر وروستي توان پوري مرسته کړي ده نو یوازي دغه موضوع زموږ د ښو اړیکو له پاره بس وه. خو د غیري رسمي خبرو څخه هم ښکاریدل چې زموږ تر منځ فضأ ډیره دوستانه ده. موږ د مسایلو جریان په ګډ نظر لیدي. زموږ د خبرو جریان پرته له ډیپلوماسي او د مسایلو د پټولو څخه په مستقیمه بڼه وه. د صدراعظم په یاد دي چې د بوش د هم ټولګي خبري جالبې وي.

د ډنمارک پخواني صدراعظم وایي چې زه داسې پوه شولم چې زه باید د بوش سلامونه و ډنمارکي دوسته ته ورسوم. دغه خبري چانس په لاس راکړی چې د بوش د ځواني خاطرې ور په زړه شي. د بوش او صدراعظم خبري د ځغستلو په اړوند وشوي. بوش په (۷) دقیقې کې (۱،۶) کیلومتره منډه وهي خو د صدراعظم څخه یي هم وپوښتل چې څومره منډه وهلای شي. صدراعظم هم ځان نژدي ورته وښود. بو ش د منډو سیالي ته وروسته بلنه راکړل خو بوش باید ډیر زما د سپورت په اړوند معلومات و نه لري.

د عراق موضوع د غونډې مهمه موضوع و. بوش صدراعظم ته وويل چې صدام حسين خطرناکه وسلې (ژ: اټومي وسلې) لري او ديکتاتور تصميم لرى چې دغه وسلې استعمال کړي، نړى يې د لويې خطرې سره مخامخ کړى ده. د ډنمارک صدراعظم هم د غونډې په

پاى کې د رسنيو په ګډه غونډه کې وويل: په رښتيا صدام حسين يو خطرناکه شخص دى. نوموړي د خپلو خلکو پر ضد زهرجن ګاز استعمال کړي او په ښکاره يي د ملل متحد د پريکړو څخه سرغړونه کوى. نو ځکه ملل متحد د صدام حسين څخه غوښتنه کوى چې د ملل متحد پلټونکو ته اجازه ورکړي چې د اټومي وسلو د درلودلو په اړوند پلټنې وکړي. يو خبر لوڅي د صدراعظم څخه وپوښتل: که صدام د ملل متحد غوښتنه ونه مني، دويم قدم څه دي چې اوچت به شي؟ صدراعظم په ځواب کې وويل چې په دغه اړوند مو تر اوسه بحث نه دى کړي. خو دا يو مبهم حالت دي. صدراعظم په ټينګار سره وويل چې زه امريکا ته د دى له پاره نه يم راغلي چې پر امريکا نيوکې وکړم. بايد علاوه کړم چې زه د امريکا په تړاو شکمن نه يم ولې برخلاف زه بايد په ډاګه وښيم چې د ترهګري په مبارزه کې د امريکا ملاتړى يم.

افغانستان لومړى قدم و، پوښتنه داده چې عراق به دوهم قدم وي؟

ډنمارکي ځانګړې سرتيري تر نيم کال وروسته د افغانستان څخه ووتل، خو د متحدينو پوځونو د امريکا د معلوماتو له مخې (۱۱۵) مخالفين وژلي او (۱۱۷) يي نيولي وو. چې دغه برياوي د (۴۲) پلټونو او تلاښيو او د (۲۳) پوځي عملياتو په پايله کې په نصيب شوى وي.

په ۲۰۰۴ ز کال کې ټولو ځانګړو پوځيانو د ک ـ بار ضربتي قوا تر قوماندي لاندي د ښه خدمت ستاينليکونه د [۲۵۱] په نوم چې د افغانستان په جګړه کې د ۲۰۰۲ زکال په لومړيو شپږو مياشتو کې ښه خدمت کړي دي، تر لاسه کړل. د ډنمارک د ځانګړو پوځيانو مشر، فرانک لينسرد ډنمارکي پوځي واحد په استازيتوب دغه ستاينليک د امريکايانو د سانتياګو د ميرامر د هوايي پوځي مرکز په ترمينل کې په داسي حال کې چې بوش حضور درلود، ترلاسه کړى. وروسته د ډنمارک د البورګ د ښار د ښکاري پوځي واحد د غونډو په تالار کې

---

[۲۵۱] - Presidential Unit Citation

دغه يادګاری انځور ځوړند شو. چې د ۲۰۰۴ ز کال د ډيسمبر (۷) نيټه وربانديلیکل شوی وه. په انځور کې فرانک لينسر په پوځي يونيفورم کې په داسې حال کې ليدل کيږي چې د ولسمشر جورج بوش سره يې لاس ورکړي دي. بوش په انګليسي فرانک لينسرد ته د روغبړ په وخت کې وويل، ته د ډنمارک يې، ډنمارک ډير ښکلي هيواد دي او وروسته نورو پوځيانو ته د روغبړ کولو له پاره ور تير شو. وروسته فرانک لينسر د ډنمارک يوې ورځپاڼې ته وويل چې ولسمشر خوږ، مهربان او خوشحاله شخص ښکاريدی.

# څلورم څپرکی

## د جګړې له پاره تیاری

۲۰۰۱ ـ ۲۰۱۲ زکلونه

د جولای دریمه ۲۰۰۲ زکال:

کله چې د ډنمارک د بهرنیو چارو وزیر، پیر ستي میولر امریکا ته سفر وکړي د امریکا د بهرنیو چارو وزیر اطمینان ورکړي چې ولسمشر بوش به پرته د شک څخه د عراق دیکتاتور، صدام حصین له مینځه یوسي.

د سپتمبر (۶) ۲۰۰۲ زکال:

د ډنمارک صدراعظم، اندرس فوک غاسموسن وایې چې زه هیڅ شک نه لرم چې صدام حصین به اټومي وسلې ولري او په تولید یې هم لګیاه دي.

د سپتمبر (۷) ۲۰۰۲ زکال:

د امریکا ولسمشر، جورج بوش د انګلیستان صدراعظم، توني بلیر ته وعده ورکړه چې د جګړې تر پیل مخکې به د ملل متحد نوي پریکړه لیک تر لاسه کړي.

د ۲۰۰۲زکال د اکتوبر لومړی نیټه:

د ډنمارک صدراعظم پارلمان ته وویل چې صدام حصین زهري ګازونه لري، کولای شي لویدیز هیوادونه او د ډنمارک لوي ښارونه په نښه کړي.

د نومبر دوهمه ۲۰۰۲ زکال:

د امنیت شورا (۱۴۴۱) نمبر پریکړه وکړه که صدام حصین د پلټونکي ګروپ سره د خطرناکو وسلو په څیړونو کې مرسته ونه کړي، صدام حصین ته به جدي عواقب ولري.

د نومبر (۱۵) ۲۰۰۲ زکال:

امریکا د ډنمارک او (۵۱) نورو هیوادونو څخه د صدام حصین پر ضد د احتمالي جګړې له پاره پوځي مرسته وغوښتله.

د جنوري (۳۰) ۲۰۰۳ زکال:

د ډنمارک صدراعظم د (۷) نورو اروپايي هیوادونو د مشرانو سره په ګډه پرته د کوم قید او شرط څخه د امریکا سره د پوځي مرستو وعده وکړه چې په ځینو ورځپاڼو کې چاپ شول.

د مارچ (۲۰) ۲۰۰۳ زکال:

امریکا پر عراق د راکټونو برید پیل کړي.

د مارچ (۲۱) ۲۰۰۳ زکال:

کوچني اکثریت حکومتي ګوندونو جمع د ډنمارک د خلکو ګوند تایید کړه چې ډنمارک په جګړه کې برخه واخلي.

د واشنګټن د رود ۲[252]چپه ساحل کې د ډنمارک د کښتی چلولو د ښوونځي کښتي د نمایش له پاره لنګر اچولی وو. کښتي ښه پاکه او ستره شوی وه تر څو د لیدونکو پاملرنه جلب کړي. په محفل کې د ډنمارک د بهرنیو چارو وزیر، پیر ستي میولرپه ښکلی دریشي کې د ساحل پر څنډه ولاړ و. د کښتي چلولو یو زده کوونکي پر پل باندي د درناوی له پاره پهره کوله. د کښتي نور کار کوونکي د امریکا د بهرنیو چارو د وزیر، کولین پاول د ښه راغلاست له پاره د کښتي په دباندني برخه کې ولاړ وو. هوا توده وه، د حاضرینو پر مخونو خولي رابهیدلي د تودوخې درجه (۳۷) سانتي ګراد او رطوبت (۱۰۰) وو.په پای کې ښایسته تور موټر د لوی کښتی مخې ته راښکاره شو. د امریکا د بهرنیو چارو وزیر د ډنمارک د بهرنیو چارو د وزیر سره روغبړ وکړی، وروسته د کښتي خوا ته نژدي شول چې د کښتی کپتان پوځي سلام وکړی، په همدي ډول د بهرنیو چارو وزیر د نورو دیپلوماتانو سره روغبړ وکړي. دواړه وزیران د کښتی سالون ته ننوتل، هلته ایرکانډیشن و، کاري غرمني ډوډۍ تیاره وه او مذاکرات باید پیل شوی وای. ډنمارک دري ورځې مخکې د ګډ بازار مشرتوب تر لاسه کړی و نو ځکه د ډنمارک د بهرنیو چارو وزیر یوازی د ډنمارک استازیتوب نه کولو بلکې د ګډ بازار استازیتوب هم کولو. دا غونډه د ۲۰۰۲ زکال د جولای پر

- Potomacfloden[252]

دریمه نیټه د چارشنبې په ورځ د یوې بجې په شاوخوا کې جوړه شوه. غونډې ډیر دوام و نکړی، خو موخه دا وه چې نړیواله پاملرنه جلب کړي.

د امریکا او ګډ بازار هیوادونو تر منځ لړخوابدی پیښه شوی وه نو ځکه څه د پاسه (۵۰) ژورنالیستان د ای بی اس، ان بی س، ثی ان ان، رویټر، اسوشیدپرس د ډنمارکي کښتی سره د غونډې د پایلو له پاره په انتظار کې وو. تر غونډې څو ورځي مخکی امریکایانو په ټینګه خپل مخالفت د هغه نړیوالې جزایې محکمې یانی، ای ثی ثی[253] سره ښودلی وو چې نوي جوړه شوی وه. د امریکا ولسمشر جورج بوش د دغه محکمې د جوړیدو سره ځکه مخالف و چې نه یي غوښتل چې امریکایي سرتیري د جنګي جرایمو په تور په یوه نړیواله محکمه کې محکمه شي. د امریکا ولسمشر دا هم اعلان کړل چې د فلسطین مشر تابه د یاسرعرفات تر مشرتوب لاندې د سولې په خبرو کې د اسراییلو سره یو لوري نه ګڼي. د ډنمارک د بهرنیو چارو وزیر د سولې د کنفرانس سوچونه د ځان څخه لیري کړل. په بدل کې امریکایانو ته وړاندیز وکړی چې د سولې د کنفرانس په بدل کې به د ادرو د مشرانو غونډې راوبولي او د فلسطین د محدودو موضوعاتو او جورسلیم د راتلونکی سرنوشت په اړوند به بحثونه وکړي.

د کښتي د غونډې په جریان کې کانډولیزا رایس[254] د ډنمارک د بهرنیو چارو د وزیر وړاندیز د سولې د کنفرانس په اړوند یو ښه نظر وګڼي او د امریکا د بهرنیو چارو وزیر کولین پاول[255] هم د تایید سر وښوراوه خو ټول موافق شول چې د نړیوالې محکمې په اړوند امریکا مخالفه ده. کله چې د امریکا د بهرنیو چارو وزیر د ډنمارک د بهرنیو چارو د وزیر څخه د ډنمارک ګډون د افغانستان په جګړه کې وستایه نو کولین پاول د عراق د مشرتابه صدام حسین په اړوند د بوش د حکومت دریځ په اړوند خبري پیل کړي. د ډنمارک د بهرنیو چارو وزیر پوهیدي چې چې د ګډبازار د مشرتابه په دوران کې چې د ډنمارک پر غاړه دي، پیچلي موضوع به د عراق وي. خو د امریکا د نظر په اړوند یي اندیښمن و خو کولین پاول دا اندیښنه لیري کړل.

---

[253] - ICC
[254] - Condoleezza Rice
[255] - Colin Powell

کولین پاول په ډاګه څرګنده کړل چې د صدام حسین د لیرې کولو په اړوند باید وپوهیږئ چې د امریکا ولسمشر جورج بوش یا په ډیپلوماټیکه توګه او یا د پوځ په مټ غواړي، صدام حسین لیرې کړي.

کولین پاول وویل چې موږ به د ملل متحد غړي قانع کړو چې صدام لیرې کړو. امریکایانو باور درلود چې ډنمارک یې باوري ملګری دی. یوه تاریخي  پیښه وه چې یو کوچني هیواد د ډنمارک په څیر تر خپل حق ډېر ارزښت پیدا کړی. دا چې ډنمارک د ګډ بازار مشرتوب په غاړه و، نو د ډنمارک د بهرنیو چارو د وزیر او د ډنمارک د صدراعظم اندرس فوک راسموسن[۲۵۶] و ډېر وزن درلودي.

ډنمارک د پخوا څخه علاقه درلوده چې د امریکا څخه د صدام د رژیم په وړاندې ملا تړ وکړي. په ۱۹۹۸ زکال کله چې امریکا د الوتکو په واسطه د عراق مهم مرکزونه بمبارد کړل چې پلمه یې د ملل متحد د اټومي وسلو پلټونکو ایستل د عراق څخه وه، د هغه وخت د ډنمارک د صدراعظم پاول نیوروپ[۲۵۷] له امریکا څخه ملاتړوکړی. په هغه وخت کې د بهرنیو چارو وزیر موګنس لوکه ټافټ[۲۵۸] له امریکا سره د ملاتړ څخه خوښ نه و، خو نوموړي تر یو کال لږ وخت د بهرنیو چارو وزارت دنده پر غاړه درلوده نو ځکه اغیزه یې لږ وه.

په غونډه کې کولین پاول د ډنمارک د بهرنیو چارو وزیر پیر سیتی میولر[۲۵۹] سره د ټلیفون دایمي کرښه جوړه کړه . پیر سیتی میولر ته یی وویل چې هر وخت کولای شي کولین پاول ته د کار ځای او کور ته ټلیفون وکړی. او په دې ډول د کوپنهاګن او واشنګټن تر منځ د ټلیفون د اړیکو دایمي لین پرانیستل شو.

د ډنمارک د بهرنیو چارو وزیر وایي چې د ټلیفون دغو اړیکو تر یو کال پورې ښه پایلې درلودې. د ډنمارک د بهرنیو چارو وزیر د امریکا د امنیتي مشاورې کونډولیزا رایس[۲۶۰] سره هم لیدنه وکړه. د بحث موضوع همدغه وه، په غونډه کې د ډنمارک سفیر په امریکا کې اولریک فیدرسفیل[۲۶۱] هم په غونډه کې

---

[۲۵۶] - Anders Fogh Rasmussen

[۲۵۷] - Poul Nyrup Rasmussen

[۲۵۸] - Mogens Lykketoft

[۲۵۹] - Per stig Møller

[۲۶۰] - Condoleezza Rice

[۲۶۱] - Ulrik Federspiel

حاضر وو. د ډنمارک سفير پوهيدي چې د امريکا دلچسپي د ډنمارک سره په دی خاطر ډيره ده چې ډنمارک د اروپا د ګډ بازار مشرتوب په غاړه لري. کله چې د ډنمارک د بهرنيو چارو وزير د ۲۰۰۲ زکال د جولای پر (۵) کورته راورسيدی، د پارلمان د بهرنيو اړيکو کميسيون ته يي د خپل ملاقات په اړوند معلومات ورکړی خو په دغه وخت کي د عراق موضوع د ډير بحث وړ نه وه. په دغه غونډه کې د بهرنيو چارو وزير د منځني ختيز د سولې په اړوند خبري وکړي. خو د عراق موضوع هم ژر رامنځته کيدل.

د انګليستان حکومت ته د عراق په اړوند د امريکا نظر د ۲۰۰۲ زکال د جولای په مياشت کې ورکړل شو.

د انګليستان د څارګرې اداري مشر ريچارد ډيرلو[۲۶۲] واشنګټن غونډې څخه ولاړي او د جولای په(۲۳) نيټه د انګلستان صدراعظم تونی بلير[۲۶۳] دفاع وزير جيوفری هون[۲۶۴] بهرنيو چارو وزير جک سټرا[۲۶۵] او د حکومت مشر حقوقي مشاور لارډ ګولډ سمت[۲۶۶] ته معلوما ت ورکړي. دا رپورټ محرم و خو په ۲۰۰۵ زکال کې سنډی ټايمز تقريباً دري کاله وروسته د عامه په خبرتيا ورساوه يانې خپور يي کړی.

د رپوټ په پيل کې ليکل شوی وو، چې دا رپوټ اشد محرم دي، کاپي بايد نه شي او يوازي هغه چاته وښودل شي چې په محتوي باندي يي پوهيدل ورته اړين وي.

په رپوټ کې داسې راغلي وو:

« د اربښت نه ډکه ده چې موږ خپل لوري ته بدلون ورکړي. د پوځي عملياتو اجرأ کول اړين شوی دي. بوش غوښتنه درلوده چې صدام حسين ليري کړي. د ترهګرو او د ورانونکو وسلو درلوونکي سره د عدالت په ژبه چلند وشي، څارګرې واقعيتونه او سياست سره برابردي.

---

- Richard Dearlove[۲۶۲]
- Tony Blair[۲۶۳]
- Geoffrey Hoon[۲۶۴]
- Jack Straw[۲۶۵]
- Lord Goldsmith[۲۶۶]

د امریکا د امنیت ملي شورا زغم نه درلود چې د ملل متحد د لاري اجرأت وکړي او هیڅ علاقه یی نه درلوده چې د عراق د رژیم په اړوند د راټول شوو معلوماتونو تاریخ د عامه پوهاوي له پاره خپور کړي. په واشنګټن کې د پوځي عملیاتو د پایلو په اړوند هیڅ بحث و نه شو. لارډ ګولډ سمت مشر حقوقو پوه د رپوټ تر لوستلو وروسته وویل چې د صدام حسین د منځه وړل چې پایله یې د رژیم بدلون وي او د جګړې په واسطه دا کار تر سره شي کوم حقوقي مشروع بنسټ نه لری.

د انګلستان د بهرنیو چارو وزیر جک سټار هم د جګړې پیل کول مشروع چاره نه ګڼله نو وړاندیز یې وکړی چې یوه سیاسي مانوره باید تر سره شي چې جګړې ته عادلانه بڼه ورکړي.

بوش پریکړه کړی وه چې جګړه پیل کړی خو د جګړې د پیل نیټه یې ټاکلې نه وه خو د جګړې د پیل بنسټ کمزوری و. صدام حسین خپل ګاونډیان تهدید کړي نه وو، د ورانکاري وسلې یې د لیبیا، شمالي کوریا او ایران په پرتله لږ او کمزوري وي. جک سټار وویل چې موږ به صدام حسین ته اخطار ورکړو او د ملل متحد د ادري د اټومي وسلو پلټونکو راتلو ته منتظر شوو چې لږ تر لږه د جګړې د پیل د پاره دلایل پیدا شي. د انګلسیتان صدراعظم تونی بلیر د نظر سره همږغی و. د رپوټ څخه معلومیږي چې توني بلیر ارزونه کړی وه، که صدام حسین د ملل متحد د اټومي وسلو پلټونکو ته اجازه ورنه کړي نو دسیاسي او حقوقي لحاظه ډیر ارزښت لري. د رژیم بدلون او د اټومي وسلو درلودل یو د بل سره تړاو لري، په دی مانا چې دا د صدام رژیم و چې اټومي وسلې یې جوړولې. د لیبیا او ایران له پاره بله ستراتیژي وه. که چیري سیاسي لیکنې درستي وي نو د خلکو ملاتړ به هم وي چې رژیم ته بدلون ورکړل شوی وای. دوې پوښتنې مطرح وي: پوځي عملیات بریالي کیږي؟ او دوهم موږ داسې سیاسي ستراتیژي لرو چې پوځي عملیات اغیزمن وي؟ تر غونډې وروسته توني بلیر د دفاع وزارت لوی درستیز مایکل بوایس۲٦۷ته هدایت ورکړی چې د عراق پر ضد د جګړې مفصل پلان جوړ کړي.

که د توني بلیر او جک سټار د خبرو محتوي په غونډه کې ولوستل شي، څرګنده به شي چې د دوي د خبرو پایله دا وه چې د اټومي وسلو پلټونکې یوازي د جګړې د پیل د مشروعیت له پاره وکارول شي نه دا چې د جګړې امکان د منځه یوسي.

---

۲٦۷- Michael Boyce

د بلې خوا توني بيلر هر وخت په خبرو کې ويل چې انګلستان به ځان پرصدام باندې د بريد له پاره مکلف ونه ګڼي مخکې له دی نه چې صدام ته دا چانس ورکړل شي چې اټومي ورانوونکي وسلې له منځه يوسي او توليدول يي منع کړي. د سندې ټايمز[٢٦٨] مضمون په غبرګون کې توني بلير ومنل چې په ٢٠٠٢ زکال کې د حکومت د لوړپوړو چارواکو سره د صدام د ليري کولو له پاره مشورې کړی وي.

توني بلير وويل چې: البته هر وخت سړی فکر کوي، که په سوله ايزه توګه موخې ته و نه رسيږو نو به څه کوو؟ نوموړی اضافه کوی چې دا درسته نه ده چي ما، توني بلير او زما دحکومت غړو په غونډه کې پريکړه کړی وه.

واقعيت دا دی چې د انګلستان حکومت ارزونه دا وه چې امريکايانو پريکړه کړي ده چې صدام حسين په پوځي عملياتو له منځه يوسي. اوس نو اړينه وه چې د جګړې د پيل له پاره درست دلايل پيدا شي، په دغه خاطر توني بلير هڅه کول چې د ملل متحد داسي پريکړه لاسته راوړي چې صدام حسين ته اخطار ورکړي چې د اټومي وسلو پلټونکو ته اجازه ورکړي تر څو په ازادانه توګه په عراق کې کار وکړي. که د عراق ديکتاتور دا کار ونه کړي نو دا به په دی مانا وي چې د ملل متحد پريکړه نه مني نو په دی صورت کې به د انګليستان او امريکا د جګړې پلمه جوړه شي.

د جورج بوش د ٢٠١٠ ز کال په کتاب (د کتاب نوم:انتقادي پريکړې) کې ليکل شوی دی چې بوش دري مياشتي مخکي ( د ٢٠٠٢ زکال په اپريل کې) د توني بلير سره پر دغه ميتود خبري کړي وي. دا بحث ياني د (جبر ديپلوماسي)[٢٦٩] هغه وخت د جورج بوش او توني بلير په مينځ کې شوی وي کله چې توني بلير د بوش د ليدلو له پاره امريکا ته تللی و. دغي ديپلوماسي دوه جهته درلوده:

ـ لومړی برخه يی دا وه چې داسي يو اتحاد د نړيوالو څخه رامنځته شي چې صدام حسين ته په ډاګه شي چې يوازي دي.

ـ دوهمه برخه يي دا وه چې بايد يو باوري پوځي قوت راټول شي. که صدام حسين د بوش ټوله غوښتنې و نه مني بايد ستونزه په دغه پوځي قوت حل شي.

---

[٢٦٨] - Sunday times

[٢٦٩] - Coercive diplomacy

بوش وايي چې توني بيلر په ډېره دقيقه توګه دا غوښتنې په لاندې ډول فورمول بندي کړي:

« توني بيلر وويل چې موږ به د ملل متحد دلاري داسي بنديزونه پر صدام ولګوو چې د څرګند التيماتوم بڼه ولري، غوښتنه به دا وي: د ملل متحد د اټومي وسلو پلټونکو ته اجازه ورکړه چې عراق ته راشي او که نه ستا دا کړنه به د جدي غبرګون سره مخ شي.»

بوش پرته د شرطونو د توني بلير د وړانديزونو سره همږغي نه و. نوموړي وويل چې دا وړانديز لنډه لار نه ده. بوش په خپل کتاب کې ليکي چې:

« زه د امنيت پر شورا زيات باور نه لرم ځکه ملل متحد شپاړلس ځلي دا ډول پريکړي کړي دي خوکومه ګټه يي نه ده کړي خوزه بيا هم هوکي وايم چې پر دغه ميتود به هم فکر وکړم.»

د پاملرني وړ داده چې چې څو مياشتي وروسته د ۲۰۰۲ زکال د جولای په مياشت کې د انګريزي حکومت برداشت داسي و چې بوش د جګړې پريکړه مخکي کړی ده. خو يوازي د څو محدودو پلمو د پيدا کولو له پاره کار کيږي. بوش په خپل کې کتاب کې ليکي چې ما تر دغه ګړي پوري د جګړې وروستۍ پريکړه نه وه کړي. د دغه دليل د اثبات له پاره د امريکايي ژورنالست باب وډ ورډ[270] کتاب چې ( دبريد پلان)[271] [illegible] ته اشاره کوي.

باب وډورډ د جګړې په اړوند د سپينې ماڼې د ډيرو مهمو مرکزي کسانو سره مرکې کړي وي اوليکي:

د قدرت مبارزه وه. په يوه لوري کې د ولسمشر مرستيال ديک چينې[272] د دفاع وزير ډونالډ رومزفلډ[273] چې د جګړې د پيل پر اړتيا يې ټينګار کولو.

---

- Bob Woodward[270]

- Planof Attack[271]

- Dick Cheney[272]

- Donald Rumsfeld[273]

په بل لوري کې د بهرنيو چارو وزير کولين پاول[۲۷۴] چې د ستونز حل يې د ديپلوماتيکو لارو او دامکان په صورت کې د ملل متحد له لياري غوښتي، وروستۍ حل يي جګړه ګڼل. ولي جورج بوش تر دغه ګړی پریکړه نه وه کړی.

خو بيا هم د انګلستان ارزونې ښودله چې د بوش حکومت د ۲۰۰۲ زکال په وړي کې د جګړې پريکړې ته نژدي وو. د امريکا او انګليستان له پاره په راتلونکو څو مياشتو کې عمده دنده دا وه چې په ملل متحد کې د غښتلو هيوادونو ملاتړ تر لاسه کړي تر څو د صدام حسين په مقابل کې د سختو اقداماتو ملاتړ وکړي. په بحثونو کې هميشه د ايران د حکومت پر بدلون بحث کيدي چې د بوش نوښت نه و. په حقيقت د امريکا سياسي پاليسي د تير ولسمشر بل کلينتون په وخت کې هم دا و.

په ۱۹۹۱ زکال کې د امريکا تر مشري لاندي د عراق پر ضد پو ځي عمليات وشول تر څو د کويټ د اشغال څخه لاس پر سر شي. لويديزې نړۍ تر جګړې وروسته پر عراق باندې اقتصادي بنديزونه وضع کړل او ورسره يي د عراق په شمالي او جنوبي برخو کې د الوتکو الوتنه منع اعلان کړه. په همدغه وخت کې نړيوالو پريکړه وکړه چې د عراق د وسلو صنايع وپلټل شي خو د دغه سره جوخت د ملل متحد ادارې په ټينګه وغوښتل چې د عراق اټومي وسلې بايد کنترول شي او د کيمياوي وسلو ګدامونه بايد له منځه يوسي. ولې د وسلې د کنترول هغه وخت موضوع تر سخت فشار لاندې راغلل چې صدام حسين د ملل متحد د اټومي وسلو د پلټلو هيت په ۱۹۹۸ زکال کې د عراق څخه ويستل. برسيره پر دي چې د عراق يو شمير تاسيسات امريکايانو بمبارد کړل، د امريکا کانګرس يو قانون تصويب کړی چې د بل کلينتن لخوا لاسليک شو. دغه قانون دا امکان برابر کړي چې د عراق اپوزيشن ته پوځي مرسته زياته کړي او د امريکايانو سياست يي دوباره د عراق پرضد تحريک کړی. نو په دغه وخت کې موخه داسې وټاکل شوه چې: « هڅې بايد ګړندی شی چې د صدام حسين رژيم له منځ يووړل شي او پر ځای ډيموکراسۍ منځته راوړل شي.» د رژيم د بدلون ستونزه دا وه چې د ملل متحد په هيڅ پريکړه کې داسې دلايل موجود نه وو چې امريکا ته حقوقي واک ورکړي تر څو د صدام رژيم ته بدلون ورکړي، د دي کار له پاره بايد نور دلايل رامنځته شوی واي.

---

[۲۷۴] - Colin Powel

د ۲۰۰۲ زکال د جولای په میاشت کې په واشنګټن کې د جګړې تیاری نیول کیدي. جورج بوش د، ټی ای ای[۲۷۵] چې بنډولو د پټو عملیاتو اسناد لاسلیک کړل. دا عملیات د معلوماتونو د راټولولو او په عراق کې د سرچینو سره اړیکې نیول په بر کې نیول. دغه ډیر فعالیتونه د دی سبب شول چې واشنګټن پوست او نیویارک ټایمز د خپلو ورځپاڼو په لومړیو مخونو کې لوی مضمونونه خپاره کړه، سره د دي چې د سپینې ماڼۍ سرچینو رد کړل چې د جورج بوش پر میز باندې د جګړې پلان پروت دي.

په حقیقت کې جنرال ټومي فرانک[۲۷۶] د ۲۰۰۲ زکال د سپټمبر د یولسمې نیټې نه وروسته د جورج بوش په هدایت پر عراق باندي د احتمالي برید په اړوند امکانات ارزول. د ۲۰۰۱ زکال په ختم تر کرسمس وروسته جنرال ټومي فرانک جورج بوش ته د جوړشوي پلان په اړوند معلومات ورکړي. په پلان کې ۳۸۰۰۰۰ سرتیري په نظر کې نیول شوی وو چې د ترتیبولو له پاره یي شپږ میاشتې وخت ته اړتیا و. دغه پلان د بهرنیو چارو د وزیر کولین پاول (د پاول دوکتورین) چې ځلور ستوري جنرال او یووخت د امریکا لوی درستیز و او د عراق د ۱۹۹۱ زکال په جګړه کې په کار اچولي وه، ادامه وه. د کولین پاول په دوکتورینو کې راغلي وو چې د جګړې په وخت کې باید د ډیر قوت څخه کار واخیستل شي تر څو دښمن ډار شي او په لنډه موده کې تسلیم شي.

ولې د دفاع وزیر ډونالډ رومز پیلډ خپلو دوکتورینو ته پرمختګ ورکولو کوم چې په افغانستان کې ژر بریالیتوب ته ورسیدي. نوموړي داسې نظر درلود چې د ډیرو سرتیرو په بدل کې باید موډرنه وسلې خو لږ سرتیري په کار واچول شي. د بوش، رومزفیلډ او جنرال ټومي فرانک لسګونې غونډې جوړې شوي تر څو یو سنجل شوی پلان چې د دوهم کبرا ۲[۲۷۷] نوم یي ورکړ، جوړ شو.

دا یو مختلط پروګرام و چې په اعظمي ډول باید د نړیوالو ګډو ځواکونو څخه د ۲۱۰۰۰ سرتیرو په حدود کې کار واخیستل شي. نظر داسي و چې زیات ځانګړي ځواکونه باید اهداف تشخیص د الوتکو او نورو درنو وسلو په واسطه بمبارد شي نو په دغه خاطر به پر

- CIA[۲۷۵]
- General Tommy Frank[۲۷۶]
- Cobra 2[۲۷۷]

مځکه ډېرو سرتیرو ته اړتیا نه وي.

په پلان کې راغلي و چې جنرال ټومي فرانک مخکې له دې نه چې ټول ځواکونه د عراق په شاوخوا کې ځای پر ځای شوی وای، باید برید پیل شوی وای. دغه عملیات باید بیړنی برید وي چې د جنوب څخه د کویټ، د لویدیز څخه د سعودي عربستان او د شمال څخه د ترکیې له لارو پیل شي.

وروسته جنرال ټومي فرانک بیان کړل چې موږ به پوځونه سیمې ته هغه وخت ولیږو کله چې موږ دغه مرحلې ته ورسیږو. دا به هغه وخت وي چې پوځونه دومره اغیزمن وي چې صدام حسین له منځه یوسي، موږ به یې هم پیل کړو.

د جنرال ټومي فرانک له خوا څو ځله ولسمشر جورج بوش ته د جګړې د پلان په اړوند د (۲۰۰۱ ډیسمبر ـ ۲۰۰۲ اګست) موده کې معلومات ورکول شو. جورج بوش هیڅوخت د پلان څخه راضي نه وه، نو ځکه جنرال به یې د پلان د اصلاح کولو له پاره ولیږي.

خو کولین پاول د بهرنیو چارو وزیر هر وخت دا اندیښنه درلوده چې د جګړې له پاره تیاری نیول کیږي خو هیڅوک دا سوچ نه کوي چې کیدای شی موږ په منځني ختیز کې ګډوډي رامنځته کړو. نوموړي د ولسمشر څخه د یوې خصوصي ناستې غوښتنه وکړه. نوموړي ته د دغه ملاقات وخت د ۲۰۰۲ زکال د اګست پر (۵) نیټه د ماښام له خوا وټاکل شو خو په غونډه کې امنیتي مشاوره، رایس هم حاضره وه.

د باب ورډ د کتاب د لیکنو پر آساس، د بهرنیو چارو وزیر کولین پاول ځینو مهمو ټکو ته اشاره وکړه چې په دې لړ کې دایی هم وویل چې کیدای شي پر عراق باندې برید د ځینو ارامو عربي هیوادونو حالات هم کړکیچن کړي د بیلګې په توګه سعودي عربستان، مصر او اردن او دغه ګډوډې به د دی باعث شي چې په ډراماتیکه توګه به د تیلو پر تولید او بیې باندې اغیزه وښندي. کولین پاول دا هم وپوښتل چې د صدام حسین تر سقوط وروسته به څه کیږي او موږ به بریالیتوب څنګه تشریح کوو؟

کولین پاول وویل: ته به په ویاړ د (۲۵) میلیونو خلکو درلوونکي اوسئ، ته به د دوي ټول امیدونه او ستونزې ولري او په تأکید یي علاوه کړل چې عراق هیڅوخت ډیموکراسې نه درلودل. باید وپوهیږي چې دا کوم هواخوري او د ځنګله چکر نه دي.

ولسمشر غوږ نیولي و، پوښتنې یې کولې خو د ردولو له پاره یې دلایل نه ویل.
په پای کې د بهرنیو چارو د وزیر څخه وپوښتل: څه باید وکړم؟ او یا څه باید وشي؟

کولین پاول په ځواب کې وویل چې پوځي برید پر صدام حسین باید نړیوال ملاتړ د ځان سره ولري نو ډېره مهمه ده چې هڅه وشي تر څو د ملل متحد ملاتړ تر لاسه شي.

جورج بوش تلاښ پیل کړي چې د ملل متحد پښه په موضوع کې دخیله کړي او په همدي وخت کې د وړي د روخصتي د تیرولو له پاره خپل استراحت ګاه [۲۷۸] تکساس ته ولاړی. د ولسمشر مرستیال ډیکچیني [۲۷۹]ټوي بدلون څخه راضی نه و. د ملل متحد ګډون، ډیپلوماسي، حوصله او ورته خبري ډیکچني په غوصه کړی وه. دا چې جورج بوش په رخصتی کې و، ډیکچیني په عامه غونډه کې د ۲۰۰۲ زکال د اګست پر (۲۶) نیټه د

عراق په اړوند د بوش په پرتله ډیر پرمختګ وکړی. د ملي کانګرس په غونډه کې د امریکایي جنګي اتلانو له پاره په کلا[۲۸۰] چې د وینا کولو میز ته جګ شو، وویل: «لنډه خبره داده» صدام حسین د عمومي ورانۍ وسلې لري چې په دی کې هیڅ شک نه شته. صدام حسین دغه وسلې ټولوي او غواړی چې زموږ د دوستانو، متحدینو او زموږ پر ضد یې استعمال کړي.

فقط دوې اونۍ وروسته د ډنمارک صدراعظم اندریس فوک غاسموسن په خپل خبرو کې دغومره مطمین و لکه ډیکچیني چې په خپل وینا کې ډاډه وه. د بهرنیو چارو د یو کمیسون په غونډه کې صدراعظم اندریس فوک غاسموسن [۲۸۱] وویل: « زه ډیر لږ شک هم نه لرم، صدام حسین د عمومي ورانۍ (اټومي) وسلې لري او غواړي چې تولید یې هم کړی. د دغه ډول کړونو سره نړۍ بې تفاوته پاته کیدای نه شي.»

پو ښتنه وشوه چې صدراعظم په کومه کچه د دغه ادعا د اثبات له پاره اسناد لري؟ بیا هم صدراعظم په ځواب کې وویل چې زه په خپله وینا کې هیڅ شک

[۲۷۸] - Ranch i Crawford
[۲۷۹] - Dick Cheney
[۲۸۰] - Nashville
[۲۸۱] - Anders Fogh Rasmussen

نه لرم. صدراعظم علاوه کړه چې: « دا به د حیرانتیا ځای وی چې صدام حسین دغه ډول وسلې ونلري ځکه مخکې نوموړی استعمال کړی دی.» ولې د بهرنیو چارو وزیر پیر ستی میولر[۲۸۲] په خبرو کې د احتیاط څخه کار اخیستی. هر څوک حق لری چې بیل نظر ولری خو شواهد باید په ښاري محکمه کې وساتل شي.

د صدام حسین امنیتي چارواکو په ۱۹۸۰ زکلنو کې د کوردانو پرضد زهري گاز استعمال کړي و او همدا ډول دیکتاتور په ۱۹۸۰ زکلونو کې د ایران او عراق په جگړه کې زهري گاز استعمال کړي. مگر مخکې چې د ملل متحد څیرونکی په ۱۹۹۸ زکال کې وشړي، ډیرې وژونکې وسلې یې له منځه یوړي.

د بهرنیو چارو وزیر پیر ستی میولر وویل: « د گډ بازار هیوادونو نظر دادی چې په بیړه همدا اوس نړیواله ټولنه د ټولو امکاناتو څخه گټه پورته کړي چې د ملل متحد څیرونکي هیت بیرته عراق ته پریښودل شي، لکه د ملل متحد اداره چې په خپلې پریکړه کې همدا غوښتنه لري.د بهرنیو چارو وزیر اضافه کړل چې زه په دقیقه توگه نه وایم، که د ملل متحد د اټومي وسلو څیړونکو ته و عراق ته د ننوتلو اجازه ورنکړل شي، څه به پیښ شي؟
د خلکو سوسیالیست گوند[۲۸۳] مشر هولگر ک. نیلسن[۲۸۴] د بهرنیو اړیکو د کمیسون غړو په حیرت سره وویل چې صدراعظم د کومو دلایلو په اساس په دومره مطمینه توگه ادعا کوي چې صدام حسین خطرناکه وژونکي وسلې لري.

د خلکو سوسیالیست گوند مشر هولگر ک. نیلسن وویل:

« ممکن صدراعظم دا ډول خبري د خبرلوڅو او عامه افکارو د خوښي له پاره کړی وی. دا خبره نوی هم نه ده چې صدراعظم همیشه دعوه لري چې شواهد او اسنتاد شتون لري. دا ډول خبرې جدي سیاست نه دي. موږ د یوې ډیرې مهمې موضوع په اړوند ږغیږو، مخکې تر دي چې موږ عملیات پیل کړو، باید ډیر موثق اسناد او قوي شواهد د ټولو په مخکې پراته وي.»

---

[۲۸۲] - Per Stig Møller
[۲۸۳] - SF
[۲۸۴] - Holger K. Nielsen

په همدغه ورځ جورج بوش او د نوموړي پوځي لوړپوړو چارواکو د جنرال ټومي فرانکس۲۸۵په ګډون د جګړې د پرمختګ د پلان په اړوند لنډ معلومات وړاندي کړي. د

وډ وارډ ۲۸٦کتاب د معلوماتو پر بنسټ، جنرال ټومي فرانکس د سپینې ماڼې په دغه غونډه کې ډیر مهم معلوماتونه وړاندي کړل.

« ټومي فرانکس وویل: ښاغلي ولسمشر! موږ په تیرو لسو کلونو کې د ورانوونکو او ډیرو ویجاړونکو وسلو پلټنه وکړه خو تر اوسه مو په هیڅ ځای کې دا ډول وسلې نه دی موندلي. نو ځکه زه ویلای نه شم چې زه خبر یم چې چیرته به کومې ځانګړې وژونکي وسلې شتون ولري.»

خو دا خبرو هم پر ولسمشر کومه اغیزه و نه کړه چې د جګړې د تیاري سرعت لږ کړي. مهمه دا وه چې تر دی نه زیات باید ملل متحد په موضوع کې ورګډ شي. په غونډه کې د بهرنیو چارو وزیر کولین پاول او د ولسمشر مرستیال دیک چیني یو د بل په مقابل کې ودریدل. پاول غوښتل چې د ملل متحد له لاری هر څه تر سره شي خو چیني د ملل متحد ګډون غیري اړین او دوخت ضیاع ګڼل. ولسمشر د جنرال ټومي فرانکس سره تر غونډې یوه ورځ وروسته د انګلیستان د صدراعظم، توني بلیر سره مفاهمه وکړل. توني بلیر د جګړې ستراتیژي د خپلو مسولو چارواکو د هغې غونډې پربنسټ چې د جون په میاشت کې جوړه شوی وه، مطرح کړل. یانې که د صدام حسین پر ضد جګړه پیل کیږي باید د ملل متحد ملاتړ ولري. د انګلسیتان صدراعظم، توني بلیر د خپل ګوند، لیبر د غړو تر سخت فشار لاندي و. هغه دا چې هر ډول پوځي حرکت د صدام حسین پر ضد باید د ملل متحد ملاتړ ولري.

ولسمشر بوش او توني بلیر غونډه وکړه او بلیر خپل وروستۍ پریکړه اعلان کړل چې د ملل متحد د لاری به مخته ځي او د نوي بندیزونو لپاره به هڅې چټکې کړی. په بدل کې جورج بوش پر انګلیسانو فشار راوړ چې د اړتیا په صورت کې به د دیکتاتور صدام حسین پر ضد جګړه پیل کړی.

بلیر و جورج بوش ته وویل: زه ستا تر شاه ولاړیم.

---

- Tommy Franks۲۸۵
- Woodward۲۸٦

وعده وشول خو دواړو په شفاهي توګه قرار کښیښود. بوش به هڅه وکړي چې د ملل متحد څخه د جګړې د پیل ملاتړ تر لاسه کړي. تونې بلیر به د امریکایانو سره د جګړې په ډګر کې د سرتیرو مرسته وکړی.

تر غونډې وروسته جورج بوش انګلیسانو ته وویل: « ستاسو سړی په رښتیا نارینه دی.»
دوي ورځي وروسته د سپټمبر پر (۹) نیټه جورج بوش د ډنمارک صدراعظم اندرس فوک غاسموسن[۲۸۷] ته تلیفون وکړی. د ډنمارک صدراعظم د نړۍ د مشرانو یو اوږد لیست بوش ته ورکړی چې باید بوش ټلیفوني اړیکې ور سره ونیسي. بوش وویل چې هڅه به وکړي

چې د ملل متحد دامنیت شورا ملاتړ خپل کړي تر څو نوی سخت بندیزونه وضع کړي تر څو د جګړې له پاره لاره هواره شي. د نړۍ مشران باید د ملل متحد د عمومي غونډې له پاره د ۲۰۰۲ زکال د سپټمبر پر (۱۲) نیټه په نیویارک کې راغونډ شي. یوه ورځ وروسته به د سپټمبر د یولسمې نیټې د ترهګریز برید په اړوند، د قربانیانو په یاد ډیر شانداره مراسم ونیول شي. د ډنمارک صدراعظم د ملل متحد د عمومي غونډې لومړی ویناکوونکي و چې د ګډبازار په استازیتوب یي هم وینا کول نو ځکه د بوش له پاره د ډنمارک د صدراعظم سره ټلیفوني خبرو ډیر ارزښت درلودی.

اندرس فوک غاسموسن تر ټلیفوني خبرو وروسته د عوامو د خبرتیا له پاره اعلان کړل: « ما د جورج بوش څخه ملاتړ اعلان کړ چې د ملل متحد د لاري د نړیوالو ملاتړ تر لاسه کړي تر څو صدام حسین تر فشار لاندې راوستل شي. د ملل متحد د اټومي وسلو څیړونکو ته باید پرته د قید اوشرط او ټاکلي سرحد څخه د څیړنې اجازه ورکړي. ما د امریکا د ولسمشر سره په خبرو کې ټینګار وکړی، که صدام حسین د ملل متحد غوښتنې عملي نه کړی، کیدلای شي چې د زور د وسایلو څخه د ملل متحد د امنیت د شورا په ملاتړ هم کار واخیستل شي.

- Anders Fogh Rasmussen[۲۸۷]

کله چې د ملل متحد عمومي غونډه د سپټمبر په (۱۲) نیټه پرانیستل شول، اندریس فوک غاسموسن د انتظار څخه لیري او د حیرت وړ مرکه د خبري سرویس، ریټرز بیرو[۲۸۸] سره و کړه:

« زه فکر کوم پر صدام حصین باندی د برید د پیل له پاره به د ملل متحد د امنیت د شورا له خوا نوي بندیزونو ته هیڅ اړتیا نه وي. د سیاسي پلوه دا ډول بندیزونه یوه غوښتنه وه خو کوم رغنده رول نه لري. د ډنمارک صدراعظم زیاته کړه چې:

« زه په ټینګار وایم چې صدام حصین همدا اوس د ملل متحد ډیرې غوښتنې او پریکړې رد او ماتې کړی دي، په یقین سره باید دا ډول کړنو ته په یو یا بل ډول غبرګون وښودل شي. دا ډول کړنې د ملل متحد اوتوریتې ته سخت زیان رسوي چې د ملل متحد پریکړې داسې ګڼې چې اورېدلې نه دی. په داسي حالاتو کې یو یا بل ډول غبرګون ښودل اړینه چاره ده.»

د ډنمارک د صدراعظم څخه یو ځل بیا د ویجاړونکو(اټومي) وسلو د اسنادو او کره شواهدو په اړوند وپوښتل شول، خو نوموړی وویل: « زه هم فکر کوم چې دا به ډیره ګټوره وي چې داسې اسناد د عامه خبرتیا له پاره خپاره شي چې په عراق کې څه جریان لري چې موږ او تاسو ټول ورباندې خبر یوو. موږ تجربه لرو چې صدام حصین د خپلو حریفانو پر ضد کیمیاوي وسلې وکارولې. موږ پوهیږو چې صدام حصین غوښتل او غواړي چې د خپل دښمنانو پر ضد دا ډول وسلې وکاروي نو ځکه نوموړی یو خطرناکه سړی دی او نوموړي د نړې د سولې له پاره هم خطرناکه دي.»

تر ټولو په زړه پوري دا وه چې اندرس فوک غاسموسن ادعا درلودل چې جګړه پرته د ملل متحد د نویو سختو بندیزونو د لګولو څخه چې بوش او بلیر ورته هڅې کولې، عادلانه ده.

د ډنمارک صدراعظم د امریکا او انګلیس د مشرانو په پرتله د ملل متحد د راتلونکي احتمالي بندیزونو د غیري اړینتوب په اړوند ډیر مخ ته ولاړي. په ځانګړي ډول دنوموړی په رسمي ویناو کې په څرګند ډول ښکاري. اوس د اندریس فوک غاسموسن له نظره د ملل متحد مخکې پریکړې او د بندیزونو

---

[۲۸۸] - Ritzaus Bureau

وضع کول کافي وه ځکه همدغو پريکړو اجازه ورکول چې په نړۍ اوسيمه کې د امنيت او سولې د ټينګښت له پاره د هر ډول اړينو لارو او وسايلو څخه بايد کار واخيستل شي.

د ډنمارک صدراعظم خپل دليل وړاندي کوي چې: « د ملل متحد ۶۷۸ نمبر پريکړه چې په ۱۹۹۰ زکال کې وشول، اجازه يې ورکړه چې د دغه پريکړې د عملي کولو له پاره کيدلای شي چې د زور څخه کار واخيستل شي تر څو د پريکړي عملي کول مطمين کړي. همدغه پريکړه د وخت د حکومت له پاره اساس و چې په ۱۹۹۸ زکال کې د صدام حصين پر ضد په بريد کې ګډون وکړي، پرته له دی نه چې د نوي پريکړې غوښتنه وکړي. د ملل متحد په ۶۷۸ نمبر پريکړه کې په کافي کچه دبريد کولو صلاحيت شتون درلود.»

په ۱۹۹۱ زکال کې د ګالف ټل[۲۸۹] جګړې وروسته ملل متحد يو بله (۶۸۷) نمبر پريکړه هم وکړه. په پريکړه کې د عراق او ښکيلو متحدو هيوادونو تر مينځ اوربند تاييد شوو او عراق ته لارښوونه وشوه چې ټولې ويجاړونکې وسلې له مينځه يوسي. په همدې توګه په پريکړه کې د ملل متحد پخوانی (۱۳) پريکړې هم يو ځل بيا د اعتبار وړ وګڼل شوي چې (۶۸۷) نمبر پريکړه هم په کښې شامله وه. دغه دوې پريکړې وې چې بوش او بلير غوښتل د نوې پريکړې په واسطه يې بشپړي کړي.

جورج بوش د ملل متحد په عمومي غونډه کې په خپل وينا کې وويل چې: «نړيوالې ټولنې د عراق د ديکتاتور، صدام حصين په مقابل کې تر حد زيات زغم وکړ. نړيوالې ټولنې پر صدام حصين بنديزونه ولګول خو صدام حصين د ټولو تلاښونو په مخ کې خنډونه جوړول او وژونکو (اټومي) وسلو جوړولو ته دوام او پرمختګ ورکوي.»

د بوش وينا نمبر (۲۴) وه چې د بوش د اړوندو لوړپوړو چارواکو له خوا منظور شوی وه. ولې په يو يا بل دليل وينا بشپړه نه وه. په دغه خاطر هغه مهمه جمله چې امريکا د ملل متحد څخه د نوي پريکړې غوښتنه لري، په وينا کې و نه لوستل شول. د امريکا د بهرنيو چارو وزير کولين پاول حيران شو چې ولې

---

[۲۸۹] - Golf

جورج بوش دغه مهمه جمله و نه لوستل ځکه پاول د دغې جملې د ځایولو له پاره د بوش په وینا کې ډېر زحمت کښلی و.

ولسمشر بوش خپل غلطی ته متوجه شو او د وینا په وروستۍ برخه کې اضافه کړل چې:

«موږ به د ملل متحد د امنیت د شورا سره په ګډه کار وکړو چې اړینه پریکړه وکړو» نو موږی په ټینګه وویل چې: « د امنیت د شورا پریکړه باید د پرنسیپ او قانون بڼه ولري. د سولې او امنیت عادلانه غوښتنه باید عملي شي، پرته له دی نه د عملیاتو کول ناممکنه بریښی. هغه رژیم چې خپل قانوني شتون د لاسه ورکړي نو واک به هم د لاسه ورکړی.»

کله چې د ډنمارک صدراعظم د ګډ بازار د هیوادونو په استازیتوب د ملل متحد په عمومي غونډه کې وینا کول، ویی ویل چې عراق بیله قید او شرط څخه ځومره موده چې د ملل متحد پلټونکي هیت غواړي، اجازه ورکړي چې د ملل متحد د پریکړو پر بنسټ پلټنې وکړي.

اندرس فوک غاسموسن زیاته کړه چې: « موږ د امریکا سره همږغي یوو چې د ملل متحد هغه پریکړې چې عراق عملي کړی نه دي، په بیړه د ملل متحد دامنیت په شورا کې وارزول شي. موږ د ملل متحد دسرمنشي سره همږغي یوو، که عراق بیا هم خپلو کړونو ته دوام ورکوي، د امنیت شورا باید د خپل مکلفیتو پر بنسټ کړنې وکړي.»

ځلور ورځي وروسته د عراق مشرتابه ومنل چې د پلټنې هیت چې د عراق څخه په ۱۹۹۸ زکال کې ایستل شوی دی، کیدلای شی بیرته راوګرځي. په همدغه وخت کې امریکا او انګلیستان هم تلاښ کولو چې د نوې پریکړې په واسطه د ملل متحد ملاتړ تر لاسه کړی تر ځو د پلټونکې هیت له پاره نوی اساس وګرځي. د پریکړي متن به څه سخت ترتیب شي.

کله چې اندرس فوک غاسموسن د ۲۰۰۲ زکال د سپټمبر پر (۲۲) نیټه د خپل ګوند په سرتاسري غونډه کې بیا خپله پخواني وینا تکرار کړل، ویې ویل: « صدام حصین په عمل کې وښودل چې کیمیاوي وسلې لری او هم یې د استعمال غوښتنه لري. نور هم مخته ولاړ، اضافه یې کړل: نو ځکه موږ باید پر وخت اقدام وکړو. هلته به ډیر ناوخته وي چې زهرجن ګازونه او یا ناروغۍ زموږ په غټو ښارونو کې خپرې کړې.»

د ډنمارک صدراعظم وویل چې اټکل شوي اټومي وسلې د عراق څخه (۳۵۰۰) کیلومتره لیري پرتې دي، ولې تهدید لویدیزو هیوادونو او ډنمارک ته په دقیقه توګه متوجه دي.

د انګلیستان صدراعظم توني بلیر هم خپل د خبرو ډول تند کړی، دوي ورځې وروسته پارلمان ته په یوه وینا کې وویل چې یو سند دی چې د نړیوالو پاملرنه یی جلب کړی ده. د انګریزانو د څارګرې ادارې په قول عراق تلاښ کړی وو چې په لویه پیمانه یورانیم د افریقا څخه برابر کړي. یوازې لا دا نه بلکې عراق کولای شي په (۴۵) دقیقي کې اټومي وسله فیر کړي. دا خبر په رسنیو کې لویه هنګامه جوړه کړه چې یوې انګلسیي ورځپاڼې[۲۹۰] ټینګار وکړې چې ( ۴۵ دقیقي تر برید پوري) سرلیک لاندي مطالب خپاره کړه.

دا یو جدي ستونزه وه چې نه توني بلیر او نه هم اندرس فوک غاسموسن د خپلو ادعاو د اثبات له پاره کوم شواهد او اسناد وړاندي کړل. تر همدغه ګړی هیڅوک نه پوهیدل چې صدام حصین وژونکي وسلې درلودي که یا ؟ دغه فرضیه چې صدام حصین په (۴۵) دقیقو کې وسلې د استعمال له لپاره تیار او عمل کولای شي، که چیري د عراق په دننه کې جګړه پیل شوی وای. په هیڅ وجه یي مانا دا نه وه چې وسلې د نورو هیوادونو پر ضد کارولای شي او یا په زرګونو کیلومترو لیري هیوادونه تهدیدولای شي.

د امریکا څارګرې ادارې مشرجورج ټینیټ[۲۹۱] هم د ورکړه شوو معلوماتو په اړوند ډیره نیوکه درلوده خو ولسمشر جورج بوش د (۴۵) دقیقو موضوع د سپټمبر په میاشت په یوه راډیو یي وینا کې یاده کړه. وینا په لوړه کچه د انګلیستان د څارګرې ادارې پر اسنادو بناء وه. د بوش ارزونه دا وه چې: « دغه رژیم د اټوم بم په جوړولو اخته دی او د یوه کال په جریان کې به بمب جوړ کړي.»

د انګلیستان د بهرنیو چارو پخواني وزیر او په هغه وخت کې د پارلمان مشر رابین کوک[۲۹۲] هم ریپوټ ارزښت په درناوی قایل نه وو. نوموړي د خپل خاطراتو په کتاب کې لیکلي دي: « ما د عراق په اړوند پخوانې پټ معلوماتونه لوستي و. کله چې ما د دوسیې ټولې پاڼې ولوستي په حیرت کې شوم ځکه ډیر

---

[۲۹۰] - Evening Standard

[۲۹۱] - George Tenet

[۲۹۲] - Rabin Cook

لړ نوي معلومات وړاندی شوی وو. زه کوم داسي نوي معلومات نه وینم چې په دومره ډراماتیکه توګه نړۍ ته تهدید موجود وي چې د برید اړتیا رامنځته کړی.

روبین هوک[۲۹۳] وروسته خپل ورځني یادداشتونه د عامه پوهاوي له پاره خپاره کړه. نوموړي لیکلي و چې توني بیلر او اړوند چارواکي د څارګرۍ اداري په معلوماتو باور لری ځکه دوي په ډیره وارخطایي غواړي چې دغه معلوماتونه باید رښتیا شي. د دوي نظر دښمنانه نه وو بلکې مذهبي عقیده وه. دوي یوازې هغه معلوماتونه انتخاب کړل کوم چې د دولت د نظر د عملي کولو له پاره یي مرسته کوله.

د ډنمارک پارلمان ته هم د ۲۰۰۲ زکال د نوامبر پر (۱۴) نیټه د اټوم بمب د ادعا په اړوند معلومات وړاندي شول. د ډنمارک د بهرنیو چارو وزیر پیر ستي میولر[۲۹۴] ویل چې عراق به تر لسو کالو په لږه موده کې اټوم بمب پیدا کړی. که عراق د یورانیمو او یا پلوتونیوم د غني کولو لاره چاره ومومي، د یو کال په موده کې اټوم بمب جوړولای شي.

په حقیقت کې د انګلیستان تهمت د عراق په اړوند چې ګواکي یورانیم د نایجریا څخه رانیسي پر جعلي اسنادو بناء وو. د ۲۰۰۲ زکال د جنوري په میاشت کې ثی ای ای متقاعد امریکایي سفیر جوسیف ویلسن[۲۹۵] موضوع د څیړنې له پاره افریقایی هیواد ته ولیږی.خو دوي میاشتي وروسته د ۲۰۰۲ زکال د مارچ په میاشت کې ویلسن د خپلو څیړونو ارزونه په یو رپوټ کې وړاندي کړل چې د یورانیمو پلورل یوه غلطه اوازه وه. وروسته د ۲۰۰۳ زکال په جولای میاشت کې ویلسن د خپلو څیړونو په اړوند په نیویارک ټایمز کې تر لاندې سرلیک لاندې ولیکل: « ما څه شي په افریقا کې و نه موندل؟»

د ډنمارک صدراعظم اندرس فوک غاسموسن د ۲۰۰۲ زکال د اکتوبر پر لومړی نیټه پارلمان ته په خپل پرانیستونکی وینا کې یو ځل بیا وویل: د صدام حصین زهرجن ګاز کیدلای شي د لویدیزو او د ډنمارک پر لویو ښارونو ځوړند وي. ملل متحد باید د لسو کلونو تلاښونو وروسته د عراق په اړوند مسولیت احساس

---

- Rabin Cook [۲۹۳]
- Per Stig Møller [۲۹۴]

[۲۹۵]

کړی تر څو د ویجاړونکو وسلو د پراخوالي مخه ونیسي. هلته به ډیر ناوخته وي چې زهرجن ګازونه زموږ په ښارونو کې تیت شي.

اندرس فوک غاسموسن خپل په دغه جدي وینا او نامعلومې فرضیې باندې د صدام حصین د ویجاوړونکو وسلو تهدید پر ډنمارکي ښارونو لکه کوپنهاګن، اغوس، البورګ و ډنمارکیانو ته یو رښتیونی تهدید و بریښاوه.

هیچا حتی اپوزیشن هم د صدام حسین د ویجاړونکو وسلو د درلودلو په هکله شک ښکاره نه کړي. د اندرس فوک د پرانیستونکي وینا وروسته پر اړونده موضوع ډیر بحث هم و نه شو. یوازی د خلکو سوسالیستي ګوند، مشر هولګر ک. نیلسن [۲۹۶] عراق د احتمالي جګړې په اړوند پوښتنه وکړه. ولې په دی هکله بحث و نه شو چې د عراق دیکتاتور په څه ډول کیمیاوي او بیالوژیکي وسلې درلودی چې ژر به د اټوم بمب جوړولو ته انکشاف ورکړي؟ نوموړی غوښتنه وکړه چې حکومت ځواب ووایی چې ډنمارک پرته د ملل متحد د نوی پریکړې څخه په جګړه کې ګډون کوی او که نه؟

ټول پوهیدل چې جورج بوش پریکړه کړی ده، چې جګړه پیل کړی. دا ورته مهمه نه وه چې ملل متحد د جګړې په اړوند نوی پریکړه کوی که نه؟ د عراق جګړه د امریکایانو نوي پوځي دوکتورین وو. د دي دوکتورینو پر بنسټ امریکایانو ځان ته حق ورکولو چې د نړۍ په هر کنج او هر زمان کې د اړتیا په وخت کې جګړه پیل کړي که د امریکایانو ګټو ته خطر متوجه شي. هولګر ک. نیلسن وویل چې په دی اړوند د خلکو حقوق او ملل متحد ارزښت نه لري.

اوس هولګر ک. نیلسن وایي چې ما ولې د ویجاړونکو وسلو د شتون په اړوند دلایل تر نیوکې لاندي و نه نیول.

هولګر ک. نیلسن وایي چې: « موږ په شک کې وو. موږ به شرمیدلي وای چې د ویجاړونکو وسلو شتون مو منلی نه وای او وروسته څرګنده شوی وای چې ویجاړوونکې وسلې شتون لري. موږ باید غوښتنه کړی وای چې څیړونکې هیت نورې څیړنې کړی وای.» نه ورځي وروسته د امریکا کانګرس هغه پریکړه وڅیړل کوم چې امریکا ته یی اجازه ورکړل چې چې په عراق یی جګړه پیل کړي. پارلمان او د سنا دواړه مجلسونو د جګړې پریکړه تایید کړه.

---

[۲۹۶] - Holger k. Nielsen

د نوامبر د میاشتی په پیل کې د لومړي ځل له پاره د ډنمارک د سیاستوالو تر منځ د شک نه ډک بحث پیل شوو چې څه ډول عراق اټومي ویجاړوونکي وسلې لري.

امریکایی، سکاټ رایټر[297] چې په (۱۹۹۱ ـ ۱۹۹۸) زکلونو کې د ملل متحد د څیړونکي ډلې مشر و، هم د ډنمارک د پارلمان د بهرنیو او دفاعي چارو په کمیسونو کې د معلوماتو ورکولو له پاره ګډون کړی و. سکاټ رایټر د ځان ساتونکو (محافظه کارو) د ګوند غړي او جورج بوش ته یی وټ ورکړی و. نوموړی د امریکا په ځانګړو پوځیانو کې د عراق سره د ۱۹۹۱ زکال په جګړه کې د سرتیری په توګه خدمت کړی و، سره د دی هم سکاټ رایټر په نړۍ کې ډیر وګرځیدی چې په عراق کې د نوی جګړې د پیل په اړوند خبرداری ورکی. سکاټ رایټر په ډنمارک کې د خپل استوګنې په وخت کې د پولیټکن ورځپاڼې ته[298] وویل: په تاریخ کې یوه رغنده فیصله کوونکي شیبه ده، چې د امریکا یو باوري تبعه د یو جریان په خلاف غوښتنه درلوده چې حالات د قهر او غضب وروستۍ شیبې ته رسیدلي وو. دوی پروسه سرچپه کړه. ولسمشر جورج بوش د کانګرس موافقه تر لاسه کړه چې

جګړه پیل کړی، مخکی له دی نه چې د ملل متحد پریکړه تر لاسه کړي. او هم مخکي له دی نه یي جګړه پیلول چې د ملل متحد د اټومي وسلو څیړونکو ډله ولیږي چې ایا په عراق کې اټومي وسلې شتون لري؟ هیڅ ډول شواهدو او اسنادو شتون نه درلودي چې دغه ډول وسلې به وي.

سکاټ رایټر وویل چې دا به یو اړین دلیل وي چې دیکتاتور صدام حصین له منځه یووړل شي خو زما په آند د جګړې پیل به د نړیوالو قوانینو پر بنسټ دا حق ور نه کړی چې یو هیواد د خپل دفاع له پاره او یا هم دا چې په ټولیز ډول هیوادونو ته د سولې د خطر په خاطر جګړه پیل شي. د سکاټ رایټر په آند د ملل متحد پلټونکي هیت تر ۱۹۹۸ زکال پوري د عراق (۹۰) سلنه کیمیاوي او بیالوژیکي وسلې له منځه وړی دي. سکاټ رایټر خپل خبرو ته په ادامه سره وایی چې دا هم د احتمال څخه لیري ښکاري چې صدام حصین به له هغه وخت څخه تر اوس پوري نوی پروګرام په کار اچولي وي. د بل لوری عراق ډیره ضربه لیدلي نو ځکه د امریکا له پاره کوم خطر جوړولای نه شي. سره د دي

---

[297] - Scott Ritter

[298] - Politiken

چې د حکومت او د اپوزيشن سياستوالو د سکاټ رايټر د معلوماتو ورکولو په غونډه کې ګډون درلودي خوم کوم اغيزه يي و نه کړه.

د ملل متحد د امنيت شورا د ۲۰۰۲ زکال د نوامبر په اتمه نيټه (۱۴۴۱) نمبر پريکړه وکړه. دا پريکړه د ملل متحد په نړيوال تاريخ کې د ډيرو تودو بحثونو سبب شول.

پريکړه د رايو په اتفاق ياني (۱۵) د صفر په مقابل کې تصويب شول. د نوامبر په مياشت کې د ملل متحد د عمومي غونډې راهيسي امريکا او انګليستان ډير جدي کار کولو چې د امنيت شورا د يو پريکړه ليک دا ډول يو متن جوړ کړې چې انديښمن هيوادونه ( فرانسه، چين، او روسيه يي هم ومني).

نوی پريکړه ليک چې پخواني پريکړه ليک يي هم تاييدولو ، وروستۍ خبرتيا (اخطار) د صدام حصين له پاره، ولولئ:

رژيم بايد بيله قيد او شرط څخه د ملل متحد د څيړونکي ګروپ سره مرسته وکړی او د کار په جريان کې څيړونکي هيت او د امنيت شورا ته د عراق د کيمياوي، بيالوژيکي ، اټومي وسلو او د بالستيک د راکټونو او نورو پرمختګونو په اړوند بشپړ معلومات وړاندي کړي. خو په څرګنده توګه ښکاره نه شوه که صدام حصين دا ټول شرايط پوره نه کړی، غبرګون به څه وي؟ او د پوځي بريد په اړوند هم څه و نه ويل شول. په پريکړه کې يو ځل بيا عراق ته ور په زړه شول چې د امنيت شورا په وارو وارو و عراق ته خبرداری ورکړی دی. که بيا هم خپل مکلفيتونه په درست ډول عملي نه کړی، د جدي غبرګون سره به مخامخ شی. امريکايانو د بحث په جريان کې هڅه وکړه چې په پريکړه ليک کې د« ټولو اړينو شيانو» په بدل کې «ډير جدي غبرګون» ځای کړي. په دی مانا چې د پريکړه ليک ماتول بايد په اتوماتيک ډول د جګړې د پيليدو په مانا تعبير شي. په پريکړه ليک کې داسي متن ځای شو چې د جګړي پيليدل بايد د نوی پريکړه ليک او يا هم د امنيت د شور نوی ارزونه واخيستل شي.

په ډنمارک کې اندرس فوک غاسموسن هيڅ انديښنه نه درلوده، سره د دي چې دوي مياشتي مخکی د ملل متحد په عمومي غونډه کې اندرس فوک غاسموسن ويلي و چې همدغه پخواني پريکړه د ۱۹۹۰ زکال د جګړې د پيل له پاره کافي ده. خو نوموړی د نوامبر د (۱۴) نيټې په پوښتنيزو مباحثو کې بل څه وويل. په مباحثو کې نوموړی وويل چې ۱۴۴۱ شميره پريکړه ليک په اتوماتيکه توګه د

ملل متحد غړو هیوادونو ته دا واک نه ورکوي چې د صدام حصین پر ضد جګړه پیل شي که نوموړی د پریکړه لیک د موادو عملي کولو ته غاړه کښینږدي.

د ډنمارک د پارلمان د مباحثي په غونډه کې د بهرنیو چارو وزیر، پیر ستی میولر په ټینګار وویل چې د صدام حصین د سرغړونې په صورت کې باید د امنیت د شورا نوی پریکړه وشی.

د ډنمارک صدراعظم او د بهرنیو چارو وزیر دواړو د عراق د تهدید په اړوند ټینګار وکړي. اندرس فوک غاسموسن وویل چې:« موږ باور لرو چې عراق د عمومي ورانۍ وسلې(اټومي وسلې) او راکټونه په اختیار کې لري.»

پیر ستي میولر د صدراعظم د خبرو ملاتړ وکړي، زیاته یي کړل: « عراق کیمیاوي، بیالوژیکي وسلې لری او هم لیري ویشتونکي راکټونه لری کوم چې د ملل متحد د ټاکل شوی اندازې نه زیات (تر ۱۵۰ کیلومترو لیري واټن ویشتلای شي) په اختیار کې لري. که همدا اوس برید پر ونه شي کیدلای شي چې د یوی لسیزي په جریان کې خپل اټومي بمب ودرلودلای شي.»

یوه ورځ وروسته ډنمارک ته د نورو (۵۱) هیوادونو په څیر د امریکا له لوري بلنه ورکړه شوه چې د احتمالي جګړې په وخت کې پوځي مرسته وکړي.

په دغه وخت کې د حکومت څخه و غوښتل شول چې د ډنمارک موقف د مرستې په اړوند روښانه کړی. د اندرس فوک غاسموسن د هغه وخت ځانګړي مشاور، مایکل کریستنسن[۲۹۹] وویل چې د ډنمارک صدراعظم د امریکا غوښتنې ته د رد ځواب نه شی ورکولای.

مایکل کریستنسن وویل چې: « د ډنمارک صدراعظم د امریکا د غوښتنو سره سم عمل کوي او نه وایي چې دغه ټاکلي غوښتنه ډیره ده. صدراعظم به ورته ووایي چې: موږ کولای شوو چې همدغه درکړو؟ په دغه ډول صدراعظم نړۍ پیژني.»

اوس اندرس فوک غاسموسن وایي: مهمه دا وه چې د امریکا غوښتنې ته مثبت ځواب ورکړل شي، ځکه پراخ اتحاد کولای شوای چې پر صدام حصین په کافي اندازه فشار راوړی.

---

[۲۹۹] - Michael Kristiansen

« په هغه وخت کې مرکزي خبره دا نه وه چې څه موږ کولای شوای او یا څه مو ورکولای شوای؟ ټول د نوامبر د میاشتي عملیات باید ملل متحد د ۱۴۴۱ شمیري د پریکړې په رڼا کې ولیدل شي چې د صدام حصین له پاره داسی یو التیماتوم وو: اوس ته باید د ملل متحد سره کار وکړی. د امنیت د شورا پریکړه د یو قوی اخطار یاني پوځي برید، سره ملګرې وو چې باید ډیر زیات فشار یی پر صدام حصین راوړی وای. نو ځکه دا زموږ عاقلانه برخورد وو چې د امریکا بلنې ته مو مثبت ځواب ووایه تر څو سیاسي فشار لوړ شی.»

غاسموسن دوام ورکوی: په هغه وخت کې ما پریکړه کړی نه وه چې جګړه به اړینه شی.

« موږ داسي تصمیم نیولی نه وو چې کولای شو او که غواړو چې په جګړه کې ګډون وکړو. مګر که د نړیوالې ټولنې فشارونه پر صدام حصین د باور وړ وګڼل شي نو باید صدام حصین پوهیدلای وای چې کیدای شي چې پایله یی جګړه رامنځته کولاي شی نو په دغه صورت کې به موږ هم په جګړه کې ګډون کوو.»

یوازې دا چې د امریکا غوښتني ته د پوځي مرستو ځواب ویل کیدي باید د پارلمان د ډیره کې له لوري منظوری تر لاسه شوی وای. د غاسموسن په قول نوموړي غوښتل چې د پریکړې ملاتړ د یو لوی ډیره کې لخوا وشی نو ځکه یي د راډیکال د ګوند مشرې مرینه یلوید[300] سوسیال دیموکراتانو د مشر پاول نیروف غاسموسن[301] ته ټلیفوني اړیکې ونیولي.

د دوي ځواب مثبت وو. موږ غواړو چې په دغه تمرین کې ګډون وکړو کوم چې پر صدام حصین اعظمي فشار راوړل نومیږي، مګر ته (صدراعظم) به داسي محاسبه نه کوي چې موږ په جګړه کې د ډنمارک ګډون کول منلي دي. جګړه نوې پریکړې ته اړتیا لري. غاسموسن وایي چې دوی وویل په دغه ډول موږ مثبت ځواب وایوو. موږ د پروسي دغه برخې ته په ګدون سره په لوړ ارزښت قایل یوو.

د امریکایانو بلنه چې ډنمارک به په پوځي برخه کې مرسته وکړي، د بهرنیو چارو وزیر پارلماني کمسیون ته موضوع د نوامبر پر (۲۰) نیټه د بحث له پاره

---

- Marianne Jelved[300]

- Poul Nyrup Rasmussen[301]

وړاندې کړه. یوه ورځ مخکې د سوسیال ډیموکراټانو مشر، پاول نیروف غاسموسن د ګوند د عمومي مشرتابه څخه ګوښه او پر ځای یې موګنس لویکه ټافټ[302] وټاکل شو. د بهرنیو چارو د کمسیون تر غونډې نه مخکې د بهرنیوچارو وزیر، پیر ستی میولر د سوسیال ډیموکراټانو نوی مشر ته د امریکایانو د بلن لیک په اړوند د حکومت موقف په جزییاتو بیان کړي. په غونډه کې د سوسیال ډیموکراټانو د بهرنیو اړیکو مشر، جیپې کوفود[303] هم حاضر و.

غونډه د پارلمان د لوی سالون څنګ کوټې کې جوړه شوه. موګنس لویکه ټافټ داسې انګیرل چې د بهرنیو چارو وزیر ګرنټي ورکړل چې د ډنمارک ګډون د احتمالي جګړې د پیل په صورت کې به د امنیت د شورا د نو ې پریکړه لیک غوښتنه کوي. موګنس لویکه ټافټ په خپلو یادداښتونو کې په مخففو ټکو داسې لیکلي دي:

«کوچنی غونډه د سالون څنګ ته، کوم چې پیرستي میولر او زه د امریکا د بلنلیک په اړوند د پر عراق د برید په اړوند (دملل متحد رژي). نن موګنس لویکه ټافټ هغه داسی فورمول بندي کوی: « روښانه خبره ده چې جګړه باید د ملل متحد په رژي کې وای.»

د سوسیال ډیموکراټانو له پاره د بهرنیو چارو د وزیر څرګندونې لومړنې ګرانټې وه. مګر د صدراعظم، اندرس فوک غاسموسن څرګندونو د کمیسون او وروسته خبرلوڅو ته بله بڼه درلوده. د ډنمارک صدراعظم وویل چې د ډنمارک ګډون د عراق ضد عملیاتو او جګړه کې به بیله شکه د ملل متحد سره ټینګ تړاو ولري. د «تړاو» کلمه د صدراعظم له خوا په بشپړه پاملرنه وکارول شوه. خو نوموړی د امریکایانو د تعبیر د بیان څخه اوږه خالي کړه.

ښکاره خبره وه چې ۱۴۴۱ شمیره پریکړه لیک بیان کولو که عراق شرایط عملي نه کړی، د امنیت شورا به غونډه کوی او شرایط به ارزوي. دا ډول په پریکړه لیک کې یادونه شوی نه وه چې د جګړې د پیل له پاره نوی پریکړه لیک صادریږي او مخالف د دی نه هم په پریکړه لیک کې یادونه شوی نه وه. نو تعبیر ته لاس خلاص و. په دغه خاطر د ډنمارک صدراعظم د «تړاو» کلمه

---

[302] - Mogens Lykketoft

[303] - Jeppe Kofod

استعمال کړل، ځکه نوموړی خپل لاس خلاص ګڼي که جګړه پرته د امنیت د شورا د پریکړې څخه پیل شي.

د ډنمارک د خلکو سوسیالیست ګوند[304] مشر، هولګر کا نیلسن[305] د ډنمارک د ګډون سره په جګړه کې مخالف و، خو د صدراعظم اندرس فوک غاسموسن د موقف څخه د پارلمان د بهرنیو چارو د کمیټې په غونډه کې یوه شو نو ځکه یې وویل چې موږ په حقیقت کې نن پریکړه وکړه چې د امریکا په جګړه کې د عراق پر ضد ګډون کوو.

د سوسیال ډیموکراټانو له پاره ډېره مهمه وه چې د ډنمارک ګډون د عراق په جګړه کې باید د ملل متحد د روښانه دریځ څخه الهام واخلي. موګنس لویکه ټافټ[306] د صدراعظم او د بهرنیو چارو د وزیر د معلوماتو مهمې برخې نوټ کړي.

موګنس لویکه ټافټ وایي: موږ بیخي پوهیدلو چې د حکومت معلوماتونه دوې بڼې لري. د صدراعظم د وینا څخه ښکاریده چې د خبرو جهت یې د امریکا ملاتړ دي. په دغه خاطر موږ غوښتنه وکړه چې د بهرنیو چارو وزیر باید په خبرو او عمل کې روښانه دریځ څرګند کړي. نو د بهرنیو چارو وزیر ته مو خبرداری ورکړی چې پام کوی چې د امریکا او انګلیستان سره په جګړه کې ډنمارک ورګډ نه کړي.

د بهرنیو اړیکو په کمیسون کې د کمیسون غړو ته عام معلومات ورکړل شوو چې ډنمارک څومره دفاعي مرسته کولای شي. په لست کې یوه جنګي کښتې، یوه تر اوبو لاندې کښتې، ځانګړې سرتیري، تجهیزات، لوژستیکي واحدونه او یوه اف ۱۶ الوتکه[307] بېړۍ ته د ډنمارک د سوسیالیست ګوند[308] او یو موټي لست[309] څخه نورو ټولو ګوندونو موافقه وکړه چې د احتمالي جګړې له پاره دي تیاری ونیول شي.

---

[304] - SF

[305] - Holger k. Nielsen

[306] - Mogens Lykketoft

[307] - F16

[308] - SF

[309] - Enhedlisten

اندرس فوک غاسموسن اوس وايي چې دا څرګنده نه وه چې ډنمارک به په جګړه کې څه مرسته کوي. موږ امریکایانو ته د دوي د غوښتنې په ځواب کې وویل چې موږ امکانات ستاسو په واک کې درکوو. خو په هغه وخت کې موږ سیاسي پریکړه کړی نه وه چې څه به د اړتیا په وخت کې په واک کې ورکړو.

کله چې پوځي امکانات یی د دفاع وزارت په مشرتابه کې تر غور لاندي وو، تر ټولو د پاملرنې پلان وړاندی شو. پلان دا و چې د ډنمارک پیاده قوتونه باید د عراق په جګړه کې برخه واخلي، نه یوازې ځانګړې قوتونه. یسپر هیلسیو[310] وايي: «موږ د دا ډول پلان جوړونې څخه ډیر لیری وو چې د ډنمارک یو پوځي ډلګۍ وټاکل شی او د انګریزانو سره ګډ کار وکړي. زموږ له پاره ډیره لیری ښکاریده چې د انګریزي سرتیرو سره په یو ټاکلي وخت کې په عمان کې تمرین وکړو. په تمرینونو کې د بانهالم[311] (د ډنمارک د یوې جزیرې، ښارنوم دي) د پوځي ټولګیو څخه (۳۰۰) سرتیري په پلان کې نیول شوی وو.»

جنرال هیلسیو د پوځي رتبې وروستي پړاو هم طی کړی یاني د ۲۰۰۲ زکال د اګست په لومړی نیټه د لوی درستیز په مقام کې وټاکل شو. مرستیال یي ټیم سلوت یونسن[312] او پراتیف مشر یې، پاول کیارسکو[313] چې د ټاکلي پلان جوړونې مسولیت یي هم ور په غاړه و. پاول کیارسکو وایی: «په عراق کې ډیرې مختلفې دندې زموږ په مخ کې وې. په پیل کې معلومه نه وه چې د عراق د جګړې کوم فاز پیلیږي او زموږ دنده به څه وي. ایا د اشغال په دوران کې جګړه ایزه عملیات هم تر سره کیدل؟ او که وروسته پوځي قوتونه د عراق د ارامتیا (ثبات) د راوستلو له پاره وو.»

نوموړی د مختلفو امکاناتو له پاره په کار پیل وکړي تر څو د ډنمارک د ځمکنې قوتونو د ګډون له پاره په بصره کې چې د عراق په جنوب کې پرته ده، تیاری ونیسي. وروسته به د دفاع وزارت او د حکومت مشرتابه پریکړه وکړي.

---

- Jesper Helsø[310]
- Bornholm[311]
- Tim Sloth[312]
- Poul Kiærkou[313]

پاول کيارسکو وايی: « سرتيري به په اساسي توګه د امنيتي (ملاتړو په توګه) دندې له پاره د اشغال په دوهم پړاو کې د انګريزي او يا امريکايي سرتيرو تر شاه ملاتړ کوي.

پوښتنه دا وه چې موږ به کولای شوو، داسي يوه قوه منځته راوړو چې په ټاکلي ساحه کې تر عملياتو وروسته ثبات ټينګ کړو. زموږ دا مرسته به د امريکايی او يا انګريزي پوځي واحدونو له پاره زمينه برابره کړي چې په دغه ساحه کې وزګار شي. په يقين سره دا ډول مرسته به اغيزناکه وې.»

تر ځيرنې وروسته د هغه وخت اوپراتيفي مشر هيڅ انديښنه نه درلوده چې زموږ سرتيري به دغه دنده تر سره کړای نه شي، سره د دي چې وخت لږ و. پاول کيارسکو وايی: « موږ پايلې ته ورسيدولو چې دغه دنده اجرأ کولای شوو او مناسبه مرسته ده.»

ډيرې انديښنې وې. د بيلګې په توګه که صدام حصين په رښتيا خطرناکه وسلې ولري، بايد سرتيري د دا ډول وسلو په مقابل کې وساتل شي.

پاول کيارسکو وايی: د جګړې د پيل بنسټيز دليل دا و چې خطرناکې ورانونکې وسلې شتون لري. موږ ځکه غوښتل چې وپوهيږو، ايا زموږ وسايل کولای شی د دغه ډول وسلو په مقابل کې مو سرتيري وساتلای شي؟

يسپر هيلسيو[٣١٤] اوس وايي چې په ټوليز ډول پوځي مشرتابه ډار درلودي چې د کار انجام به داسي وی چې ډير ډنمارکي سرتيري به د لاسه ورکړو. موږ باور درلود چې سرتيري به ورسپارل شوی دنده په ښه توګه تر سره کړي مګر يوازی زموږ انديښنه د احساس له مخی وه. سره د دي پوځي مشرتابه جوړ شوی پوځي پلان د حکومت مشرتابه ته وړاندي کړي، چې د اړتيا په وخت کې ډنمارکي سرتيري په پياده جګړه کې وکاروي.

يسپر هيلسيو وايي کله چې ما پلان د حکومت مشرتابه ته واړندي کړي، و مي ليدل چې مشران په سيټونو کې ناارامه ښکاري او زه يي داسي وپوښتلم:

ښاغلي پوځي مشرا!

---

[٣١٤] - Jesper Helsø

ايا دا پلان داسي نه دي چې خوله دی بشپړه ډکه کړي ده؟ ما ورته وويل چې دغه زموږ امکانات دي او ممکنه غبرګون مي بيان کړي.

يسپر هيلسيو وزيرانو ته وويل: زموږ سرتيري بايد د انګليسي سرتيرو سره په عمان کې پوځي تمرينونه وکړي. نوموړی علاوه کړه، که اړتيا وی چې ډنمارکي سرتيري په ځمکنيو عملياتو کې برخه واخلي بايد لږ تر لږه موږ ته لس ورځي مخکې خبر راکړي. ځکه اړتيا ده چې موږ تياري ونيسوو.

يسپر هيلسيور وويل چې موږ به د انګليسي سرتيرو سره تر تمرينونو وروسته تيار شوو او د عملياتو تر لومړی جپلي (پړاو) وروسته به ګډون وکړو.

يسپر هيلسيور علاوه کړه چې پورته موضوع د وزيرانو د پاملرنې وړ وګرځيده او پوښتنه يي وکړه چې دا به څومره لګښت ته اړتيا ولري. وروسته يي پلان ليري کړي. ما د بهرنيو چارو وزير پير ستي ميولر په موضوع کې ډير دخيل کړ تر څو وپوهيږي چې دا پلان هغه څه نه دی چې حکومت ورته تياری درلودي.

د صدراعظم په نظر نه پوهيدی. اندرس فوک غاسموسن داسي يو صدراعظم و چې په دا ډول غونډو کې خپل نظر نه ښکاره کاوه خو د بهرنيو چارو وزير وويل چې دا ښه شوه چې پلان ليري شو.

يسپر هيلسيور پوهيدی چې د نوموړي نژدی امر د دفاع وزير سويند ايج ينسبيو[٣١٥] په دومره پرخه پلان خوښ نه دي. دا پلان سياسي خطر درلودي.

زه پوهيدم چې د دفاع وزير وايي چې کوچني قدمونه مخ په وړاندي اوچت کړو. موږ بايد ور سره واوسو د ډنمارک بيرغ بايد د امريکايی جنرال فرانک[٣١٦] څنګ کې وی. موږ داسي څه بايد وکړو چې د دفاع وزارت نظر د راتلونکي رول په هکله شنډ نه کړو. موږ بايد دروند چکش ور ته تحويل نه کړو په بدل کې يو نری، تيره ميخ ورکړو. دا به ډير ښه وي چې موږ يي وښيوو چې ور سره ملګری يوو. موږ بايد دومره لوړ ګام اوچت نه کړو تر څو چې سياسي غبرګون را ته څرګند نه وي.

---

٣١٥ - Svend Aage Jensby

٣١٦ - Frank

د یسپر هیلسیور ښی لاس، د پوځ درستیزوال ټیم سلوټ یونسن[317] هم پرته د اندیښنې څخه د حکومت غبرګون ته انتظار یوست.

نوموړی وایي چې: «موږ ته د حکومت له خوا په ښکاره وویل شول چې په لوړه پیمانه په جدي توګه باید مځکني قواوي په عملیاتو کې ورګډې نه کړو. سیاستوالو غوښتل چې زموږ ګډون ډېر نرم او ارام وي نو په دغه خاطر یې د الوتکو او بحري قوي (جنګي کښتی) مرسته وکړه ځکه د یادي پوځي قوي استعمال د ځمکني پوځ په پرتله مستقیم ګډون نه دي.»

د بهرنیو چارو وزیر، پیر ستي میولر اوس په یاد دي چې د ځمکني پوځ ګډون په عملیاتو کې تر بحث لاندی وو.

پیرستي میولر وایي چې زه او د محافظه کار ګوند مشر بیندت بیندتسن[318] سره همږغي وو او نظر مو داسې وو چې همهغسي ومنل شو. زموږ موخه دا وه چې ولیدل شي چې د ډنمارک بیرق شته او موږ ګډون لرو او فکر مو کولو چې صدراعظم همدا غواړي. خو باید وویل شي چې صدراعظم په عملیاتو کې د ګډون د بهرنیو چارو د وزیر په پرتله ډېر ملاتړي و. صدراعظم غوښتل چې د جګړې په لومړی لیکه کې وي. د صدراعظم دغه نظر د دو مهمو وزیرانو(د بهرنیو چارو وزیر او د محافظه کارګوند مشر چې وزیر و) سره لوی او جدي بحث را ولاړ کړی وو. پیرستي میولر د وخت د بهرنیو چارو وزیر اوس نه غواړي چې پر موضوع  نوره تبصره وکړي.

د وخت صدراعظم اندرس فوک غاسموسن اوس وایي چې زما نه یادیږي چې زموږ د ګوند او محافظه کار د ګوند تر مینځ په جګړې کې د ډنمارکي سرتیرو د جګړه ایزو دندو او د ګډون پر طرز مخالفت وو. صدراعظم وایي چې پوځ تیار وو او ویل یي چې موږ هغه څه چې کولای شو ، دریغ یي نه کوو. په جګړه کې په جدي او نرم ډول ګډون کوو.

صدراعظم وویل: « مخکي دا روښانه شوی وه که ډنمارک په جګړه کې ګډون کوي، داسې باید نه وی چې یو لوی شمیره پوځیان په ځمکني عملیاتو کې ورګډ کړو. موږ مخکې په دی اړوند ډېر کار کړی وو چې موږ باید په جګړه کې د

---

[317] - Tim Sloth Jørgensen

[318] - Bendt Bendtsen

ډېره کيو په ملاتړ ګډون وکړو. زه فکر کوم چې د ډنمارک د خلکو ګوند[319] باید ډېر اندېښمن وي.»

دغه خوشبیانه پلان چې څو سوه ډنمارکي سرتیري به په عملیاتو کې ګډون کوي، مخ ته نه ولاړي او د پوځ په ارشیف کې خوندي شو. د ډنمارک عام خلکو او هم اپوزیشن د جګړې په اړوند معلومات تر لاسه نه کړي. د پوځ د مشر په قول د پلان جوړونه د ۲۰۰۳ زکال د فبوري په میاشت کې ودرول شوه.

د ۲۰۰۳ زکال د جنوري د میاشتي په (۷) نیټه حکومت د سوسیال ډیموکراټانو او راډیکال ګوندونو په ملاتړ یو کوچنی پوځي لست امریکایانو ته ولیږي. امریکایانو د ډنمارکیانو څخه یو شمیرښکاري جنګي الوتکې او د ترانسپورتي الوتکو څخه د مالونو د کښته کولو او پورته کولو له پاره پرسونل وغوښتي. مګر د ډنمارک هوایی ځواک دغه ظرفیت نه درلودي. د ډنمارک پوځي جنګې الوتکې په[320] افغانستان او بالکان کې مصروفې وي. نو

ښکاري الوتکې به په عراق کې مصروف شوی واي.

پاول کیاسکوو وایي چې یوازې ځانګړې پوځیان د ګټې اخیستو له پاره پاته وه.

په امریکا کې جورج بوش د ډېر پخوا څخه د جګړې له پاره تیاری درلودي. په همدغه شیبه کې کیدلای شوای جګړه ایزه ماشین درول شوای واي که د سیاسي پلوه اړتیا وای.

مګر بوش د ۲۰۰۳ زکال په پیل کې خپل نه منونکې جګړه ایزه پریکړه رامخته کړه. البته د بوش د امنیتي سلاکارې رایس[321] تحلیل له پلوه بوش ډېر اندیښمن و چې په لوړه کچه په امریکا او اروپا کې د جګړې ضد روحیه د پرمختګ په حال کې وي.

د وډوارډس[322] کتاب له مخې، بوش داسې نظر درلودی چې د جګړې ضد روحیه، صدام حصین ته زړه ورټیا ورکړه چې امریکا به هیڅوخت عراق اشغال نه کړي. البته پوځي تحدید یي یو تش تهدید ګاڼه. بوش خپل امنیتي سلاکارې ته

---

- DF[319]
- F-16[320]
- Rice[321]
- Woodwards[322]

ویل چې صدام قوی شوی دي. پوځي تیاری هم پای ته رسیدلی وو. پوځیان په منځني ختیز کې تیار انتظار وو. د جنرال ټومي فرانک[۳۲۳] په عقیده د مارچ میاشت د جګړې د پیل قطعي نیټه ټاکل شوی وه ځکه په عراق کې هم د وړي موسم رانژدي کیدي. بوش د سرتیرو د مورال په اړوند اندیښمن و که سرتیري اوږده موده د جګړې له پاره د تیارسي په حال انتظار باسي.

بوش رایس ته وویل:« وخت زموږ پر لوري نه دی، موږ اړ یو چې جګړه پیل کړو.»

تر اوس پوري بوش ویل چې دیپلوماتیکي هلي ځلي کوی چې ستونزه حل کړي تر څو صدام حصین د ملل متحد د پریکړو مطابق عمل وکړي. د بوش کړونو دوې بڼې درلودي نو ځکه په ناوړه توګه یي جګړه پیل ګړل. د وودوارډس د کتاب له مخې جورج بوش او کولین پاول د سپیني ماڼې په ځانګړې کوټه کې د ۲۰۰۳ زکال د جنوري په (۱۳) نیټه غونډه وکړه. بوش د غونډې په پیل کې کولین پاول د بهرنیو چارو وزیر د هغه د ډیپلوماټیکو هڅو په خاطر ډیر وستایه خو بوش په غونډه کې ژر خپلې وروستي موخي ته ودانګل. داسی اضافه کړه: د اټومي وسلوپلټونکي څه کولای نه شي او صدام حصین هم همکاري نه کوي نو ما پریکړه کړی ده چې جګړه پیل کړو.

پاول وپوښتل، ته مطمینه یی؟

ولسمشر بوش د هوکی ځواب ورکړ.

پاول ور غبرګه کړه چې تاسو د جګړې په غبرګون پوهیږي؟

بوش ورته وویل: هوکې.

کولین پاول وپوهیدي چې موضوع د بحث له پاره نه وه، یوازي د ولسمشر بوش له پاره دا شیبه مهمه وه چې پوه شي چې د بهرنیو چارو وزیر یي ملاتړ کوي.

بوش په نیغه د پاول څخه وپوښتل: ته زما ملاتړ کوی؟

د بهرنیو چارو وزیر له پاره د انتظار څخه لیري ښکاریده چې ولسمشر ته د رد ځواب ورکړي. او بله خبره دا وه چې ملت د جګړې په درشل کې قرار درلودي،

- Tommy Franks[۳۲۳]

که پاول د دندې څخه اسعفأ ورکړي واي د هغه د پوځي اخلاقو او عزت سره په ټکر کې ښکاریده.

پاول وویل: زه به خپل ټول توان په کارواچوم، بلي، زه به ستا ملاتړ وکړم. زه ستا سره یم . محترم ولسمشره!

بوش و کولین پاول ته وویل: اوس نو د دی وخت دی چې ته خپل پوځي یونیفورم واغوندي.

اوس هم پوښتنه دا وه چې د ملل متحد (۱۴۴۱) نمبر پریکړه د جګړې د پیل له پاره بس وه او که د امنیت د شورا نوی پریکړې ته اړتیا وه؟

په لندن کې د انګریزي حکومت لوړترینه حقوقي مشاور، لارډ پیټر ګولډسمیت[٣٢٤] شک نه درلودی. د جنوري په (۱۴) نیټه نوموړي یو اوږد اساسي حقوقي رپوټ و انګریز صدراعظم تونی بلیر ته په دغه متن ولیکي: « زه همدا اوس فکر کوم چې د ملل متحد د (۱۴۴۱) نمبر پریکړه لیک اصلي تعبیر دا ډول دي چې د امنیت د شورا د نوی پریکړه لیک څخه پرته، د تیر پریکړه لیک پر بنسټ پوځي برید غلط دی.»

کله چې توني بلیر پورته جمله ولوستل نو په قوس کې ولیکل: «زه په دی نه پوهیږم»
لږ وروسته تونی بلیر په پارلمان کې وویل چې پر عراق باندې برید کول قانوني دی.
د حقوقي مشاور نظریه هیڅوخت د عامه خبرتیا له پاره خپره نه شوه. په حقیقت کې حقوقي مشاور پیټر ګولډسمیت د عراق د جګړې مخالف پیژندل شوی و. دوی میاشتي وروسته د مارچ په (۷) نیټه نوموړي د ملل متحد پریکړه لیکونه (۶۷۸، ۶۸۷ او ۱۴۴۱) په ټولیز ډول ارزیابي کړل چې پایله یي د عراق پر ضد د واک استعمال جایز وګانه. همدا ډول عیني ارزونه د بوش حقوقي مشاور کړی وه.

ډیر کلونه وروسته د پیټر ګولډسمیت اصلي نظریه د جګړې په اړوند عوامو ته بربنډه شوه نو ځکه داسې نظرونه را وپاریدل چې حقوقي مشاور د توني بلیر تر سیاسي فشار لاندی راغلی و. د عراق د جګړې په تړاو د عراق ـ انګلیسي

---

[٣٢٤] - Lard Peter Gold Smith

کميسون د تحقيقاتو پر وخت توني بلير د ۲۰۱۱ زکال د جنوري په لومړی نيټه وويل چې زه نه پوهيږم چې ولې پيټر ګولډسميت داسې ارزونه کړی وه ځکه د ملل متحد (۱۴۴۱) نمبر پريکړه ليک ډير روښانه دي.

توني بلير وويل چې ما په رسمي توګه مشوره و نه غوښتل او دا ډول مشوره ماته راکړل شوی هم نه ده. په هغه وخت کې ما د ملل متحد نوي پريکړه اړينه نه ګڼل.

توني بلير داسې فکر کولو چې د نوموړي حقوقي مشاور به لاندې نظر ولري:

« د ملل متحد ۱۴۴۱ نمبر پريکړه ليک مانا دا ده چې صدام حصين وروستۍ چانس لري چې مرسته وکړی او دا کار يې و نه کړي، مانا دا ده چې پريکړه ليک نه مني چې دا ډول انکار د صدام پر ضد د جګړې پيل ته مشروعيت ورکوي.»

پيټر ګولډ سميت خپلې ارزونې ته بدلون ورکړی و خو په توني بلير باندې ډير نيونکي وايي چې توني بلير د حقوقي مشاور اصلی ارزونې ته داسې بدلون ورکړ چې غلط يې تعبير کړي تر څو جګړې ته مشروعيت ورکړي.

په هر صورت د ۲۰۰۳ زکال د جنوري په مياشت کې د ملل متحد د نوی پريکړې له پاره امکاناتو شتون درلود.

د المان د بهرنيو چارو وزير، جوشکا فيشر[۳۲۵] اعلان کړل چې المان په هيڅ صورت د صدام پر ضد جګړه کې برخه نه اخلي. د فرانسې د بهرنيو چارو وزير د جنوري په (۲۰) نيټه وويل چې هيڅ دليل شتون نه لري چې د صدام پر ضد جګړه عادلانه وګڼل شي. جورج بوش او کولن پاول داسې فکر کولو چې د امنيت په شورا کې به د عراق پرضد د نوې پريکړه ليک په درشل کې فرانسه موضوع ويتو کړي چې د عراق پرضد بايد پوځي قوت ونه کارول شي.

دوي ورځې وروسته د امريکا د دفاع وزير ډونالډ رومزفيلډ[۳۲۶] په شدت سره د فرانسې او المان پر ضد وږغيدي. دغه بيان په يو مطبوعاتي کنفرانس کې چې

---

- Jochka Fischer[۳۲۵]
- Donald Rumsfeld[۳۲۶]

بهرني ژورنالیستانو شتون درلودي، تر سره شوو. د ډونالډ رومزفیلډ د مطبوعاتي غونډې انګازې په نړۍ کې تیتې شوې.

په مطبوعاتي غونډه کې د ډونالډ رومزفیلډ څخه وپوښتل شول چې ډیر اروپایان د صدام حصین په اړوند برخلاف د جورج بوش فکر کوي، تاسو څه وایاست؟

ځواب: ستاسو په آند اروپا د المان او فرانسي په مانا ده خو زما په آند داسې نه ده، زما موخه پخواني اروپا ده بیا یي د ناټو غړو هیوادونو ته اشاره وکړه چې اوس یو شمیر د ختیزې اروپا هیوادونه د ناټو غړي دي. اوس د پاملرنې نقطه و شرقي اروپا ته اوښتي ده.

د دفاع وزیر په آند د اروپا لویه برخه د امریکا ملاتړ کوی نه د المان او فرانسې.

د زړې او نوي اروپا ویشل داسې یو نظر و چې د ډنمارک صدراعظم اندرس فوک غاسموسن بیان کړ نو ژر به په اروپا او ډنمارک کې انګازې خپرې کړي. مګر تر دی نه مخکې د سوسیال ډیموکراټانو مشر موګنس لویکه ټافټ ۳۲۷ څرګنده کړه چې د ملل متحد د نوی پریکړې په تړاو د صدراعظم او بهرنیو چارو د وزیر تر مینځ همږغي نه شته.

د ۲۰۰۳ زکال د جنوري په (۲۳) نیټه د ځان ساتو(محافظه کارګوند) پارلماني ګروپ غونډه وکړل. د بهرنیو چارووزیر(د محافظه کار ګوند غړی دی) د غونډې څخه ووت او د سوسیال ډیموکراټانو د مشر کوټې ته ورغي چې غیري رسمي خبري ورسره وکړي.

غیري عادي نه وه چې دغو دوکسانو د ډنمارک د بهرني سیاست په تړاو مشوري کولي. ډیر وخت به د راډیکال ګوند غړي نیلس هیلویګ پیټرسن ۳۲۸ سوسیال ډیموکراټانو مشر، او د راډیکال ګوند نوموړی غړي هم یووخت د بهرنیو چارو وزیران وو. نو ځکه درو واړو د بهرنیو چارو وزیرانو به مشوري سره کولي.)

درو واړو د بهرنیو چارو وزیرانو غوښتل چې د ډنمارک د بهرني سیاست په اړوند پراخه مرسته او توافق وکړي. لږ تر لږه باید د دوي نظرونه باید یو بل ته

---

- Mogens Lykketofts[۳۲۷]

- Niels Helveg Petersen[۳۲۸]

ښرګند وی او تر ممکنه کچې ګډې هڅې کولي چې د پریکړو په تړاو همږغې شي. خو دا ځل غونډه ناڅاپي وه نو ځکه د بهرنیو چارو وزیر پیر ستي میولر[۳۲۹] د سوسیال ډیموکراټانو پخواني د بهرنیو چارو وزیر موګونس لویکه ټافټ[۳۳۰] سره مرکه شوه. د غونډې دلیل جدی و. د اونۍ په پیل کې د ډنمارک په پارلمان ( کریستینس بورګ: د ډنمارک د پارلمان د ودانۍ نوم دي)[۳۳۱] کې اندیښنې پاریدلي وې ځکه د ډنمارک صدراعظم اندرس فوک غاسموس[۳۳۲] ویلی و چې د عراق پر ضد د جګړې د پیل له پاره د امنیت د شورا نوی پریکړه لیک ته اړتیا نه شته. د همدغې وینا سره جوخت المان او فرانسې غوښتل چې د ګډ بازار هیوادونه غونډه وکړي او د عراق د جګړې پیل پرته د ملل متحد د نوی پریکړې څخه رد کړي، دا هم غوښتل شوی وو چې د ګډ بازار هیوادونو د بهرنیو چارو وزیران باید د څلورو ورځو په جریان کې ګډه پریکړه وکړي. په همدغه ورځ د ملل متحد څیړونکې هیت باید خپل رپوټ وروسته تر هغه چې د ۲۰۰۲ زکال د نوامبر په میاشت کې کار دوباره پیل کړی و، وړاندی کاوه. په دغه خاطر په وروسته اونیو کې موضوعات ډیر پیچلي حالت ته داخلیدل.

موګنس لویکه ټافټ وایي چې زموږ تر مینځ خبري روښانه وي. پیر ستي میولر د دی له پاره راغلي و چې ځان مطمین کړي چې څه باید وشي چې د ټولو همږغې وي.

مونګس لویکه ټافټ وایي: ما داسې ارزونه وکړه چې د بهرنیو چارو وزیر اندیښمن و چې پر حکومت واک نه لري. ما په ښکاره ورته وویل چې زموږ پر ملاتړی باندې باید حساب ونه کړي. د بهرنیو چارو وزیر ته زموږ نظر ښرګند وو ځکه نوموړی هم دغه ډول نظر درلودي.

یوه ورځ وروسته د بهرنیو اړیکو مشورتي غونډه جوړه شوه چې صدراعظم ګډون کړی نه و خو د بهرنیو چارو وزیر پیر ستي میولر په غونډه کې وویل چې د جګړې په اړوند د نوي پریکړه لیک موضوع د امنیت په شورا پوري اړه لري چې د اړتیا په تړاو یي پریکړه وکړي.

---

- Per Stig Møller[۳۲۹]

- Mogens Lykketoft[۳۳۰]

- Christiansborg[۳۳۱]

- Anders Fogh Rasmussen[۳۳۲]

موږ به د امنیت د شورا د بریکړې څخه ملاتړ وکړو.

نوموړی نه غوښتل چې د حکومت په استازیتوب د جګړې په تړاو څه ووایي کله چې امریکا پرته د امنیت د شورا د پریکړې څخه د عراق پر ضد د جګړې پریکړه وکړه. موږ کولای شوو چې د ډیرو تیوریکي حالاتو اړوند وړاندوینه وکړو خو هره نوی موضوع به د بهرنیو اړیکو د مشورتي بورډ سره شریکه کړو.

موګنس لویکه ټافټ د مشورتي شورا تر غونډې وروسته خپل رضایت (همږغې) داسې اعلان کړل: موږ ته ډیره د ارزښت نه ډکه دا ده چې د نړیوال عدالت او د ملل متحد د پریکړې ملاتړ وکړو. موږ به په جګړه کې د موثقو اسنادو د ښکاره کولو او د امنیت د شورا د پریکړې پر بنسټ ګډون وکړو پرته له دی نه په جګړه کې ګډون نه کوو. زه هیله او باور لرم چې د ډنمارک حکومت به په هر ډول حالاتو کې پر خپله وعده وفا وکړي.

د ګډبازار[۳۳۳] د هیوادونو د اختلاف سره سره تر دري ورځو بحثونو وروسته پریکړه وشوه چې د ملل متحد څیړونکې هیت ته باید وخت ورکړل شي چې د عراق د اټومي وسلو په اړوند نورې څیړنې وکړي. د ګډ بازار څلورو غړو هیوادونو د امنیت په شورا کې استازي درلودل. فرانسه او انګلیستان دایمي غړیتوب لري خو المان او هسپانیا د شورا لنډ مهاله غړی وو. دغو څلورو هیوادونو د اروپا د اختلافاتو ښکارندوي وه. انګلیستان او هسپانیا د عراق پر ضد جګړه د امریکا سره په ملګرتیا ومنل خو المان او فرانسه د جګړې د پیل سره مخالف وه. د ګډ بازار د هیوادونو د بهرنیو چارو وزیران هم د ګډ نظر درلوونکي نه وه چې د جګړې د پیل له پاره د امنیت د شورا نوې پریکړې ته اړتیا شته او که د جګړې د پیل له پاره د امنیت د شورا پخواني پریکړه ۱۴۴۱ نمبر کافی ده. په همدغه ورځ د اټومي وسلو د پلټلو د ګروپ مشر سویډني ډیپلومات او ژورنالیست هنس بلیکس[۳۳٤] لومړنی رپوټ د امنیت شورا ته وړاندی کړ. رپوټ د دومیاشتو د پلټنو محصول و. رپوټ څو معلوماتونه وړاندي کول:

- EU[۳۳۳]
- Hans Blix[۳۳٤]

لومړی خبره دا وه چې صدام حسين تر اوس پورې د ملل متحد د غوښتنې سره سم بې وسلې کول منلي نه دي.

دوم دا وه چې عراق د ۶۵۰۰ کيمياوي بمونو په اړوند معلومات وړاندې کړی نه دي چې دا بمونه څه شول؟ په دغو بمونو کې د وی اکس ګاز[۳۳۵] استعمال شوی دي چې د مضرو بکټرياو د توليد له پاره ګټه ورڅخه اخيستل کيږي.

دريم معلومات دا و چې د پلټنې ګروپ غوښتل چې نور وخت ورکړل شي تر څو احتمالي وسلې ومومې او عراق په باوري ډول بې وسلې کړي.

غبرګون په امريکا او نورو هيوادونو کې چې د جګړې د پيل سره همږغې نه وو، توپير يې درلودي. د فرانسې د بهرنيو چارو وزير، ډومينقيو ډی ويليپن[۳۳۶] د نورو په استازيتوب وويل: تر څو چې د څيړونکي هيت په کارونو کې پرمختګ ليدل کيږي نو پر ځای خبره ده چې دغه لار پر مخ يووړل شي. خو د امريکا د بهرنيو چارو وزير کولين پاول د څيړونکي هيت د رپوټ دغه برخه چې صدام حسين مرسته نه کوی، ټينګار ورباندی کولو. پاول علاوه کړل چې وخت تيريدونکی دی، موږ صدام حسين ته وروستی چانس ورکوو چې د وخت څخه په ګټه اخيستلو ځان بې وسلې کړي که نه د سخت غبرګون سره به مخامخ شي. په همهغه ورځ د اټوم د پلټنې نړيوال سازمان[۳۳۷] رپوټ وړاندی کړي. د

نوموړی موسيسې مشر محمد البرادي وويل چې زموږ د سازمان ارزونه دا ده چې عراق په نيومو(۹۰) کلونو کې د اټوم پروګرام درولي دي. همدا ګړی موږ داسې شواهد پيدا نه کړل چې د عراق د اټومي پروګرام د بيا پيليدو ښکارندوی واوسي. خو بيا هم نوموړی د زيات وخت غوښتنه وکړه چې بيا هم څيړنه وکړي چې دقيقه ارزونه وړاندی کړی. دغه څو محدودي مياشتې د ارزښت نه ډکې مياشتې دي چې د سولې له پاره سرمايه ګذاري ور باندي وکړو ځکه دا به زموږ سره مرسته وکړي چې جګړه پيل نه شي.

يوه ورځ وروسته د ډنمارک صدراعظم اندرس فوک غاسموسن د پارلمان په غونډه کې وويل چې د ډنمارک حکومت د اټومي وسلو د څيړونکي سازمان د

---

[۳۳۵] - VX

[۳۳۶] - Dominque de Villepin

[۳۳۷] - IAEA

نظر سره چې د پلټنو له پاره وخت ورکړل شي، همږغی دي. د ډنمارک صدراعظم وویل چې موخه دا ده چې عراق باید ثابته کړي چې په جدي توګه د ځیرونکي ګروپ سره مرسته کوي.

د ډنمارک د دفاع وزارت د څارګرې اداري ځیرونکو[338] وویل چې موږ شواهد او باور نه لرو چې صدام حصین ویجاړونکې وسلې لري. دوي ورځې وروسته همدغې اداري په یو محرم رپوټ کې ولیکل چې هیڅ ډول باوري اسناد وجود نه لري چې صدام حصین به فعاله ویجاړوونکې وسلې ولري ځکه چې عراق به احتمالاً داسې امکان پیدا کړي وی چې د ویجاړوونکو وسلواحتمالي پروګرام به یې پټ ساتلي وي. د همدغې اداري د رپوټونو بنسټ د امریکا او انګریز پر څارګریزو رپوټونو بنأ وو. خو ډیر رپوټونه پر احتمالاتو او ارزونو جوړ شوي وو کوم شواهد او اسناد نه وړاندي کیدل. خو په همدغه ورځ د ډنمارک صدراعظم داسې یو قدم اوچت کړ چې د ګوندې ملګرو او اپوزیشن له پاره د سیاسي پلوه د عراق د جګړې له پاره رغنده رول ولوبولو. شوک (حیرانونکي) شیبه و (۱۲) ورځپاڼو ته راورسیدل چې په دی ډله کې د ډنمارک بیرلیګس ټیدنه[339] او دانګریزانو د ټایمز[340] ورځپاڼې هم شاملې وې. دلته د ډنمارک صدراعظم د نورو اروپایي هیوادونو د مشرانو لکه انګلیستان، هسپانیا، ایټالیا، پرتګال، هنګري، پولنډ او چک سره په ګډه بیله قید او شرط څخه د امریکا سره ملګرتوب اعلان کړي.

سرلیک داسې و,: د اروپا ملګرتوب د امریکا سره د عراق د شخړې پر سر: د امریکا څخه مننه کوو چې موږ اروپایان یې په شلمه پیړی کې د نازیزم او کمونیزم څخه ازاد کړو. بیا هم موږ مننه کوو چې د امریکا او اروپا په ګډه دوامداره همکاري سره د نړۍ په دغه برخه کې چې موږ اوسیږو، سوله یې برلاسي کړي ده د عراق اوسنی حالت باید پری نه ښودل شي چې د نړۍ امنیت ته ګواښ وي.

---

[338] FE -

[339] - Berlingske Tidende

[340] - The Time

دا يي هم علاوه کړل چې د ملل متحد څيړونکي ګروپ تايید کړي ده چې صدام حصين د تير ايستلو پاليسي، درواغ ويل او د عدم همکاري پروسه د ملل متحد د بنديزونو په وړاندې مخ ته بيايي.

برسيره پر پورته بيان د همدغو اتو هيوادونو مشرانو وويل چې زموږ موخه په نړۍ کې د سولې او امنيت ټينګول دي او هڅه به وکړو چې د عراق رژيم د ويجاړوونکو وسلو د پروګرام څخه صرفنظر وکړي. زموږ حکومتونه ګډ مسوليت لري چې د دغه ډول تهديد په وړاندی ودريږي. که زموږ دغه هڅې بريالی نه شی په دې مانا به وي چې موږ د خپلو هيوادوالو او نړيوالو په مقابل کې خپل مسوليت ادا کړی نه دي.

په پای کې بايد ووايم چې د ملل متحد موخه د امنيت د شورا د پريکړې څخه دا وه چې په نړۍ کې امنيت خوندی وي. په دغه شيبه کې ملل متحد ته په کار ده چې د خپلې پريکړې د عملی کولو څخه په ټول قوت دفاع وکړي. موږ به يو ديکتاتور ته اجازه ور نکړو چې په دوامداره توګه د ملل متحد پريکړې پايماله کړي. که دامنيت شورا د خپلې پريکړې د عملي کولو څخه دفاع ونه کړي نو نړۍ به پر ملل متحد باور د لاسه ورکړي خو موږ باور لرو چې د امنيت شورا به خپل مسوليت ښه درک کړی.

د (٨) هيوادونو مشران د امريکا تر شاه ودريدل خو المان او فرانسي مخالفت وښودي او هڅه يي کول چې د عراق پر ضد جګړه پيل نه شي. دغه کړنې د اروپا ويشل تثبيت کړل. څو محدودي ورځې وروسته اروپايان و ګډې پريکړې ته ورسيدل. په ورځپانو کې دغه مباحثې خپرې او په لوړه کچه لوستونکي يي جلب کړل. په ډنمارک کې سياستوال په ليکه کې ولاړ وو چې د صدراعظم اندرس فوک غاسموسن کړنه وغندي چې ولې د اروپا يانو په منځ کې بی اتفاقي رامنځته کړل.

د سوسيال ديموکراتانو د بهرنيو اړيکو مسول ييه کوفود[٣٤١] وويل موږ ته اوس د ډنمارک پاليسي د جګړې په تړاو روښانه شول چې صدراعظم مخکې دغه بې ثباته سياست خپل کړی و. د صدراعظم دغه غيري معقول سياست د دی سبب

[٣٤١] - Jeppe Kofod

شو چې د نړۍ د هیوادونو په مینځ کې همږغي ته زیان ورسیږي چې د صدام حصین د بې وسلې کولو د پاره یو موټې وو.

د سوسیالست [۳٤۲]ګوند مشر هوګه کو نیلسن [۳٤۳]وویل چې د ډنمارک صدراعظم په اروپا کې د امریکا ښۍ لاس دي.

د سوسیالست ګوند مشر علاوه کړه چې امریکا هڅه وکړه چې اروپا پر دوو برخو وویشي د ښې او خرابې اروپا اویا د زړې او نوې اروپا نومونه ورکړی چې په دې چاره کې د ډنمارک صدراعظم مرسته ور سره وکړه.

یوازي د خلکو ګوند [۳٤٤]د حکومت څخه ملاتړ وکړ خو صدراعظم پر خپله پریکړه ټینګ ولاړ و.

د ډنمارک صدراعظم د سیاستوالو د نیوکو په تړاو وویل چې: زه د کوم هیواد مخالفت نه لرم خو باید وښودل شي چې اروپا او امریکا یو د بل تر څنګ ولاړدي ځکه د اروپا او امریکا بنستیزه ارزښتونه ګډ دي، سره د دی چې کیدلای شي ځیني وختونه په نظریاتو کې بیلوالی وی. صدراعظم دغه نیوکه هم رد کړل چې مخکې تر دی چې سند لاسلیک کړی، د بهرنیو چارو کمیسون ته یي ښودلي نه وه.

په دی تړاو صدراعطم وویل که څوک یوه لیکنه د کومې ورځپاڼې له پاره لیکی، باید ونه غوښتل شي چې ولې دا لیکنه د بهرنیو اړیکو کمیسون ته ښودل شوی نه ده. هغه وخت باید څوک د بهرنیو اړیکو د کمیسون سره مشوره وکړي چې کومه نوی خبره او یا نوی نظر وي ولې دا کیسه خو کومه نوی پیښه نه ده.

صدراعظم هغه لیک چې د حکومت د بهرنیو اړیکو فعالیتونه یي په ډاګه کول، د بیلګې په توګه یاد کړ، په لیک کې راغلی دی چې: « زه کولای نه شم چې ځان شاه ته ونیسم، پر چوکۍ داسې ناست و اوسم چې د مسایلو ننداره وکړم. زه غواړم چې ډنمارک ډګر ته را ووزي او د پیښو اجندا جوړه کړي. نو ویلای شم

---

[۳٤۲] - SF
[۳٤۳] - Holge K. Nielsen
[۳٤٤] - Dansk Folkeparti

چې دا هغه څه دي چې باید ګډون ور په کښې وکړو» نیوکې په ټول اروپا کې په پراخه کچه وې.

د یونان صدراعظم ، کوستاس سمیتیس[345] په دغه وخت کې د اروپا د ګډ بازار مشر[346] و او د دغې پریکړې څخه خبر ور نه کړل شو.

دغه اتو هیوادونو د (اتو ډګرونو) نوم خپل کړي ځکه د دوي پریکړه خپل سرې وه چې د اروپا ګډ بازار ته يي خبر ورکړی نه وو. یوازې د هالنډ د صدراعظم، جان پیټربالکینیډ[347] څخه پر پریکړې د لاسلیک غوښتنه وشوه خو هغه د پریکړه لیک د لاسلیک څخه ډه ډه وکړه. د اطریش د بهرنیو چارو وزیر، بیټیا بیریرو والډنر[348] دغه پریکړه لیک لوی شرم وګاڼه او داسې وویل: « ما غوښتل چې زموږ د بهرنیو چارو وزیرانو لخوا یوه ګډه پریکړه شوی وای.»

د فرانسې د بهرنیو چارو وزیر، ډومینیکیو ډی ویلیپین[349] وویل چې « ډیره حساسه پوښتنه داده چې د کومو وسایلو څخه ګټه واخیستل شي چې صدام حسين بې وسلې کړو.»

په بدل کې په سپینه ماڼۍ کې د جګړې اشتها ډیر زیاته وه چې بوش په خپل بیان کې ټینګار وربانډی کولو.

د دوشنبې په ورځ د جنوري په اومه نیټه انګلیستان د پریکړې خاکه (اوم متن) د ډنمارک صدراعظم ته راولیږي په همدغه ورځ د ګډ بازار د بهرنیو چارو وزیرانو د عراق په اړوند ګډ دریځ خپل کړی وو. اندرس فوک غاسموسن د پریکړه لیک رالیږل شوی اوم متن خپل د بهرنیو چارو وزیر پیستې میولر[350] ته ولیږي خو لږ بدلون يي ورکړ چې د ملل متحد ارزښت يي روښانه کولو.

---

[345] - Kostas Simitis

[346] - EU

[347] - Jan Peter Balkenende

[348] - Benita Ferrero Waldner

[349] - Dominique de Villepin

[350] - Per Stig Møller

د بهرنیو چارو وزیر اوس وایي چې ښه مې یاد دي چې متن مې په قلم اصلاح کړ او ومې لیکل چې دغه ټاکلي ځایونه باید اصلاح شي. خو د بهرنیو چارو وزیر دا نه په ډاګه کوي چې دغه پریکړه لیک یو ښه نظر و که نه؟

«د بهرنیو چارو وزیر وایي چې دا مهمه نه وه چې زه څه نظر لرم ځکه زما نظر د صدراعظم پر میز پروت و، متن یې دا وو: صدراعظم کولای شي چې د بلیر او ازنر څخه ځان لیري کړی او یا کولای شي چې ور سره ګډ شي. دا به تاریخ یوه برخه شي. خو زه وایم چې صدراعطم ښه کار وکړي ځکه بله لار یې نه درلودل خو پریکړه لیک یې موږ ته راولیږي چې بیا کتنه ورباندي وکړو او موږ هم په متن کې اړین بدلون راوست.»

د حکومت د دوو ګوندونو، ښې لیبرال او محافظه کارانو د پارلماني ګروپونو مهمو سیاستوالو هم د پریکړه لیک په اړوند د صدراعظم تصمیم ګټور او پر ځای وګاڼه. د محافظه کار ګوند د بهرنیو اړیکو د کمیسیون مشر وایي چې صدراعظم د امریکا پلوي وکړل پرته له دي چې د راتلونکو پیښنو په اړوند سوچ وکړی. زما یاد دی چې موږ پوهیدلو چې پرکومه لار روان یوو.

نوموړي وایي چې د ډنمارک بهرني سیاست د دواړو ګوندونو په مشرتابه کې تر بحث لاندي وو او د دواړو ګوندونو پارلماني ګروپ ته اطلاع ورکول کیدل خو د پورته موضوع په اړوند مو په ورځپاڼه کې ولوستل. د ډنمارک د بیان مهم ټکي د ګډ بازار د بهرنیو چارو د مشورتي بورډ د بیان سره توپیر درلودي. د ډنمارک د بهرنیو چارو پخواني وزیر ( د کیڼ لیبرال ګوند غړی) نیلس هیلویګ پیټرسن[۳۵۱] وایي چې د ۲۰۰۳ زکال د جنوري د میاشتې دغه اونۍ د اندیښنو او ګونګ حالت نه ډکه اونۍ وه.

د ډنمارک پریکړه لیک په اساسي ټکي کې د ګډ بازار د بهرنیو چارو د وزیرانو د مشورتي بورډ د بیان سره توپیر درلود. داسې څه په پریکړه لیک کې نه وو چې د اټومي وسلو د څیړنیز کمسیون د کار دوام ته یې ښه راغلاست ویلای وای. نیلس هیلویګ پیټر سن وایي دا هغه لوی توپیر دي ځکه دا هغه موضوع و چې موږ هر وخت بحث ور باندې کولو. دا چې د وسلو څیړنیز ګروپ خپل کار ته دوام ور کولو او که نه؟

[۳۵۱] - Niels Helveg Petersen

همدا ګړی د ډنمارک پخوانی صدراعظم په ټینګار وایي چې ما کومه غلطه پریکړه کړی نه ده.

صدراعظم علاوه کوي چې: « دا یوازې هغه وخت ګټور کار نه و چې موږ په جګړه ایزه عملیاتو کې برخه اخیستی نه وای. ما ډیر لیکونه ولیدل چې موږ باید د نوامبر په میاشت کې صدام حصین تر فشار لاندې نیولای وای.

وروسته وایي چې زه اړ وم چې یو لوری انتخاب کړم.

« که ما جګړې ته د رد ځواب ویلای وای هم په بیلو ډولو تعبیر کیدي او حتماً به نیوکې وربانديې شوی وای. زه باید دا پټه نه کړم چې په دغه ډول حالاتو کې زموږ د اړیکو په نظر کې نیولو سره یو ځواب پاتې و چې زه باید د هوکی ځواب ورکړم او ووایم چې طبعاً زه پر پریکړه لیک لاسلیک کوم.»

د ډنمارک پخوانی د بهرنیو چارو وزیر او د جګړې د وخت د سوسیال ډیمو کراټانو مشر (سوسیال ډیموکرات)، موګنس لوکه ټافټ [۳۵۲] وایي ما هیڅ ډول شک د پریکړه لیک کې په ارزښت کې نه درلودی کله چې مې چې هغه ولوست.

« زما یاد دی چې د پریکړه لیک په لوستلو زما شک په واقعیت بدل شو چې صدراعظم نه غواړي چې د ملل متحد نوې پریکړه لیک ته انتظار وباسی که امریکایان په جګړه پیل وکړي.»

د یو موټې لست د ګوند ځخه سوین سوینرګود [۳۵۳] وایي چې زما په آند هم د ډنمارک د وخت د صدراعظم موضوع وروستې پړاو ته رسیدلي و. زه مخکې لا پوهیدم چې جګړه پیل کیږي او پریکړه لیک په بشپړه توګه روښانه کړه چې اندرس فوک غاسموسن همدغه ارزونې ته رسیدلی دي.

د یو موټې ګوند نوموړي غړی وایی چې زما د ارزونې له مخې د ډنمارک د صدراعظم ځه په واک کې نه و، یوازې نوموړي کولای شواي چې د امریکې پلوې وکړي او یا د فرانسي او المان لار خپله کړي. د پریکړه لیک ځخه ښکاریدل

[۳۵۲] - Mogens Lykketoft

[۳۵۳] - Søren Søndergaard

چې د دفاع پراخ امکانات شته چې ډنمارک خپل موقعیت د امریکایانو په پلوی تثبیت کړي.

یوه ورځ وروسته د بهرنی اړیکو د کمسیون غونډه جوړه شوه. په غونډه کې د حکومت څخه بهر گوندونو(اپوزسیون) په ګډه اعترض وکړي چې ولې پریکړه لیک مخکې د غونډې د برخوالو په اطلاع رسیدلی نه دي په داسې حال کې چې د پریکړه لیک محتوي په وضاحت د امریکا د نظر سره همږغی ده او علاوه له دی څخه حکومت د ګډ بازار د پریکړې څخه سرغړونه کړی ده. سوسیال ډیموکراټان، کیڼ لیبرال گوند او د عیسویت گوندونه دومره په غوصه وو چې د ډنمارک د (۴۰ ـ ۶۰) ځانګړو سرتیرو او د تحت البحري کښتی ، «د سیلن[۳۵٤] په نوم چې ۲۵ کارکوونکي درلودل) د مرستې څخه ډډه وکړه که څه هم دوی باید د جګړی د ګډون له پاره تیاری نیولای وای. که څه هم مخکې د دغو قوتونو د پوځي تمرین موضوع منل شوی وه او په قوی احتمال داسې وو چې په جګړه کې ګډون هم تایید کړي که چیري موضوع د ملل متحد له لوري وړاندی شوی واي. خو د اعتراض موخه بل څه وه. تر غونډې وروسته د سوسیال ډیموکراټانو مشر مونګس لویکه ټافت وویل:

« موږ غواړو حکومت ته داسې سګینال ورکړو چې حکومت واک لري چې بهرنی سیاست یوازی د ډنمارک د خلکو د گوند په[۳۵٥] ملاتړ او یا د یو پراخ ډیره کیانو (اکثریت) په ملاتړ مخته بوزي.»

په همدغه ورځ د برتانیا صدر اعظم تونی بلیر د ولسمشر بوش سره د غونډې په موخه واشنګټن ته الوتنه وکړه. د جګړې له پاره تر دی نه زیات تیاری نه نیول کیدی، یوازې د اتو هیوادونو مشرانو دجګړې څخه ملاتړ اعلان کړي.

ولسمشر بوش د عملیاتو د پیل غوښتونکی و خو تونی بلیر د ملل متحد نوی پریکړه لیک غوښت. ځکه نوموړي په انګلیستان کې تر زیات فشار لاندي و، (۸۴ سلنه) خلګو یي د صدام حصین پر ضد دجګړې پیل نه غوښت. نوموړی د لیبر گوند په دننه کې هم د مخالفتونو سره مخامخ وو.

---

[۳۵٤] - Sælen

[۳۵٥] - Danske Folkeparti

ولسمشر بوش په خپل بیوګرافي کې  د نوموړی غونډې په اړوند لیکلي دی:

« موږ همږغي وو چې صدام حصین د ملل متحد د (۱۴۴۱) شمیرې د پریکړه لیک څخه سرغړونه کړی ده او جعلي اسناد وړاندی کوي. موږ ډیر دلایل درلودل چې د پریکړو څخه د سرغړونې په وجه باید غبرګون وښودل شي خو توني بلیر غوښتل چې ملل متحد نوی پریکړه لیک باید تصویب کړی.»

بوش وایي چې « توني بلیر د ملل متحد نوی پریکړه لیک غوښت ځکه نوموړی استدلال کولو چې نوی پریکړه لیک موږ په پوځي او سیاسي لحاظ خوندي کوي.» خو ولسمشر بوش ډار درلود چې بیا به په یو نوی مخالفت کې قرار ونیسي. د ولسمشر نژدي کسانو هم دا ډول اندیښنه درلوده خو بیا هم ولسمشر یو نوی تلاښ وکړ.

بوش وویل چې زه وینم چې زموږ ملګري د یو نوې پریکړه لیک غوښتونکي دي نو په کومه ښه طریقه به زه خپل د ملګرو سره مرسته وکړم.

نوموړي د امریکا د بهرنیو چارو وزیر کولین پاول ته دنده ورکړه چې موضوع ملل متحد ته وړاندی کړی. څو ورځې وروسته کولن پاول د ۲۰۰۳ زکال د فبوري په پنځمه نیټه خپل دلایل  وړاندی کړل. کولین پاول دلایل د امنیت شورا او دنړۍ میلیونونو خلکو ته چې د تلویزیون له لارې یې ننداره کوله، وړاندی کړل. پاول د ټیلفوني خبرو کست چالان کړي او د ستلایټ انځورونه یې وښودل. ټول دغه دلایل چې تاسو وینې ډیر باورې دی نه دا چې زموږ ګومان دي. موږ تاسو ته د باوري معلوماتو پربنسټ حقایق او ارزونې وړاندی کوو. حقایق دا دي چې صدام حصین د نړیوالې ټولنې د غوښتنو سره سم ځان بې وسلې کړی نه دي. د امریکا د بهرنیو چارو وزیر څلور ستور ي جنرال کولین پاول خپل ټوله اتوریته او هغه باور چې یې په لاس راوړی و، په کار واچولو تر څو د تلویزیون پر پرده د غونډې د ګډوونکو اندیښنې او شکونه لیري کړي. نوموړي علاوه کړه چې لاری موټر او ټرینونه په کیمیاوي وسلو بار په عراق کې ګرځي چې کشف شوی نه دي. نوموړي د بیالوژیکي راکټونو په اړوند بحث وکړي چې تر اوس پورې پټ ساتل شوی دی. پاول ارزونه وکړه چې عراق د (۵۰۰ ـ ۱۰۰۰) ټنو پوري کیمیاوي جګړه ایزه مواد په ګدامونو کې لري چې (۱۶۰۰۰) راکټونه ورڅخه جوړیدلای شي. نوموړي د یو ګیلاس په ښودولو سره وپتیله چې څومره ساده ده چې دغه د میلته بران د بکټریا څخه ډک کړي. ( دغه بکټریا مسموم کونکي ده چې د پوډرو په ډول استعمالیږي د سپتمبر تر یولسم وروسته ډیره د

چلند وړ وه.) او په پای کې وویل چې صدام حصین د تروریزم ملګري دي او داسې شواهد نه شته چې صدام حصین د اټوم جوړولو پروګرام درولي وي. د پاول وینا (۷۶) دقیقي وه. خو وروسته روښانه شوه چې د پاول د ښودل او ویل شوو شواهدو ډیر برخه ربښتیا نه وه. د پاول وینا د ډنمارک د حکومت او اپوزسیون پر سیاستوالو اغیزه وکړه. د سوسیال ډیموکراټانو مشر موګنس لویکه ټافټ په کور کې د پاول بیان واوریدي. پر نوموړي شواهدو دومره اغیزه نه درلوده لکه د پاول شخصیت چې ډیر ورته ارښمند و.

موګنس لویکه ټافټ هغه وخت داسې را په زړه کوي: زموږ ډیرو ملګرو وویل چې دا شخصیت به ناممکنه وي چې داسې شواهد وړاندي کړي چې خپله ورباندي باوري نه وي. هیڅ شک نه شته چې د پاول وینا د جګړې پر عملیې تاثیر وښندي ځکه پاول د بوش په پرتله ډیر د باور وړ شخصیت درلود. موګنس لویکه ټافټ وایي چې ما بیا هم داسې اندیښنه درلوده چې نوموړي پر ځو انځورونو خپل د دلایلو پیټی اچوي خو زما په شان غیري مسلکي شخص ته ارزونه ګران کار و. وروسته مې د ځان سره وویل چې داسې خو به ممکنه نه وي چې هغه ولاړ دي او درواغ وایي. د پاول وینا بیا هم د سوسیال ډیموکراټانو بنسټیز نظر ته بدلون ور نه کړي او غوښتنه یي کوله چې باید ځیړنیز ګروپ ته د کار ورکولو چانس ورکړل شي.

د فبوري په (۱۴) نیټه هنس بلیکس[٣٥٦] (د پلټنې ګروپ مشر) خپل دوهم رپوټ د عراق د ویجاړونکو وسلو په اړوند د امنیت شورا ته وړاندي کړي. ارزونه یي دا وه چې په عراق کې هستوي وسلې نه شته. خو دا یي هم وویل چې د کیمیاوي وسلو د شتون په اړوند څه ویلای نه شي ځکه عراق د (۱۰۰۰) ټنو په کچه مواد درلودل چې د دغو موادو د له منځه وړلو په اړوند یي تشریح را نه کړل. د نور وخت غوښتنه یي وکړل چې موږ به خپل کار ته دوام ورکړو.

د بي بي سي د رپوټ له مخې په بله ورځ په عراق کې د جګړې د پیل پر ضد په ټوله نړۍ کې لاریونونه وشول چې میلیونونو خلکو برخه ور په کښې اخیستي وه. په کوپنهاګن کې شاوخوا (۱۵۰۰۰) کسانو او د ډنمارک په نورو ښارو کې هم لاریونونه وشول چې ګډ شعار یي دا وو. « په عراق کې جګړه نه غواړو»!!!

---

[٣٥٦] - Hans Blix

د سوسیال ډیموکراټانو مشر موګنس لویکه ټافټ په لاریون کې د ویناه څخه ډه ډه وکړه. نوموړي اوس داسې دلیل وړاندي کوي: که د څیړونکي هیت له خوا په عراق کې د ویجاړونکو وسلو شتون تایید شوی واي او ملل متحد د جګړې د پیل له پاره اجازه ورکړي واي نو موږ جګړه تاییدوله. دا چې هر څه روښانه نه وه نو ځکه ما د وینا څخه ډه ډه وکړه.

تر دو اونیو رخصتي وروسته صدراعظم دوباره کوپنهاګن ته را وګرځید او د دوم ډنمارکي تلویزیوني چینل[۳۵۷] څخه یی لاریون کوونکو ته دا پیغام اعلان کړي:

« ما هیله درلوده چې تاسو په هغه وخت کې لاریون کړی وای چې صدام حصین د خپل هیواد خلک د (۱۰۰۰۰۰) کسانو په شاوخوا کې د ګاز په واسطه ووژل.»

د یو موټي ګوند (دا ګوند کینې اړخه ګوند دي) یو وتلي غړی سیورن سیونرګورد[۳۵۸] د پیغور په توګه داسې ځواب ورکړي: « زما خو ته اندرس فوک غاسموسن نه یادیږي چې هغه وخت دی په لاریون کې ګډون کړی وي خو زه په اتیایمو کلونو کې په لاریون کې وم.»

په همدغه شپه صدراعظم د سوسیال ډیموکراټانو مشر ته ټلیفون وکړ چې ما د توني بلیر او ازنر(د هسپانیا صدراعظم)[۳۵۹] سره خبري وکړي. پریکړه مو وکړه چې د امنیت د شورا نوي پریکړلیک تر لاسه کړو چې په دغه موضوع باندې بوش هم پوهیدلي دي.

د سوسیال ډیموکراټانو مشر د خپلو خاطراتو په کتابچه کې لیکلي وو: (د څیرونکي هیت له پاره د نور وخت ورکول).

صدراعظم وویل: مهمه ده چې فشار وارد شي، زمو تر اوبو لاندې بیړي، سیلن[۳۶۰] به ولیږل شي ځکه موخې ته د رسیدو له پاره څلور اونۍ وخت په کار دي

---

[۳۵۷] - TV2

[۳۵۸] - Søren Søndergaard

[۳۵۹] - José María Aznar

[۳۶۰] - Sælen

بیا هم زموږ تر امر لاندې ده. د ځانګړو سرتیرو د موضوع په اړوند هیڅ پریکړه شوی نه ده. او نومو ړي د ډاکټراتو د مرستې، بشري مرستو په اړوند ورغیدي او دا یې علاوه کړه چې د اړتیا په وخت کې به د کډوالو سره په نژدې سیمو کې مرسته وشي.

دا بله ورځ د سوسیال ډیمو کرټانو مشر د کیڼ اړخې لیبرالانو (پخواني د بهرنیو چارو وزیر) نیلس هیلویګ پیټرسن [361] سره ټلیفوني غونډه وکړه. د راتلونکې ورځې د ډنمارک د بهرنیو اړیکو د کمسیون غونډې ته چې صدراعظم هم ګډون کولو، تیاری ونیوی.

د بهرنیو اړیکو د کمسیون په غونډه کې چې د ۲۰۱۳ زکال د فبوري په (۱۷) نیټه جوړه شوه، د ډنمارک صدراعظم وویل: پر صدام حصین باندې د فشار ورکولو پروسې ته باید دوام ورکړل شي. لنډه موده شته چې صدام حصین ثابته کړي چې ګډ کار کوي. خو بیا به هم شکایت ملل متحد ته کوو. د سوسیال ډیموکراټانو مشر او هم د کیڼ لیبرال ګوند د بهرنیو چارو پخواني وزیر ټینګار وکړي چې باید څیړونکي هیت ته وخت ورکړل شي چې ورسپارل شوی دنده بشپړه کړي.

دوې ورځې وروسته د سوسیال ډیموکراټانو مشر (پخوانی د بهرنیو چارو وزیر)، د کیڼ لیبرال ګوند د بهرنیو چارو وزیر او د موجوده حکومت د بهرنیو چارو وزیر د نوموړي په دفتر کې غونډه وکړه چې د عراق په اړوند افکار سره تبادله کړي.

د سوسیال ډیموکراتانو مشر موګنس لویکه ټافټ وایي چې زما د یاد داشتونو او حافظې له مخې وایم چې په دغه غونډه کې د حکومت برحال د بهرنیو چارو وزیر وویل: که ډنمارک په جګړه کې ګډون کوی باید د ملل متحد نوې پریکړه شتون ولري. زموږ ارزونه دا شول چې د بهرنیو چارو وزیر په بشپړه توګه پر صدراعظم د پخوا په پرتله ډیر شکمن و.

یوه اونۍ وروسته امریکا، انګلیستان او هسپانیا د ټولو دروازو تر شاه د امنیت شورا ته د بندیزونو د نوې پریکړه لیک وړاندیز وړاندی کړي. په پریکړه لیک کې راغلي وو چې عراق ته د وروستې ځل له پاره خبرداری ورکول کیږي چې

---

[361] - Niels Helveg Petersen

باید د ملل متحد د ۱۴۴۱ شمیرې پریکړه لیک مطابق عمل وکړي. د نوي پریکړه لیک د تصویب امکان هغه وخت و چې د امنیت شورا د پنځو دایمو غړو څخه یوه هم ویټو کړی نه واي او دنهو نورو غړو ملاتړ هم ورسره وای.

جورج بوش په خپل بیوګرافي کې لیکي:

«که موږ وتوانیږو چې ډیر ملاتړې (بلي) ومومو، ممکنه ده چې چې فرانسه او روسیه قانع کړو چې د پریکړه لیک وړاندیز ویټو نه کړي په بدل کې مثبته رایه ورکړي. که دا کار و نه شو نو موږ خپل وړاندیز بیرته اخلو نو دا مانا به ولري چې دوي د ورستیو ډیپلوماتیکو هڅو مخنیوی وکړي.»

دا یو ډیپلوماټیک تلاښ و چې په درسته طریقه بیان شوی نه و. نوې پریکړه باید پرته د شک څخه د جګړې د پیل دلیل وي. ټول لوی سیاسیون په دغه پوهیدل. د فرانسي د بهرنیو چارو وزیر، ډومینیکو ډی ویلیپین[۳٦۲] څخه د یوې مرکې په طرز کې په فرانسوی ورځپاڼه، لیفیګارو[۳٦۳] کې وپوښتل:

ایا دوهمه پریکړه په دې مانا ده چې څیړونکې ګروپ په یو ټاکلي وخت کې غلطي کړی ده مګر موږ وایو چې دوي پرمختګ کړي دي؟ او که د نړیوالي ټولنې له پاره د حقانیت اثباتول دي چې متن یی مخکې لیکل شوی دی؟

د فرانسي د بهرنیو چارو وزیر د وړاندیز د نهایي موخې په اړوند د پوښتنې علامه کښیږودل. او داسې یي وویل: په طبعي ډول موږ هم د صدام حصین سره کومه علاقه نه لرو، که موخه دا وي چې رژیم بدل شي نو بیا دغه بنسټیزه پوښتنه مطرح کیږي: څوک د چا په استازیتوب دا حق لري چې پریکړه وکړي چې دا رژیم ښه او که بد دي؟

دوی د نوې پریکړه لیک غوښتنه کړی نه ده چې د جګړې د پیل حقانیت را په ګوته کړی.

---

[۳٦۲] - Dominique de Villepin

[۳٦۳] - Le Figaro

په ډنمارک کې په همدغه ورځ د بهرنیو چارو وزارت د عراق پر ضد د ډنمارک د ګډون له پاره د یوې مسودې د جوړولو له پاره تیاري ونیوی او موخه دا وه چې وړاندیز د وروستی پریکړې له پاره وړاندي شي.

د بهرنیو چارو او د دفاع وزارت لوړ رتبه مامورین لاس په کار شول چې درې اونی وروسته یي د وړاندیز متن د (ب ـ ۱۱۸) [٣٦٤] په نوم برابر او پارلمان ته یي وړاندی کړي. دا د دوهمې نړیوالې جګړې وروسته د ډنمارک په سیاسي تاریخ کې مهمه او رغنده پریکړه وه.

په دغه شیبه کې چې د ډنمارک سرتیرو د جګړې د لومړې شیبې د ګډون له پاره د البورګ په مرکز کې تیار نیوي، بلې خوا ته یو غیري عادي سیاسي جریان په مخه اچول شوی وو چې د ډنمارکي سرتیرو پوځې ګډون یي په جګړه کې فیصله کاوه.

د ۲۰۰۳ زکال د فبوري د میاشتي په وروستیو کې د بهرنیو چارو وزیر، پیستی میولر، [٣٦٥] د سوسیال ډیموکراټانو مشر او پخوانی د بهرنیو چارو وزیر، موګنس لویکه ټافټ [٣٦٦] د کیڼ اړخې لیبرال ګوند د بهرنیو چارو پخواني وزیر، نیلس هیلویګ پیټرسن [٣٦٧] د یوې با ارزښته مرکې له پاره د ډنمارک د مهمې خبری ورځپاڼې بیرلینګس ټیتندس نیوهید مګزین [٣٦٨] له پاره حاضر شول. دغه مرکه د مارچ په لسمه نیټه د عامه خبرتیا له پاره خپره شوه. دوو ژورنالیستانو یعقوب مولیرف [٣٦٩] او ټامس لارسن [٣٧٠] د مرکې د پیل د خبرو څخه داسې ارزونه وکړه چې د دغو درو سیاستوالو نظر د نړیوالو حالاتو په تړاو ډیر اندیښمن وو. دري واړه سیاستوال ډیر ناارامه وه چې څنګه دغه بحران د امریکا، او اروپا په مینځ کې تشه او اختلاف رامنځته کړی دي. دغه اختلاف د نړیوالو سازمانونو

---

- B 118 [٣٦٤]
- Per Stig Møller [٣٦٥]
- Mogens Lykketoft [٣٦٦]
- Niels Helveg Petersen [٣٦٧]
Berlingske tidendes Nyhedsmagasin [٣٦٨]
- Jacob Mollerup [٣٦٩]
- Thomas Larsen [٣٧٠]

او ملل متحد سره پر ګډ کار لویه منفي اغیزه وکړه. که امریکا په یوازې سر پر عراق برید وکړي، کیداي شي په نړۍ کې یو غیر مطمین حالت راشي. دا په دی مانا ده چې دا به یوه لویه ضربه پر نړیوالو سازمانونو وي او هم به د اروپا او امریکا اړیکې د کلونو له پاره خوږمنې کړي.

د حیرانتیا ځای نه و چې موګنس لیوکه ټافټ او نیلس هیلویګ پیټرسن دا ډول نظردرلودي. خو په زړه پوري دا وه چې د بهرنیو چارو وزیر برحال وزیر پی ستي میلور پر امریکا ډیرې نیوکې درلودې خو صدراعظم اندرس فوک غاسموسن د خپل ملګری جورج بوش په اړوند تودې خبرې کولې.

د مرکې د لیکنې د یوې برخې څخه د بهرنیو چارو د وزیر نظر چې امریکا ته یې خبرداری ورکړي، ولولئ: موږ د نړیوالو قوانینو پابند یوو او مهمه داده چې امریکایان وپوهیږي چې دا د دوي دلچسپي ده. امریکایان یې باید په یاد ولري چې دا به اداره توامنده کړي چې د هغو قوانینو رعایت وکړي چې وروسته تر هغو قوانینو لاندې ژوند کوي. نو ځکه موږ امریکایانو ته وایو چې: « همدا اوس باید تاسو د نوی نړۍ جوړونکي او ډیزاین کوونکي واوسئ په دقیق ډول په هغه طرز چې تاسو نړیوال قوانین او د ملل متحد اداره په ۱۹۴۵ زکال کې مینځته راوړه.»

په همدغه وخت کې د بهرنیو چارو وزیر ټینګار وکړي، سره د دي چې امریکایان تر اوسه د ملل متحد د لیکې څخه د عراق په اړوند اوښتي نه دي خو سره د دي چې امریکایانو د فرانسې او المان په مقابل کې سخت کلمات کارولي دي.

نوموړی وویل چې سړی انتظار درلودلای شی چې هغه خپله یوه لاره وټاکې لکه د یولسم د سپټمبر په پیښه کې د ترهګرو پر ضد د یو پراخ ملاتړ غوښتنه وکړه. د بهرنیو چارو وزیر د جګړې د کلکو مخالفینو، د یو موټي لست، سیون سیونګورد [۳۷۱] او د سوسیالست ګوند د مشر هولګر ک نیلسن [۳۷۲] سره وکتل تر څو د عراق د جګړې په اړوند د حکومت نظر ورته بیان کړي. د یو موټي لست، سیون سیونه ګورد هغه غونډه په حافظه کې ده ځکه نوموړی ته د حیرانتیا سبب شول.

---

[۳۷۱] - Søren Særnegård

[۳۷۲] - Holger K. Nielsen

د بهرنيو چارو وزير ويلی و چې د ملل متحد نوی پريکړه کومه ستونزه نه ده ځکه د بهرنيو چارو وزير د فرانسي د بهرنيو چارو د وزير سره خبري کړی وی او هغه هم خپله موافقه ښودلي وه.

د يو موټي لست، سيون سيونه گورد وايي چې د بهرنيو چارو وزير موږ ته وويل چې د فرانسي د ولسمشر، شيراک[٣٧٣] خبري يوازې د دوي په کورنې سياست پوری اړه درلوده او دبلي خوا د يوې ډرامې بڼه يی درلوده.

دغه بيان د فرانسي د رسمي پاليسی سره په بشپړ توپير کې وو، نو ځکه د يو موټي لست، سيون سيونه گورد او د سوسيالست گوند د مشر هولگر ک نيلسن حيرت يوړل.

د يو موټي لست، سيون سيونه گورد وايي چې ما وويل څه چې د بهرنيو چارو وزير وايي نو سړی به داسې فکر نه کوي چې دروغ دي وي خو معلومه شوه چې ټول خبري يي رښتيا هم نه وي. د بهرنيو چارو د وزير بيان د سوسيالست گوند مشر، هولگر ک نيلسن نور هم شکمن کړي. نوموړی وايی : زه نور هم د بهرنيو چارو د وزير پر خبرو شکمن شوم ځکه د بهرنيو چارو وزير په دغه موده کې مختلف معلوماتونه راکول او هر ځل به

يي هڅه کوله چې د ډنمارک گډون ته په جگړه کې قانوني بڼه ورکړي. او علاوه به يی کړل چې دا د ملل متحد بستيز کار دي.

ټولو ته څرگنده شوه چې ولسمشر جورج بوش غواړي پرته د ملل متحد د پريکړه ليک څخه د عراق پر ضد جگړه پيل کړي. په يوه تلويزيوني خپرونه کې د ٢٠٠٣ زکال د مارچ په شپږمه نيټه، جورج بوش امريکايان داسې جگړې ته تيار کړل: « امريکايان بايد د ترهگرو پر ضد په دغه نوی جگړه پوه شي چې موږ يوازې د القاعده ترهگرو د له مينځه وړولو له پاره جگړه نه کوو بلکې موږ بايد د اټومي وسلو د له مينځه وړولو له پاره هم وجنگيږو. که نوموړي په خپله خوښه ځان بی وسلې نه کړي، موږ به بريد وربانډی وکړو.»

- Chirac[٣٧٣]

بله ورځ د وسلو څیړونکي ګروپ مشر، هنس بلیکس [۳۷۴] خپل رپوټ وړاندی کړ او داسې ښکاریده چې دا رپوټ به د جګړې د پیل څخه وروستی رپوټ وي. رپوټ مختلف سیګنالونه ورکول چې له یوې خوا څخه د عراق فعاله مرسته د څیړونکي ګروپ سره بیانیدل. (ژ: زما یاد دی چې د هیت مشر په داسې چاپیریال کې راګیر و چې په رپوټ کې باید بشپړ احتیاط وکړی چې د بوش سره مواجه نه شي او هم د واقعیتونو یوه کوچنی برخه ولیکي په دی مانا چې میرزا قلمي کړی یي وکړل.)

هنس بلیکس دا هم وویل چې « د څیړونکي ګروپ په حیث زموږ کار کول پرته د ستونزو هم نه دی ولې همدا شیبه موږ خپل کار په مسلکي توګه مخته وړو، پرته د عراقي مقاماتو د خبرتیا څخه موږ په ټول عراق کې پلټنې کولای شوو او هم هوایي څارنه کوو. او علاوه یي کړل چې عراق (۳۴) داني د السه موډ [۳۷۵] راکټونه تخریب کړی دي.»

خو د بل لوری هنس بلیکس د کار د چټکتیا څخه خوښ نه و او وایي چې: «عراق باید وکولای شي چې د خپل منظم اداري سیستم په درلودلو سره زیات تحریري اسناد د هغو وسلو په اړوند چې منع دي، وړاندې کړی، خو تر اوسه دا ډول محدود اسناد وړاندی شوی دي.»

نو ځکه نوموړي د زیات وخت غوښتنه وکړه چې څیړنې وکړي او علاوه یی کړل چې:« د عراق د فعال ګډون او د بهر څخه د فشار سره سره یو څه وخت ته اړتیا شته تر څو د وسلو موقعیتونه تثبیت، د اسنادو ارزونه وشي، د اړوندو کسانو سره مرکې او وروستی پایلې ولیکل شي. د دغو چارو اجرا کول کلونو ته اړتیا نه لري خو په اونیو کې هم نه خلاصیږي بلکې د میاشتو په جریان کې تر سره کیدلای شي.»

د بلیکس د رپوټ پر بنسټ د فرانسې د بهرنیو چارو وزیر، ډو مینیکو دی ویلیپین وویل چې د رپوټ څخه ښکاري چې د عراق بي وسلې کیدل په منظم ډول پرمختګ کوي او داسې یې وپوښتل: ولې اوس جګړه پیل کوو؟ د څه له پاره هغه وسایل چې په فعاله توګه کار ورکوي له مینځه وړو؟

---

[۳۷۴] - Hans Blix

[۳۷۵] - Al- Samud-2 missiler

نوموړي وړاندیز وکړ چې څیړونکي هیت باید خپل کار ته دوام ورکړي او یو مهال ویش دی هم برابر کړي. د روسیې د بهرنیو چارو وزیر، ایګور ایوانوف[۳۷۶] هم دفرانسې د بهرنیو چارو د وزیر د وړاندیز څخه ملاتړ وکړي او علاوه یی کړل چې موږ د عراق د بې وسلې کولو په درشل کې یوو.»

خو د امریکا او انګلیستان د بهرنیو چارو وزیرانو دغه نظریات رد کړل. د امریکا د بهرنیو چارو وزیر وویل چې عراق همدا شیبه په فوري توګه مرسته نه کوی او د څیړونکي هیت رپوټ یې داسې تعبیر کړی چې د عراق له لوری مرسته نه ورسره کیږي.

جګړه د پیل کیدو په حال کې وه د مارچ په لسمه نیټه د ملل متحد سرمنشي، کوفي عنان وویل چې د جګړې پیل پرته د امنیت د شورا د ملاتړه څخه د ملل متحد د بنسټیزو قوانینو ماتول دي.

کوفي عنان وویل چې د ملل متحد چارتر ډیر روښانه دي چې په کوم وخت کې باید د زور څخه کار واخیستل شی. نوموړی دا هم وویل که امریکا او یا نور هیوادونه د ملل متحد د مشورې څخه پرته جګړه پیل کړي، دا کړنه به د ملل متحد د چارتر سره په تناقض کې وي.

د ملل متحد د منشور له مخې یو هیواد د بل هیواد پر ضد هغه وخت جګړه پیلولای شي چې د خپل هیواد د دفاع په موخه وي یاني د برید ځواب وي او یا په هغه وخت کې چې د امنیت شورا داسې ارزونه وکړي چې ټاکلی تهدید د سولې له پاره ګواښ وګڼل شی. خو په داسې وخت کې باید د متقابل برید په وړاندې د مناسبو وسایلو څخه کار واخیستل شی.

د ملل متحد د امنیت په شورا کې د عراق د جګړې د پیل له پاره مخالف نظرونه دومره ډیر وو چې جورج بوش او توني بلیر د مارچ په (۱۲) نیټه ومنل چې د نوي پریکړه لیک له پاره چانس ډیر لږ دي. د ورځو خبره وه چې جګړه پیل شی.

داسې ګومان کیږي چې په ډنمارک کې د حکومت د لوړ پوړو تر مینځ په جګړه کې د ګډون له پاره د مارچ په (۱۴) نیټه پریکړه شوی وه او وروستۍ پریکړه

[۳۷۶] - Igor Ivanov

د ډنمارک صدراعظم کړی وه.خو دا په دی مانا ده چې د بهرنیو چارو وزیر هم خپل نظر ته بدلون ورکړی و.

په دغه ورځ پر دولس بجي د ډنمارک صدراعظم او په ډنمارک کې د امریکا سفیر ، سټوارټ بیرن ستین[۳۷۷] لیدنه وکړه.

لږ وروسته صدراعظم د توني بلیر سره ټلیفوني خبري وکړي او مازدیګر جورج بوش هم د ډنمارک صدراعظم ته ټلیفون وکړي.

د شپې له خوا صدراعظم د بهرنیو چارو د وزیر او د ځان ساتو(کانسیرویټیو) د مشر او د صدراعظم د مرستیال، بینډټ بینډټسن[۳۷۸] سره په صدارت کې وکتل.

د دوي د ډلي ښځه یوه هم د غونډې جزییات بیان نه کړل خو صدراعظم وویل چې موږ پر مختلفو امکاناتو خبري وکړي او په دي همږغې شولو چې د ملل متحد پخواني پریکړه لیکونه (۱۴۴۱ او۶۸۷) کافی دی چې د اړتیا په صورت کې ډنمارک پوځې مرسته وکړي.

ډیرې سرچینې وایي چې د ځان ساتو ګوند مشر بینډټ بینډټسن د صدراعظم سره همږغی و چې د امریکا سره تر وروستۍ مرحلې پوری مخته ولاړ شوو، سره د دي چې د ملل متحد نوی پریکړه لیک نه وی، نو په دغه صورت د بهرنیو چارو وزیر یوازی پاته و او اړ و چې تسلیم شی. اوس نو د حکومت دري مهم کسان سره همږغې وو او رسمي پریکړه د مارچ په (۱۸( نیټه وشوه. خو کار پای ته رسیدلی نه وو، دا چې خبره د پوځې مرستې وه په وروستۍ مرحله کې هڅه وکړه چې سوسیال ډیموکراتان هم قانع کړي.

د پورته غونډې ښځه یوه ورځ وروسته صدراعظم د سوسیال ډیموکراټانو مشر موګنس لویکه ټافټ ته ټلیفون وکړ. د شنبې ورځ (د مارچ پنځلسمه نیټه) وه او موګنس لویکه ټافټ د یوې غونډې ښځه د کور په لوری په موټر کې ناست و.

---

[۳۷۷] - Stuart Bernstien

[۳۷۸] - Bendt Bendtsen

صدراعظم ورته وویل چې ما د بوش، توني بلیر او د هسپانیا د صدراعظم، ازنر[۳۷۹] سره خبري وکړي.

موګنس لویک ټافټ وایي چې صدراعظم راته وویل: د امریکا ولسمشر داسې راته وویل، چې په فوري ډول ټول هیوادونه هغه پوځي واحدونه کوم چې ورباندې موافق شوی یوو، زموږ په اختیار کې کښیږدي. ولې موږ ډنمارکیان به تر دوشنبې تر ورځي انتظار وباسو تر څو چې د ملي امنیت شورا پریکړه وکړي. دا هغه هڅه وه چې صدراعظم غوښتل چې زما په سترګو کې خاورې وپاشي.

موګنس لویکه ټافټ د خپل خاطراتو په کتابچه کې لیکلي دي چې ما ته د ډنمارک صدراعظم وویل: بوش وایي چې د ملل متحد نوې پریکړه لیک ته اړتیا نه شته خو نه غواړي چې د ملل متحد د نوی پریکړه لیک سره مخالفت وکړي.

موګنس لویکه ټافټ وایي چې زما او د صدراعظم خبری دا ډول وي چې زه باوري شولم چې د ډنمارک صدراعظم بوش ته ویلي دي چې زه په هر حالت ستا تر شاه ولاړ یم.

د یکشنبې په ورځ صدراعظم د ډنمارک د خلکو ګوند د مشرې پیا کیسګورد[۳۸۰] سره وکتل. صدراعظم د نورو ګوندونو د مشرانو سره هم وکتل خو د ګوندونو مشرانو غوښتنه وکړه چې باید صدراعظم د هر ګوند د مشر سره په جلا توګه وګوري او وروسته پریکړه اعلان کړي.

حکومتي ګوندونه د پخوا څخه پوهیدل چې د نورو ګوندونو سره بیلې بیلې نظریې شته. دغه موضوع د ډنمارک د خلکو ګوند د بهرنیو چارو د اړیکو مشر، پیټر سکاروف[۳۸۱] د بهرنیو چارو د وزیر سره په نوبتي غونډه کې بیان کړل. په حکومتي ګوندونو کې دوه اړخه وه، طبعي ده چې موږ د صدراعظم ملاتړ کولو او د نوموړي لار مو تعقیبول خو د بهرنیو چارو وزیر د ملل متحد د پریکړې ډیري خبري کولې.

---

- Jose Maria Aznar[۳۷۹]

- Pia Kjærsgaard[۳۸۰]

- Peter Skaarup[۳۸۱]

پيټر سکاروف وايي: د بهرنيو چارو وزير د سوسيال ډيموکراټانو د مشر او د کيڼ ليبرال ګوند د بهرنيو چارو د پخواني وزير سره ډير ملاقاتونه کول نو د دوی خبرو ډيره اغيزه وربانديې ښندلې وه په دی خاطر يي د هغوي خبرو ته ډير غوږ وو. پيټر سکاروف داسي ادامه ورکوي: کله چې ما د بهرنيو چارو د وزير سره خبري کړي وی، زه داسی د نوموړي د خبرو څخه وپوهيدلم چې د بهرنيو چارو وزير دغه دوه انډيولان لري. د بهرنيو چارو د وزير بيان چې ډير يي د ملل متحد د پريکړې نوم اخيست په اصل کې په غيري مستقيم ډول نور ټول امکانات ردول. خو صدراعظم داسی نه کول. په جزيياتو کې شيطانت شتون درلودي خو موږ پوهيدلو چې کومې لوری ته روان دی.

په دغه مهمه ورځ، يکشنبه (د مارچ ۱۶) پيټر سکاروف د اوبو پر غاړه ځغاسته کول چې د خلکو د ګوند مشرې پيا کيسګورد ټليفون ورته وکړې او د صدراعظم وروستۍ پريکړه يي ورته اعلان کړل.

پيا کيسګورد وايي چې موږ د دغه پريکړې سره کوم مخالفت نه درلودي ځکه په ملل متحد کې نورې ډيرې غيري موجه دلچسپياني موجودی وي چې زموږ د کار مخه يی نيوله چې يو څه بايد وکړو.

په همدغه ورځ جورج بوش د توني بلير، ازنر او د پرتګال د صدراعظم جوسی مانويل ډوريو باروسو [۳۸۲] سره د ازوريرنا [۳۸۳] په جزايرو کې وکتل. دوي پريکړه وکړه چې د ملل متحد د امنيت شورا ته چانس ورکړي چې د جګړې د پيل ملاتړ وکړي. د شپې له خوا د ډنمارک صدراعظم د ډنمارک د دوهم تلويزيوني چينل [۳۸٤] سره مرکه وکړه، داسې وويل: موږ حالات په دقت څارو که د ملل متحد لخوا نوي پريکړه ليک تصويب نه شي. د امريکا د بهرنيو چارو وزير کولين پاول وروستۍ تلاښ وکړ چې د نوی پريکړه ليک د تصويب له پاره د فرانسي ملاتړ تر لاسه کړي خو بريالی نه شو. د دوشنبي په ورځ بوش نړيوالو ته خبر ورکړي چې که صدام حصين د عراق څخه ونه وزي نو جګړه به پيل شي.

---

- Jose Manuel Durao Barroso[۳۸۲]

- Azorerne[۳۸۳]

- TV2[۳۸٤]

د رخصتیو (شنبه او یکشنبه) په ورځو کې د ډنمارک د بهرنیو چارو وزارت ډیرې هڅې کړی وي چې د جګړې د پیل له پاره قانوني او حقوقي دلایل ومومي.
د بهرنیو چارو وزارت د حقوقي مشاوریت مشر، پیټر ټکسیو ینسن[۳۸۵] ته دغه دنده سپارل شوی وه.

تر ټلاښونو او اندیښنو وروسته د رخصتیو د یاد داشت په نوم داسې پریکړه اعلان شول: « د ملل متحد د امنیت د شورا پخواني پریکړه ۱۴۴۱ دا واک راکوي چې زور استعمال شي». مګر د امنیت شورا کومه نوی پریکړه و نه کړه چې جګړه (د زور څخه کار واخیستل شي) دي پیل شي. د دی په بدل کې د امریکا متحده ایالاتو د څو محدودو هیوادونو په ملاتړ داسې وپتیله چې د ملل متحد پخوانی پریکړه لیک مراعات شوی نه دي، باید پر عراق باندې برید وشي. واقعیت دا و چې د بهرنیو چارو وزارت د حکومت تر سیاسي فشار لاندی و چې باید د جګړې د پیل په خاطر یو حقوقي دلیل وړاندي کړي، خو د بهرنیو چارو وزیر دغه ادعا نه مني.

پیر ستي میولر د بهرنیو چارو وزیر وایي: داسی نه وه چې حقوقي مشاورین زما په دفتر کې ناست وو چې باید حقوقي نظر وړاندی کړي، په دی صورت کې نو دوی هغه یاداشت چې زما پر میز پروت و، بي ارزښته ګڼل کیدي. نوموړی علاوه کوي چې حقوقي کارپوهان زما دفتر راغلل او داسې نوټ یي پر میز راته کښیښود: « د امنیت د شورا (۱۴۴۱) شماره پریکړه لیک تر هغه ډیر قوي دي چې د کیڼ لیبرال ګوند د بهرنیو چارو وزیر، نیلس هیلویګ پیټرسن په (۱۹۹۸) زکال کې جګړه وربانديي پیل کړه. د بهرنیو چارو وزیر وایي ما کارپوهانو ته وویل چې ښه خبره پای ته ورسیدل اوس نو جګړه پیل کیږي. د بهرنیو چارو وزیر دا هم رده وي چې ګواکی نوموړی خپل موقف ته بدلون ورکړي او د امنیت د شورا د نوی پریکړه لیک څخه یي صرفنظر وکړ، سره د دی چې د بهرنیو چارو وزیر پوهیږي چې د ډنمارک خلک، د پارلمان غړي او د نوموړي پخواني دوه سیالان دغه نظر لري.

د بهرنیو چارو وزیر د پورته ادعا په اړوند خپل دلایل داسې وړاندي کوي:

---

[۳۸۵] - Peter Taksøe Jensen

« ما د خپلو پخوانیو سیالو وزیرانو سره ډیري نژدي اړیکي درلودي، زه فکر نه کوم چي دا دي درسته وي چې د پورته وزیرانو په خاطر ما د ملل متحد لار پریښودلي وي. که سړی د امنیت د شورا نوی پریکړه لیک غواړي ولي هغه لاسته را نه شی نو سړی پر زوړ پریکړه لیک باندي غور کوي چي ایا موضوع په بر کې نیسي؟ خو زما حقوق پوهانو دغه نظر راکړي چې دغه پریکړه لیک کافي دي.»

د دوشنبې په ورځ پر دولسو بجو د بهرنیو چارو وزیر دغه یاداشت د خپل ګوند مشر بینډ بېنډ ټسن [۳۸۶]، د سیاسي ګروپ مشر پیا کریستماس میولر [۳۸۷] او د بهرنیو چارو د ګروپ مشرې ګیټه سیبیرګ ته [۳۸۸] تسلیم کړي او د یاد داشت د محتوي په اړوند یي معلومات ورکړل.

په دغه جریان کې د ځان ساتو (کنسیرویټیپ) د ګوند د غړو تر مینځ د موضوع په تړاو بحث وشوو.

د بهرنیو چارو د ګروپ مشرې ګیټه سیبیرګ همیشه د بهرنیو چارو د وزیر ملاتړې وه چې د ملل متحد د نوې پریکړه لیک غوښتنه یي کوله. خو اوس یي ولیدل چې د بهرنیو چارو وزیر په ناڅاپي ډول خپل جهت بدل کړی دي.

نوموړې وایی چې د بهرنیو چارو د وزیر سیاسي جهت کوم سوء تفاهم نه و، ځکه د بهرنیو اړیکو د کمیسیون په غونډو کې پرته د اندیښنې څخه د ملل متحد د نوې پریکړې پر غوښتنه ټیګار کولو. د بهرنیو چارو وزیر هیڅ وخت د امنیت د شورا زوړ پریکړه لیک داسې تعبیر کړی نه دي چې کافي دي. دغه ټینګار یي په هر ځای او حتي د پارلمان په غونډو کې کولو.

د بهرنیو چارو وزیر په دغه غونډه کي د نوموړی یاداشت په اړوند وویل چې د امنیت د شورا (۱۴۴۱) شمیره پریکړه لیک د جګړې د پیل له پاره کافي دي. د بهرنیو چارو د ګروپ مشره ګیټه سیبیرګ وایی چې زه پوه شوم چې نور بحث ګټه نه لري. نور بحث دوام و نه کړي. دا یاداشت یوازې زموږ د خبرتیا له پاره وو نه دا چې موږ بحث ورباندې وکړو. نوموړی وایي چې زه په رښتیا د خبر

---

[۳۸۶] - Bendt Bendtsen

[۳۸۷] - Pia Christmas

[۳۸۸] - Gitte Seeberg

په اروېدلو سره حیرانه شومه ځکه د بهرنیو چارو وزیرپه ټولو دغو میاشتو کې دغه ډول څه ویلي نه وو. زما درک د بهرنیو چارو د وزیر څخه داسی و چې هڅه کوي تر څو د ملل متحد نوی پریکړه لیک تر لاسه کړي. نوموړې پریکړه وکړه چې د خپل ګوند د تصمیم سره مخالفت نه کوي. اوس نوموړې د ځان ساتو د ګوند څخه وتلې ده او ډیر کلونه وروسته نوموړې هیڅ شک نه لرې چې د عراق جګړه غیري قانوني وه.

د ګوند د هغه وخت د سیاسي ګروپ مشر پیا کریستماس میولر مخکی له غونډې د یو کارپوه سره مشوره کړی وه. هغه کارپوه ورته ویلي وو چې د ملل متحد ۱۴۴۱ شمیره پریکړه لیک کافي دي چې د زور څخه کار واخیستل شي. نوموړي وایي چې زه د دغه کارپوه د بیان څخه وروسته په ډاډه زړه غونډې ته ولاړم. زما له پاره ډیره مهمه وه چې د ملل متحد لیکه تر پای پوری تعقیب شي. خو دا به ډیره ښه وای چې د امنیت د شورا نوی پریکړه لیک تصویب شوی وای. ما شک نه درلودی چې حقوقي بنسټ د امنیت د شورا په پخوانی پریکړه کې په نظر کې نیول شوی دي.

د ډنمارک صدراعظم د ډنمارک د خلکو د ګوند په ملاتړ یو کوچنی اکثریت درلودې. خو د ډنمارک په تاریخ کې عجیبه پیښه وه چې ډنمارک پرته د پارلمان د پراخ ملاتړ څخه په جګړه کې ګډون کولو.

په دغه خاطر د ډنمارک صدراعظم د وروستې ځل له پاره د دوشنبې په ماښام تلاښونه وکړل. نوموړي د سوسیال ډیموکراټانو مشر په ځانګړي ډول د صدراعظم په دفتر کې غونډې ته راوبولی. په دغه غونډه کې صدراعظم د سوسیال ډیموکراټانو مشر ته خبر ورکړ چې نوموړی پریکړه کړی ده چې په جګړه کې برخه واخلي. ولي په عیني وخت کې صدراعظم د سوسیال ډیموکراټانو مشر ته وړاندیز درلود.

ښکاري پوځي واحدونو دری میاشتي سخت پوځي تمرینونه وکړل چې د جګړې تر پیل نه مخکی هلته ځای پر ځای شي. دغه ځای پر ځای کیدل د امریکایي، انګلیسي او استرالیایی ځانګړو پوځي واحدونو سره په ګډه تر سره کیږي.

د ډنمارک ځانګړی پوځي واحدونه په زغره والو ګاډیو کې وو چې د بغداد د دښتونو په جنوب غرب او غربي برخو کې د عراقي پوځیانو موندل یی دنده وه. وروسته د ډنمارکي پوځیانو دنده وه چې عراقي هدفونه بم غورځوونکو الوتکو

ته ور په ګوته کړی تر څو هغه يي بمبارد کړی او د اړتيا په صورت کې جګړه هم وکړی. د عراق د سکاډ توغنديو څخه ډار زيات وو ځکه دغه توغنديو کولای شوای بکتريالوژيکي او کيمياوي مواد فير کړی، که صدام حسين په رښتيا ويجاړوونکي وسلې ولري، کيدای شی چې ګټه ور څخه پورته کړی.

په دغه خاطر ددنمارکي پوځيانو مهمه دنده د سکاډ توغنديو موندل وو.

د ډنمارک ځانګړی پوځيانو مخکي په ناروی کې پر محافظتي پوستو او کانکريټي پوځي تاسيساتو باندې د يرغل تمرينونه کړی وو، او داسې اټکل به يی کولو چې ګواکی چې دغه تاسيسات کيمياوي د ويجاړونکو وسلو لابراتوارونه لري. په دغو تمرينونو کې بحري پوځي واحدونو هم ګډون کړی وو چې موخه يي و افغانستان ته تلل وو. او وروسته د دواړو واحدونو څخه يو ګډ پوځي واحد جوړيدی.

سره د دی چې د ډنمارک ځانګړي پوځي واحد په جګړه کې د ګډون په موخه د الوتلو له پاره تيار وو خو صدراعظم د سوسيال ډيموکراټانو مشر ته وويل چې تر اوسه پوری سرتيري ليږل شوی نه دی. په بدل کې غوښتل چې د ګزمې يوه وړه کښتی، اول فيرت فيشر [389] او تر اوبو لاندې کښتی، سيلن [390] او هم د بشري مرستو يوټيم د ډاکټرانو سره وليږی. دا کړنه د صدراعظم د خوښي سره برابره نه وه چې د ځانګړو واحدونو د ليږلو څخه يی ډه ډه وکړل.

دغه پريکړه د صدراعظم د خوښی سره برابره نه وه او ځکه يي قبوله کړه چې د بهرنيو چارو وزير لا نور پر شا تګ غوښتي تر څو د سوسيال ډيموکراټانو رضايت د ډنمارک ګډون په جګړه کې لاس ته راوړي. په دغه صورت کې صدراعظم هيله درلوده چې سوسيال ډيموکراټان به جګړه ومني او هم به کيڼ ليبرال ګوند د ځان مل کړي نو به د جګړې د پيل له پاره لوی اکثريت جوړ شی.

د سوسيال ډيموکراټانو مشر موګنس لويکه ټافټ [391] د دغو ټولو خبرو څخه خبر نه وو.

---

[389] - Olfert Fischer

[390] - Sælen

[391] - Mogens Lykke Toft

موګنس لویکه ټافټ په خپلو یادداشتونو کې داسې لیکلی دي: کله چې زه صدراعظم سره په غونډه کې کښینستلم هغه د غونډې په پیل کې وویل چې د امریکا ولسمشر جورج بوش صدام حصین ته د نن شپې تر (۲) بجو پورې وخت ورکړی دی چې استعفاء وکړی. علاوه له دی څخه د بوش په آند د ملل متحد (۱۴۴۱) نمبر پریکړه لیک د جګړې د پیل له پاره کافي دي.

موږ د حکومت په امنیتي شورا کې غونډه درلوده او پریکړه مو وکړه او داسې مو وانګیرله چې دا یو مناسب پوځي خوځښت دي. زموږ او د بوش تر مینځ کوم جدي اختلاف نه شته ځکه صدام حصین د سیمې او نړی له پاره خطر دی.

وروسته صدراعظم د (۱۸) خطرناکو توغندیو په هکله یادونه وکړه چې (۶۰۰) کیلومتره واټن موخه له منځ وړلای شي. د موګنس لویکه ټافټ د یاد داشتونو پر بنسټ صدراعظم وویل موږ کولای نه شوو نور انتظار وباسوو. د اقتصادي بندیزونو دوام عادي عراقیان تر فشار لاندی راولي نو اړینه ده چې صدام ته جدی التیماتوم د ټاکلي وخت له پاره ورکړل شی او موږ هم ګډون ور په کښې وکړو.

تر دی خبرو وروسته صدراعظم داسې وړاندیز وکړ: « موږ پوهیږو چې تاسو د ځانګړو پوځیانو د ګډون سره مخالفت لري نو موږ تر تیریږو».

موګنس لویکه ټافټ په ځواب کې ورته وایي: له یوي خوا څخه په شمالي اروپا کې د جګړې په اړوند همږغې نه شته او هم د ملل متحد سرمنشی د جګړې د پیل سره همږغی نه دی. د جګړې پیل کیدای شی د اروپا د ویشلو سبب شی نو ښه به وي چې د جګړې په بدل موږ شمالي اروپایان یو ګډ پلان جوړ کړو چې بشري مرستی وکړو. موږ به یو مقدار پیسي بودجه په نظر کې ونیسو چې د جګړې په پای کې بیا رغونه وکړو.

د موګنس لویکه ټافټ د وینا په اساس جورج بوش هڅه وکړه چې داسې ځواب راکړي:« زما د ارزونې له مخې هر وخت د ډنمارک غوښتنه دا وه چې د امریکا ملاتړ وکړی.»

اوس موګنس لویکه ټافټ داسي ارزونه کوی: په ټولیز او دقیق ډول دغه د صدراعظم موقف او نظر و.

د ډنمارک پخوانی صدراعظم د هغې غونډې څخه داسې یادونه کوي: «ما د ډنمارک د ګډون او کومک په اړوند معلومات ورکړي، دا کیدلای شی چې پوځي مرسته وی خو زه پوهیدلم چې سوسیال ډیموکراټان په یو شمیر نورو مسایلو مصروف دی د بیلګې په توګه چې یو ګروپ ډاکټران ولیږو، کیدلای شي چې د بشري مرستو له پاره بودجه منظور کړو او موږ کولای شو چې د عراق د بیا رغونې له پاره تر جګړې وروسته بودجه په نظر کې ونیسو. دا د دوي دامیدونو یوه مجموعه وه چې ما تشریح کړل، سوسیال ډیموکراټانو دا ډیر ښه ګڼل او ډنمارک یې په موضوع کې ګډ ګڼي. خو ما بیاهم ما وړاندیز وکړ چې د ځانګړو سرتیرو د لیږلو څخه به ډه ډه وکړم.»

خو د غونډې پایله دا شول چې سوسیال ډیموکراټانو د رد ځواب ورکړ او په ډاګه یې ورته وویل چې پرته د ملل متحد د پریکړې څخه باید د سوسیال ډیموکراټانو د هوکي ځواب ته منتظر نه وی. د سوسیال ډیموکراټانو د مشر نظر قاطع و چې جګړه باید د ملل متحد پریکړه ولري.

غونډه پر (۲۲) بجې پای ته ورسیدل. د سوسیال ډیموکراټانو مشر د صدرات د مانۍ څخه ولاړ خو دواړه په حیرت او تعجب د غونډې څخه ووتل. موګنس لویکه ټافټ د صدراعظم پر پریکړه چې په یوازې توګه په جګړه کې ګډون کوی خو صدراعظم حیران و چې ولې د نوموړې وړاندیز رد کړ. د مرکزي سرچینو په قول صدراعظم ډیر متاثره وه. صدراعظم د ځانګړې پوځي واحدونو د لیږولو څخه ډه ډه وکړل په دغه خاطر د ډنمارک ګډون د صدراعظم په خوښه تر سره نه شو. دا هغه څه نه وه چې د صدراعظم هیله وه چې د بوش سره یې وکړی او سوسیال ډیموکراټانو هم مرسته ورسره ونه کړه.

موګنس لویکه ټافټ د پارلمان په ودانۍ کې خپل دفتر ته ولاړ او د کیڼ لیبرال ګوند پخواني د بهرنیو چارو وزیر نیلس هیلویګ پیټرسن[۳۹۲] ته یې ټیلیفون وکړ او د صدراعظم د بیان په اړوند یې معلومات ورکړي. دغو دواړو پخوانیو د بهرنیو چارو وزیرانو موافقه وکړه چې په دغه ډول به د عراق سره په جګړه کې د ډنمارک ګډون ته د رد ځواب ورکوي. د دوي ملګری په حکومت کې د

---

[۳۹۲] - Niels Helveg Petersen

بهرنیو چارو وزیر هغه قابلیت د لاسه ورکړی و چې خپل نظر په عمل کې پیاده کړی.

اوس نیلس هیلویګ پیټرسن وایی چې: « پیر ستي میولر د صدراعظم له خوا مغلوب شوی و.» مونږ دواړو کوښښ وکړ چې د حکومت د بهرنیو چارو وزیر پیر ستي میولر کږه ملا یو څه راسته کړو. خو نوموړی په خپل ګوند کې هم رغنده موقف نه درلودي. نوموړی نه شوای کولای چې په خپل استعفا یی تهدید کړی. نوموړي داسې قابلیت نه درلود چې د صدراعظم په مقابل کې ودریږي.

څو ساعته وروسته جورج بوش د سپینې ماڼۍ څخه په یوه تلویزیوني وینا کې صدام حصین او د هغه زامنو ته (۴۸) ساعته وخت ورکړي چې د عراق څخه ووزي پرته له دی نه جګړه پیلیږی.

بل سهار صدراعظم پر (۷:۵۰) بجو بیا هم د موګنس لویکه ټافټ سره وکتل، په دغه غونډه کې یو شمیر وزیران او د ادارو مشران هم حاضر وو. په دغه ډول د کیڼ لیبرال د بهرنیو چارو د پخوانی وزیر نیلس هیلویګ پیټرسن سره د ګوند مشره، مارینه یلوید[۳۹۳] او د موګنس لویکه ټافټ سره پیا ګیلروف[۳۹۴] ملګري وو. غونډه لنډه وه، یوازې صدراعظم په جګړه کې د ګډون په اړوند خپل د پروګرام مجموعه وړاندی کړل. دا هغه مجموعه وه چې اوس نوموړی داسې وایی:

«دا داسې یوه مجموعه وه چې ډیر ملایم موضوعات په کښی ځای شوی وو چې باید د سوسیال ډیموکراټانو د قبول وړ ګرځیدلي وای.»

مګر سوسیال ډیموکراټانو او کیڼ لیبرال ګوندونو اعتراض وکړي. د سوسیال ډیموکراټانو د ګوند مشر په ځواب کې ورته وویل: ما داسې خیال هم نه کولو چې حکومت به یوازې د ډنمارک د خلکو د ګوند[۳۹۵] په ملاتړ ډنمارکي سرتیري چې ډنمارک د نړۍ ډیر کوچنی هیواد دی، د عراق جګړې ته واستوي. خو

---

[۳۹۳] - Marianne Jelved

[۳۹۴] - Pia Gjellerup

[۳۹۵] - Dansk Folkeparti د بهرنیانو د راتلو (کډوالو) مخالف ښی اړخه ګوند

علاوه پر دغه پریکړې نوموړی او کیڼ لیبرال ګوند داسې[۳۹۶] سوچ کولو چې ډنمارک به پرته د ملل متحد د نوی پریکړې څخه په جګړه کې ګډون و نه کړی.

د سوسیال ډیموکراټانو مشر وایی زما ښه په یاد دي چې صدراعظم وویل: زه مهربانه وم چې ځانګړي واحدونه مې و نه لیږل. یوازې کوچنی کښتي[۳۹۷] اولف فیشر ولیږل شوه.

نوموړی علاوه کوی چې صدراعظم موضوعات په موازی ډول د ۱۹۹۸ زکال سره مخته وړل. په دی مانا چې د هغه وخت سوسیال ډیموکراټ صدراعظم، پاول نیوروف راسموسن[۳۹۸] د امریکا د وخت ولسمشر بل کلینټون ته مثبت ځواب ووایه ځکه کلینټون د عراق څخه د تهدید خطر احساس کړ او د اټومي ځار ګروپ ته د اجازه نه ورکولو په صورت کې د بمبار وړاندیز کړی وو. خو هغه زمان د اوس څخه په بشپړ ډول توپیر درلود. هغه وخت صدام څیړونکي هیت ته د پلټلو اجازه نه ورکول خو اوس پلټونکي هیت وړاندیز لري چې وخت ورکړل شی او هیله مند دي چې ستونزه د دغې لارې هواره شي.

غونډه پای ته ورسیدل خو اپوزیشن د صدراعظم وړاندیز رد کړ او په جګړې کې ګډ ون غیری اړین وګاڼه. صدراعظم هم پر خپل وعده وفا و نه کړه او ځانګړي پوځي واحدونه یې جګړې ته ولیږل. دلیل یی دا و چې اپوزیشن راضي نه شو نو زه هم پوځي واحدونه لیږم.

وروسته صدراعظم امنیتي کمسیون د ډنمارک د خلکو د ګوند د مشرې او دبهرنیو اړیکو د مسول په ګډون غونډې ته راوبلل. په غونډه کې د بهرنیو چارو وزیر هم ګډون درلود. د خلکو ګوند دبهرنیو اړیکو مسول د صدراعظم په رنګا رنګو نظرونو پوه و.

صدراعظم غونډه پرانیستل خو د بهرنیو چارو وزیر داسی ښکاریدی چې د صدراعظم د پریکړې څخه خبر و. ښکاره خبره ده چې صدراعظم په پریکړو کې بدلون راوستلی دی. صدراعظم وویل چې د ملل متحد د پریکړو څخه بهر

---

[۳۹۶] - De Radkale Vestre

[۳۹۷] - Olfert Fischer

[۳۹۸] - Paoul Nyrup Rasmosen

دی خو د سوسیال ډیموکرټانو او راډیکال ګوندو له پاره مې ډیر څه ومنل خو ګټه یی و نه کړه. په هر صورت د ډنمارک د خلکو ګوند د صدراعظم پریکړه ومنل.

لږ وروسته د ځان ساتو(کنسرویټیو) د ګوند ګروپي غونډ پرانیستل شول چې د ګوند ټولو پارلماني غړو ګډون وکړي. هیڅ بحث ونه شو. مشران په لوړه کچه د جګړې د ګډون څخه راضی ښکاریدل. د بهرنیو چارو وزیر هم خپل ملاتړ اعلان کړ او غونډه پرته د بحث څخه پای ته ورسیدل.

د نوموړی ګوند دهغه وخت سیاسي مشر، پیا کریستمیس میولر [399] هم د پریکړې ملاتړ اعلان کړ خو اوس وایی چې یوازي دغه لار وه چې زه ملاتړ اعلان کړم. پرته له دی به داسی وای لکه پر یوه پښه چې روان یم او ګومان به شوی وای چې زه حکومت ړنګوم.

د ورځی پر یوه بجه حکومت د پارلمان د بهرنیو اړیکو کمسیون د پریکړې څخه خبر کړل خو په ښکاره لیدل کیدل چې د صدراعظم او د بهرنیو چارو د وزیر دلایلو توپیر درلودي.

صدراعظم وویل چې دوه انتخابه وه: ډیموکراسۍ یا دیکتاتوري. دولت د صدام حصین په لیري کولو کې ګډون کوي ځکه دا به د نړۍ نورو دیکتاتورانو ته یو سیګنال او عبرت وي. او په نهایت کې رژیم ته بدلون ورکوو. د بهرنیو چارو وزیر استدلال وکړ چې د ملل متحد ۱۴۴۱ شماره پریکړه لیک حقوقي واک راکړی دی چې جګړه پیل شي ځکه صدام حصین د ملل متحد پریکړه او غوښتنې منلي نه دی. د بهرینو چارو د وزیر د بیان څخه ښکاریدل چې وایی جګړه به غیري قانوني وای که موخه یوازی د رژیم بدلون وای. کله چې صدراعظم د غونډې څخه وتی، ژورنالیستانو ته یی وویل چې صبر وکړی څو دقیقي وروسته به مطبوعاتي کنفرانس زما په دفتر کې جوړ کړم. نو هر څه ګډوډ شول.

د ژورنالیستانو په مینځ کې یو ځوان، لارس ګرینو [400] چې سور رنګ په بوتل کې ورسره و، او د صدراعظم شاه وه، ور ته نژدي شو. په بیړه یي سور رنګ د هغه پر شاه او اوږو ور توی کړي او ناری یی کړی چې ستا لاسونه په وینو

---

[399] - Pia Christmas Møller

[400] - Lars Grenaa

کې ډوب دي. په دغه شیبه د پارلمان ساتونکو ځوان ټینګ او پر مځکه یې غوزار کړ خو ولاړ سیاسیون اوژورنالیستان په حیرت شول. صدراعظم ځان ارام ونیوي او دهلیز ته په داسې حال کې ننوت چې رنګ یې پر توره دریشي بهیدي خو موضوع لا پای ته رسیدلي نه وه.

په داسې حال کې چې ټولو ولاړو کسانو صدراعظم او پر مځکه پروت ځوان ته کتل، یو بل ځوان، رونه ایلټارد سوینسن [٤٠١] را تیر شو او د بهرنیو چارو پر وزیر یې رنګ وشیندی. دا ځوان هم پر مځکه غوزار کړل شو.

دغه ځوانان د لیبرال ګوند دغړو له خوا یوې کوټې ته یووړل شو، تر څو پولیس راغلل او دوي یې بوتلل. مهمه دا وه چې د امنیتي پولیسو [٤٠٢] لخوا صدراعظم ته خبر ورکول شوی و چې خپل امنیت ته ډیره پاملرنه وکړی. باید د صدراعظم سره څلورویشت ساعته ساتونکو شتون درلودای. صدراعظم ته دا هم ویل شوی وو چې د بهرنیو اړیکو د غونډې څخه د راوتلو په وخت کې هم باید ساتونکي ور سره وي. د صدراعظم مشاور وویل: کله چې صدراعظم د غونډې څخه را ووت، همدا شیبه یي رنګ وربانديې وشیندي.

د یو موټې لست د مشرتابه غړی سیون سیونه ګورډ دا پیښه ونه لیدل ځکه د غونډې څخه د صدراعظم او د بهرنیو چارو د وزیر تر وتلو وروسته دوی بیا هم غونډې ته دوام ورکړ. د یو موټې لست نوموړی مشر وایی چې په دغه شیبه د بهرنیو اړیکو د کمسیون مرستیال ته یو نفر راغي او په غوږ کې څه ورته وویل. لنډه دا چې غونډه ژر پای ته ورسیدل او موږ بهرته راووتلو. د یو موټې لست د مشرتابه غړی سیون سیونه ګورډ وایی چې په دغه شیبه د لیبرال ګوند یو غړی په منډه ماته راغي او وی ویل چې ستا ملګرو پر صدراعظم برید وکړ. نوموړی وایی ما ورته وویل څه چټیات وایي خو د ښي لیبرال ګوند غړي وویل، هو دا رښتیا ده ځکه تاسو هغه دلته رابللی وو.

که څه هم په حیرت یې ویل چې دا درواغ دي خو پر خپل خبره ټینګار کولو او علاوه یی کړل چې ستاسو د ګوند ځوانې غړې پیر نیله تیل [٤٠٣] دا کسان د

---

- Rune Eltard Sørnsen [٤٠١]

- PET [٤٠٢]

- Pernille Rosenkrantz Theil [٤٠٣]

پارلمان دننه راوستلی وو. ما په باور وویل چې زموږ دغه ځوانه ډیره هوښیاره ده خو د خپل دفتر لوری ته ولاړم، هلته مې ولیدل چې د نوموړی څخه خبرلوځي پوښتنې کوي. خو ومې لیدل چې نوموړې د دې کړنې څخه پښیمانی نه کوي او زه وایم نه دا درواغ دي. حالت مې ډیر خراب شو چې موږ په غونډه کې ناست یوو تر څو د صدراعظم درواغ رسوا کړو او ځوانان په دغه ډول کړنه لاس پوری کوي. خپلې کوټې ته ننوتم، بدن مې تود شو او تبه راباندی راغله تر ډیرو ساعتو وروسته کورته ولاړم او سبا ته په رښتیا ډیر ناروغه شولم. سوچ مې دا و چې د عراق جګړه پاته شوه او د صدراعظم د رنګ شیندولو موضوع به د بحثونو اصلي موخه وی. په رښتیا په دغه کړنه ډیر خواشینی شوم.

نوموړی وایی چې دا کړنې په بشپړ ډول د انساني احساس کمښت وښودي. داسی فکر کیږی چې نور خلک د خپل فکر د یوې وسیلې په ډول استعمالوی. د رنګ شیندل پر یو کس باندی فزیکي برید نه دی خو کیدای شی چې د انساني فکر یوه کوچنی برخه وی چې کیدلای شوای هغه کس یی وژلی هم وای. انسانان یو سرحد لری او بل کس نه باید دغه سرحد مات کړی. نوموړی علاوه کوی چې: ما په بشپړه توګه خپل مورال د لاسه ورکړی و او غوښتل مې چې په همدغه شیبه پارلمان او د یو موټې لست ګوند پریږدم. بل وخت هیڅکله داسی فکر راته پیداشوی نه و.

څو ورځې وروسته نوموړی دا مسایل حل او هیر کړل، د جګړې پر ضد په سازماندهي مصروف شو. دغه دوه فاعلین (بریدکوونکي) د میلمنو په توګه راغلي وو. پرنیلر د برید وروسته وویل چې زه د دوی د پلان څخه خبره نه ومه چې پر صدراعظم او د بهرنیو چارو پر وزیر به رنګ وشیندي. وروسته دغه دوه فاعلین په څلور او دري میاشتي زندان باندی محکوم شول.

یوازي د یو موټې لست د مشرتابه غړی، سیون سیونه ګورد نه و چې د پورته کړنې په وجه غمجن و په همدي ډول د سوسیال ډیموکراټانو مشر موګنس لویکه ټافټ په خپل یاد داشتونو کې داسي لیکلی و: په هیڅ ډول د رنګ شیندلو موضوع او روان جریان ته رابطه نه شم ورکولای.

وروسته تر حمام او دریشی پریمینځلو صدراعظم په داسې حال کې چې د بهرنیو چارو وزیر ور سره ملګری وو، وویل: ډنمارک اوس په جګړې ورګډ شو. دلایل څرګند وو، صدراعظم وویل چې د ډنمارک ارزونه او غوښتنه دا وه چې د امنیت د شورا نوی پریکړه لیک باید شتون ولری خو په خواشینی باید ووایم

چې د نوی پریکړه لیک په تړاو د امنیت په شورا کې بشپړ تفاهم او موافقه ونه شول. زه غواړم چې په تاکید ووایم چې د دغه قدم اوچتولو شاته هم د ملل متحد ملاتړ شته، امریکا او ملاتړي يې د جګړې له پاره تیار دي. وروسته صدراعظم یوه پرنسیپي او ایډیالوژیکه موضع دا ډول بیان کړل: هر وخت د ډیموکراسۍ او دیکتاتوری تر مینځ باید سړی خپله اصلی لاره غوره کړی، که هر څومره لاره کړکیچنه هم وی. د نړۍ په تاریخ کې دا ډول پيښې ډیري شوی دی، موږ به اوس دلته نه وای که د هرې پيښې په اړوند بی تفاوتی ښودل شوی وای.

حکومت د عراق په جګړه د ګډون په اړوند خپله پریکړه (ب ـ ۱۱۸) وړاندی کړل. تر ټولو عجیبه دا وه چې د پریکړې په متن کې په مستقیم ډول د جګړې علت د اټومي وسلو درلودل په ګوته شوی نه وه. خو په بدل کې (۱۳) نور دلایل وړاندی شوي وو: په دلایلو کې اساسي ټکی دا و چې صدام حصین د ملل متحد د څیړونکي ګروپ سره په بشپړه توګه مرسته نه کوی او د ملل متحد د پریکړو د غوښتنو پر بنسټ د بې وسلې کولو په پروسه کې درسته برخه نه اخلي.

په داسې حال کې چې د ډنمارک او نړیوالې ټولنې بحث د اټومي وسلو پر درلودلو او یا نه درلودلو باندی وو. خو په نورو هیوادونو کې چې د امریکا ملاتړ یی کولو، دلیل دا و چې صدام حصین ذروي وسلې لري، باید بې وسلې شی، خو په ډنمارک کې په رسمي دلایلو کې دغه اساسي ټکی ځای نه درلود. دا یو ځیرکانه تاکتیک و ځکه وروسته معلومه شوه چې صدام حصین د ټول وژنې (اټومی) وسلې نه درلودی په داسې حال کې چې دغه واقعیت په (۲۰۰۳ زکال) کې معلوم نه وو.

د هغه وخت د بهرنیو چارو وزیر وايي چې زموږ پریکړه ډیره عالی وه که څه هم موږ په هغه وخت کې د اټومي وسلو د نه شتون څخه خبر نه وو.

موږ د هغه متن څخه ډیره ګټه پورته کړه کوم چې نیلس هیویګ پیټرسن[٤٠٤] د عراق سره په لومړی جګړه کې ګټه ورڅخه اخیستی وه. په ۱۹۹۸ زکال کې د بل کلنټن په زمانه کې هم ډنمارک د امریکا د عملیاتو ملاتړ وکړ. د بهرنیو چارو وزیر وویل: په ۱۹۹۸ زکال کې هم ذروي وسلې ونه موندل شوی، په دغه خاطر موږ په پریکړه کې ځای ور نه کړي.

---

[٤٠٤] - Niels Helveg Petersen

ولي د ۲۰۰۳ زکال د مارچ په (۲۰) نېټه اندرس فوک غاسموسن، صدراعظم تر[٤٠٥] پرېکړې وروسته په بروکسل کې د يو خبرى کنفرانس په ترځ کې وويل: عراق د جمعي وژنو (اټومي) وسلې لرى. دا يوازې زموږ گومان نه دی بلکې موږ خبر يوو چې عراق دا ډول وسلې لري. عراق خپله منلى ده چې دوي ډول ډول گازونه لکه سينيپ گاز[٤٠٦]، نيرو گاز[٤٠٧] او ميلټ براند[٤٠٨] درلودل. خو صدام حصين دا گازونه خطرناکه نه گڼي. صدام موږ ته نه وايى چې څنگه او چيرى يي دغه وسلې له مينځه يوورې. دغه معلومات د ملل متحد د څيړونکي هيت له خوا موږ ته رسيدلى دى او زه په خپل احساس کې هيڅ شک نه لرم.

اندرس فوک غاسموسن وايي چې زما خبري د مسايلو د رابطې پر بنسټ وي، خو اوس وايي چې موږ په عراق کې د څارگرې ادارې کسان نه درلودل چې راته څرگنده شوى واى چې ايا صدام حصين اټومي وسلې لرى او که نه؟ موږ اړتيا درلوده چې د خپل سترگو په ليدلو حال اتکا وکړو، ځکه صدام حصين د ملل متحد د امنيت د شورا سره مرسته نه کوله. صدام حصين د ملل متحد بى شميره پرېکړې په بى اعتنايى د هيرولو تاخچې ته غورځولي وي. دغه هغه دليل و چې ډنمارک په ۱۹۹۸ زکال کې پر صدام باندې د بريد ملاتړ او گډون وکړ او زما په نظر بيا هم اړتيا وه چې په ۲۰۰۳ زکال پر صدام بريد وشي او ډنمارک گډون وکړي.

صدراعظم په تاکيد وويل چې د ډله ايزو وسلو درلودل اساسي دليل وه چې د ملل متحد ۱۴۴۱ پرېکړه ليک بنسټ يي جوړولو او هم نړيواله ټولنه د همدغو وسلو پر درلودلو بحثونه کوي.

صدراعظم وويل چې: د ډله ايزو وژنو وسلو درلودل بحثونه ډير جدى کړى وو، دغه بحثونو د ډنمارک په پارلمان کې هم په شدت جريان درلودي. نړيواله ټولنه په دى باور وه چې صدام حصين د ډله ايزو وژنو (اټومي وسلې) وسلې درلودلې خو موږ همدغه دليل په جگړه کې د گډون له پاره استعمالوو.

---

[٤٠٥] - Anders Fogh Rasmussen

[٤٠٦] - Sennepsgas

[٤٠٧] - Nervegas

[٤٠٨] - Miltbrand

د نیلس هیلویګ پیټرسن له پاره پورته لیکلی متن ډیر ارزښت درلود.

د بحثونو په جریان کې د بحث اصلی موضوع دا و چې صدام حصین د ملل متحد پخوانی پریکړه لیک مراعات کړی نه دی.

نیلس هیلویګ پیټرسن وایی : دا چې موږ د کوم دلیل له مخې په جګړه کې ګډون وکړ د نورو هیوادونو د موخې په پرتله بی مفهومه چاره وه. یوازې یی خنداوره ګڼلای شو خو په ډیره چالاکی متن برابر شوی وو.

د محتوي ژباړنه بل ډول تعبیریدلای نه شی پرته له دی څخه چې خبره د ډله ایزو وژونو پر وسلو وه. پرته له دی څخه وړاندیز کوم مفهوم نه درلودی. په ملاحظاتو کې لیکل شوی و چې صدام حصین مخکی هم د ډله ایزو وژونو د وسلو د استعمال څخه ګټه اخیستی وه. نو ځکه د عراق بی وسلې کول د نړیوالې ټولنې او د سیمې د هیوادونو څخه خطره له منځه وړی.

اوس نیلس هیلویګ پیټرسن لیکی: « ستونزه بل ډول لیکل شوی وه یانی دا چې د موضوع د ګټلو له پاره میرزاقلمی شوی وه.»

د ځان ساتو (محافظه کار) ګوند د هغه وخت د بهرنیو اړیکو مسول ګیټه سیبیرګ هم[٤٠٩] شک نه لری چې د جګړې اصلي سیاسي دلیل د ډله ایزو وژونو د وسلو درلودل وه.

ګیټه سیبیرګ علاوه کوی چې: (د صدام حصین د ډله ایزو وژنو د وسلو د درلودلو دلیل د ډنمارک خلک د جګړې له پاره وهڅول. داسې انګیرل کیدل چې صدام حصین دغه وسلې زموږ په وړاندی کاروی پرته له دی به د ډنمارک دخلکو ملاتړ د جګړې څخه ناشونی وو. البته موږ په پارلمان کې هم دغه دلیل وهڅولو چې د جګړې پریکړه وکړو. موږ ټولو فکر کولو چې د ډله ایزو وژنو وسلې شته. همدغه دلیل و چې ما هم د جګړې د پریکړې څخه ملاتړ وکړي.)

د دفاع وزارت لوی درستیز ته دا مهمه نه وه چې پریکړه څرنګه شوی ده، دا د ډیره کیو پریکړه ده یا نه چې ډنمارک جګړې ته لیږي.

[٤٠٩] - Gitte Seeberg

د دفاع وزارت لوی درستیز، یسپر هیلسیو [٤١٠] داسې ادامه ورکوي: « زموږ د دفاعي چارو له پاره ګټوره ده چې په پارلمان کې ډیره کی پریکړه وکړی چې جګړې ته لیږل کیږو. خو په وروستیو وختونو کې داسې انګیرل کیږي چې دفاعي (پوځي) قوت باید د هر ناست حکومت او پارلمان جنګي وسیله وی چې د اړتیا په وخت کې کار ځنی واخلي ځکه نو بیا په کال کې د (١٩) میلیاردو کرونو د بودجې ورکول اړینه چاره نه وه.»

د پوځ د اوپراسیون مشر ځانګړو سرتیرو ته خبر ورکړي چې تاسو به په یوه ځل ګډ حرکت وکړی. دا ښکاره خبره وه چې ځانګړی سرتیري به په لومړی شیبه کې مرسته کوی خو سرتیري مایوسه وو.

د پوځ لوی درستیز په کور کې و چې د مارچ په (٢٠) د پنجشنبې شپه د سهار پر څلورو بجو د لوی درستیز ځانګړی ټلیفون زنګ وواهه. د دفاع د وزارت د موظف نوکریوال له خوا اطلاع ورکړل شول چې (٣٥) دقیقي مخکی د امریکا لومړی راکټ د عراق پر خاوره ولګید. د پوځ لوی درستیز په سوچ کې شو چې ایا جګړه پیل شول؟ وروسته یي د انټرنیټ په مټ نړیوال خبرونه وکتل خو څه نوی معلومات تر لاسه نه شو. د پوځ لوی درستیز ته مهمه نه وه چې څو راکټونه فیر شوی دی خو دومره روښانه شوه چې جګړه پیل شوی ده. سبا سهار د پوځ لوی درستیز د دفاع وزارت د قوماندې مرکز ته د سهار پر اوه نیمی بجی ورغلی.

لومړنی فیرونه د صدام حصین د وژلو له پاره وو ځکه د امریکا څارګرې ادارې معلومات تر لاسه کړی وو چې صدام حصین د بغداد څخه بهر په یوه فارم کې شپه تیره وی. لومړنی خبرونه داسی وو چې صدام وژل شوی دی خو وروسته څرګنده شوه چې صدام ژوندی دی.

ولسمشر بوش د تلویزیون پر مخ ښکاره شو، خپل ملت ته یې په خطاب کې وویل چې د امریکا او ملاتړو سرتیري د عملیاتو په لومړی فیز(مرحله) کې دی. موږ غواړو چې صدام حصین بې وسلې کړو، د عراق خلک ازاد کړو او نړی له دغه خطر څخه خلاصه کړو.(ژباړن: عراق یي نه یوازي ازاد نه کړ بلکې د

[٤١٠] - Jesper Helsø

هغه وخت څخه تر ۲۰۱۳ کال پورې چې زه ژباړنه کوم هره ورځ په سلګونو عراقیان وژل کیږي، خو خاتمه مستوره ده.)

لس ورځې وروسته د ډنمارک د پارلمان د ودانۍ مخې ته د عراق د جګړې د پیل پر ضد لاریون وشوو چې د ویناکوونکو څخه یو هم د سوسیال ډیموکراټانو د هغه وخت مشر، موګنس لویکه ټافټ و. موګنس لویکه ټافټ د خبرو په لړ کې وویل: « صدراعظم د ډیرو کلونو هغه دود چې ډنمارکیان به په بهرني سیاست کې همږغي وو، مات کړی، د ملل متحد د اداري د اوتوريتی کمزوری، د ناټو او ګډبازار هیوادونو تر مینځ بیلوالی راوستي. دا کړنه ډیره ډیره غمګینه کړنه ده خو زه هیله لرم چې زموږ ډنمارکي سرتیري مړه او ټپیان نه شي. نوموړی د وینا په وروستۍ برخه کې لاندې پوښتنه وړاندی کړه:

« جګړه پرته له شک څخه یوه لویه تشه رامینځ ته کوی او دا به ستونزمنه وی چې دغه تشه بیرته ډکه شی. په بغداد او نورو ښارونو کې به څومره عام وګړي ووژل شی؟ عراق به تر دغې جګړې وروسته په څه ډول راټول او سوله به څنګه تامین شی؟»

(ژباړن: ما په هغه وخت کې شرط وهلی و چې عراق زما د ژوند په موده کې بیا د سولې مخ نه ویني. تر اوس پورې خو وژني او ورانۍ په چټکتیا پرمخ رواني دی. خدای پوهیږي چې سوله به کله عراق ته راوګرځي.)

# پنځم څپرکی

## وينا

۲۰۰۱ ـ ۲۰۱۲ زکلونه

د اپريل (۹) ۲۰۰۳ زکال: د صدام حصين دري متره جګه مجسمه چې په بغداد کې وه، نسکوره کړه                . د امريکايي پوځونو د کويټ څخه د صدام حصين پر پوځونو بريدونه پيل کړل، او يوازې په دري اونۍ کې رژيم ړنګ کړي.

د ۳۰۰۳ زکال د مي لومړی نيټه: جورج بوش د امريکا په هنګار کښتۍ ۴۱۱ کې وينا وکړه. بوش اعلان کړل چې په عراق کې لوی عمليات پای ته ورسيدل.

د مي (۱۵) ۲۰۰۳ زکال: د ډنمارک پارلمان په لوی اکثريت پريکړه وکړه چې عراق ته (۳۸۰) سرتيري وليږل شي چې په عراق کې د ثبات په ټينګولو کې مرسته وکړي.

د جون (۱۶) ۲۰۰۳ زکال: د ډنمارک د لوی درستيز، يسپر هيلسيو تر مشرتابه لاندې د لوړپوړو پوځيانو غونډه جوړه شوه، پريکړه يې وکړه چې داسې پوځ تنظيم شي چې د مځکي په کره کې هر ځای جګړه وکړلای شي.

د اګست (۲۹) ۲۰۰۳ زکال: د ډنمارک صدراعظم د دوهمې نړيوالې جګړې د شپيتمې کاليزې په ورځ تاريخي وينا وکړه او ويې ويل: که څوک زموږ ارزښتونو، ډموکراسۍ، ازادي او د بشر حقوقو ته سخته صدمه رسوي موږ هم بايد ټول هغه امکانات چې په لاس کې لرو، د دفاع له پاره ورڅخه ګټه واخلو. د صدراعظم وينا هغه جنجالي بحثونو ته اشاره وه چې ولې د ډنمارک سرتيري د عراق په جګړه کې برخه اخلي.

د عراق خلکو په لويو سوټکانو د صدام حصين غټه سمنټي مجسمه ونړول. د دولس مترو جګې مجسمې پر سر د صدام حصين د واک سمبول وو کوم چې د صدام ديکتاتور څخه خلکو نفرت درلودي. دغه مجسمه يو کال مخکې د صدام حصين د (۶۵) کلنې زيږد په مناست جوړه شوی وه چې ګرد چاپيره يې ۳۷

---

۴۱۱ - USS Abraham Lincoln

استوانې وې. د دغو استوانو مانا دا وه چې صدام حصين په ۱۹۳۷ زکال کې زوکړی دی. استوانو مخفف نوم اس ايچ و.[۴۱۲]

د ۲۰۰۳ زکال د اپريل په نهمه نيټه د صدام حصين پوځ او ځانګړی ګارد د بغداد څخه وتښتيدل. د بغداد لويه برخه د امريکايي سرتيرو تر ولکې لاندې راغلل.
د عراقيانو سوټکانو ونه کړای شول چې د صدام حصين مجسمه بشپړه ړنګه کړی نو امريکايي سرتيرو ټانک ورمخته کړ او د صدام حصين د مجسمې په غاړه کې پړی وربند کړ خو مخ يې د امريکا په بيرغ ورپټ کړ چې عراقيان ولمسيدل نو ځکه يې بيرته د صدام مخ د عراق په بيرق پټ کړی خو د پړی زور ونه رسيد چې مجسمه رانسکوره کړی. وروسته امريکايي سرتيرو د اوسپنې ځينځير د مجسمې په پاسنی برخه کې بند کړ او مجسمه يې د ټانک په واسطه کش کړه، مجسمه ونړيدل خو بشپړه نسکوره نه شوه، په نيم ځوړند حالت پاته شوه. په دغه وخت کې عراقيانو مجسمه په بوټو وويشتل. په عربي نړۍ کې د بوټو ويشتل لوی سپکاوی ګڼل کيږی. وروسته مجسمه بشپړه نسکوره شوه او سر يې پری کړل شو چې د قهرجنو عراقيانو له خوا په ښار کې وګرځول شو. (ژباړن: زموږ د ختيزو خلکو ناوړه عادت دا دی چې خپل مشرا ن په پردو وژنو او بی عزته کوو يی. دا بی عزتي د عراق د ولس له پاره ده نو ځکه اوس د عراقي صدام حصين په بی عزت کولو د لويديزو کتابونه ډک دي.)

نړيوالو تلويزيوني شبکو انځورونه واخيستل او په نړۍ کې خپاره شوه. د ورځی په پای کې د امريکا د دفاع وزير ډونالډ رومزفيلډ[۴۱۳] اعلان وکړ چې «عراقيان د خطرناکه ديکتاتور څخه ازاد شول. صدام حصين به د نورو ديکتاتورانو په څنګ کې د بيلګې په توګه هيټلر، سټالين، لينين خپل ځای ومومي خو د عراق ولسونه به په ښه ډول د ازادی پر لور وخوځيږي.»

ريښتيانی صدام حصين ورک شو. په رښتيا د مجسمې د ورانولو په ډګر کې ډير خلک نه وو او تلويزيونونه هم وښودل چې په ډګر کې د خلکو ګڼه ګونه نه وه. يو کال وروسته د لاس انجليس ټايمز ورځپاڼې وليکل چې د مجسمې نړول د يو امريکايي افسر نظر و. امريکايي سرتيرو د لوډسپيکر په مټ شاوخوا تبليغات

---

[۴۱۲] - SH
[۴۱۳] - Donald Rumfeld

وکړل چې د مجسمې د نړیدو له پاره خلک راټول شي. دا چاره د دې له پاره وه چې نړۍ ته څرګنده کړی چې عراقیان امریکایي پوځیان اشغالګر نه بولي بلکې د ازادی فرشتې یې ګڼي.

په هر صورت د امریکی د بیرغ استعمال یوه لویه غلطی وه. په ډیرو عربي هیوادونو کې دا کړنه امپریالیستي عمل وګڼل شو. د الجزیري د تلویزیون یو ژورنالیست د امریکایي بیرغ په لیدو سره وویل چې له دی څخه به وروسته هر څه امریکایي بوی ورکړی.

په هر صورت د غریبو شیعه مسلمانانو په ښارګوټو کې خوښي زیاتي وي. په دغو ښارګوټو کې خوښي د احتیاط په پام کې نیولو سره نه کیدي او نور بیره نه وه چې د صدام حصین واکداري به بیا ژوندی شی. د صدام حصین د واکداری بنسټ د سني مسلمانانو لړکیو ټینګ کړی و نو ځکه په ځانګړی ډول د کوردانو لړکیو او د شیعه مسلمانانو په مینځ کې خوښیو زور اخیستی وه ځکه د صدام رژیم ړنګ شوی وه. ولې ژر دا خوښی د چور او چپاول سره ملګری شوي.

امریکایي سرتیرو پرته له دی څخه چې غبرګون وښیي، عراقیان د دوکانو په چوراخته وو. کمپیوترونه، موټران، قالینې، پیسي، میزونه، سیټونه او حتی د دروازو چوکاټونه یي غلا کول.

کله چې امریکایانو د عراق ښار اشغالاوه، د انګلیستان د جګړې د ډګر ژورنالیست، روبرټ فیسک[٤١٤] په دغه وخت کې په عراق کې و. نوموړی په انډیپینډنټ[٤١٥] ورځپانه کې د یوې لیکنې په ترڅ کې ولیکل چې د عراقیانو خوښي د شکونو ډکې وي.

یو دوکاندار یو برتانوی ژورنالیست ته په لوړ اواز وویل دا زموږ د ازادي پیل دی. خو وروسته تر یو لږ خاموشی یې وویل چې امریکایان په بدل کې څه غواړی؟

یو بل عراقي وویل چې موږ د صدام حصین په ګوښه کولو خوښ یوو خو امریکایان هم موږ باید پریږدي. موږ غواړو چې زموږ تیل زموږ اوسئ پرته

---

[٤١٤] - Robert Fisk

[٤١٥] - The Independent

له دي نه مخالفتونه او مقاومت کيږی نو په هغه صورت به موږ ته د ترهګرو نوم راکړی.

روبرټ فيسک خپل ليکنه داسې راټولوي: داسی څوک شته چې جګړه وګټي؟ د جګړې تر شاه چې ايډيالوژيکه او اقتصادي پروژه پرته ده هغه بيخی بله موضوع ده.

يوازی دري اونی تيرې شوي وي چې د امريکايانو تر مشري لاندی متحدينو پر عراق بريد پيل کړي، او هر څه د پلان له مخی مختنه ولاړه.

په اصل کې د امريکايانو بريد په دو جبهو ويشل شوی وو، يوه جبهه به د جنوب له خوا د کويټ څخه او بله جبهه به د شمال له لوری د ترکيې څخه پوځونه بريد کوي. خو د ترکيې سره په خبرو کې چې د ترکيې له لاری پر عراق بريد وشي، موافقه و نه شوه. په دغه خاطر پوځي ګډو قوتونو ټول تمرکز پر جنوبي برخه متمرکز کړی. د شمال څخه يوازي هوايې ځانګړو ځواکونو د کوردانو سره په ګډه پر صدام حصين بريدونه پيل کړه. د هوا څخه د بمونو باران زياتره پر بغداد جريان درلودي او د عصري تکنالوجي په مرسته قوتونه بغداد ته ژر نژدي شول. د صدام حصين د پوځ شميره ډيره زياته وه خو مقاومت يی ونه کړي يوازې د صدام حصين ځانګړو ځواکونو تر يوې کچې مقاومت وکړي خو ډير تاب يی رانه وړ او کوم چانس يې نه درلود.

د ۲۰۰۳ زکال د اپريل په (۷) نيټه د امريکايانو د دريمې فرقې پياده سرتيرو د ټانکونو په ملګرتيا په بغداد کې د صدام حصين دوې مانۍ اشغال کړې. په قصرونو کې سرتيري په ليوالتيا شا وخوا وګرځيدل او وروسته يې په ارامو کوچونو کې ځانونه هوسا کول. د امريکايي افسر، چاد ټوچيټ[٤١٦] انځور چې د صدام حصين په چوکۍ کې ناست او سګرټ يي څکولو، په ټوله نړۍ کې وښودل شو. سرتيرو يو بوتل فرانسوي زاړه واين چې ۱۹۸۳ زکال وه، او طلايي جامونه چې په عربي ژبه نوشتې ورباندې وي، وکتل. او هم يي د قصر د لوکسو تشنابونو څخه ليدنه وکړه . کپټان چيريس کارتر چې د پياده قواو مشری يي کول، د امريکا د ای پی خبرۍ[٤١٧] سرويس ژورناليست ته يې وويل: « زه فکر کوم

[٤١٦] - Chad Touchett

[٤١٧] - AP

چې ښار زموږ تر ولکې لاندې دی». د قصرونو اشغال امریکایي سرتیري د موخو د کنترول په برخه کې بریالي وو. د (۱۹) ورځو په جریان کې پوځیان (۵۰۰) کیلومتره مخته ولاړه یانی نصریه، نجف او کربلا یې تر ولکې لاندې راوستل. په همدغه وخت کې د امریکا د دفاع وزارت اعلان کړل چې تر اوس پوری د جګړې تلفات (۸۵) امریکایي سرتیري دي. یوازی د عراق د معلوماتو وزیر، سید ال صحاف نړیوالو رسنیو ته ویل چې رژیم ګټونکی دی. بله ورځ یې خبری کنفرانس جوړ کړ او اعلان یی کړل چې امریکایان به تسلیم شی او یا به په خپلو ټانکونو کې وسوځي. په همدی خاطر لویدیزو رسنیو نوموړی د مسخره علی په نوم ونوموی. دا د معلوماتو د وزیر وروستنی کنفرانس و، بله ورځ ټول بغداد د نړیوالو ځواکونو په لاس کې ولویدي.

د ډنمارک پوځي مرسته تر اوبو لاندې کښتی وه نه کولای شوای چې په دغه بیړنی جګړه کې مرسته وکړی. د ډ نمارک مرسته هغه وخت سیمې ته ورسیده چې جګړه پای ته رسیدلی وه. تقریباً د کښتۍ سلو تنو کارکوونکو په ډیر لوړ سرعت د ډنمارک څخه بحرین ته چې (۱۴۰۰۰) کیلومتره وه، ځان ورساوه، خو د کښتۍ رسیدل د کویټ او عراق سرحد ته په داسی وخت کې و چې صدام حصین د واک څخه لیری شوی وو. په سفر کې د کښتۍ کارکوونکو وویل چې موږ ته لویه خطره دا وه چې د لارې په اوږدو کې یو خطرناکه په ویښتانو پټ لړم کښتۍ ته ننوتی و او د کښتۍ په کښتنۍ برخه کې پټ و. دغه لړم د کښتۍ د کارکوونکو په مینځ کې ډار رامینځته کړی وو. د کښتۍ مسولینو د ټولو کب نیونکو کښتیو راډیویي خبري ارویدلي تر څو د عراق د تیلو ذخیرې خوندی کړی. د ډنمارک د جنګې او تر اوبو لاندی کښتیو ګډون سمبولیک وو ځکه د ډنمارک بیرغ ور باندې رپیدی او دا په دی مانا وه چې موږ د امریکا ملاتړی یوو.

د دیرشو کلونو وروسته جورج بوش په جټ الوتکه کې الوتنه وکړه او د الوتکې اداره یې هم کول. د ۲۰۰۳ زکال د می په لومړی نیټه جورج بوش د امریکا د مجرب پیلوټ سره چې تر ۵۰۰ ځله یې زیات پر لویه (هنګار) کښتۍ باندي کښینستی و، د هغه په څنګ کې کښینستی او الوتنه یې وکړه. جیټ الوتکه،

ای ـ ۳ بی وه.[٤١٨] لومړی الوتکې ته د پیلوټ په واسطه په کافي اندازه ارتفاع ورکړل شوه، وروسته یې جورج بوش ته د الوتکې اداره ورکړه. په پیل کې الوتنه لږ څه غیري منظمه وه خو وروسته الوتنې عادی بڼه واخیستل. الوتنه د سمندر پر سر وشول کله چې د بوش په واسطه الوتکه هنګار کښتۍ ته رانژدی شوه نو پیلوټ دوباره د الوتکې اداره په خپل لاس کې ونیول او الوتکه په ارام ډول پرکښتۍ کښینول شوه. کله چې الوتکه کښینستل، جورج بوش د الوتکې څخه په پیلوټۍ دریشی کې راکوز شو او د سرتیرو سره یې ستړی مه شی وکړه. د بوش الوتنه د بری د جشن په مناسبت وشول.

تر لس میاشتي خدمت وروسته د نړۍ غټه هنګار کښتۍ د کلفورنیا په ساحل کې تم شول او نړۍ ته د امریکا د پوځي قوت د سمبول په ډول ښکاره شوه. بوش چې د الوتکې څخه راکښته شو، د هنګار کښتۍ د ۵۰۰۰ کارکوونکو سره یې روغبړ وکړ او د دوی د کامیابه عملیاتو ستاینه یې وکړل. وروسته بوش وینا وکړل او په ښکاره ټکو یې وویل: « زموږ عملیات په عراق کې پای ته ورسیدل.» موږ او زموږ ملګرو په جګړه کې بری ته ورسیدلو اوس نو د دی وخت رارسیدلی دی چې په ګډه امنیت تأمین او بیا رغونه وکړو. دغه خبري وروسته پر بوش باندې د بم د ویشتلو په ډول پای ته ورسیدلي. (ژ: بوش د جګړه پای ته رسیدل اعلان کړی وه خو د عراق ولس تر اوس پوري د جګړو په لمبو کې سوځي. همدا شیبه بارک اوباما د افغانستان جګړه ختمه اعلان کړه خو په افغانستان کې د تیرو کلونو په پرتله وژونو څو چنده ډیر زور اخیستی دی.)

په راتلونکو میاشتو کې بریدونو او جګړو کرار کرار په عراق کې زور اخیستی چې پایله یي د عراق له پاره د ډیرو کلونو جګړه ایز حالت شوو. وروسته جورج بوش هم اعلان کړل چې دا ستونزمنه او نه حل کیدونکی دنده وه. د رژیم پر داخل لا تر اوسه برید شوی نه وو خو اړینه وه چې ارامي او امنیت تأمین شی. د بوش په وینا کې په احتیاط سره وویل شول چې باید ډیموکراسۍ مطمینه شی او هیواد بیا ورغول شي خو پوځي بري لاسته راغلی دی. بوش وروسته ومنل چې دغه جګړه یوه غلطی وه خو د هنګار د کښتۍ په وینا کې په ټینګار وویل چې د صدام د رژیم او القاعدې تر مینځ ټینګې اړیکې وي.

---

[٤١٨] - S-3B

جورج بوش په وینا کې وویل چې د القاعدې ځالګی (د امن کور) مې ورانه کړه ځکه صدام حصین د القاعدي ثابت ملګری وو. ترهګر به اوس خطرناکه وژونکو وسلو ته لاس رسی پیدا نه کړی ځکه د دوی دوست مې له مینځه یووړ. بوش غوښتل چې په هیجاني وینا او د لاسونو په ښورولو ثابته کړي چې دی رښتیا وایي خو د وژونکو وسلو او یا هم د صدام حصین اړیکي د القاعده سره یي کومو شواهدو اواسنادو ته اشاره نه کول (ژ: اسناد موجود نه وو او وینا یي درواغ وه).
بوش د انګریزي، پولنډي اواسترالیایي پوځیانو څخه مننه وکړل چې په جګړه کې د امریکا تر څنګ برخه اخیستي وه خو د ډنمارک د پوځي مرستي یادونه یي ونه کړه. پردغه موضوع لړ. وروسته د ډنمارک صدراعظم تبصره وکړه او ویي ویل چې د ډنمارک د مرستې نه یادولو دلیل دا و چې پورته هیوادونو په ځمکنۍ جګړه کې برخه اخیستی وه. مګر سره د دی د ډنمارک حکومت ډیر ناامیده شو. د جګړې مخالفین په دفاعي حالت کې وو، ځکه د ډنمارک صدراعظم اندرس فوک غاسموسن یوه اونۍ تر جګړې وروسته وویل چې دی غواړي د عراق جګړه په ایدیالوژیکه جګړه بدله کړې. دډنمارک صدراعظم په غیری طبعي ډول د ډنمارک په یوه ورځپانه « بیرلینګس تیدنده»[٤١٩] د ۲۰۰۳ زکال د مارچ پر (۲۶) نیټه په یوه اوږده لیکنه کې تر (دا څه ګټه کوي؟) سرلیک لاندی ولیکل: د ګډ بازار پاسپورټ او راتلونکي د امریکا سره په ټکر کې نه ټاکل کیږي. وروسته صدراعظم د امریکا څخه په شدت دفاع او د ډنمارک مسولیت یي بیان کړی. موږ نه شو کولای چې یوازې د ازادی تر بیرغ لاندې ژوند وکړو او نور د ازادۍ او سولې له پاره وجنګیږي. دا د ډنمارک د راتلونکي له پاره اړینه وه. که موږ په جدي توګه د ډیموکراسي ارزښتونو ته درناوی لرو نو موږ هم باید تیار اوسو چې خپله لږه مرسته خپل متحدینو ته ورسوو.

پریکړه د ژور سنجش پر بنسټ وشول چې د ډنمارک د اوږدې مودې امنیتي سیاست په نظر کې نیول شوی وو. صدراعظم وپوښتل چې کومه پیښه وشي څوک د ډنمارک امنیت تضمینوی؟ ایا جرمني او که فرانسه؟ خپله یي ځواب ورکړ، نه. خو اشاره یي وکړه چې د ډنمارک امنیت په ښه ډول د شمالي امریکا په واسطه تضمین کیدلای شي.

[٤١٩] - Berlingske tidende

وروسته صدراعظم په جدي ډول د اپوزيشن په مقابل کې د ډنمارک بهرنی سیاست تشریح کړي.

« دا زموږ په وینه کې وه چې څرګنده کړو چې غواړو په چوپه خوله د اروپایي غټو قدرتونو غوښتنو ته غوږ شوو. د ۱۸۶۴ زکال څخه تر ۱۹۴۵ کال پوري حالت دغه ډول دوام درلودي چې موږ همیشه د خپل ګاوندي لوی قدرت هره خبره او غوښتنه اوریده او ځان مو ورسره عیارولو. پایله یي دا شوه چې په لومړی نړیوالې جګړې کې موږ د خپلو غوښتنو په خلاف د جرمنانو هر څه منل او په دویمه نړیواله جګړه کې خپل هیواد ته بي ارزښته کتل د جرمنانو سره مو همکاري پیل کړل. صدراعظم علاوه کړل چې د سړې جګړې په موده کې هم همدغه ډول وو. زموږ د خلکو هیله دا وه چې لږ یا ډیر غیری فعال سیاست ولرو او ځان د کمونیستي اتحاد شوروي او وارسا تړون د سیګنالونو سره عیار کړو.

په اتیایمو کلنو کې یو دردونکی سیاست و چې سوسیال ډیموکراټانو، کیڼ لیبرال او ټولو کیڼ اړخو ګوندونو د وخت ځان ساتي (محافظه کاره) حکومت اړ ایستي چې په ځینو مهمو ټکو کې د ناټو خلاف ودریږي. دا پریکړه چې موږ په نړیوالو موضوعاتو کې د متحدو هیوادو سره ګډون کوو، په حقیقت کې د هغه سیاست پر ضد کړنه ده چې موږ به په غیري فعال ډول ځان عیارولو. موږ څرګنده وو چې موږ نور د غیري فعال سیاست سره مخه ښه کوو. موږ ښکاره کوو چې ډنمارک تیار دی چې د مهمو ارزښتونو څخه دفاع کوي او پوځي مرستې کوی. دا څرګندوی چې ډنمارک مخته ځي او په نړیواله پرده کې راښکاره کیږي.

دغه اوږده لیکنه د صدراعظم لومړنی جدي بغاوت و چې په دقیقه توګه یي د پوځي مرستې په بڼه ښکاره کړي.

اندرس فوک غاسموسن غوښتل چې ډنمارک په ښکاره ډول په نړیوالو موضوعاتو کې چې نړی د ثبات لوري ته خوځښت ورکوی، ګډون وکړی او باید په عراق کې دایمي سوله راولي.

امریکایانو هم همدغه ډول مفکوره درلوده چې د ډنمارک څخه یې د پوځي مرستې غوښتنه وکړه.

موګنس لویکه ټافټ په خپل خاطرو کې لیکي: « اندرس فوک غاسموسن ځان تیارولو چې ۱۵۰۰ سرتیرې د عراق جګړې ته ولیږي. زما یادیږي چې د بهرنیو

چارو وزارت یو مهم شخص په لفت کې راته وویل چې خدای دی زموږ سره مرسته وکړی چې موږ به په منځني ختیز کې یو لوی قدرت شوو.»

یوه پیچلې پروسه پیل شوه. پوځ تیار نه وو چې په دومره لږ وخت کې ۱۵۰۰ سرتیري جګړې ته تیار کړي او بله ستونزه دا وه چې د دغومره سرتیرو له پاره بودجه نه وه. د بهرنیو چارو په وزارت کې لوی مشران په اندیښنه کې وه چې صدراعظم ته د جګړې ډیر شوق پیداشوی دي، پرته له دي نه چې سیاسي غبرګون یي په نظر کې نیول شوی وي. په اپوزیشن کې هم بیلوالی ښکاریدي. د سوسیال ډیموکراټانو پخواني صدراعظم، پاول نیوروف غاسموسن او یو بل لوړ چارواکی د امریکایانو ملاتړ وښودي. دوي د ښي اړخو د نظر ملاتړي وو او پر سوسیال ډیموکراټانو یې فشار راوړي چې باید د امریکایانو تر برید وروسته په عراق کې د پوځي عملیاتو ملاتړ وکړی. خو د هغه وخت د سوسیال ډیموکراټانو مشر موګنس لویکه ټافټ د دی مفکورې سره مخالف و. نوموړی وایي چې ما د جګړې سره علاقه نه درلوده، مګر په ګوند کې داسې کسان وو چې هیله یي د حکومت سره نژدیوالي وو ځکه د دوي په آند په عراق کې بریالیتوب تر سترګو کیدي.

د سوسیال ډیموکرټانو د مشر او په ګوند کې د جګړې د ملاتړو تر مینځ په شدت نظریات تبادله شول. د دي خطر و چې د مشر د نظریاتو برخلاف د جګړې د پیل سره موافقه وشي. په دغه شیبه کې د سوسیال ډیموکراټانو مشر د سوچ کولو له پاره وخت وغوښت.

موګنس لویکه ټافټ وایي چې موږ پوهیدلو چې د جګړې د پیل له پاره رایه ورکوونکي ډیره کې دی، د ډنمارک سرتیري به حتماً د عراق جګړې ته ولیږل شي. موږ په ګروپي غونډه کې موضوع تر بحث لاندې ونیول، د سرتیرو په خاطر مو پریکړه وکړه چې د ډیر سیاسي اختلاف څخه به ډه ډه وکړو.

د سوسیال ډیموکراټانو یو مهم غړي جان ټریبورګ مني چې بحثونه ډیر جدی و. د موګنس لویکه ټافټ له پاره پریکړه د یوې پیالې د چایو په ډول نه وه. نوموړی د پریکړې ډیر مخالف و. خو جان ټریبورګ اوس هم وایي چې زما په آند دا ډیره مهمه وه چې د ډنمارک موقعیت د بهرني سیاست په لیدلو سره په سم ځای کې وي او موږ په فعاله توګه د لویدیزو هیوادونو په پوځي فعالیتونو کې ګډون درلودي. موږ باید د پاڼې په وروستي برخه کې نه شوو.

پایله دا شوه چې د سوسیال ډیموکراتانو مشر تسلیم شو خو په بدل کې په ډیر جدیت هڅه کوله چې د ډنمارکي سرتیرو شمیره لوړه نه شي. د نوموړي د هڅو په پایله کې د ډنمارک د سرتیرو شمیره و (۳۸۰) تنو ته راکښته کړشوه. پریکړه په لوی اکثریت د ۲۰۰۳ زکال د می په (۱۵) وشوه. یوازي یو موټې لست، سوسیالیست او کیڼ لیبرال ګوندونو مخالفه رایه ورکړه. دغوو ګوندونو دلیل وړاندی کړي چې د ملل متحد له لوري د سوله ساتو (یا د ثبات راوړلو قواوي) غوښتل شوی نه دی. دغه موضوع د یو موټې لست یو وتلي غړي د پارلمان په لومړی غونډه کې چې د عراق د جګړې د پیل په تړاو جوړه شوی وه، وړاندی کړل. همدا ډول د جګړې موضوع د ولس لخوا ارزول شوی نه ده هر څوک چې د جګړې د پیل سره مخالفت ولري، موږ د اشغالګرو په نوم یادوي.

سوسیال ډیموکرټانو دلیل وړاندي کړي، که څه هم د ملل متحد پریکړه نه شته خو بیا هم د خلکو د حقوقو په پام کې نیولو سره موږ د اشغالګر قوت په توګه دنده لرو چې د هیواد په بیا رغونه کې ونډه واخلو. همدغه دوه ټکې چې دملل متحد پریکړه نه وه او د اشغالګر قوت موقف د دي باعث شول چې کیڼ لیبرال ګوند د ډنمارک د ګډون سره بیا هم مخالفت وښودي.

د سوسیالست ګوند مشر، نیلس هیلویګ پیټرسن د پارلمان د بحثونو په غونډه کې وویل چې ډنمارک همدا اوس په لویه کچه د جګړې مخته وړونکي او اشغالګر قوت شوی دي. خو وعده یي وکړل، کله چې د ملل متحد پریکړه وشي چې په عراق کې باید مرستې وشی نو کیڼ لیبرال ګوند به هم پریکړه ومني.

په پریکړه کې حکومت داسې اټکل کولو چې دنده فقط د امنیت او ثبات ټینګول دی. دنده داسې بیان شوه چې په عراق کې به امنیت او ثبات ټینګ کیږي د اړو خلکو سره مرستې د قانون پیاده کول او د بیا رغونې له پاره لار هوارول وی تر څو د انتقالي (لیږد) حکومت له پاره شرایط برابر شی. په تأ کید وویل شول چې جګړه په عراق کې پای ته رسیدلی ده.

ولې وویل شول چې حالات جدي دی، د څارګرې اداري د ارزونې له مخی د ډنمارکي سرتیرو په مقابل کې د مخالیفینو د بریدو کچه منځنی وبلل شول. خو په ارزونه کې کوم دلایل او جزییات بیان شوی نه وو چې دغه ارزونه به څه رامنځته کړي.

ډنمارکي سرتيري بايد د انګريزې پوځيانو سره په بصره کې چې د عراق په جنوب کې قرار لري، ځای پر ځای شي. د ډنمارکي سرتيرو ځای پر ځای کيدل ناڅاپې نه وه. د پوځ لوی درستيز د پخوانی تجربې څخه ګټه واخيستل. نوموړی يادونه وکړه چې د لومړی بريد په وخت کې ۳۰۰ ډنمارکي سرتيرو د بصرې په سيمه کې عمليات کړی وو. نو په دغه وخت کې لوی درستيز پلان په نوی فورم وړاندی کړی.

د پوځ لوی درستيز وايي چې: « د سياستوالو سره زما تجربې ښودلي ده، کله چې دوی مخکي  يوه ستونزه معرفي کړي، په ټوليز ډول دوی ورته د هوکې سر ښوروي. نو ځکه ورته اسانه ده چې په بله بڼه رامخته شي. کليدي پريکړه دا وه چې ډنمارکيان په بصره کې د انګريزانو سره وي.

د پوځ مسلکي تجربې ښودلي ده چې د انګريزانو سره ګډ کار تر امريکايانو چې پوځ يې لوی او ځان غوښتونکي دي، اسانه دی، خو د پوځ لوی درستيز ځانګړی سياسي مفکوره هم درلوده.

اوس د پوځ لوی درستيز وايي چې زه هغه وخت او اوس هيڅ شک نه لرم چې موږ انګريزان مخته ټيله کوله. کله چې انګريزان زموږ سره ملګري وی نو انګريزان زموږ د وياند دنده لري چې امريکايان درستي لارې ته برابر کړي. ډنمارکيان ډير خوښ وی چې موږ د توني بلير او انګريزانو سره واوسو تر دی چې د امريکايانو او بوش سره واوسو.

د پوځ لوی درستيز ته دا دريمه مهمه موضوع وه چې سياستوال نه ورباندي پوهيدل. لوی درستيز ارزونه وکړه چې په څه ډول ډنمارکي سرتيري د عراق د اشغال نه وروسته ځای پر ځای کړي تر څو مرسته وکړای شي.

د پوځ لوی درستيز خپلو خبرو ته داسي دوام ورکوي: موږ نه پوهيدلو چې د متحدينو پوځونه به اوږده موده په عراق کې پاتيږي. ايا موږ د مسلکي سرتيرو په توګه نه غوښتل چې د دوي يوه برخه شوو؟ نه، موږ غوښتل چې د دوي يوه برخه اوسو. خبره دا وه چې د اشغال د اصلي پلان مطابق موږ انګريزانو ته يو تشه پريښودله ځکه دوی يوازي نه شو کولای چې د اړوندې دندې تر عهده ووزي او هم دا ډول زموږ مشرانو او سياستوالو ته هم يوه تشه ګڼل کيده.

په پوځ کې مخالف ګروپ ته ښه موقع په لاس ورغلل. په پوځ کې هغه جنجال غوښتونکي ګروپ چې په ۱۹۹۰ زکلونو کې داسې يو منظم او تيار پوځ غوښتی

چې د ډېر بېړنی خبر په صورت کې باید د مځکې په ټوله کره کې جګړې ته تیار اوسي خو دغه پوځیان همیشه د دیوال یانی ممانعت سره مخامخ کیدل. د سړې جګړې د وخت مشر پوځیان د دفاع وزارت په مشرتابه کې زاړه شول او دوي هر وخت غوښتنه درلوده چې د ډنمارک د سرحداتو څخه دفاع وکړای شي، مجهزې قشلې او عصري وسایل په اختیار کې ولري او هم د عسکري مکلفیت قانون شتون ولري.

اوس نوي پوځي نسل مشرتابه ته رسیدلي وو او د دوي له پاره دا مهمه وه چې سیاسي شرایط برابر دي چې په پوځ کې اوښتون راشي. د صدراعظم وینا چې پوځ باید جګړه ایز تیاری ولري، ډیره اغیزه درلوده. د صدراعظم په وینا کې څرګنده شوه چې نور بی کاره پوځ باید په فعال پوځ بدل شی تر څو ډنمارک د نړیوالو په سترګو کې ځای پیدا کړي. خو د داسې پوځ جوړول ډیرو پیسو ته اړتیا درلودل چې ورباندې بریالی نه شوو.

د ۲۰۰۳ زکال د اپریل په میاشت کې جوته شوه چې پوځ د امریکا غوښتنه چې باید ۱۵۰۰ سرتیري د عراق جګړې ته تیار کړي، بشپړ کړلای نه شوای، سره د دي چې د پارلمان بشپړ ملاتړ ورسره وو.

د دفاع وزارت کلني بودجه (۱۸،۵) میلیارده کرونه وه چې یوازي یي کولای شوای د عراق د جګړې له پاره ۱۰۰۰ تنه پوځیان ولیږي سره د دي اضافه دري میلیارده کرونه د نړیوالو پوځي دندو له پاره د (۲۰۰۰ ـ ۲۰۰۴ ) زکلنو په دوران کې پوځ ته ورکړل شوي وو. داسې ښکاریده چې اوس د پوځ د بدلون له پاره شرایط برابر دي سره د دي چې جنجالي ګروپ بشپړ باور نه درلودي. د دی کار له پاره باید تر ټولو مخکې د پوځ لوی درستیز قانع شوای وای.

لوی درستیز وایي چې زما سره هم د پوځ د مدرن کولو سوچ وو.

په ۲۰۰۱ زکال کې سیاسي جوړښت بدلون وکړي ځکه سیاستوالو غوښتل چې د پوځې وسایلو څخه داسې ګټه واخیستل شی چې د ولس په واک کې وي.

لوی درستیز وویل چې د نړیوالو کړکیچنو له پاره د پوځ د ځانګړي ټولګي څخه ګټه اخیستنه ښه نظر و خو د پوځیانو تخنیکي وسایل او زده کړې د وخت د غوښتنو سره برابرې نه وو.

د ۲۰۰۳ زکال د جون پر (۱۶) نیټه رغنده غونډه جوړه شوه. د پوځ لوی درستیز په غونډه کې شاوخوا وکتل او د هر مشر څخه یي بیلې بیلې پوښتنې وکړی د بیلګې په توګه دغه سند چا لاسلیک کړی دی؟ د لوی درستیز پوښتنو ټول ناست د پوځ مشران وارخطا کړل.

د لوی درستیز موخه د پوښتنو څخه دا وه چې مشر پوځیان وهڅوي چې په پرانیستې چاپیریال کې بحثونه وکړی. هغه یاداشت چې د لوی درستیز سره و د هغه څخه یي سختې پوښتنې یوه په بلې پسي طرح کولې. د پوځ یو بل لوړپوړي جنرال غوښتل چې د لوي درستیز د پوښتنو ځوابونه ووایي خو لوی درستیز هغه چوپ کړ ځکه د لوي درستیز موخه دا وه چې د پوځ ټیټ رتبه مشران وهڅوي چې د موضوع په اړوند نظرونه څرګند کړي. لوی درستیز د ټولو پوځیانو څخه وپوښتل چې د وړاندی شوی رپوټ په اړوند څه نظر لري؟ ټولو په یوه خوله د تایید ټاپه ووهله او د دوي په آند تر دوهمې نړیوالې جګړې وروسته دا ډول بدلون په پوځ کې د ملاتړ وړ دي. د یاد داشت د محتوي په اړوند لوی درستیز څرګنده کړه چې یوه ماده د لوی درستیز د ملاتړ وړ نه ده چې ویل شوی وه: « د مکلفیت دوره دي د نهو میاشتو څخه درو میاشتو ته را ټیټه شي چې د زیاتو لګښتونو مخه ونیول شي.» خو لوی درستیز بیا په تکرار په غونډه کې وویل چې د دغې مادې سره په کلکه مخالفت لری. غونډې د شپې تر ناوخته دوام وکړی چې وروسته لوی درستیز غونډه پای ته ورسول خو د خپلو دوو نژدي جنرالانو سره کښیناست او دوي یي وپوښتل چې پوهیږی، څه د لاسه ورکوی؟ دوی د هوکي سر وښورولو.

د ځینو محدودو برخو د ژباړولوڅخه ډه ډه کوم ځکه د لوستونکو د دلچسپي وړ نه ګڼل کیږي.

د وخت صدراعظم په ۲۰۰۳ زکال د وړی د رخصتي څخه چې د فرانسي په جنوب کې تیره کړی وه، بیرته ډنمارک ته راګرځید خو بیا هم د عراق موضوع په رسنیو کې توده وه. نوموړی د بیلابیلو ورځپاڼو اووروسته د دوو ډنمارکي تلویزیونونو سره مرکې وکړي.

په همدي وخت کې د عراق د جګړې بنسټیز دلایل د بحث اصلی موضوع و خو په دغه وخت کې څرګنده شوی وه چې صدام حصین اټومي وسلې نه درلودي. د صدام حصین تر نسکورولو اوپلټنو څلور میاشتي وروسته بیا هم څرګنده شوه چې هیڅ ډول د عامه وژنې وسلې په عراق کې شتون نه لری.

خو هغه دلایل چې عراق ویجاړوونکي وسلې لري او صدراعظم هم ورباندی ټینګار کولو، نو هغه څه شولې؟

دغه انتقادي پوښتنه د صدراعظم نه خوښیدل خو صدراعظم ومنل چې دا پټه خبره نه ده چې زموږ اساسي دلایل د جمعي وژونکو وسلو درلودل وو خو ما خپله یو شمیر نور دلایل هم درلودل. باید ووایم چې تر اوسه پوری ژر ده چې ووایو چې ویجاړونکي وسلې په عراق کې شتون نه لری او پلټنې دوام لري.

د دی له پاره چې صدراعظم د نیوکو څخه ځان خلاص کړی وی، داسې وویل: ایا دا اړینه ده چې پر دی وخت ضایع کړو چې عراق د جمعي وژولو وسلې لری که نه؟ دغه کسان څه غواړي؟ ایا غواړی چې صدام حصین پر واک پاتې وای؟ خو زه پوهیږم چې ځواب نه دی نو وواياست چې د اوسني واقعیت له پاره څه وړاندیز لری؟ صدام حصین د واک څخه لیری شو، زامن یي ووژل شول. اوس کولای شوو چې د عراق نوی حکومت جوړ کړو چې موږ امید لرو، یو نوی موډرن، خپلواک عراق به رامینځته شی چې د خپلو ګاونډیانو سره به په سوله او امنیت کې ژوند وکړي. (ژ: اوس د ۲۰۱۴ زکال پیل دی خو د عراق ولسونه هره ورځ په سلګونو ځوانان په خپل منځي جګړو کې د لاسه ورکوي او هیواد یي په ویرانه بدل شوی دی او لا خو دوام لری.)

په وروسته مرکو کې د صدراعظم ویناوي تکراري وي. د ولس په وړاندي اعتراف نه کولو. یوازي دا ادعا یی تکرارول چې صدام حصین د واک څخه لیری شو ځکه د ملل متحد د پریکړه لیک درناوی یی نه کاوه او هم د څیړنیز هیت سره یي په څیړونو کې مرسته نه کوله.

صدراعظم د پولیتیکن ورځپاڼې ته وویل چې دا موضوع تیوریکي بحث دی چې د واقعیتونو سره همږغي نه لري. دا موضوع کیدلای شی په رسنیو او پارلمان کې د بحثونو له پاره ډیر وخت ونیسي خو د هیواد عادي خلکو ته د ځانګړی پاملرنې وړ نه ده.

د جګړې د پیل کولو بنسټیزه موضوع په عراق کې د ټول وژونکو وسلو شتون د ډنمارک په پریکړه کې رغنده رول نه درلودي نو ځکه صدراعظم په وروستیو کلنو کې د دغه بحث څخه ډه ډه کول خو په امریکا او انګلیستان کې همدغه بحثونه تاوده وه.

د صدراعظم له نظره نور دغه ډول بحثونه چې عراق اټومي، بیالوژیکي او یا خوځښتناکه کیمیاوي وسلې درلودي او یا د القاعده سره یې اړیکې درلودي، د ورځې واقعیتونه نه ګڼل کیدل سره د دي چې دا بحثونو په شدت دوام درلودي او هم دلیل ویل کی دی چې ډنمارک باید په جګړه کې ښکیل شوی نه وای. خو صدراعظم په دی اړوند هر څه ردول نو ځکه په دا ډول بحثونو کې ګډون نه کاوه خو برعکس توني بلیر او بوش اړ ایستل شوی وو چې په دا ډول غونډو کې ګډون وکړي او پوښتنو ته ځوابونه ووایي.

امریکایانو ۱۴۰۰ تنه د وسلو کار پوهان وګومارل چې اټومې وسلې په عراق کې وموميي خو تر شپږ میاشتو پلټونو وروسته یې هیڅ ونه موندل. د ۲۰۰۴ زکال د اکتوبر پر (۷) نیټه امریکایي څیړونکي ګروپ اعلان کړل چې په عراق کې ټول وژنې وسلې شتون نه لري. خو یو کال مخکې د مارچ په میاشت کې عراق په همدغه پلمه اشغال شوی وو.

جورج بوش په ۲۰۱۰ زکال په خپل بیوګرافي کې لیکلي دی چې دا خبر د امریکا او زما بوش پر مخ یوه داسې درنده څپیړه وه چې پر موږ باور یې ډیر زیانمن کړی. دا چارې د امریکا د ولسونو باور ډیر زیانمن کړ. زما (بوش) په څیر هیڅوک دومره زیات اندیښمن او په قهر نه وو چې اټومې وسلې ونه موندل شوی. ما ته زړه بدی پیدا شول او هرځل به زړه بدي زیاتیدل چې سوچ به مې وکړ چې ولې ما دا کار وکړ او اوس هم دوام ورکوم.

توني بلیر په خپل کتاب (یو سفر) په نوم لیکلي دی: زه پوهیږم چې خلک ما ته په سپکه سترګه ګوري. زه پوهیږم چې ولې ولسونه داسې نظرونه لري، ځکه موږ په عراق کې جګړه د ملل متحد د پریکړو د عملي کولو او د اټومي وسلو د له مینځه وړولو له پاره پیل کړل خو اټومي وسلې و نه موندل شوي، که څه هم موږ پر عراق بشپړ کنترول په لاس کې واخیست.

خو بیا هم توني بلیر په خپل کتاب کې لیکي چې جګړه اړینه وه، کیدای شی صدام حصین وروسته تر هغه چې د ملل متحد بندیزونه لیري کړي وای دوباره یي په کیمیاوي، بیالوژیکي او اټومي وسلو په جوړولو پیل کړي وای. دا به یو لنډ مهاله دریدنه وه. ( ژ: دا خبره ځکه د واقعیت څخه لیري ده چې د هستوي وسلو جوړول مقدمات غواړي که دا چاره یي مختنه وړلای نو لږ تر لږه اثار یي باید موندل شوی وای.)

د ډنمارک صدراعظم د لیبرال ګوند د وړي غونډه جوړه کړه خو دټولو ستونزو ځواب یی په یوه سندره ووایه چې (پلار د کار څخه راغي او دا یی وویل چې ایا صدام بیا غواړي؟).

بله مهمه نیټه ۲۹ / اګست / ۲۰۰۳ زکال وه په دغه ورځ د ډنمارک صدراعظم اندرس فوک راسموسن هڅوونکي وینا وکړل په دغه وینا کې خپل ایډیالوژیکي بنسټ د نوي جګړه مار قدرت (ډنمارک) په اړوند ځانګړی کړي. دا هغه ورځ و چې ډنمارک د جرمنانو څخه د ازادی د (۶۰) کلیزي جشن د دوهمې نړیوالې جګړې په جریان کې نیولی و. صدراعظم د ازادي د لاري مبارزینو ته وینا کول. صدراعظم د خپلې وینا په اړوند د خپلو دو مشاورینو سره مشوره وکړه، هغوی ورته وویل چې موضوعات باید سره ګډ نه کړی. د صدراعظم د خبرو اصلي ټکي دا و چې موږ په عراق کې بری تر لاسه کړي.

د ازادي په دغه ورځ صدراعظم د ډنمارک د وخت د حکومت پالیسي چې د جرمنانو سره یی پرته د غوغا څخه کار کولو، وغانده او په بدل کې د هغه وخت د جرمنانو سره په مخالفت کې د ازادي جنبش ډیر وستایه. دا یي هم وویل چې کله کله کیدای شی چې یوه پریکړه قرباني وغواړي خو مهمه داده چې د ازادي او ډیموکراسۍ څخه په هره بیه چې وی، باید دفاع وشي. دغه دلیل و چې موږ د عراق پر ضد په جګړه کې ګډون وکړي تر څو د عراق خلکو ته ازادی ورکړو.

په عراق کې ستونزې ځکه ډیرې وی چې امریکایانو د صدام د لیري کولو وروسته کوم ځانګړی پلان نه درلودي. (ژ: ورته موضوع ته د افغانستان په اړه همدا ډول پلمه لټول کیږي).

د امریکا د ولسمشر مرستیال ډیک[٤٢٠] چیني مخکې له دی څخه چې عراق اشغال کړی ویلي و. زموږ امریکایي سرتیري او د ملا تړو هیوادونو پوځ به د عراقیانو لخوا په خوښي او ازادي ورکوونکي پوځ په ډول اسقبال شي. زموږ د سرتیرو شتون په عراق کې د میاشتو خبره ده. د ولسمشر د مرستیال د نظریاتو ملاتړ د دفاع د وزیر د مرستیال پاول ولوفویټز[٤٢١] لخوا کیدي. نوموړی به ویل

[٤٢٠] - Dick Cheney

[٤٢١] - Paul Wolfowitz

چې زموږ ۳۰۰۰۰ سرتیري به د ۲۰۰۳ زکال د اګست په میاشت کې دوبار کورته راستون شي. مګر د اګست په میاشت کې د سرتیرو واقعي شمیره تر ۱۳۰۰۰۰ تنو زیاته شوه. د بوش حکومت د اقتصادي ستونزو وړاند وینه نه وه کړي. د کانګرس په غونډه کې د دفاع د وزیر مرستیال، پاول ولوفویټز وویل چې تیل د عراق د بیا رغونې لګښت ورکولای شي. په دغه خاطر د امریکا مالیه ورکونکو هیڅ ډار نه درلودي. خو د عراق تیل دومره لږ شول چې د لوړو لګښتونو د ورکولو د عهدې څخه وتلای نه شوای.

دا ناڅاپې نه وه چې امریکایانو د عراق د بیا رغونې له پاره منظم پلان نه درلودي. دا چاره اګاهانه وه. جورج بوش او د نوموړي نژدي مشاورینو د ملي بیا رغونې د اصطلاح سره جوړ نه وو. د دوي په نظر دا یو غلط سیاست وو، چې بل کلنټن د بالکان هیوادونو په اړوند عملي کړي ځکه د امریکا پوځ ته ډیر ګران تمام شو. په بدل کې دوي غوښتل که په جګړه کې امریکایان ښکیل وي نو باید په بیړه داخل او ژر بیرته را ووزي. دا که افغانستان، عراق یا بل هیواد وي. (ژ: دا خبره ځکه رښتیا نه ده چې اوس د ۲۰۱۳ زکال وروستۍ ورځې دی خو امریکایان په مختلفو ډولونو د افغانستان ولسمشر حامد کرزي تر فشار لاندې راولي چې د امریکا سره امنیتي تړون لاسلیک کړي تر څو امریکایان په افغانستان کې د پوځي اډو جوړولو اجازه تر لاسه کړي. خو وروسته نوی ولسمشر، اشرف غني د امریکایانو خوب رښتیاني کړي چې پایله یي د ټول هیواد په کچه خونړې جګړه دوام لري.)

د بیا رغونې چارې باید په لوړه کچه نړیوالې ټولنې او محلي مشرانو ته پریښودل شی. نو ځکه امریکایانو د پلان مهمې برخې د صدام حصین د له مینځه وړولو دوي میاشتې مخکې جوړې کړي وي. خو د کوبرا دوهم په نوم پوځي عملیاتو د تیاري له پاره ۱۸ میاشتې ولګیدلی. دا پلان درې فازه (برخې) درلودي. خو نوی مفکوره د صدام د چپه کولو وروسته د څلورم فاز په نوم ونومول شول. دا یو ضمیمه وه چې امریکایانو د برید مهمه برخه ګڼل.

متقاعد جنرال جی ګارنر[٤٢٢] د ۲۰۰۳ زکال د جنوري د میاشتې په وروستیو کې د هغه ګروپ مسولیت په[٤٢٣] لاس کې واخیست چې بیا رغونه او بشري

---

[٤٢٢] - Jay Garner

[٤٢٣] - ORHA

مرستې يې کولې. وروسته دوي څلورم فاز د مارشال پلان دوهم "په[٤٢٤] نوم ياد کړ. دا پلان هغه پلان و چې امريکايانو په ۱۹۴۵ زکال د نازيانو تر سقوط وروسته عملي کړی وو. دا ځکه بوش په دغه نوم ياد کړ چې صدام حصين يې د اوسني عصري وخت هيټلر وبولي.

ولې يوازې دا خبره په تيورۍ کې داسې وه خو واقعيت دا نه و. امريکايانو د ډير کلونو په اوږدو کې د المان د جوړولو پلان جوړ کړی وو، خو جی ګارنر يوازې ۶۱ ورځې درلودې چې د خپلو عملياتو پلان جوړ کړي او يو سازمان رامينځته کړی چې د امريکا د ادارو سره اړيکې ونيسي، د امريکايانو د پوځ سره پلان همږغی کړی تر څو يو سم پلان رامينځته شي.

د امريکا پوځ څيړنيز مرکز[٤٢٥] ډير کلونه وروسته د خپل لومړي دوکلنو شتون په اړوند ۷۰۰ مخه راپور وړاندی کړي چې سرليک "يې[٤٢٦] پوينټ دوه وو. په دي رپوټ کې نيوکې ډيرې جدی وی. دلته د ګارنر د دوکالو دندې ارزول شوی وي. داسې څرګنده شوه چې د ځينو ورکړل شوو دندو اجرأ ناممکنه وه.

جی ګارنر غوښتل چې د عراق د بهرنيو چارو متخصصين د پروژې سيره اړيکې ولري ولې رامز فيلډ د امريکا د دفاع وزير نه غوښتل چې د کولين پاول، د امريکا د بهرنيو چارو د وزير نفر دلته شموليت ولري. رامزفيلډ دلايل ويل چې دلته به ډيرې پوښتنې رامينځته شي او ډيرې موانع به وي. په دغه خاطر ګارنر اړ شو چې هر څه د ريښې څخه پيل کړي په داسې حال کې چې وخت ډير لږ و.

کله چې نړيوالو پوځيانو د عراق واک واخيست نو ګارنر او اړوند کسان يې په کويټ کې وو. دوي بايد دوهم مارشال پلان "په[٤٢٧] بيړه د ډګروال کيوين بينسن سره جوړ کړی وای. په حقيقت کې د پلان د جوړولو له پاره چې مختلف نظرياتو شتون درلودې، ليکل شوې وای، رسمي اجازه د ۲۰۰۳ زکال د مارچ پر ۲۰

---

[٤٢٤] - Eclipse 2

[٤٢٥] - Comat Studies Institute

[٤٢٦] - Point 2

[٤٢٧] - Eclipse 2

نیته ورکړل شول. دا هغه وخت و چې نړیوال پوځونه د عراق تر پولې ور اوښتي وو.

د پلان موخه دا وه چې لومړی شپږ میاشتې باید پراخه پوځي واحدونه وي چې واک وچلوي، وروسته تر شپږ میاشتو باید امریکایان ټول واک د عراق مشرتابه ته وسپاري. وروسته تر دي په لږ کچه د امریکا او ملاتړو هیوادونو پوځونه شتون ولري. نو ځکه باید د عراق پولیس وساتل شي چې نظم برقراره کړي. په همدې ډول په ملکي برخه کې د دولتي کارمندانو سره داسې چلند وشي چې ژر تر ژره برق، اوبه او اړیکې (ټلیفون) فعاله کړي. په وروستی پړاو کې د عراقي پوځ بی خطرې برخه وساتل شي چې د احتمالي دښمنانو سره جګړه وکړي.

د دغې موخې د عملي کیدو له پاره یې یوازې محدوده شمیره د بعث د ګوند غړي لیري کړل. په اعظمي ډول دوه سلنه غړي لیري شول. د عراق یو شورا په ګډه د امریکایي ګارنر ګروپ سره تر شپږو میاشتو پوري د عراق د نوی حکومت تر جوړیدو پوري باید اداره په لاس کې واخلي. او باید نړیوال د بیا رغونې په اړوند مرسته ورسره وکړی. د کاغذونو جوړول د منني وړ وو. وړاندوینه نه وه. د عراقیانو د خوشالیو سره سره چې صدام حصین له مینځه ولاړ، خو بیا هم د دولت په اداره کې ډیره ګډوډې رامینځته شوه. د پخواني دولت مشران وتښتیدل، پولیسو، پوځیانو او د ادارو مشرانو هم د تیښتې لاره خپله کړه. دوي دندو ته نه حاضریدل ، ځکه انتظار ایستي چې نوي اشغالګر قوت به څه کوي؟

ستونزه دا وه چې امریکایانو په ټولیزه توګه څه نه کول. د عراق د پوځ دښمنان بریالي شول، خو امریکایې سرتیري داسې روزل شوی نه وو چې پولیس په منظمه توګه امنیت رامینځته کړي. او علاوه د دي څخه سرتیري هم په کافي کچه نه وو. ۱۴۰۰۰۰ سرتیري کافي وو چې عراق اشغال کړي خو بس نه وو چې په عراق کې سوله تأمین کړي. د دي چارې د سرته رسولو له پاره ډیرو سرتیرو ته اړتیا وه. نو ځکه د رامز فیلډ نظریاتو چې په لږو پوځیانو به ټولې دندې سرته ورسیږي، غلطي راووتلې.

پایله دا شوه چې بهرنیو سرتیرو د ثقیله وسلو په درلودلو سره غیري فعال ول او یوازې یې تماشا کول چې ګډوډې، چور، چپاول او غلاو دوام درلودي.

په وزارتونو کې هم عیني پروسې جریان درلودي. چوکۍ، میزونه، د کاپي ماشینونه او کمپیوترونه غلا شول. یوازي لڅ دیوالونه پاتي شول. دوي د ګارنر

بیړنی پلان چې د دولتي ادارو بیا رغونه پیل کړي، په ټپه د خنډ سره مخامخ کړي. یوازې د تیلو وزارت څه ناڅه فعال و، ځکه امریکایي سرتیرو پر مهمو ځایونو پهره کول.

چور او چپاول پر رامز فیلډ کومه اغیزه نه درلوده. خو نوموړي به په قهر شو چې په روښانه ورځ د چور او چپاول پوښتنې به ورڅخه وشوې. د رژیم تر سقوط دوي ورځې وروسته په خبری کنفرانس کې دا اوازې ټولې دروغ وګڼلې شوي او زیاته یې کړل: ازاد انسانان هم غلطي کوي، جرمونه او غلط عملونه تر سره کوي او دا هغه څه دي چې پیښ شوی دي. نوموړی په یو تبصره کې وویل چې داسې پیښې د ډیرې پاملرنې وړ نه دي. همدی وو چې په عراق کې ګډوډې رامیځته کړه خو اوس یې پروا نه لري.

دا یوازې د رامز فیلډ، دفاع وزیر نظر نه و بلکې د پوځ مشر ریچارد مایرز[٤٢٨] هم وویل چې دا انتقالي دوره ده موږ هیله لرو چې حالات به ژر سوله ایزه شي. مګر یوازې هیله مرسته کولای نه شي. عراقیانوته اندیښنه پیدا شوه چې کیدای شی امریکایان د عراق له پاره ښې هیلې و نه لري او هم نه غواړي چې خلک د تاو تریخوالی څخه وژغوري. د عراق یو ډیپلومات، فاروق احمد سعد الدین امریکایي ژورنالیست، انتوني شه دید ته وویل: « کله چې موږ چور، چپاول او د خپل ښار سوځیدل ولیدل، داسې راته ښکاري چې زموږ پر ښار جنسي تیري شوی وي او داسې راته ښکاری چې زموږ پر هیواد جنسي تیری کیږي. ما وژړل کله چې ما د راډیو څخه خبرونه واوریدل. ما ته قهر او ژړا راغلل. امریکایانو طلایي چانس درلود ي چې د خلکو زړونه خپل کړي مګر امریکایانوهر څه خراب کړل.

وروسته د امریکایي پوځ په پوځي رپوټ کې راغلل چې د عراقیانو چور او چپاول دومره زیات وو چې د عراقیانو ښه نظر ته یي د امریکا په تړاو بدلون ورکړي. په رپوټ کې د عراق د تورن جنرال نصیر عبدي خبري کټ مټ رانقل شوی وي. ( جنرال عبدي د صدام حصین د پوځ یو جنرال و او وروسته د نوي پوځ جنرال هم شو.)

---

[٤٢٨] - Richard Myers

نومونږي په خپل تحليل او ارزونه کې ډېرې نيغې خبرې کولې، نومونړی وويل چې د اشغال په لومړيو مياشتو کې بهرني پوځيانو ځرنګه کړنې وکړي: « هيڅ داسې پلان شتون نه درلود چې د تشې په صورت کې به څوک د امنيت او نظم چارې مخته وړي خو دا تشه ډېره لويه وه.» دعراق پوځي ډيپوګان او وسلې پرته د ساتونکو څخه پاتې شوې کله چې عراقي پوځ هغه پريښودل. نو په دغه خاطر دعراق مخالفو قوتونو وسلو اخيستلو ته اسانه لاره پيدا کړه. خو د سرحد څارنه د سرتيرو د کمښت په وجه ښه نه وه نو ځکه د صدام درژيم لوړپوړي چارواکي د لاريو موټرو په واسطه په منظم ډول د سرو زرو، پيسو او نورو قيمتي توکو سره ووتل. همدغه شتمني يې د مخالفينو د وسلوال کولو له پاره ګټه ورڅخه اخيسته چې بهرنی پوځيانو ته د سر خوږ جوړ کړي. د بل لورې امريکايانو هم خپلو پلانونو ته پاملرنه کړی نه وه چې د اشغال په وخت کې د بريښنا او تليفون سيستمونه ويجاړ کړی وه.

په همدغه خاطر بغداد او يو شمير لوي ښارونو بريښنا او ټليفون نه درلودي. همدغه ستونزه د اوبو د تصفيه کولو او د چټليو د ليرې کولو په تړاو هم وه. د بغداد د اوبو د تصفيې مرکز ويجاړ شوی وو چې اوبه يې په نيغه د ټيګريس سيند[٤٢٩] ته لويدلې او چټليو د بغداد ښار پر سر اخيستی وو. دا کيدلای شوای، بل ډول وای. امريکايي تحليل کوونکو دغه حالت ته د پرانيستې کړکۍ نوم ورکړې چې کيدلای شوای د ٢٠٠٣ زکال د اپريل څخه تر وړی پوری ګټه ورڅخه اخيستل شوی وای.

ګارنر وغوښتل چې له دغې پرانيستې کړکۍ څخه ګټه واخلي. نومونړی د محلي مشرانو سره تر غونډې وروسته پر پوځ فشار راوړي چې د نومونړي ګروپ[٤٣٠] ته اجازه ورکړي چې هر څومره ژر کيداي شي په بغداد کې په فعاليت لاس پوري کړي. نومونړی، جنرال ټومي فرانکس[٤٣١] ته وويل چې د صدام تر نړيدو وروسته کيدلای شوای چې تشه پرته د بهرني پوځونو د ملاتړو څخه د نور چارواکو په واسطه ډکه شويوای. جنرال فرانکس ګارنر ته اجازه ورکړه چې هر څه ژر بغداد او د عراق شمالي برخو ته سفر وکړی او د حالاتو جاج

[٤٢٩] - Tigris
[٤٣٠] - ORHA
[٤٣١] - Tommy Franks

واخلي مګر ډېرې اونۍ تېرې شوې تر څو د ګارنر ګروپ د عراق په خطرناکو سیمو کې مرکزونه جوړ کړل.

جی ګارنر او د هغه ګروپ ډېر زحمت ویوست چې دوباره پوځ او پولیس سمبال کړي دا چاره د مذهبي او محلي مشرانو سره د مرکو او جرګو په پایله کې سرته ورسیدل. د می د میاشتې په پیل کې په نیغه د امریکایي او عراقي جنرالانو تر مینځ د پوځ دوباره فعاله کولو باندې بحثونه وشول چې همدغه بحثونه د ګارنر د پلان برخه وه. خو شرایط تر خرابو هم خرابتر شول. دا ځکه چې امریکایي چارواکو په ناڅاپي توګه داسې یوه پریکړه وکړه چې په عراق کې ګارنر او امریکایي جنرالانو یې انتظار نه درلودې.

پنتاګون د حالاتو د خرابولو لوی عامل ګارنر وګاڼه نو ځکه د د فاع وزیر رامزفیلډ هره ورځ نوي پلان د اجرأ له پاره وړاندې کاوه. د دفاع وزیر یو ډیپلومات پاول بریمر[٤٣٢] د ګډو ځواکونو استازې د عراق له پاره نوي ملکي مشر وټاکه، [٤٣٣]. بریمر د ګارنر سره ګډ کار پیل کړ، خو دا یوه خطا ایستنه وه. ډېر ژر ګارنر د واکمن پاول له خوا یوې ګوښې ته شو نو ځکه ګارنر تر لنډې مودې وروسته د خپلې دندې څخه استعفأ وکړه. نوی مشر درې مهم تصمیمونه ونیول چې په بشپړ ډول د ګارنر د پلانونو سره په تضاد کې وو چې وروسته د ډیرو لخوا تر سختو نیوکو لاندې ونیول شول او یوه خطرناکه پیښه وګڼل شوه.

نوموړې څو ورځې وروسته یو فرمان صادر کړي چې متن یې دا ډول و: ټول هغه کسان چې د صدام حصین د بعث د منع شوی ګوند غړي وو، په ادارو کې کار کول منع دي. په لنډه موده کې تقریباً (٣٠٠٠٠) تنه مامورین وزګار شول چې په طبعي ډول یې د دوي کورنۍ د معاش نه درلودلو په جه متأثره کړې.

پاول بریمر په چټکي سره مخکني پوځ چې شمیر یې (۴۰۰۰۰۰) تنو ته رسیده، رنګ کړ او امر یې وکړ چې نوي پوځ د بنسټ څخه باید جوړ شي. نوموړې ژر د مخالفینو سره د خبرو کولو جریان په ټپه ودرولو او هم یې سیمه ایزې

---

[٤٣٢] - Paul Bremer

[٤٣٣] - CPA

ټاکنې لغوه کړي. پاول وویل چې مخکې له دې نه چې حکومت جوړ شي باید لومړی اساسي قانون جوړ شي او وروسته ټاکنې اعلان شي.

دغه پریکړې د ګارنر او په عراق کې د پوځ د مشرتابه د نظر سره په تضاد کې وې. پریکړه وشوه چې د بعث د ګوند غړي په جلا توګه د تیرو اعمالو پر بنسټ وارزول شي چې په دولتي ادارو کې دندو ته دوام ورکړي یاني د بعث ګوند ټول غړي د دندو څخه ګوښه نه شي. علت یې دا و چې ډیر عراقیان د دندو د موندلو په خاطر د صدام د ګوند غړیتوب تر لاسه کړی وو خو په حقیقت کې ملاتړی نه وه.

د پاول بریمر پریکړې د دې باعث شوې چې د مخالفینو له پاره د قوي غذا رول ولوبوي د بیلګې په توګه سرګردانه بیکاران او په وسلو پوه روزل شوی پوځیان، اداری مامورین چې د ادارې په کارونو کې بلد وو چې د ښې راتلونکې وړاند وینه یې نه کوله او کورنیو یې هم د عادي ژوند د تیرولو له پاره تلاښونه او هڅه کوله. په همدې ډول د سیمه ایزو ادارو مشرانو نور څه اغیزه او واک نه درلودې. د ډیر وخت څخه موضوع د تودو بحثونو لاندې و، یو شمیر نظرونه دا سي وو چې دغه خطرناکې پریکړې د پاول بریمر وې خو ځینو داسې ویل چې بریمر د بوش د حکومت فرمانونه تطبیقول.

دري کاله وروسته جی ګارنر د عراق د پوځي رپوټ په تړاو یوه مرکه وکړه داسې وویل: د امریکا لویه غلطي د اشغال په لومړیو (۹۰) ورځو کې د عراق د پوځ ړنګول وو. ګارنر وایي سره د دې چې د بوش حکومت هیله درلوده چې د عراق پر پوځ حساب وکړی.

جین ګرنر په حیرانتیا وایي چې ما د ولسمشر بوش څخه غوښتل چې عراقي پوځ دوباره احیأ کړی، هغه راسره همږغي وو، د کاندیل رایس څخه مې همدا غوښتنه وه، نوموړي راسره همږغې وه، هر ځل به مې چې د رامز فیلډ سره خبري کولي همدا مې ورڅخه غوښتنه وه خو هغه هم را سره همږغی و. دا مسایل جی ګارنر د پوځي څیړونو هیت ته وکړي.

خو په هر صورت جهمور ریس بوش او د دفاع وزیر رامز فیلډ د پاول بریمر د پریکړو په وړاندي غبرګون نه ښودي ( ژ: دلته څرګندیږي چې بوش او د دفاع وزیر له پخوا څخه پلان درلودي چې د عراق پوځ په بنسټیزه توګه ړنګ شي او عراق نور د ځان او خپلو خلکو د دفاع توان ونه لري. دا یوازې د عراق

په اړوند نه بلکې امریکا او ورته استعمارګر هیوادونه د دریمې نړۍ د مظلومونو ولسونو برخلیک همداسې ټاکې)

پاول بریمر وایي چې ما غوښتل د عراق کوردانو او شیعه مسلمانانو ته داسې سیګنال ورسوم چې: د صدام حصین د سني مسلمانانو پوځ نور باید ددوي د ټکولو له پاره ګټه ورڅخه وا نه خیستل شي. بریمر دا هم وایی چې زه د دفاع وزیر رامز فیلډ د دی له پاره عراق ته ولیږلم چې د صدام حصین پاتي پوځي قوتونه له مینځه یوسم. دغه ادعا د بوش د حکومت د څرګندونو سره چې د صدام په اړوند یې کارولې، همږغې لري. نو ځکه د صدام د پوځ او ادارې سره عیني چل وشو، لکه د نړۍ والې دوهمې جګړې څخه وروسته چې د نازي هیټلریانو سره وشو.

په هر صورت که موضوع د تاریخي لحاظه د هیټلر د وخت سره پرتله کیدونکي وی یا نه؟ خو پایلې یې ډیرې ناوړه راووتلي.

د امریکایانو د پوځي څیړونو مرکز په پوینټ دوم رپوټ[٤٣٤] کې ارزونه کړی ده چې د عراق د پوځ ړنګول او د بعث ګوند د غړو تعقیب او زنداني کول د مخالفینو د بریالیتوب او توان له پاره ګټور وو.

د هغه وخت د ډنمارک د پوځ مشر، یسپر هیلسیو [٤٣٥] هم د پورته نظر سره هم همږغي دي.

امریکایانو لویه غلطي وکړه چې ټول سټرکټور (بنسټ) یي له مینځه یووړ چې د نوي عراق له پاره د ګټې اخیستلو وړ وو. په دي ډله کې د پولیسو، پوځ او اداري بنسټونو ویجاړول د یادوني وړ دي.

د ډنمارک د پوځ مشر یسپر هیلسیو دا هم وایي چې موږ د ستونزو جوړونکي وګڼل شوو چې ډنمارکي سرتیرو دغه موضوع ډیر ژر احساس کړل.

---

[٤٣٤] - Point 2

[٤٣٥] - Jesper Helsø

# شپږم څپرکی

## جنتي کمپ

۲۰۰۱ ـ ۲۰۱۲ زکلونه

د جون (۱۸) ۲۰۰۳ زکال:

د ډنمارک (۳۸۰) سرتیري د لیتوانیا د (۴۳) سرتیرو سره د عراق په جنوب کې د بصرې په ښار د ایدن نورد ٦۴۳کمپ کې ځای پر ځای شول.

د جولای (۱۸) ۲۰۰۳ زکال:

د شیعه مسلمانانو مشر امام ال مقتدا صدر د نجف د ښار په جامع کې د جمعي په دوعایه کې د امریکایانو لخوا جوړه شوی شورا مرتده وګڼل او د وسلوالې ډلې د جوړولو وعده یې وکړه.

د اګست (۱۶) ۲۰۰۳ زکال:

د ډنمارک لومړی سرتیري پریبن پیډرسن په غلطي کې د خپلو ملګرو لخوا ووژل شو چې دا په عراق کې د ډنمارکیانو لومړی قرباني وه.

د ۲۰۰۴ زکال فبوري:

د سره صلیب نړیوالې اداري په عراق کې امریکایانو ته یو رپوټ تسلیم کړي چې هلته د بوکا په کمپ کې د بندیانو د وهلو او شکنجو په اړوند شکایت شوی وو. او دا هغه کمب و چې ډنمارکیانو هم زندانیان ورته تسلیم کړی وو.

د اپریل (۲۳) ۲۰۰۴ زکال:

د ډنمارک د دفاع وزیر، سونډ اوج ینسبیو استعفاء وکړه ځکه د یوې محرمې غونډې د رپوټ په اساس یې دلایل وړاندې کړل. په عوض یې سیون ګیده وټاکل شو.

د اپریل (۲۸) ۲۰۰۴ زکال:

---

۴۳٦ - Camp Eden nord

د امریکا د شپیتو دقیقو په نوم ټلویزیوني پروګرام د ابوغریب د زندان د بندیانو هغه انځورونه وښودل کوم چې امریکایي سرتیري یې وهل ورکوي او جنسي سپکاوي ورته کوي.

د اګست (۲) ۲۰۰۴ زکال:

رسنیو رسوا کړه چې یو ډنمارکي پوځي ډنمارک ته ولیږل شو ځکه چې پر نوموړې شک شته چې بندیان یې شکنجه کړي دي.

د اګست دریمه ۲۰۰۴ زکال:

د ډنمارک د دفاع وزیر، سیون ګیده د پوځیانو مشر او دري نور پوځیان ډنمارک ته را وغوښتل ځکه نور یې پر دوي باور نه درلودي.

حالات د زغم وړ نه وو. د تودوخې درجه د شپې له خوا (۲۵ ـ ۳۰) سانتي ګراد خو د ورځي د غرمی په شاوخوا کې به (۵۵) درجې ته لوړه شوه. پوځیان تږي او په بی خبری کې وو او عضلات یي بی قوته وه. د انجنیري (۵۵) ګروپ سرتیري د عراق جنوبی برخې، قورنا ته ولیږل شول چې د ډنماركي سرتیرو او پوځیانو له پاره کمپ جوړ کړي خو په وچ دښت او کلکه مځکه کې دغه دنده ډیره ستونزمنه وه. دوي به په نوبت کار درولو کله چې د کمزوری احساس به یی وکړي. دغه کمزوري سرتیري به د استراحت له پاره کانتینر ته ولیږل شول. دغه کانتینر سوړ و او هم په پلاستیکي بوتلونو کې اوبه وی چې پوځیانو لږ دمه اخیستلای شوای. دوه سرتیري دوباره ډنمارک ته راولیږل شول ځکه ځو ځله یې د کمزوری او ضعف احساس وکړي. دردونکي دا وه چې یو شمیر سرتیرو همیشه په تودوخه کې بهر کار کاوه خو دوي د کار تر عهده په ښه وجه ووتلای شوای. همدغو سرتیرو د سختیو سره عادت ونیوی خو هغه پوځیان چې بهر په تودوخه او دننه لږ په نرمه هوا کې کار بدلولو، د تودوخې د درجې په بدلون سره ډیر نا ارامه وه. وروسته د پوځ مشرتابه پریکړه وکړه چې سرتیري کولای شی غرمنی خوب وکړي. د کار مهال ویش داسې جوړ شو چې د سهار د پنځو بجو څخه پیل تر یو لس بجي او بیا د مازدیګر د څلور بجو څخه پیل د ماخستن تر نهه بجو پوری دوام کاوه. هر سرتیري باید په شبانه روز کې لس لیتره اوبه چښلي وای. سرتیرو همیشه د اوبو بوتلونه د ځانونو سره ګرځول. سرتیرو و مالګې او بورې ته هم اړتیا درلوده چې دغه توده هوا وزغملای شي. سرتیرو

ته ځانګړي دوه پاکټه بوره او دوه پاکټه مالګه په ورځ کې ورکول کيدل چې په نيم ليټر اوبو او يا جوسو کې وځښي.

انجنيري ګروپ بايد يوه نړيدلې پوځي ودانۍ چې د ۱۹۹۰ کلونو امريکايي بمبارد کې نړولي وه، بيا رغولي وای تر څو د يوه کمپ ګټه يې ورځخه اخيستي وای.
د ښکاري پوځونو افسر، لارس ميولر[٤٣٧] په خپل کتاب چې د ښکار ۲۰۰ [٤٣٨] په نوم دي، ځيني مهمو موضوعاتو ته اشاره کړی ده. نوموړی د ځانګړو واحدونو سره ګزمه کول او په پټه يې د پوځيانو حالت تر څيړنې لاندې نيولی وو. نوموړی په خپل کتاب کې ليکي:«د بغداد تر اشغال لږ وروسته ډنمارکي سرتيري د الوتکې په واسطه د اپريل په مياشت کې د بصرې څخه بهر په هوايې ډګر کې پياده شول. وروسته موږ پخواني پوځي مرکز ته چې انګريزانو اشغال کړی وو، راغلو. عراقي سرتيري چې په دغه پوځي مرکز کې اوسيدل د يوه کال له پاره پرته له معاش څخه رخصت شول. دښکاري پوځ يوه دلګۍ مخکې د ډنمارک د پارلمان تر پريکړي(۱۵ / اپريل / ۲۰۰۳ زکال) په عراق کې وو.

په وروستيو اونيو کې ډنمارکي سرتيري په ۷۰۰۰ کيلومتر مربع ساحه کې چې مسوليت يې د ډنمارکيانو وو، وګرځيدل تر څو سيمه ښه وپيژني. په ذکرشوي کتاب کې راغلي دی چې ډنمارکيانو بايد په ګډه د انګريزانو سره تر ممکنه کچې په ډيرو عملياتو کې برخه اخيستي وای تر څو چې د دوي د جګړې تاکتيک يې زده کړی وای او هم پوهيدلي وای چې انګريزان په عملياتو کې څه موضوعاتو ته زياته پاملرنه کوي. په ګزمو کې پوځيانو بايد څارنه کړی وای چې کوم قومي مشران مخالفت کوي او کوم مشران د نوی حاکميت ملاتړي دي. په هم دی ډول وړانديزونه وه چې د کمپ موقعيت او د خوب کوټې څه ډول وي چې امنيت يې په لوړه کچه خوندي وي. کيدلای شي چې ټول وړانديزونه په نظر کې نيول شوی نه وي خو انجنيري ګروپ په کار پيل وکړي تر څو د کمپ جوړول په ربښتيا بدل کړي. د ټولو تخنيکي ستونزو سره سره د کمپ د جوړيدو کارونو جريان درلودي چې د (۳۸۰) ډنمارکي او (۴۳ ) ليتوانيايي سرتيرو له پاره ودانۍ جوړه کړي. سرتيرو، انجنيري ګروپ او افسرانو په ګډه د ودانۍ جوړولو له پاره مرسته کول.

---

[٤٣٧] - Lars Møller

[٤٣٨] - Jæger 200

د کمپ چاپیریال دوه متره لوړ دیوال احاطه کړی وه او سرتیرو دوه نیم کیلومتره اغزي لرونکي سیم پر دیوال د پاسه تیر کړ چې د کمپ امنیت خوندي شی.

ډنمارکي سرتیري د ۲۰۰۳زکال د جون په (۱۸) نیټه په پوځي کمپ کې ځای پر ځای شول. په پیل کې سرتیري په خیمو کې اوسیدل خو وروسته کانتینري کوټې جوړي شوی او د ډوډۍ پخولو ترتیبات هم ونیول شول چې د سهار له مخې سرتیرو ته توده ډوډۍ پخیدل. د ډنمارکیانو د مسولیت سیمه ډیره مهمه وه ځکه په ګاونډ کې د بصرې ښار پروت و چې دوه میلیونه نفوس لری او د عراق دوهم لوی ښار دي. که څه هم د بغداد ښار په رسمي بڼه د واک مرکز دی خو د بصرې د ښار ارزښت ډیر زیات دي ځکه د کلونو په اوږدو کې د تجارت او اقتصاد مهم مرکز و. د بصرې ښار په ګاونډ کې د ترګیس او فرات رودونه یوځای کیږي او وروسته د فارس خلیج ته ور بهیږي. یوازنی ښار دی چې بهر ته لار لري او د تیلو د صنایعو له پاره ډیر ارزښت لري. لویه موټریزه سړک نمبر(۶) همدلته تیره شوی دی چې د سرتیرو اصلي دنده د همدغه سړک ساتل وو. انګریزان د بصرې ښار ته نژدې د شیهاب د هوایي ډګر څنګ ته پوځي مرکز پرانیست او د ګاونډ درو ښارونو امنیت یې هم په غاړه وو. په همدغه ښارونو کې شیعه مسلمانان زیات وو خو لږ سني او مسیحیانو هم په دغه ښارونو کې ژوند کولو.

په پیل کې ډنمارکي سرتیرو د انګریزي سرتیرو سره په ګډه کار کولو تر څو د دوي د تجربو څخه زده کړه وکړي او وروسته په مستقل ډول مسولیت پر غاړه واخلي.

د ډنمارکي سرتیرو اصلي دنده دا وه چې په بشپړ ډول امنیتي حالت ثابت وساتي او د بشري موسیسو د کار له پاره زمینه برابره کړي. (۱۵) سرتیرو ته دنده ورکړه شوه چې د هغه ګروپ سره[٤٣٩] کار وکړي چې د محلي مشرانو او نړیوالو خیریه موسسو سره اړیکې لري. لس تنو ډنمارکي پولیسو د عراقي پولیسو د زده کړو دنده پر غاړه درلوده.

د ډنمارکي پوځ د قوماندې د مرکز لومړنی اعلامیه د رسنیو په وړاندې مثبته وه: « راتلونکي ورځي د کمپ د ودانۍ جوړول دوام مومي او موږ به په سیمه

---

- CIMIC[٤٣٩]

کې وګرځوو او خلکو ته به سلام ووایو. کله چې ډنمارکیان په سیمه کې تیرېږي د خلکو له خوا په تبسم او مینه استقبالیږي.»

خو دا اصلی واقعیتونه نه وو. د پوځي واحد قوماندان د ۲۰۰۳ زکال د نوامبر په (۲۶) نیټه د قوماندي مرکز ته د ارزونې راپور ولیکي چې د پورته یادونو سره یې ډیر توپیر درلودي. نوموړی لیکي چې زموږ د تیریدلو په وخت کې به ځوانانو او ماشومانو تبسم کولو او افرین نارې به یې وهلي ولې چې زموږ موټر به تیر شو، ډبرې به یې راپسي غورزولې.

د عراق د شرایطو سره د ډنمارکیانو د نه تیاري لومړي علامه دا وه چې داسې مواد یي سرتیرو ته راولیږل چې د عراقي اقلیم سره په هیڅ ډول همږغي نه وو د بیلګې په توګه د واورې پاکولو بیلچې او د چمنونو ریبولو ماشینونه. د قوماندې مرکز داسې دفاع کول چې د سرتیرو له پار په بهرنیو هیوادونو کې ستندرد بستې

جوړې شوی دي. (ژ: د حیرانتیا ځای دادي چې عراق ته د واورې پاکولو بیلچې په تاوده وړي کې په څه ډول د ستندرد بستو په نوم دفاع کیږي ایا عقل نه وو چې یوځل دا بستې کنترول شوی وای. د دغه پوځ ناکامي په افغانستان کې د لویدیزو د ښامار څخه پرده پورته کړه.) خو پورته دلایلو د مشرتابه غیري مسلکي کړونو ته ځکه برأت ور نه کړای شوای چې د سرتیرو د خوب له پاره (۴۲۰) کټونه چې لوړ او کښته پوړ یي درلودي او د لرګي څخه جوړ شوي وو، رانیولي او راولیږل خو دا کټونه دومره کمزوري وو چې یوازې یې د (۸۵) کیلو کرام وزن طاقت درلودی. د دغو کټونو زیاته برخه په کمپ کې د سونګ د موادو په څیر وکارول شول. ایرکاندیشنونه چې په موټري وسایطو او د خوب په کوټو کې کار ورڅخه اخیستل کیدي په ډنمارکي ستنډرد جوړشوي وو چې د عراق د (۵۰) درجي تودوخې له پاره د استفادې وړ نه وو. په دغه خاطر اړتیا وه چې نوي ایرکانډ یشنونه راوغوښتل شي. لومړی اونۍ په ګزمه، د امنیتي پوستو جوړول او د سیمې د پولیسو سره په کتلو تیرې شوې. سرتیرو د موټرانو په ظبطولو هم ډیر وخت تیرولو. د دو اونیو په جریان کې تقریباً (۵۰) موټره راټول شول. موټرونه د صدام حصین په رژیم پوری تعلق درلودي خو د جګړې په وخت کې غلا شوی وو. د ډنمارکیانو موخه دا وه چې راټول شوي موټرونه دوباره د نوي رژیم مسولینو ته وسپاري خو ډیر وخت یې ونیوي چې اصلي مسولین یې وموندل شي.

د ۲۰۰۳ زکال د جون په (۲۳) نیټه خبرتیا راکړل شول چې راتلونکې دندې به د انتظار څخه بهر ډیرې جدي وې. د انګریزانو سرتیري د مایسان په ولایت کې په جګړه کې ښکیل شول چې شپږ انګریزې سرتیري ووژل شول. لومړي ځل و چې ډنمارکي سرتیري د انګریزانو سره د مرستې په موخه د جګړې ډګر ته ولیږل شول. دنده دا وه چې بریدکوونکي د ډنمارکیانو د مسولیت سیمو ته تښتیدلی وو، هغه مو باید نیولی وای. ډنمارکي سرتیري په مخامخ جګړه کې ښکیل نه شول خو پیښه د ډنمارکي سرتیرو له پاره یوه تجربه وه چې باید جدي پاملرنه وکړي.

(ژ: اروپایان جګړه د حلوا د ویشلو په څیر ګڼې دا ځکه چې دوي په خپلو وسلو دومره مغروره دي چې ګومان یې نه کولو چې څوک به یو ډز هم پر وکړي او د بلې خوا د دوي مغزونه دومره مینځل شوی دی چې خپل شتون د مظلومو خلکو له پاره نعمت ګڼې خو د ولسونو د هیواد پالنې احساساتو ته هیڅ پاملرنه نه کوي.)

ډنمارکي سرتیرو ته اسانه نه وه چې د انګریزي سرتیرو سره په ګډه عملیات وکړي. ډنمارکي سرتیري عراق ته د دې موخې له پاره لیږل شوی وو چې یوازې به وسله د ځان د دفاع په وخت کې کاروي ځکه دوي د سولې پوځ ګڼل شوی وو. په پارلمان کې پریکړه داسې وه چې ډنمارکي سرتیري به سیمې ته هغه وخت ننوزي چې جګړه پای ته رسیدلي وي. ولې انګریزي پوځیان د اشغال د پوځ یوه برخه وه او حق یې درلودي چې په وسلوالو شخړو کې برخه واخلي. انګریزانو ته اجازه ورکړي شوی وه چې پر موخو باندې د پیاده قوتونو په ښه بریدونه تر سره کړي. ستونزه دا وه چې ډنمارکیان د انګریزي پوځ تر قومانده لاندي وه او هغوي غوښتنه ورڅخه کول چې تر ډنمارکي قوانینو د رعایت سربیره باید په عملیاتو کې مخته ولاړ شي.

د ډنمارکي پوځ مشر د مرکزي قوماندي مرکزته ولیکل چې د ستونزي په اړوند هدایت ورکړي. نوموړی ولیکل چې مشرتابه به دا مسولیت اخیستی وي چې زموږ او انګریزانو عملیات او یا د قدرت استعمال یو شانتې وې.

هر څه د ویجاړی په حالت کې وو. د جګړې په وخت کې د عراق قواو (۱۴۰) ښوونځي دوباره ونیولي خو هلته یوازې لڅ دیوالونه پاتي وو. دوه روغتونه او (۲۰) صحي کلینکونه ویجاړ وو. پاکې اوبه او د اړتیا په وخت کې د بریښنا د تولید جنراتور یې نه درلودل. هغه ځایونه چې د اوبو ذخیرې نه وي، خلکو اوبه

په نیغه د رود څخه اخیستلي چې دغو ناپاکو اوبو ډیر کسان ناروغه کړه. د خوراکي موادو په شتون کې ستونزه نه وه خو د عذا پخولو له پاره د گاز د رانیولو له پاره لویې لیکې ولاړې وې او جنجالونه به پورته شوه. د عراق حکومت او د ډنمارک پوځیانو داسې یو پلان نه وه جوړ کړي چې د بصرې په سهیل لورې کې چې ډنمارکیانو مسولیت درلودي، چې کارونه نورمال مخ ته ولاړ شي.

د پوځ مشر دغه ادعا مني کله چې د عراق لومړی وختونه را په زړه کړي. موږ کومه ستراتیژی نه درلوده، ځکه موږ خبر نه وو چې اړتیا به وي. په بالکان او کوسوو کې ډنمارکیان مرسته کوونکي وو نو ځکه د پلان جوړولو ته یې اړتیا نه درلوده.

د پوځ مشر، تیم سلوټ یونسن [٤٤٠] وایي: کله چې نا ارامي او گډوډي پیل شوي، موږ ته د پلان جوړولو اړتیا څرگنده شوه. په سیاسي کچه د ډنمارک او انگریزانو د بهرنیو چارو د وزیرانو تر مینځ بحثونه وشوه خو یوه هم د دوي څخه د جدي ستونزو د پیښیدو وړاندوینه و نه کړه.

موږ د شیعه مسلمانانو په سیمه کې وو چې د صدام حصین لخوا رټل شوي وو. همدوي باید د ازادي څخه ډیر راضي وای. د بهرنیو چارو وزیر وایي چې په پیل کې همدوي ډنمارکي سرتیري ډیر ښه استقبال کړل.

د بهرنیو چارو وزیرانو په مینځ کې خوشبیني ډیره زیاته وه او وعده یي کړی وه چې گډ کار به کوي.

د ډنمارک د بهرنیو چارو وزیر، پیر ستی میولر [٤٤١] وایي چې زما او د انگلیستان د بهرنیو چارو د وزیر تر مینځ اړیکې ډیرې دوستانه او پر گډ کار بناء وي. انگریزانو پرته زموږ له خبرتیا څخه لویه پریکړه نه کوله او ما هم عیني چلند کاوه.

---

[٤٤٠] - Tim Sloth Jørgensen

[٤٤١] - Per Stig Møller

جګړن اندریس بوس[٤٤٢] هیڅ خبر نه و او د ۲۰۰۳ زکال د جولای په میاشت کې په یو فیستیوال کې و چې موبل تلیفون یي زنګ ووهلو. ته باید عراق ته ولاړ شي! نوموړی فکر وکړی چې ملګري ازار ورکوي نو ځکه ټلیفون یي بند کړ چې بیا زنګ راغي. سبا باید د تللو له پاره د البورګ په هوایي ډګر کې واوسي! جګړن پوه شو چې موضوع جدي ده.

د پوځ مشرتابه غوښتل چې د پوځ لومړی ډله قوي کړي، ځکه دندې یې درندې وي. د عراق د زاړه حکومت پاتې شونې او د زیاتو مجرمینو شتون اړتیا رامینځته کړه چې ډنمارکي سرتیري په سیمه کې ولیدل شي چې د خلکو سره مرسته وکړي او هم عراقي پولیسو ته ښوونه او روزنه ورکړي. موضوع تایید شوه نو د پوځ مشرتابه (۴۲) نور پوځیان عراق ته ولیږل چې یولس تنه یې د پوځ پولیس وو.

کله چې اندریس بوس و پوځي کمپ ایدن ته راغي، ۲۳ پوځي پولیسو شتون درلود چې سرتیري وڅاري، د اړتیا په وخت کې دسیمه ایزو خلکو سره مرسته وکړي، د جرمونو پر ضد مبارزه او عراقي پولیسو ته ښوونه او روزنه ورکړي. اندریس بوس د دوي په مینځ کې تجربه لرونکي و ځکه مخکی بوسنیا ته لیږل شوی و او د ځانګړی موقعیت خاوند و. پوځي پولیس د یو جګړن او جګ تورن لخوا رهبري کیدل مګر د پولیسو په مرکزونو کې دندې دومره ډیرې وې چې هر کس ځانګړی مسولیتونه درلودل. عراقي پولیسو په دو لویو ښارونو القرنا او المدینه کې چې د ډنمارکیانو د مسولیت سیمه وه، د ډیرو پوستو امنیت پر غاړه واخیستی. برسیره پر دي ډنمارکیانو د عراقي پوځ یوه ۶۷۰ نفري قوه جوړه کړه چې د اړینو ودانیو ساتنه یي په غاړه وه. یو شمیر یې پخوانی پوځیان او باقیمانده یې سیمه ایزه اوسیدونکي وو چې پورته پوځي واحد ورڅخه جوړ شوو.

مخکي له دي څخه چې ډنمارکي پوځیان راشي. انګریزانو پر پورته دوو لویو ښارونو کې د محکمو ودانۍ رغولې وې نو د جون د میاشتي په نیمایي کې د محکمو چارو رونق ونیوي. خو په رښتیا سره د کار یوازې نوم و. دا چې محکمې د پولیسو د مرکزونو سره نژدي پرتې وي نو پولیسو یې امنیت ساتي. اداري فساد په څارنوالیو، محکمو او پولیسو کې پراختیا موندلی وه. د ډنمارکیانو او انګریزانو له پاره ډیره مشکله وه چې د مختلفو توکمونو او ګروپونو تر مینځ

---

[٤٤٢] - Andreas Boas

د واک بلانس وساتي. لوی جنجال د نوي محکمې او پولیسو په مرکز کې شتون درلودي چې يو د بل په مقابل کې واقع وو.

د اګست په میاشت کې د سیمې د خلکو لخوا و ډنمارکیانو ته داسې راپور راغې: د القورنه په ښار کې هغه ودانۍ ته چې د ډنمارکیانو د یوې دلګۍ لخوا ساتل کیږي، د برید ګواښ شته. په داسې حال کې چې اندريس بوس او پنځه پوځي پولیس د عادي څارنې له پاره د المدينې ښار ته تللي وو، موږ زيات ډنمارکي پوځيان تيار کړل او د نوموړی ودانۍ خواته وخوځيدلو.

ناڅاپه زموږ په قرارګاه کې جنجال پیل شو. موږ ډيزې اروېدلي او د مرستې غوښتنه مو وکړه خو امکان يي نه درلود ځکه يو شمير پوځيان لکه پورته مو چې وويل د القورنه ښار ته د پيښې ځای ته تللي وو. موږ څو تنه وو او امر راته وشو چې مخته ولاړ نه شو. د المدينې ښار د محکمې او پولیسو ودانۍ د غلو له خوا چور شوه خو عراقي پولیسو د غلو مخنيوی ونه کړي.

اندريس بوس وايي چې عراقي غلو ټول شيان لکه وسلې، کمپیوترونه او د دفترونو موبل چور او تالان کړل. وروسته موږ وپوهيدلو چې پر ودانيو باندې برید يو چل و چې موږ سرتيري هلته ولیږو تر څو دوي په خلاص لاس د محکمې او پولیسو مرکز هر څه چور کړي.

وروسته مشر پوځي خلکو ته روښانه کړه چې دوسيې ټولې چور شوی او مجرمینو ته سزا نه شي ورکول کيدلای. عراقيانو بريښنايې کمپیوتري سیستم نه درلود چې دوسيې ور په کښې خوندي شوي وای. قاضيان او څارنوال هم په غلا او چور کې شريک وو ځکه دوي رشوتونه خوړلي وو نو ځکه هر څه يې له مينځه يوړه چې هيڅوک يي څيړنه ونه کړای شي.

ډير وخت به ډنمارکي پوځيان اړ وو چې د محاکمو کار خپله وکړي، د شاهدانو څخه پوښتنې ګرويږنې وکړي او په دوسيه کې راجستر کړی. عراقيانو نه غوښتل چې دغه دندې سرته ورسوي. د سیمې وګړو جرأت نه درلود چې شاهدي ورکړي ځکه د قصد اخيستلو څخه ډاريدل. د ډنمارکي حقوقو پوهانو او د يادشوو دوو ښارونو د قاضيانو تر مينځ ډيرې غونډې وشوي تر څو کارونه سم لوري ونيسي.

ډنمارکي پوځيانو په راپور کې وليکل چې زيات شمير اوسيدونکي نالوستي دي او يو محدود شمير عراقيان د لوړو زدوکړو خاوندان دي. د خلکو عمومي روحيه داسې ده چې صدام له مينځه ولاړ نو هر څه نابود شول. (ژ: عراق پرمختللي

هیواد و، ډیر کارپوهان یي درلودل خو دا چې خلکو ویل: صدام ولاړ نو هر څه په سیند لاهو شول. د خلکو مینه د پخواني رژیم سره او نفرت د اشغالګرو څخه بیانوي.) ډنمارکي پوځیانو خلکو ته تبلیغ پیل کړي چې پخواني قانون اوس هم نافذ دي که څه هم صدام حصین نه شته. په قضایي چارو کې یو توپیر موجود و ځکه د صدام حصین په وخت کې قضاء د رژیم ښی لاس وو. موږ ډنمارکیان اړ وو چې په قضاء کې نوی بی پری سیستم رامنځته کړو خو تطبیق یې لویه ستونزه وه. خلکو په لویه کچه داسې فکر کاوه چې هر څه په صدام حصین پورې تړلی وو چې څه چاته ورکوي. اوس صدام له مینځته تللی و نو هر څوک ازاد وو چې پریکړه وکړي چې څه په چا پوري تړلي دي. موږ ډنمارکیان دا غله ګڼو مګر د عراقیانو لویې برخې دا درک نه درلودې. د القوره د ښار محکمې ښه کار کاوه خو د المدینې د ښار محکمې هغه وخت ښه کار کاوه چې د ډنمارکي پوځیانو تر دایمي څارنې لاندی وای. د المدینې د ښار د پولیسو مسولیت د اندریس بوس پر غاړه وه چې په سیمه ایزه اکاډمی کې پولیسو ته ښوونه او روزنه ورکړي. اندریس بوس هغه وخت ډیر حیران شو چې د ۱۸۰ پولیسو څخه نیمایي یې د (۱۳ ـ ۱۶) کلنو عمرونه درلودې. د انګریزانو د مسولیت په وخت کې دود داسې وو چې دوی د پولیسو د ادارې څخه پوښتنه کوله چې څو تنه یي نوی مقرر کړی دی نو د هغې شمیرې سره یې برابر د پیسو چک ورکاوه. په دغه آساس د پولیسو شمیر ډیر زیات شوو، ځکه انګریزانو ډیري پیسي ورکولي.

ډنمارکیانو د پیسو د غلاکولو دغه میتود ته د پای ټکی کښیښود. دوی داسې یوه مقرره جوړه کړه چې د عراق د پولیسو سرتیري باید لږ تر لږه د اتلسو کالو وی. په ټولیز ډول ډنمارکي پوځیانو تلاښ وکړي چې ټول موضوعات په یو سیستم کې وي. په همدغه ډول د پولیسو د هر مرکز له پاره یی د وسلو ډیپو جوړ کړي چې پولیس د دندې تر پای ته رسیدو وروسته خپله وسله تحویل کړي. ډنمارکیان د ډیپو څخه د وسلو د شمیرې موجودي کول او هم یې وسلې څارلي چې سرتیري نوی وسلې ونه پلوري او زړې یې په بدل کې رانیسي. دا ځکه د وسلو د پیریدلو او رانیولو تور بازارهم شتون درلودي.د عراقي پولیسو او سیمه ایزه قومي مشرانو کنترول اسانه چاره نه وه. یوه ورځ اندریس بوس او څو نور پولیس د المدینې د ښار د پولیسو په مرکز کې وو چې ځینې کسان یې لیدلو ته راغلل. دا یوه لویه ډله خلک وو چې د غذا سره د یو بندی لیدلو ته راغلل.د خلکو غوښتنه دا وه چې بندي د اړتیا په وخت په خپله خوښه ووزي او بیرته راشي او د اړوند مرکز د پولیسو امر هم دغه شان نظر درلود. اندریس بوس وایي چې یوه بله ورځ د پولیسو مرکز ته راغلم چې بندي په کوټه کې نه شته د پولیسو مسول راته

وويل چې محکمې پريکړه کړی ده نو ځکه هغه ازاد شو. کله چې اندريس محکمې ته ځي، قاضي ناخبري ښيې وروسته د پوليسو مشر يي مني چې هو ځيني وسله وال کسان راغلل چې نفر يي خوشي شي پرته له دي نه د پوليسو پر مرکز برید کوي.
دغه هغه حالت و چې موږ يي بايد پر وړاندې دريدلی وای. موږ هڅه کوله چې عراقيان وپوهوو تر څو د ښه عدلي سيتم ګټې وپيژني. موږ نه غوښتل چې هره دوسيه په پټه داسې حل شی چې مجرم ته سزا ور نه کړل شی.

اندريس بوس ژر وپوهيدي چې پوليس يوه غيري متجانسه او شکمنه مجموعه ده. په پوليسو کې د صدام حصين د وخت کسان هم وو په ځانګړی ډول په مشرتابه کې ځای نيولی وو. موږ وپوهيدلو چې د صدام د وخت پوليس صادق نه دي نو ځکه موږ د کار څخه ګوښه کړل.

موږ عراقي پوليسو ته ور زده کول چې د ډار او بيري پر ځای ښه دی چې د سيمې خلکو ته درناوی وشي. خلک بايد ډار ونه لری چې پوليسو ته د اړوندو موضوعاتو په هکله معلومات ورکړي. عراقي پوليسو باور نه درلودي چې دوي کولای شی خپلې دندې په ښه توګه اجرأ کړي ځکه په څنګ کې د بعث د ګوند غړو شتون نه درلودي. کله چې عراقي پوليسو ګزمه کوله د پايکپ موټر د مختلفو برخو څخه به يي د توپکانو خولې د تيارسی په حالت کې را ايستلي وي نو ځکه دوي ته ډيره ستونزمنه وه چې د سيمې د خلکو سره اړيکې ولري.د ستونزې د حل له پاره ډنمارکيانو پريکړه وکړه چې پر پښو ګزمه وکړي. دري عراقي پوليس په مخکې روان وو او دري ډنمارکي پوليس به د شاه له خوا ورپسې تلل. د خطر کچه ډيره کښته ارزول شوی وه نو ځکه ډنمارکي سرتيرو د ګزمې په وخت کې ټول تجهيزات د ځانونو سره نه درلودل. ډنمارکي سرتيري به په لنډو لستونو کميسانو کې تلل، توپک به يي په اوږ پوری ځوړند و، د احتياط په خاطر يي يوازې د مرمي ضد زري واسکټ اغوستي.

اندريس بوس وايي چې موږ اټکل نه کاوه چې خطر شته او يا بايد ووايو چې موږ نه پوهيدلو چې په واقعيت کې څومره ګواښ زموږ سرتيرو ته شته.

په حقيقت کې د ځوان شيعه مسلمان مقتدا ال صدر له خوا د بريدونو له پاره تياري نيول کيدي. نوموړي د ۲۰۰۳ زکال د جون په مياشت د نجف په ښار د جمعې په لمانځه کې وويل چې د امريکايانو په واسطه جوړه شوی شورا د پرديو نانځکه ده او بايد پر ضد يي وسلواله ډله جوړه شي خو موږ ډنمارکيانو او

انګریزانو د مقتدا دغه ګواښونو ته هیڅ پاملرنه نه وه کړی. نوموړي خپله ډله د جنبش ال مهدي په نامه یاده کړه چې ډیر ژر یې په غریبو خلکو کې نفوذ وکړي.

دوي به توري خولي اغوستي وی او د مافیایي ګروپ په ډول به یې کړنې کولې. دوي د هټي والو او شخصي خلکو څخه په زور پیسي اخیستلي. د مقتدا جنبش په پولیسو کې هم ملاتړي ومو ندل. څو میاشتي وروسته (۳۰) کلن مقتدا ال صدر خپل پټ حکومت جوړ کړي او د خپلو موخو د ښکاره کولو څخه یې ډار نه درلودي. نوموړي په ښکار وغوښتل چې بهرني پوځونه باید په بیړه عراق پریږدي او پر ځای یې یو بنسټپال اسلامې حکومت د ایران په ډول جوړ شي. د مقتدا د ملاتړو شمیر د ۲۰۰۳ زکال په وړي او منې کې ډنمارکیانو یې نه شوای اټکل کولای.

د ډنمارکي پوځ مشر مرکز ته په راپور کې ولیکل چې شرایط ښه دي او د سیمې شیخان د خلکو څخه غواړي چې زموږ د پوځونو سره مرسته وکړي.

ډیر وروسته ډنمارکیانو د واک خاوند امام وپیژندی. په ۲۰۰۳ زکال کې ډنمارکي پوځونو د جرمونو سره مبارزه کوله او ورته ګرانه وه چې د قومونو د مشرانو حالت تر کنترول لاندې راولي. د هغه وخت د ډنمارکي پوځ د مرکزي قوماندی مشر وایي چې ډیر ګډوډ حالت وو.

د واک رسمي کړي د مینځه ولاړه پر ځای یې قومي او مذهبي مشرانو واک تر لاسه ګړي. زموږ په سیمه کې د قومونو تر مینځ ډیرې لانجې وې. کله کله به موږ په لانجو کې مداخله کوله خو کله کله به چوپ وو ځکه زموږ پر کارونو یې اغیزه نه کوله.

د پوځ مشرانو ګومان کولو چې د ګډوډي د لومړی مرحلې تر تیریدو وروسته به د کوسوو[۴۴۳] په ډول ارامي رامینځته شي چې ډنمارکي سرتیرو په امنیت سره ګرځیدل را ګرځیدل کولای شواي. موږ ګومان نه کاوه چې زموږ پر ضد به کوم تعرضي عمل وشي. ممکن د هغه چا په مقابل کې دا کار وشي چې صدام یې د واک څخه لیري کړی دی. (ژ. امریکایان)

---

- kosovo[۴۴۳]

د اګست د میاشتی (۱۶) د شنبې ماښام و چې شپږ تنه ډنمارکي پوځیان ګزمې ته ووتل. موخه دا وه چې هغه کسان وڅاري چې د بریښنا کیبلونه یې پټول. ناڅاپې د لویي لاري څنګ ته په یو واټن کې متوجه شوه چې یوه لاري ولاړه ده. پوځیانو پریکړه وکړه چې لاري موټر وپلټي کله چې دوي لاري ته نژدې شوه، د لاری موټروان په بیړه حرکت وکړ، د لاري سرعت (۹۰) کیلومترو ته په ساعت کې جګ شو. ډیر خاورې بادیدلې خو بیا هم پوځیانو د خپلو څراغونو په مرسته لاری تعقیبول او وروسته ورسره په څنګ شول. پوځیانو د لاري پر ټیرونو ډزې وکړی، لاري یې پنچر او دریدلو ته اړ ایستل. لنډیز دا دي چې ډنمارکي پوځیانو ډزې وکړي، د لاری بل څنګ ته ډنمارکي سرتیرو فکر وکړي چې دښمنان په لاری موټر کې ځای پر ځای دي نوری ډزې وکړي. پایله یې دا شوه چې دوه عراقیان او یو ډنمارکي پوځي ووژل شول. کله چې نور ډنمارکي پوځیان راغلل، یوه ډنمارکي ورته وویل چې ما خپل ملګري وویشت ځکه تیاره وه څه مې نه لیدل. په هر صورت شپږ تنه عراقیان یې بندیان کړل. په سهار او هم په هغه شپه یې موټر وپلټي خو وسله یې ونه موندل. په وروسته کې څرګنده شوه چې نوموړي عراقیان ماهي نیونکي وو او د غلو له ډاره د ډنمارکي پوځیانو څخه په دی ګومان چې غله دی، تښتیدلی وو. وسله یې نه درلوده. یو ډنمارکي او دوه عراقیان د ډنمارکي سرتیرو په ډزو وویشتل شول او یوه تراژیدي وه خو ډنمارک ته یې د پیښې رښتیانی رپوټ ور نه کړي. په هر صورت د دفاع د وزارت مسولین خبر شول چې د عراقیانو سره وسله نه وه او ډنمارکي سرتیري د خپل ملګري له خوا په غلطی کې ویشتل شوی دی خو د مړی دوستانو ته او په خبرونو کې همدا خبره کیده چې عراقي غله وه او په متقابلو ډزو کې یو ډنمارکي سرتیري هم ووژل شو. د موضوع رښتیا بیان په میډیا او هم پارلمان ته د اګست په میاشت کې را ووتي.

(ژ: پر موضوع ډیر بیان شوی دي چې زه یې د ژباړنې څخه صرفنظر کوم) د عراقیانو څخه دوه تنه ووژل شول او یو تن یې سخت ټپی و نور شپږ تنه د ډنمارکیانو سره بندی پاته شول. په پیل کې ډنمارکیانو زندان نه درلود نو د کمپ په مینځ کې د اغزي لرونکي سیمانو څخه یو ځای جوړ کړی وو. دغه عراقي بندیان یې وروسته د انګریزانو او امریکایانو زندان ته ولیږل. (ژ: دا کوم عدالت دی چې دوتنه یې پرته د ګناه څخه ووژل، یو یې ټپي او نور یې زندان ته واچول. همدغه ډول کارونه یې په افغانستان کې هم وکړل چې د خلکو نفرت راوپاریدي.)

اندریس بوس وایي چې د زندانیانو تسلیمول امریکایانو ته په دی خاطر وو چې د هغوی په کمپ کې د تحققیق له پاره څارنوالان و ولې ستونزه دا وه چې دوی

دوباره د زندانی په اړوند موږ ته معلومات نه راکاوه. نو ځکه موږ هم اړینه وګڼله چې باید د ستونزې د حل له پاره یوه چاره وکړو. اندریس بوس په ډنمارک کې د تجربې څخه زده کړه کړې وه چې په څه ترتیب تحقیق وکړی او په دی هم پوهیدي چې د ژینو کنوانسیون د پوښتنو په وخت کې مراعات کړی نو ځکه د ژباړن په مرسته یې د زندانیانو څخه ابتدایي معلومات راټولول.

د ډنمارک پوځې مشرتابه دعراق تر جګړې مخکې پریکړه کړې وه چې اندریس بوس او یو شمیر پوځیان په عملي توګه د تحقیق له پاره وروزي. پوځیانو د اندریس بوس په ګډون د تحقیق عملي تمرینونه کړی وو.

تر تمرینونو دري کاله وروسته اندریس بوس عراق ته راغلي نو کافي تجربه یې درلودل او د زندانیانو څخه څیړنې کولې. خو په ډنمارکي زندان کې د لنډې مودې له پاره زندانیان ساتل کیدل او ابتدایي پوښتنې ورڅخه کیدلې. اندریس بوس زندانیان تر ۱۲ ساعتونو وروسته د عراق پولیسو، انګریزي او یا امریکایي زندانونو ته لیږل او یا به یې زندانی خوشی کړی.

اندریس بوس څو زندانیان د امریکایانو کمپ ته ولیږل خو خبر نه و چې د امریکا حکومت د تحقیق پروسه ډیره سخته کړی ده.

کله چې د ۲۰۰۲ زکال په پسرلي کې د ګوانتامانو د زندان په تړاو بحثونه پیل شول نو د په عراق کې د زندانیانو پر حالت ډیره اغیزه وښندله.

په ۲۰۰۲ زکال د مارچ پر لمړی نیټه امریکایي حقوقو پوه، مایکل دونلیوی [٤٤٤] د ګوانتامانو د زندان د تحقیق ګروپ مشر وټاکل شو چې په دغه وخت کې همدغه زندان د القاعدې د غړو او افغاني طالبانو څخه ډک وو. د امریکا د دفاع وزیر رامز فیلډ مایکل ته دنده ورکړه چې تر وروستې امکانه پوري د زندانیانو څخه ډیر معلوماتونه راټول کړي.

کله چې بوش د ګوانتانامو د زندان په تړاو د ژینو کنوانسیون بی اعتباره و ګڼي نو مایکل ته یي دنده ورکړه چې د زندانیانو د تحقیق له پاره نوی قانون جوړ کړي. ځکه د امریکا د تحقیق میتود [٤٤٥] بشګاره محدودیتونه درلودل. د پورته

[٤٤٤] - Michael E. Dunlavey

[٤٤٥] - US Army Field Manul 34-52

تحقیقاتي میتود پر بنسټ هر ډول فزیکي او روحي شکنجې منع وې خو دغه مقررات ډیر وخت په افغانستان کې د بندیانو د تحقیق په جریان کې تر پښو لاندې کیدل سره د دي چې په همهغه وخت کې د امریکا پورتنی پوځي مقرره نافذه وه. (ژ: زما تجربو، چې ډیر وخت مې په اروپا کې تیر کړی دی، راښودلی ده چې ډیر ډموکراتیک قوانین د دوي حکومتونو په ځانګړی ډول امریکایانو یوازي د خپلو خلکو له پاره جوړ کړی دی.)

د نوی ځارنوال دنده دا وه چې پخوانیو مقرراتو ته بدلون ورکړي او نوي داسې د تحقیق مقررات رامینځته کړي چې د بندیانو څخه ډیر معلوماتونه تر لاسه کړي. د امریکا مشرتابه په قهر وو چې ولې د ګوانتامانو د زندانیانو څخه کافي معلوماتونه چې انتظار یی کیدي، لاسته نه راځي. په ځانګړي توګه یو بندي چې محمد القهتاني نومیدي، د بیلګې په ډول د نوي سختي مقررې د رامینځته کولو له پاره د دلیل په توګه وړاندي کیدي. امریکایانو ادعا درلوده چې نوموړي د سپتمبر د پیښې د الوتکو د تښتولو شلم کس وو خو د هغه څخه د څیړونو په جریان کې درست معلومات تر لاسه نه شو.

د ۲۰۰۲ زکال د سپتمبر په میاشت د ثی ای ای ، اف بی ای او[٤٤٦] پوځي کسانو تر مینځ څو پرله پسي غونډې جوړې شوي تر څو د حل لاریي وموندل. د څیرونو نوي میتود د امریکایي سرتیرو د تمریناتو څخه په ګټه اخیستنه رامینځته شوو.

دا د سیری پروګرام[٤٤٧] و چې سرتیري د تحقیق له پاره څه ډول وروزل شی چې د زندانیانو شکنجه منع وی او هغه زندانیان وي چې د ژینو کنوانسیون ور باندې د تطبیق وړ نه وي. همدا ډول انګریزي او ډنمارکي سرتیرو د فویکس تمرینونه[٤٤٨] کول. د تمریناتو یوه بله د انتظار څخه لیري سرچینه د هغه فلم څخه وه چې ۲۴ ساعته[٤٤٩] نومیدی او د لومړی ځل له پاره د فاکس[٤٥٠] په

---

٤٤٦ FBI,CIA

٤٤٧ - SERE

٤٤٨ - POWEX

٤٤٩ - 24 timer

٤٥٠ - Fax

تلويزيون کې د ۲۰۰۱ زکال د نوامبر په مياشت کې وښودل شو. فلم د ترهګرۍ او د هغه پر ضد د مبارزې ميتودونه بيان کړی وو چې تر عادي ليدونکو برسيره د ګوانتامانو د زندان افسرانو ډيره دلچسپي يې د ليدلو سره وښودل. (ژ: زموږ پر مظلوم ولس يې د شکنجې له پاره فلمي صحنې عملي کولې دا دی د بشر د حقوقو له پاره درناوی .) د ۲۰۰۲ زکال د اکتوبر په مياشت کې د تحقيق ۱۸ ډوله ميتودونه تيار شول. هغه زندانيان چې نه يې غوښتل څه ووايي پر دري ډلو وويشل شول.

د لومړۍ ډلې له پاره دوې کټګورۍ په کار لويدلې: چيغې او بيډراو[٤٥١]. (ژ:دا ځانګړي اصطلاح ده چې د تحقيق په تړاو مختلفې ماناوې لري: ښکنځل کول، د ځراغونو په واسطه د سترګو تخريشول، په جبر د متهم سره جنسي اړيکې نيول، داسې درواغ ويل چې مقابل لوري ډير رنج وګالي او نور) که چيری دا طريقو څخه د غوښتنو سره برابره پايله لاسته را نه شي نو د تحقيق مشر دوهمه کټګورۍ په کار اچوله چې د تحقيق ۱۲ ميتوده يې درلودل.

موخه دا وه چې زندانی تر فشار لاندې راولي تر څو مطلوب معلوماتونه لاسته راوړي. د بيلګې په توګه زندانی په بشپړه توګه د ۳۰ ورځو له پاره يوازې ساتل کيدي او هر ځل د څلورو ساعتونو له پاره بايد په يو ډول ولاړ پاته شوی واي. او يا په بشپړه تياره کې ساتل کيدي.

يو بل ميتود داسې و چې ۲۴ ساعته مسلسل تحقيق ورڅخه کيدي او بيا څلور ساعته خوب ته پريښودل کيدي بيا د خوب څخه جګاوه او ۲۴ ساعته مسلل تحقيق ور څخه کيدي دا پروسه تر هغه وخت پورې دوام ورکول کيدی تر څو زنداني به بالکل د هوش څخه ولاړ. بله طريقه په سپو باندې ډارول وو.

د سزا ورکولو دريمه کټه ګورۍ چې ډيره سخته وه د هغو زندانيانو له پاره ګټه ورڅخه اخيستل کيدل چې اعتراف يې نه کاوه. دلته څلور طريقې په کار لويدلې.

فزيکي شکنجه يې يوه طريقه وه چې زنداني به داسې ګومان وکړ چې مړ کيږم. يوه ځانګړې طريقه يې د اوبو په واسطه شکنجه ورکول وه. په دی ميتود کې به زندانی ټينګ وتړل شو او پر مخ به يې يو ټوکر ور واچوی، بيا يې اوبو ته اچولو، زنداني ته داسې احساس پيدا کيدي چې غرق کيږم. دا طريقه تر نړيوالې

---

[٤٥١] - bedrag

جګړې وروسته چاپانیانو د زندانیانو د شکنجې له پاره استعمالول او هم په اویایمو کلنو کې په کولمبیا کې استعمالیدل.

ملل متحد، د سره صلیب اداره، د عمومي بخښښ سازمان او نور ډیر ورته سازمانونه همږغې دي چې په اوبو کې سزا ورکول، شکنجه ده.

د دغه سره سره شپږ میاشتي مخکې چې د ګوانتانامو د زندان په اړوند بحثونه پیل شول، جورج بوش د شکنجې دغه میتود تایید کړی و چې د ثی ای ای کارکوونکو د القاعده پر مهمو غړو لکه ابوزبیده باندی پورته میتود عملي کړی وو.

جورج بوش په۲۰۱۰زکال په خپل بیوګرافی کې لیکي چې د دغه میتود استعمال د عدلیې وزارت او د ثی ای ای حقوق پوهانو لخوا ارزول شوی دی. دهغوي ارزونه دا وه چې د پورته میتود استعمال د قوانینو سره همږغی دی. د سزا دغه میتود ډیر سخت و خو ډاکټرانو د ثی ای ای غړو ته اطمینان ورکړی وو چې روغتیا ته کوم نقصان نه پیښوي.

جورج بوش د خپل دفاع له پاره داسې دلیل وړاندي کوي که ما د سزا دغه میتود د القاعده د لوړ پوړو غړو په وړاندې منظور کړی نه واي نو باید منلي مې وای چې پر امریکا باندې د برید لوی خطر تایید کړم.

دا چې د امریکا مشرتابه زندانیانو ته د اقرار اخیستلو په خاطر د اوبو غرقولو او یا نور ډولونه شکنجې ورکولي خو دا سزاګانې شکنجې نه ګڼي، علت یې دادی چې د دوي د حقوق پوهان د شکنجې تعریف په بل شان کوي. دوی وایی که د سزا په وخت کې زندانې مړ او یا یې د وجود غړو ته ضرر ورسیږي، نو شکنجه ګڼل کیږي. د سزا ورکولو نور ټول میتودونه شکنجې نه ګڼي. د ۲۰۰۲ زکال د سپټمبر په میاشت دا هم وویل شول چې دغه سزاګاني د ثی ای ای د غړو نه علاوه د امریکا د پوځ غړی هم بندیانو ته ورکولای شي.

د ۲۰۰۲ زکال د ډسمبر پر دوهمه نیټه د امریکا د دفاع وزیر، ډونالډ رومزفیلډ د خپلو حقوقي کارپوهانو په مشوره د سزا ورکولو ټول (۱۸) ډولونه او هم د دریمې کټګوري څخه د فزیکي وهلو نرم میتود عملي وګڼي. نوموړی دا هم علاوه کړه چې د ثی ای ای د غړو نه برسیره پوځیان هم د سزا ګانو دغه میتودونه د اړتیا په وخت کې استعمالولای شي.

د امریکا د دفاع وزیر، ډونالډ رومزفیلډ د (۱۸) ډوله سختو سزاګانو څخه، (۱۵) ډوله سزا ګاني په خپل قلم نښاني او د تایید له پاره یي لاسلیک ورباندی وکړي. نوموړي په رسمي توګه د امریکایي پوځ پخواني دود چې باید سختې سزاګاني زندانیانو ته ور نه کړي، په خپل لاسلیک مات کړ. نوموړي د خپل لاسلیک سره په قلم داسې اضافه کړه: زه هره ورځ د (۸ ـ ۱۰) ساعتو ولاړ یم ولې دا (۴) ساعتونه را لږ نه کړم.

د امریکایي مسول جنرال له خوا په عراق کې د پوځ مسولینو ته د تحقیق د نوي میتو په اړوند معلومات ورکړل شو.

د ۲۰۰۲ ز کال د نوامبر په میاشت کې جنرال ګیوفری میلر[٤٥٢] د ګوانتامانو د زندان مشر وټاکل شو چې هم دغه کس د لومړی ځل له پاره د ګوانتامانو په زندان کې د نوي میتودونو په عملي کولو پیل وکړي. او همدی و چې د دفاع وزیر ته یي قناعت ورکړی و چې د تحقیق دغو سختو میتودونو د اجازې پر اسنادو لاسلیک وکړي. وروسته جنرال ګیوفری میلر عراق ته ولاړ او د ابو غریب زندان یي وکوت. هلته یي هم امریکایي پوځیانو ته امر وکړ چې همدغه میتودونه د تحقیق په جریان کې وکاروي.

په عراق کې یوه ستونزه وه چې زندانیان د ژینو د کنوانسیون په چوکاټ کې وه چې دغه میتودونه باید ورته استعمال شوی نه وای. خو مسول جنرال ریکارډو سانژیس[٤٥٣] ۲۰۰۳ زکال د د سپتمبر پر (۱۴) نیټه پر هغه سند لاسلیک وکړ چې د عراقي زندانیانو څخه د تحقیق په جریان کې هم باید د دغو شکنجه ورکوونکو میتودونو څخه کار واخیستل شي. (ژ: وګورئ د ډموکراسی پلرونه چې د دژینو کنوانسیون د خپلو چټلو موخو د لاسته راوړلو له پاره هیره وي. که څه هم طالبان او یا د القاعده جنګیالي هم انسانان وو او د ژینو د کنوانسیون د ګټو څخه ګوښه کول د امریکایانو صلاحیت نه وو خو زور کنوانسیون او بشري قوانین نه پیژني)

---

[٤٥٢] - Geoffrey Miller

[٤٥٣] - Ricardo Sanchez

په ۲۰۰۳ او ۲۰۰۴ زکلنو کې د امریکایانو په کمپونو او د دوي تر لاس لاندی زندانونو کې د تحقیق په جریان کې د شکنجو ټول پورته یادشوي میتودونه استعمالیدل.

انګریزانو هم د شکنجو پورته میتودونه د زندانیانو د تحقیق په جریان کې استعمالول چې د ژینو کنوانسیون او هم یي خپل قوانین تر پښو لاندی کول. په همدغه سهار جنرال ریکاردو سانشیز[٤٥٤] د تحقیقاتو دغه سخت میتود لاسلیک کړ. په همدغه سهار (۲۶) کلن بها موسی د شپې د نوکري څخه خلاص شوی و نوموړی د بصرې په یو هوټل، ابین الهاتم په ریسیپشن کې نوکریوال و. د نوموړي پلار داود موسی د عراق په نوی پولیسو کې ډګروال و او هوټل ته ولاړ چې زوي د هغه ځایه څخه راواخلي. ناڅاپه هوټل ته انګریزي سرتیري داخل شول بها موسی او شپږ تنه نور چې هلته وو، لاسونه یی ور وتړل او د هوټل په یوه برخه کې واچول. شپږ کلنشینوفونه چې د هوټل د ساتلو له پاره وو، پیدا کړل او د هوټل د خاوند په بکس کې یوه جوړه عراقی پوځي کالي او دوې اتوماتېکې وسلې او دوې تومانچې پیدا کړي. کله چې انګریزي سرتیري د تلاښی څخه خلاص شول، نو بها موسی او نور شپږ تنه یي په بصره کې د انګریزانو پوځي مرکز ته انتقال کړل. لږ وروسته د انګریزي سرتیرو یو مشر د بها پلار ډګروال داود موسی ته وویل چې زوی به یې ډیر ژر خوشی شی. انګریزانو یو څه وخت وروسته څلور تنه نور هم بندیان کړل.

کله چې بندیان یې پوځي مرکز ته راوستل، د دوي په سرونو یې توري کڅوړې ورواغوستي او د دوي په وهلو ټکولو پیل وکړي او په ستونزمن موقعیت یي د کښینستلو امر ورته وکړ. زندانیان دوي ورځي پر له پسي وهل او تړل کیدل پرته له دي چې کومه پوښتنه ورڅخه وشي. وروسته یې بل کمپ ته انتقال کړل او (۵۵) ورځي پرته له دي چې دوسیه ورته جوړه کړي، په بند کې ناست وو.

د نوموړو زندانیانو څخه دوه تنه یي د شکنجو په پایلو کې ناروغه او د بصرې پوځي روغتون ته یوړل شول. د دوي څخه یو تن یې بها موسی و. بها موسی د سپټمبر پر (۱۵) نیټه د شکنجو د ټپونو په پایله کې مړ شو. پلار ډګروال داود موسی ته یي اجازه ورکړه چې د زوی مړی ووینې. د مړی وجود څخه وینې جاری وی، وینې د خولې څخه تلي، لاسونه یي مات خو لنډه دا چې (۹۳) ټپونه

---

[٤٥٤] - Ricardo Sanchez

يې پر وجود ښکاريدل. (ژ: دغه دی د امريکايي او لويديزې اروپا د ډموکراسۍ انساني نمونه چې خپل ملاتړي پوځي يې د انساني کراماتو څخه ليري شکنجه کړي وه، که يي مخالف وسلوال لاسته ورغلي وای خدای خبر چې حال به يې څه وای.)

ډنمارکي پرستار د بها موسی او بل تن ټپونه او حالت د انګريزانو په پوځي روغتون کې وليدل نو دغه حالت يې د ډنمارکي پوځي واحد حقوق پوه ته خبر ورکړ. وروسته يې موضوع د ډنمارکي پوځي ډاکتر ته وويل. د ډنمارکي پوځ حقوق پوه د انګريزانو پوځي حقوق پوه ته اطلاع ورکړل چې يو بندی په روغتون کې مړ شو، نو د دوسيې په اړوند به انګريزان پلټنې کوي.

د ډنمارکي پوځي واحد مشر د موضوع څخه خبر شو خو ډنمارک ته يې خبر ور نه کړی.

يوه مياشت وروسته په عراق کې د انګريزانو د پوځ مشر، ويليم مور[٤٥٥] د مړه شوی بندی پلار ته د بخښنې غوښتلو ليک وليږی، او وعده يې ورکړه چې ځانګړې څيړنې به وکړی نو نوموړی د څيړونو له پاره انګريزي پوځي پوليس وټاکل. هغه سرتيرو چې دغه ناوړه عمل يي تر سره کړی وو، په ۲۰۰۶ زکال کې محکوم شول. وروسته د يوې بې پرې څيړونکو له خوا وويل شول چې د تحقيق پنځه ډولونه چې په دغه وخت کې (۲۰۰۳ ـ ۲۰۰۶ زکلونو) کې د انګريزانو له پاره په عراق کې ستندرد ګڼل شوی وو، په واقعيت کې په ۱۹۷۲ زکال کې د انګريز په پوځ کې منع شوی وو.

د سترې محکمې پخواني قاضی، ويليم ګيج[٤٥٦] چې د دغه څيړونکې ګروپ مشر و او څيړونو دری کاله دوام وکړ، په ۱۴۰۰ پاڼو ر پوټ کې په ۲۰۱۱ زکال کې داسې ارزونه وړاندی کړل: د زنداني په سر د تورې خولی اغوستل، د لوړ موزيک ږغول، خوب ته نه پريښودل، غذا نه ورکول، د دردونو سره مل بندي پر پښو درول په دغو کلونو کې پر زندانيانو د سزا په ډول اجرأ کيدل. د دغو کړونو اجرأ کول د کلونو په اوږدو کې د انګريز په پوځ کې له مينځه وړل شوی وو نو ځکه سرتيري نه پوهيدل چې بايد د تحقيق د دغه ميتودونو څخه کار

---

[٤٥٥] - William More

[٤٥٦] - William Gage

وانخلي. د نوموړې مشر قاضي په آند ټول مسوليت د انګلیستان د دفاع د وزارت دی.

انګریزانو او امریکایانو د تحقیق هغه میتودونه استعمال کړی دي چې د ژینو د کنوانسیون او هم د ملل متحد د شکنجو ورکولو د قانون سره په ټکر کې وو. د تحقیق په پروسه کې د پورته تخنیکونو څخه ګټه اخیستنه د ډنمارکیانو له پاره د ډیر اهمیت وړ ګڼل کیدل.

ډنمارکیانو د ۲۰۰۳ زکال د اګست د میاشتي څخه زندانیان د امریکایي - انګریزي زندان، کمپ بوکا [457] ته تسلیمول. امریکایانو دغه زندان د اور وژني د یو کارګر چې رونالډ بوکا [458] په نوم یاد کړ. دغه د اور وژونکي کارګر هغه وخت مړ شو چې د امریکا د دوتجارتي برجونو د نړیدو په وخت (د سپتمبر یولسمه ۲۰۰۱) کې خلکو ته نجات ور کولو. سره د دی چې د سپتمبر په یولسمه پیښه کې عراقیانو هیڅ رول نه درلودي خو امریکایانو د عراق جګړه هم د ترهګری سره د مبارزې یوه برخه ګڼل. امریکایانو د پیل څخه د بندیانو سره سخت چلند کولو. د ډنمارکیانو تر رسیدلو عراق ته یوه میاشت مخکې امریکایانو د بندیانو سره د بوکا په کمپ کې سخت چلند پیل کړی وو چې د شکایتونو ږغونه اوچت شول.

یوې ښځینه امریکایي جګړنې یو زنداني د تناسلي الې په برخه، نس او سر کې څو ځله په لغتو وهلي او تر لاس لاندې پوځي ته یي هم امر کړی و، چې عیني کړنه وکړي، دغه را زونه د شاهد له خوا بربنډ شول. په دو سرتیرو به یي بندي ټینګ ونیوي او نورو سرتیرو به د تناسلي الې په برخه کې په لغتو وهي او پر خوړ.من لاسونو به یي ختل، په دغه شکنجه کې یو بل جګړن هم برخه درلودل. ټول څلور تنه د امریکا د پوځ څخه ویستل شول او موضوع د ۲۰۰۳ زکال د جولای په میاشت کې عامه وګړو ته بربنډه شوه دا هغه وخت و چې یوه میاشت وروسته ډنمارکي سرتیري عراق ته ورسیدل.

ډنمارکیان پوه شول چې د بندیانو تسلیمیدل د (بوکا کمپ) ته یوه ستونزه ده خو کیدلای شی تر یوې کچې د بندیانو د حالت څخه خبر شي. که څه هم بندیان د

---

[457] - Camp Bucca

[458] - Ronald Bucca

انګریزانو په زندان کې وو خو بیا هم مسولیت د ډنمارکیانو وو. د ډنمارکي پوځي واحد مشرد ۲۰۰۳ زکال د نوامبر په میاشت کې خپل مشرتابه ته خبر ورکړ چې کومه ځانګړي ستونزه په کمپ کې شتون نه لري. همدغه دلیل و چې ډنمارکیانو شکمن کسان و کمپ ته تسلیمول.

د ډنمارک دفاع وزارت معلومات ورکړي چې د ۲۰۰۳ زکال په جریان کې ډنمارکیانو (۴۳) عرقي بندیان د انګریز ـ امریکایي کمپ ته تسلیم کړي دي. د همدغه کال د نوامبر او اکتوبر په میاشت کې د ډنمارکي پوځي کمپ حقوق پوه، ډاکټر او د پوځ پولیس، بوکا کمپ ته ولاړل تر څو وګورئ چې د ډنمارکیانو لخوا ورکړل شوو بندیانو حالت څنګه دي. د دوي ارزونه داسې شول چې بندیانو کومه ځانګړی ستونزه نه درلوده. د ډنمارک د پوځي دلګی مشر داسې نیوکه درلوده چې د بندی د سرنوشت معلومولو موده تر هغه چې انتظار کیدي، زیاته ده. دغه لنډې جملې ډیر مفهوم درلودي.

د زندانیانو کورنۍ همیشه راتللي او د خپلو خپلوانو د حالاتو پوښتنه یې کوله. د ۲۰۰۳ زکال په منی او وړی کې ډنمارکي جګړن پنځه ځله کمپ ته د بندیانو د کتلو له پاره ورغي. کمپ په ټولیز ډول د امریکایانو تر څارنې لاندی وه خو انګریزانو تحقیق ورڅخه کاوه. اندریس بوس (د ډنمارکي پوځ د واحد مشر) د زندان د لیدلو په وخت کې د امریکایي پهردارانو سلوک ته حیران شوو. د ځان سره یې سوچ وکړ، څه چې زه ګورم دا به درواغ وي. امریکایي سرتیري توري عینکي او د ځانګړی څیرې درلوونکي وو چې بندیان یې خپل دښمنان ګڼل.

ډنمارکي جګړن د بندیانو سره د لیدلو پر مهال د دوي د حالت، د زندان د وضعیت او د روغتیایي حالت پوښتنې کولې. بندیانو د معمول له مخی شکایت نه کاوه. جګړن ته شک پیدا شو چې کیدلای شي بندیان جرأت و نه کړي چې رښتیا ووایي، ځکه نوموړی د کمپ ژباړن څخه د بندیانو د پوښتنې په وخت کې ګټه اخیستل. کله به چې ځیني بندیان ازاد شول، جګړن به متوجه شو چې ازاد شوي بندیان فلج غوندي ښکاري او یا سم تللای نه شي. جګړن ته سوچ ور پیدا شو چې بندیان د ډنمارکیانو په زندان کې پر هیڅ شي اعتراف نه کوی خو کله چې په انګریزي ـ امریکایي بند کې وي نو د اولوف پیلمه پر[٤٥٩] وژولو هم اعتراف وکړي. (ژ: اولوف پیلمه دوه ځله د سویډن صدراعظم شو وروستۍ ځل یې د

[٤٥٩] - Olof Palme

صدراعظمی دنده د ۱۹۸۲ ـ ۱۹۸۶ زکلونه او په ۱۹۸۶ زکال ووژل شو چې د مرگ اصلي مجرم تر اوسه پورې دقيق معلوم نه دي. د ليکوال موخه داده چې څرگنده کړی چې عراقي بنديانو تر شکنجو لاندې حتی د هغه مرگ هم مني.)

د اندريس بوس ستونزه نوره هم پيچلي شوه ځکه د ډنمارکيانو لخوا د بنديانو تسليمول و انگريزي ـ امريکايي کمپ ته، ډنمارکيانو خپل تسليم شوی بنديان د ليدلو پر وخت پيداکولای نه شوای، ځکه بنديانو ته انگريزي يا امريکايي نمره ورکول کيدل. کله به چې ډنمارکيانو ټليفون وکړ چې موږ غواړو دغه شميره بندي ووينو، انگريزانو به ويل چې موږ امريکايانو ته تسليم کړي دي، خو امريکايانو به وويل ازاد شوی دي او يا بل زندان ته وړل شوی دي. موږ خپل د بنديانو په سرنوشت خبر نه وو که څه هم زندانيان دوي ساتل خو موږ بيا هم د خپلو ورکړل شوو بنديانو مسوليت درلودي.

اندريس بوس د نوموړی کمپ په اړوند د پوځ حقوق پوه ته د جريان خبر ورکړي او ورته جوته يي کړه چې زندانيان ورک دي. کله به چې د بنديانو کورنۍ راتلي موږ به د کمپ مسولينو ته استول ځکه موږ خبر نه درلودي.

موږ ډنمارکيانو په پيل کې د بندي نوم په قلم ليکي خو وروسته مو کمپيوټري سيستم جوړ کړ چې بشپړ معلوماتونه مو راجستر کول. وروسته د ډنمارکي پوځ حقوق پوه پښيمانه شو چې ماته د ورکو بنديانو خبرداری راکړل شوی نه دي. خو حقوقو پوه جوته کړه چې ما پر انگريزي پوځيانو باور درلود چې قانون به بشپړ مراعات کړي ځکه د دوي تجربې ډيرې وي.

د هغه وخت د پوځ د قوماندې د مرکز مشر، ټيم سلوټ يونسن [460] په هيڅ ډول د بنديانو سره د غلط سلوک انديښنه نه درلوده. دا ځکه چې نوموړي اوس وايي چې انگريزان او امريکايان زموږ ملگري وو او زموږ په ډول يې عدلي سيستم درلودي. خو دغه درک درست ونه ختی، ځکه د ۲۰۰۳ زکال د سپټمبر په مياشت کې ډنمارکي پوځيانو د بخښنې نړيوال سازمان او د ډنمارک د دفاع وزارت ته وليکل چې امريکايان او انگريزان د بصرې په سيمه کې د عراقي بنديانو سره ډير ناخوښه چلند کوي او دوي شکنجه کوي. دا چلندونه د بيلگې په توگه د نيولو په وخت کې د بندي د حقوقو تر پښو لاندې کول(غيري انساني

[460] - Tim Sloth Jørgensen

کړنې، ښکنځل او وهل) یا داسې جزاوې او شکنجې ورکوي چې د عادي وګړو په وړاندې منع شوې دي. د دغو معلوماتو پر بنسټ د بخښنې د نړیوال سازمان سروال، لارس نورمین یونسن [٤٦١] پرېکړه وکړه چې د پوځیانو ټولې هغه کړنې چې د بشر د حقوقو سره په ټکر کې دي، د بې پرې کمسیون له خوا په دقیق ډول وڅیړل شي.

برسیره پر دغه د سره صلیب نړیوال سازمان د ۲۰۰۴ زکال د فبوری په میاشت کې یو پټ رپورټ د امریکایانو مشرتابه ته په عراق کې تسلیم کړي. د بندیانو څخه د تحقیق مسولیت د ۲۰۰۳ زکال د اپریل تر (۷) نیټې پورې د انګریزانو په واک کې وو چې وروسته امریکایان دغه دندې ته وګومارل شول. ولې انګریزانو دوباره پنځه میاشتې وروسته د بوکه په کمپ کې د یوې برخې د تحقیق مسولیت واخیست. دا هغه برخه وه چې ډنمارکیانو خپل بندیان ورته سپارل. انګریزانو هم د بندیانو لاسونه ولچک، په سرونویې توري خولې وراغوستې چې لار ونه وینې، ناري او چیغې به یې وربانديې وهلې او د تحقیق په کوټه کې به یې په لغتواو د توپک په قنداق وهل او د تحقیق په کوټه کې به د یو لورې څخه بل لوری ته ټیل وهل.

د سره صلیب سازمان وایي چې د تحقیق دا ډول میتود د ۲۰۰۳ زکال د مارچ څخه تر نوامبر پورې دوام درلودي. دا هغه دوره وه چې ډنمارکیانو خپل بندیان د امریکا یانو- انګریزانو کمپ ته تسلیمول.

په دغه پټ رپورټ کې تاکید شوی و چې د څارګرو ادارو د مسولینو لخوا ځینې نورمال ډارونکي چلونه د بندیانو په وړاندې ګټه ورڅخه اخیستل کیدل تر څو زندانیان په تحقیق کې مرسته وکړي.

د ډنمارکیانو له نظره په رپورټ کې ډیره جالبه نقطه دا وه چې نوي بندیان که به د امریکایانو، انګریزانو، هالنډیانو، ډنمارکیانو او یا ایټالویانو لخوا ونیول شول، د نورو زندانیانو څخه بیل د تحقیق په کوټو کې ساتل کیدل.

د سره صلیب کارکوونکو ډیرې بیلګې لیدلې وې چې بندیان به د بوکا په کمپ کې شکنجه کیدل. د بیلګې په توګه یو (۶۱) کلن سړي چې توره رخچینه یې پر سر پر ډیرو ګرمو فلزي موادو کښینول شوی و او د بدن ډیرې برخې سوځولې

---

[٤٦١] - Lar Nordmann Jørgensen

وي. او په ډېرو حالتو کې پر بندی ډزې هم شوی وي چې مړ يا به ټپي شو. د بنديانو لويه شمير بی ګناه کسان وو. د پلټنې د کمسيون په رپورټ کې راغلي دي چې په دغه دوره کې د (۷۰ ـ ۹۰) سلنه بنديان په غلط راپور نيول شوی او بی ګناه وو. په دغه دوره کې ډنمارکيانو (۴۳) عراقيان نيولي وو خو د ټولو څېړونو په پايله کې هيڅ ډول داسې جرم چې زموږ پوځي قوتونو ته د دوي لخوا متوجه وي، په ګوته نه شوو. يو نفر يي د عراق پوليسو ته وسپارل شو ځکه يو عادي جنايی جرم يي کړی و، نور ټول ازاد شول.

د ډنمارک د دفاع وزير، سيون ګيده[٤٦٢] د سره صليب د نړيوال سازمان دغه د نيوکو ډک راپور لوستی وو تر څو چې د ۲۰۰۴ زکال د می په مياشت امريکايي ورځپاڼې والستريټ ژورنال[٤٦٣] ته په لاس ورغي. لږ وروسته دغه رپوټ د ډنمارک د پارلمان د بهرنيو اړيکو په کمسيون کې وارزول شو، د دفاع وزير غونډې ته وويل چې ډنمارکيانو (۲۲) تنه زندانيان امريکايانو ته تسليم کړي او موضوع يې بشپړه تر کنترول لاندي و، خو دا ادعا درواغ و. وروسته معلومه شوه چې (۲۳) بنديان نه، بلکې (۴۳) تنه وو.

د دفاع وزير وويل چې په پيل کې ډنمارکيانو ستونزه درلوده ځکه هغه بنديان چې امريکايانو ته يي سپارلي وو، ورک وو ځکه عراقيانو څو نومونه درلودل خو ورک شوی بنديان وموندل شول او ستونزه حل شوه. ولې ستتونزه حل نه شوه ځکه ډنمارکيانو او پوځي مشرانو ټينګارکولو چې موږ بنديان يوازې انګريزانو ته سپارل او امريکايانو د موضوع سره هيڅ تړاو نه درلودي. د ۲۰۰۴ زکال د می په مياشت کې د دفاع وزير ومنل چې د بنديانو د سپارلو تړون موږ يوازې د انګريزانو سره درلودي. مګر وروسته پوځيانو ومنل چې د ډنمارک بنديان انګريزانو ته سپارل کيدل خو د زندانيانو نمرې انګريزي او هم امريکايي وي. پر بنديانو امريکايانو پهره کوله. خو بيا هم پوځيانو ټينګار کاوه چې د ډنمارکيانو د ساتلو مسوليت د انګريزانو وو، او خپلې دغه ادعا ته يې دوام ورکړي.

د دوي په مقابل کې د سره صليب نړيوال سازمان چې په کمپ کې شتون درلودي، په ټينګار ويل چې د تحقيق مرکز بيل و چې د امريکايانو تر واک لاندې وو او

---

[٤٦٢] - Søren Gade

[٤٦٣] - Wall Street Journal

بندیان یې شکنجه کوله. د دفاع د وزارت مسولینو ټینګار کاوه چې امریکایانو د زندان عمومي چارې پر غاړه وي خو د ډنمارکیانو بندیان یوازې د انګریزانو په واسطه پوښتنې ورځخه کیدلي.

وروسته د بوکا کمپ د امریکایي پوځیانو تر کلکو نیوکو لاندې راغلي.

د ۲۰۰۴ زکال د جنوري په (۳۱) نیټه یو امریکایي جنرال د انتنیو ام ټاګوبا[٤٦٤] په نوم ته دنده ورکړل شوه چې د (۸۰۰ پولیسې واحد)[٤٦٥] اړوندې چارې د بندیانو د زورونې او شکنجو په تړاو وڅیړي ځکه دغه پولیسي پوځي واحد د مشهور ابوغریب په زندان کې دنده درلوده. د دغې څیړنې رپوټ په نړیواله کچه هنګامه جوړه کړه. د امریکایانو ناوړه چلند چې زندانیان یې د ابوغریب په زندان کې شکنجه کړي دي په جنایي دوسیه بدله شوه. نوموړې څیړنې د بوکا د کمپ د بندیانو په تړاو هم تر سره شولې ځکه (۸۰۰ پوځي پولیسې واحد) هلته هم مسولیت درلودي. د پوځ مسول جنرال جینیس ل کار پینسکې[٤٦٦] هیڅ وخت د ابوغریب او بوکا په زندان کې بندیانو ته د شکنجو ورکولو په تړاو غبرګون ښودلی نه دی. د څیړنو د مشر جنرال ټاګوبا په رپوټ کې ویل شوی وو چې سره د دې چې په اسنادو ثابته شوه چې شکنجو شتون درلودې خو جنرال کار پینسکې هیڅ وخت مسولو پوځیانو ته د ژینو د قوانینو په تړاو معلومات نه دی ورکړی.

جنرال ټاګوبا د بوکا په کمپ کې د ډیرو شاهدانو سره مرکې وکړي او د کمپ دننه راپور د کمپ د وضعیت په اړوند یې هم مطالعه کړي. پایله دا شوه چې په کمپ کې ډیرې ګډوډې وی او د کمپ د مشرتابه پلمه یوازې دا وه چې ناپیژانده بندیان چې[٤٦٧] ډیري یې د راجستر څخه ورک وو. په دغه وخت کې (۷۰۰۰ ـ ۸۰۰۰) بندیان د بوکا په کمپ کې وو. په امریکایي راپور کې په ټینګار ویل شوی وو چې د هغه پوځي واحد چې بندیان یې ساتل، مورال یې ډیر کښته وو. د راپور وروستۍ پایله په څرګند ډول دا شول چې ډیرو امریکایي سرتیرو د ابوغریب او کوبا زندان کې د بندیانو سره ډیر ناوړه چلندونه کړی وه چې د

---

[٤٦٤] -Antonio M. Taguba

[٤٦٥] - 800th Military Police Brigade

[٤٦٦] - Jenis L. Karpinski

[٤٦٧] - unknown detainess

نړیوالو قوانینو سره په ټکر کې وه. د زندان مشرتابه مسولیت ومنی خو د ابوغریب او کوبا په زندان کې د ۲۰۰۳ زکال د اګست څخه تر ۲۰۰۴ زکال فبوري میاشتي پورې بندیان شکنجه او کړیدل.

په عراق کې د ډنمارک د پوځي واحد مشر، اندریس بوس د حالاتو څخه په بشپړه توګه خبر وو، ځکه بندیانو نوموړی ته حالات بیان کړی وو. کله چې اندریس بوس د ۲۰۰۴ زکال د فبوري په میاشت کې تبدیل او دنده یې د څارګرې ادارې افسرې، انه میټه حومل ته[٤٦٨] وسپارله نو د تحقیق میتود په دایدن کمپ کې بدل شو.

د لومړي ځل له پاره د جګړې په جریان کې د ژینو د کنوانسیون او د وګړو د عادي ساتلو د قوانینو د نه مراعات کولو په تور انه میټه حومل او څلور نور پوځیان تورن شول چې د کوپنهاګن د ښاري محکمې لخوا یې د ۲۰۰۵ کال په جریان کې اسناد په دقت وڅیړل شول. نوموړې په دنده کې د جدې سرکښې په تورد پوځي قانون د (۱۵) پارګراف له مخې تورنه شوه چې په اعظمي توګه د یوه کال زندان جزا لري خو دوي پنځو تنو ځانونه بی ګناه وګڼل.

انه میټه هومل په ۱۹۸۵ زکال په پوځ کې د ژبو د زده کړو تحصیل پیل کړی وه، نوموړې تر یو شمیر نورو زده کړو وروسته د خلکو د حقوقو په تړاو هم زده کړې کړی وي او وروسته یې د ډیپلوماسي په اړوند زده کړې وکړی چې وروسته د بهرنیو چارو په وزارت کې مقرره شوه. نوموړي په خپله خوښه وغوښتله چې د پوځ سره په بهر کې دنده اجرأ کړي. په دغه ډول نوموړې یوه میاشت کورس ولوسته او وروسته عراق ته واستول شوله. نوموړې لومړی د څارګرې ادارې په عملیاتو کې د سایکلوژیست په توګه مقرره شوه خو د ۲۰۰۴ زکال د جنوري په میاشت کې د بندیانو څخه د تحقیق دنده پر غاړه واخیسته. نوموړی د خپلو همکارانو څخه د تحقیق د میتود په اړند پوښتنه ونه کړه. د تحقیق د میتود په اړوند د هیڅ ادارې لخوا پوځیانو او د څارګرې ادارې کارکوونکو ته معلومات نه وو ورکړل شوی. یوازې عمومي معلومات چې د انګریزانو لخوا د یوې نقشې سره پوځیانو ته سپارل شوی وه، ورباندي اکتفأ شوي وه. همدغه دلیل و چې انه میټه نه پوهیدل چې په کومه کچه د تحقیق په جریان کې د زور څخه کار واخلي، نوموړی خبره نه وه چې د دفاع وزارت

[٤٦٨] - Annemette Hommel

لاربښووني د موضوع په تړاو د ۲۰۰۳ زکال د اکټوبر پر (۲۷) منظور شوی وي. په لاربښوونو کې روښانه شوي وه چې د عملیاتو په جریان کې باید د خلکو حقوق رعایت شي او امر شوی و چې د بندیانو د تحقیق په تړاو ځانګړي لاربښود جوړ شي. وروسته انه میتې په محکمه کې وویل چې د پورته مهم لاربښود په اړوند ماته د کمپ د پوځي مشر او یا هم د کمپ د حقوقي مشاور لخوا هیڅ معلومات نه دي راکړل شوی. نوموړی وایې کله چې زه عراق ته ورسیدم د خپل کار د میتود په تړاو مې د کمپ د پوځي مشر څخه معلومات وغوښتي خو هغه ماته د همدغه لاربښود په اړوند هیڅ و نه ویل. په دی کې شک نه شته چې د کمپ پوځي مشر د همدغه لاربښود په اړوند معلومات درلودي.

د دفاع وزارت د اکاډمی څخه په عراق کې ډنمارکي پوځیانو ته د ایمیل په لیږلو خبرداري ورکړل شوو چې د عراقی بندیانو سره ملایم چلند مه کوئ، ځکه چې دوي په کلتوري لحاظ د سخت چلند سره عادت لري نو ځکه هغه څه چې تاسو په ډنمارک کې زده کړي دی، تر هغه باید سخت چلند وکړي. همدغه ایمیل د کمپ د مشر لخوا څخه انه میتې ته هم ولیږل شو. پوځیانو په محکمه کې دلیل وړاندي کړي چې دغه ایمیل عمومي جنبه درلودل، په ځانګړی توګه د بندیانو په تحقیق پوری تړاو نه درلودي. ( ژ: په دی برخه کې د انه میتې د محکمې او د ژباړونکو د شاهدي جریان دي نو زه یي په څو جملو کې لنډیز وړاندي کوم).

انه میتې بندیانو ته بد ښکنځل کول، څو ځله یي د اوبو ورکولو څخه ډه ډه کړی وه، پر ځنګنو یي د زیات وخت له پاره کښینول. په یخه هوا کې د کمپل یا بړستن ورکولو څخه ډه ډه کوله. په محکمه کې پوځیانو اعتراف وکړي چې زموږ چلند تر هغه چې موږ په ډنمارک کې زده کړې کړی وې، سخت وو. دوی وایي چې موږ په تمریناتو کې د اوږده وخت له پاره پرځنګنو کښینستلي یوو چې په رښتیا سخته ده.

د مارچ په میاشت کې د ډنمارکي پوځیانو لویه ستونزه دا وه چې د مختلفو قومونو تر مینځ جنجالونه پیښیدل، د امنیتي پلوه ډنمارکي پوځیانو ته کومې خطرې شتون نه درلودي خو د ۲۰۰۴ زکال د اپریل د میاشتي څخه سوله او ارامي پای ته ورسیدل. د اپریل په (۱۲) نیټه څلور عراقیان ونیول شول او د ډنمارکیانو پر سیمیک [۴۶۹] ګوز باندې د برید په تړاو پوښتنې او ګرویږنې ورڅخه وشولي.

---

[۴۶۹] - CIMIC

دلته بیا انه میتې تاکید وکړې چې متهم کسان باید پر ځنګونو داسې چې ملا یې کږه وی، کښېنول شی او سرتیري وربانديې پهره وي، پری نه ښودل شي چې په عادي ډول کښېني. دغې موضوع د انه میتې او ژباړن تر مینځ جنجال پیښ کړي او په همدغه وخت کې ډنمارکي پوځیان د مخامخ جګړې سره مخامخ وو. د ډنمارکي پوځ د داخلي رپوټ څخه ښکاري چې مذهبي شیعه مشر، الصدر مقتدا خلک وهڅول چې د بهرنیانو په وړاندې وسله وال پاڅون وکړي.

پوښتنه داده چې ولې ځوان امام مقتدا په دومره لږ وخت کې ډېر ملاتړي پیدا کړل؟ نوموړي ډېر محبوبیت نه درلودی خو د عراق اشغال د بهرنیو پوځونو په واسطه خلک وهڅول چې د مقاومت کربښې پیاوړي کړي.

د عراق د لویو ښارونو د بی وزلو کورنیو ځوانانو په بغداد، بصرې او نجف کې داسې کمیسونه اغوستل چې د الصدر مقتدا په انځور به ښکل شوی وو او دا کړنه یې ویاړ ګڼل. الصدر لنډه ږیره، لوی مخ چې لنګوټه یې تړل د ځوانانو په مینځ کې محبوبیت پیدا کړي. د نوموړي د محبوبیت بل دلیل دا و چې د هغه پلار لوی ایت الله محمد صدیق الصدر په شیعه مسلمانانو کې د لوړ مقام خاوند و. دغه کورنۍ سادات ول چې د حضرت محمد (ص) اولاده ګڼل کیدل. سادات په عراق کې په مذهبي او سیاسي لحاظ لوړ مقام لري. (ژ: د پیغمبر د نوم سره ما مودب کلمات یو ځای کړل. سادات نه یوازي په عراق بلکې په ډیرو هیوادونو کې د لوړ مقام څښتنان دي.)

امام الصدر مقتدا په وړونو کې کشر و، داسې نه ښکاریدل چې یو وخت به دی د کورنۍ میراث خپل کړي او مخکښ به شي. کله چې د هغه پلار او مشر وروڼه په ۱۹۹۹ زکال، د اټکل له مخې د صدام حصین د جاسوسانو لخوا ووژل شول نو د مینې میره (د کورنۍ مشر) کشر الصدر مقتدا شو.

د نوموړي پلار د صدام حصین په وخت کې همیشه د بل ایت الله علی ال سیستاني سره په مخالفت کې و. د ایت الله سیستاني ملاتړي لوی تجاران او شتمن خلک وو خو د ایت الله مقتدا ملاتړي د کلیو څخه راکوچیدلي خلک وو چې د ښه ژوند دپیداکولو له پاره لویو ښارونو ته راغلي وو مګر ډیر وخت به وزګار وو نو ځکه د ښار په غریبانه کورونو کې ژوند کولو. ایت الله سیستاني نه غوښتل چې د صدام حصین سره مقابله وکړي نو ځکه هروخت یې هڅه کوله چې مذهب د سیاست او ټولنیزو چارو څخه لیري وساتي. ولی ایت الله مقتدا همیشه د غریبانو لاس نیوی کاوه او د صدام د رژیم څخه یی د زندانیانو د خلاصون غوښتنه کول.

همدا علت و چې غريبو شيعه مسلمانانو نوموړي خپل ساتونکي ګڼي او ځانګړی درناوي يي ورته درلودي. کله چې ايت الله الصدر محمد صديق مقتدا ووژل شو نو د شيعه مسلمانانو او صدام د پوځونو له خوا څو ورځي نښتي وشوي چې ۲۰۰ شيعه مسلمانان ووژل شول. ال صدر محمد صديق د شيعه ګانو په زړونو کې د هميش له پاره د يو اتل شهيد ځای ونيوي. صدام حصين د ال صدر محمد صديق تر مړينې وروسته ځوان امام تر څارنې لاندې ونيوی. کله چې د بهرنيو پوځيانو په واسطه صدام له مينځه ولاړ نو ځوان امام ال صدر مقتدا خپل د محبوبيت له پاره چانس وليد. نوموړي د پلار ملاتړي په مسجدونو، د قران په ښوونځيو، روغتونونو او نورو خيريه موسيسو کې فعال کړل. کله چې بهرني پوځونه راغلل د دوي ملاتړو د بغداد د بی وزلو پرکورونو او د صدام پرښارګوټي پهرې کولي او فوراً يي د صدام ښار ګوټی د الصدر د ښارګوټي په نوم وبولي. د دوي ملاتړو په امنيت او خلکو ته د غذا په ويشلو کې هم برخه واخيستل.

مقتدا په پيل کې د هيڅ ډلې جوړولو غوښتنه نه درلوده.

امريکايانو عبدالمجيد ال خويې چې په لندن کې د کډوالۍ ژوند کاوه. نوموړی د صدام حصين په وخت کې د ګالف د ۱۹۹۱ زکال تر جګړې وروسته مخالفت پيل کړي و، نوځکه لندن ته تښتيدلي و. کله چې صدام له مينځه ولاړ، امريکايانو په دی هيله چې عبدالمجيد ال خويي د پرمختګ ملاتړی دی او کيدای شي د اسلام پاله ډلو په وړاندي ښه رول ادأ کړي. عبدالمجيد ال خويې د صدام تر ګوښه کيدو څو ساعته وروسته نجف ته الوتنه راوکړه. څو ورځي وروسته پر عبدالمجيد ال خويې باندې بريد وشو او د امريکايانو د جاسوس په نوم يي سپک کړی خو په عيني وخت کې نارې وهلي چې ژوندي دی وی مقتدا. لنډه دا چې عبدالمجيد ال خويي د مقتدا د کور مخی ته ووژل شو. د عراق يوې محکمې د ۲۰۰۳ زکال د اګست په مياشت کې پريکړه وکړه چې امام مقتدا ونيول شي خو دا کار هيڅوخت عملي نه شو، ځکه امريکايانو او د پوځ ډيرکيو نه غوښتل چې مقتدا بندي کړي. امريکايانو ډار درلودي چې په دغه کړنه به شيعه ګان د امريکايانو په مقابل ښورښ وکړي نو ځکه په دغه شيبه کې نه غوښتل چې په دو جبهو کې وجنګيږي.

امام مقتدا په تبليغ او پروپاګند کې ډير مهارت درلودی. د خپل مړه پلار او مړو وړونه انځورونو يي د بی وزلو کورونو په کوڅو کې وځړول. په انځورونو کې

ښکاریدل چې د پلار د وجود څخه ویني جریان لري، د پلار په لاس کې قران و او حضرت علي (رض) يي پر سر ولاړ و. په دغه پروپاګندی انځورونو شیعه مسلمانان په بي وزلو برخو کې وپاریدل. او د بصرې لویو ښارونو ته یي مخه کړه چې په حقیقت کې د ایت الله سیستاني شتمنو ملاتړو ته خطر رامینځته شوو. په کلتوري لحاظ مشرانو، دیني عالمانو، ال مقتدا ځوان او بی تجربې ګڼي چې په دیني مسایلو ښه نه پوهیږي او د نوموړي کوڅه ای (بازاری) ژبه یي خوښه نه وه. المقتدا د دیني عالمانو دغه نظر ته په ارزښت قایل نه شوو. د بل لوري دیني عالمان د نوموړي د پلار د خاطراتو یادولو او د ملایانو ملاتړ تر لاسه کولو سره مخالفت نه درلودي. نوموړي څرګنده کړه چې د خپل پلار په څیر د بی عدالتي پر ضد مبارزه کوی. اوس توپیر دادي چې صدام نه شته خو لوی دښمن امریکا دلته شتون لري.

د ایات الله سیستاني څخه علاوه د شیعه مسلمانانو قوي ګوند چې د سکیری [٤٧٠] په نوم یادیده، د وسله والو ډلو سره شتون درلودي، وسله واله ډله یي د بدر په نوم یادیدل. د دغه ګوند رهبري د صدام په وخت کې د کډوالو په څیر په ایران کې ژوند کاوه. دغه ګوند د بصرې په ښار کې ډیر ملاتړي درلودل. ال مقتدا د ایران سره ټینګې اړیکې درلودي او محاسبه یي داسې وه چې د ایران په ملاتړ به دغه ګوند د رول څخه وغورځوي او خپل ملاتړي به ډیر کړي. د دغه ځوان امام د دښمني رپوټ د ډنمارک د دفاع وزارت ته ورسید. موږ په ډنمارک کې نه پوهیدلو چې دا څوک دي خو دومره ژر څرګنده شوه چې د شیعه ګوند سکری د کنترول څخه وتلی دي. د پوځ یو مشر اوس وایی چې دا هم څرګنده شوه چې د شیعه مذهب پیروانو کې دا بله ډله ده چې زموږ سره د مبارزي له پاره یي لیڅي رانغښتي دي. د ډنمارک د پوځ لوی درستیز، یسپر هسیو [٤٧١] وایي، موږ وپوهیدلو چې حالات ترینګلي او خطرناکه کیږي. نوموړي عراق ته ولاړ او د الهرتا په ښار کې ازاد وګرځیدی چې یوازې یو انګریزي او دوه ډنمارکي پوځیان ورسره ملګري وو. د ښار د انټرنیټ کافی ته ننوت او د خلکو سره یي خبري وکړي.

---

[٤٧٠] - Sciri

[٤٧١] - Jesper Helsø

نوموړي وایي: وروسته د ازد ګرځېدلو وخت تیر شو په پوځي وسیله کې به سپور او په ډیر تیز سرعت به تیریدلم، که به کوم عراقي موټر نژدي راته تیریدي، ژر به د هغه ځایه ګوښه شولم. په اصطلاح د پارک ګرځېدلو وخت تیر شو.

په ډنمارک کې د یو بل دلیل په خاطر د دفاع وزیر، سویند اوج ینسبیو[٤٧٢] د ستونزو سره مخامخ شو. د ۲۰۰۴ زکال د فبوري په میاشت کې د څارګرې اداري پوځي، فرانک ګریویل[٤٧٣] په مستعار نوم د ډنمارک ټول پټ اسناد چې د عراق د جګړې د پیل کیدو ارزونه یي کړی وه، رسوا او ډنمارکي ورځپاڼي بیرلینګ سکه تیدنه[٤٧٤] ته یی ورکړل. د دي خبر تر خپریدو وروسته د جګړې د پیل د اصلی دلایلو د روښانه کولو او د خبر د رسوا کولو د سرچینې د پیدا کولو له پاره بحثونه پیل شول. څو اونۍ وروسته ګریویل د څارګرې اداري لخوا وپیژندل شو خو خلک هغه خت خبر شول چې ګریویل د ۲۰۰۴ زکال د اپریل په میاشت د ډنمارک د صدراعظم اندرس فوک غاسموسن په تړاو داسي وویل:«موږ یو وزیر لرو چې درواغ وایي. داسې وزیر چې په وارو وارو یی درواغو ته دوام ورکړي». ګریویل وویل: صدراعظم د درواغو پر بنسټ د پوځ څارګرې اداري ته وویل چې په عراق کې اټومي وسلې شتون لري. صدراعظم ټول تورونه رد کړل او د څارګرې اداري د تهدید مختلفي ارزوني یې پر کټګوریو وویشلي. څرګنده شوه چې تر جګړې مخکي کله چې اندریس فوک غاسموسن ادعا کول چې عراق اټومي وسلې لري، درواغ وو. دغه نامطمینه خبري د څارګرې اداري لخوا د شواهدو او اسنادو پر بنسټ نه وي. خو دا هم درسته نه وه چې ګریویل ادعا درلوده چې د څارګرې اداري رپوټ چې ګواکي په زیات احتمال به عراق اټومې وسلې ولري، صدراعظم تحریف کړی وی. داسې شواهد موجود وو چې څارګرې اداري په احتیاط د ۲۰۰۲ زکال د مارچ څخه تر ۲۰۰۳ زکال تر مارچ پورې رپوټ ورکړی وو چې کیدلای شی، عراق اټومي وسلې ولري. صدراعظم د خبر لوڅو څخه ځان خلاص کړای شو خو د دفاع وزیر دا کار ونه کړای شوای.د دي بحثونو په جریان کې د پوځ لوی درستیز وویل چې هیڅ سیاستوال د پارلمان د کنترول د کمسیون څخه نیوکه ونه کړه چې د څارګرې

---

- Svend Aage Jensby[٤٧٢]

- Frank Grevil[٤٧٣]

- Berligske Tidende[٤٧٤]

اداري د رپوټونو درست والی وښاري. سیاستوال او وزیران حق نه لري چې خپل استدلال د کنټرول د کمسیون د غونډو د رپوټ پر بنسټ وړاندی کړي ځکه د دغه کمسیون غونډې جدی محرمي دي. که څوک د کنټرول د کمسیون د غونډو بحثونه رسوا کړي، محکمه کیږي. څو ورځې وروسته سوین ایج ینسبیو [٤٧٥] د وزارت د چوکۍ څخه استعفأ وکړل.

ډیر ژر سیون ګیده [٤٧٦] د دفاع د وزیر په توګه مقرر شو. په هغه وخت کې ډنمارکیانو په عراق کې زندان درلودی چې موضوع یي توده وه چې نوی وزیر باید څیړلی وای.

د ۲۰۰۴ زکال د اپریل په ورستیو ورځو کې عام ډنمارکیان خبر شول چې امریکایان عدلي قوانین نه مراعات کوي او د ابوغریب په زندان کې د بندیانو سره ډیر ناوړه چلند کیږي. د اپریل په (۲۸) نیټه د شپیتو دقیقو نومي تلویزیوني پروګرام کې [٤٧٧] د ابوغریب د زندان انځورونه وښودل شول.

په انځور کې یوه خوشحاله امریکایي ښځه لیندیه رانا ایګلنډ [٤٧٨] چې سګرت یي په خوله کې او دراکټ خوله یی د اسمان خواته پورته نیولي، ولاړه ده. په بل لاس توپانچه په لاس کې د یو لوڅ لغړ بندي تناسلي الې ته اشاره کوي. په نورو انځورو کې بندیان یو پر بل اچول شوی او په چټلیو لړلی وو، په داسې حال کې چې پوځیانو توري چرمي دستکښي په لاسونو، وربانډی خندل.

نړیوال د دغو بندیانو د وحشیانه انځورونو په لیدلو په حیرت کې ولاړل. په ډیره ناوړه توګه بندیان لڅ لغړ اړایستل کیږي چې یو د بل سره جنسي اړیکې تر سره کړي.

امریکایانو د صدام حصین د شکنجو ځای څخه د بندیانو د سپکاوي له پاره ګټه اخیسته خو وروسته د بندیانو د سپکاوي پر ځای بندیانو ته سختې جزاګانې

---

[٤٧٥] - Svend Aage Jensby

[٤٧٦] - Søren Gade

[٤٧٧] - 60 minutes Tv Program

[٤٧٨] - Lynndie Rana England

ورکول کیدي چې په همدي وجه د زندان مشر، جانیس کار پیکسي[٤٧٩] د ځندۍ ځخه ګوښه کړه شو. مسولې پوځې وویله چې ما د لوړو مقاماتو په امر بندیانو ته شکنجې ورکړی دي خو د امریکا دولت د نړیوالو په نظر سپک شوو. د امریکا د دفاع وزیر رامز فیلډ هڅه وکړه چې دفاع وکړي او پلمه یي دا وه چې دا یو تخنیکي موضوع ده چې په اصل کې بندیان شکنجه شوی نه دي. خو ډارونکي انځورونه خپاره شوی وه چې د نړیوالو پاملرنه یي د عراق د جګړې په تړاو بدله کړې.

د پورته انځورونو اغیز ډنمارک ته هم راورسید. د ډنمارک صدراعظم خپل نوي د دفاع وزیر ته لارښوونه وکړه چې ټول بندیان چې د ډنمارکیانو لخوا زنداني او وروسته انګریزانو او یا د عراق مقاماتو ته تسلیم شوی دی، جدي پاملرنه او پوښتنه یي باید وشي. په دغه دلیل د ډنمارک د دفاع وزیر د ۲۰۰۴ زکال د مي پر پنځمه نیټه یو لیک د پوځ لوی درستیز ته په لاندې متن ولیکي:

«تر ټخوا زیات باید پاملرنه وشي چې ډنمارکي پوځیان د بندی کولو په وخت کې او یا دا چې انګریزانو ته بندیان تسلیمیږي په هیڅ ډول و نه ترټل شي. او که د ډنمارک لخوا بندیان شوی کسان په شکل د اشکالو ورټل او یا شکنجه شي باید پرته د ځنډه ماته اطلاع راکړل شي.»

په همدغه ورځ د سوسیالیست ګوند (کیڼ اړخه ګوند دی)[٤٨٠] د دفاعی چارو د کمسیونو مشر ویلی سیونډل[٤٨١] صدراعظم مخاطب کړ چې ته کولای شی موږ ته ګرانټي راکړی چې په وروسته کې د دا ډول شکنجو د پیښیدو په صورت کې به موږ خبر کړي؟ صدراعظم په ځواب کې ورته وویل؛ هو، زه وعده کوم چې داسې معلوماتونه به د ځان سره ونه ساتم او ضروراً به اطلاع درکړم.

یوه میاشت وروسته د پوځ لوی درستیز د دفاع د وزیر د لیک ځواب ورکړی. د دفاع وزیر ته یي اطمیان ورکړی چې زه د ټخوا څخه متوجه وم او داسې څه نه شته چې موږ ته اندیښنه پیدا کړي.

---

[٤٧٩] - Janis Karpinski

[٤٨٠] - SF

[٤٨١] - Villy Søvndal

د عراق په جنوب کې د پوځي واحد حقوقي مشاور دوو عراقي زندانونو او(۱۰-۱۵) د پوليسو مرکزونو ته د کنترول له پاره واستول شو خو ډاکټر او د پوليسو افسر هم ورسره ملګري وو. په سلګونو کيلومتره ولاړل تر څو بنديخاني او د پوليسو مرکزونه کنترول کړي تر څو څرګنده کړي چې د کوم عراقي زنداني سره ناوړه چلند او يا شکنجه شوی نه وي. په ډيرو زندانونو کې عراقي بنديانو وويل چې عراقي پوليس يي شکنجه کوی او وهل ورکوي.

کورټ بورګکويست [٤٨٢] ډير کلونه وروسته د ډنمارکی پوليټيکن ورځپاڼې ته وويل: د بنديانو غاښونه مات شوی وو، په پوليسي ډنډو او کيبلانو وهل شوی وو، ګوتې يې په اور سوځول شوی وي، کله چې موږ به يې د پورته برخې جامې ويستلې، نو زخمونه به مو وليدل، لکه په فلمونو کې چې څوک ګوري. حقوقي مشاور د بنديانو او زندانونو ډير انځورونه واخيستل او په ډنمارک کې د قوماندي مرکزته د اسنادو په ډول وليږل. د ۲۰۰۴زکال د جون په (۲۳) مو د بصرې د ال ماکيل زندان وليدي. د هرو (۱۵) تنو څخه (۸) تنو د وهلو او ترټلو څخه شکايت درلودي چې د سګرټ په اور سوځل او د برق ورکول هم په سزاو کې شامله وه. په عراقي زندانونو کې يو بندي هم ډنمارکيانو نيولی نه وو. عراقيان د انګريزانو او يا هم د عراقي پوليسو لخوا جيل ته اچول شوي وو خو موږ د دفاع وزارت ته په عراق کې د زندانو د حالت په تړاو لومړی لاس معلومات وليږ.ي.

کورټ بورګکويست هم په ډنمارک کې د قوماندي مرکز ته يو راپور وليږ.ي. د راپور محتوي د دفاع وزارت لوی درستيز او د دفاع وزارت ته وليږل شول. خو عجيبه دا وه چې پارلمان ته هيڅوخت دغه معلومات وړاندی نه شوو که څه هم صدراعظم د سوسياليست ګوند د دفاعي چارو د مسول د پوښتنې په ځواب کې ويلي و چې زه به هيڅوخت د شکنجو په تړاو معلومات پټ نه کړم.

کله چې د پارلمان د دفاعي چارو کمسيون د دفاع د وزير څخه د راپور د وړاندي کولو غوښتنه وکړه، ټولې مهمې جملې د شکنجو په تړاو نښاني شوی وی. د پوليټکن ژورناليستانو ته د ۲۰۰۴ زکال د سپټمبر پر (۲۰) راپور لاسته ورغي. په راپور کې د ډنمارک وضعيت په عراق کې څرګند شو. د ۲۰۱۱ زکال په ډسمبر کې څرګنده شوه چې پارلمان ته د معلوماتو وړاندی

[٤٨٢] - Kurt Borgkvist

کولو په وخت کې بندیانو ته د شکنجو ورکولو متن پټ شوی وو. په پارلمان کې پر موضوع غټې بحثونه پیل شول خو د هر چا پوښتنه دا وه چې څنګه کیدای شي چې د ډنمارک د دفاع وزیر سیون ګیده[٤٨٣] د ۲۰۰۴ زکال په وړی کې د شکنجو په تړاو راپور د پارلمان څخه پټ کړی وو. په هر صورت د کورټ بورګ کویسټس[٤٨٤] د راپور له مخې د ډنمارک د دفاع وزارت او د لوی درستیز د اداري ټول مشران خبر وو چې عراقي زندانیان د بصرې په زندانو کې وهل او تړټل کیږي او شکنجې ورکول کیږي.

د ډنمارکیانو د مسولیت په سیمو کې حالت ډیر ترینګلي وو. د ۲۰۰۴ زکال اپریل کې د دغو سیمو څخه خیریه موسیسي د بیلګې په توګه د کلیساو خیریه موسسه ووتل، ځکه ډار و چې بریدونه به ورباندې وشي او یا به وتښتول شي.

د پوځ ملکي همکارانو د محلي خلکو سره د[٤٨٥] بیا رغونې کار ته یوازې پاته شوه په داسې حال کې چې دغه کسانو ابتدایي پوهه نه درلودل او د دي کارونو د اجرأ کولو له پاره پیسي هم نه وي.
د می په میاشت کې نور هم حالت خراب شول. د یو نامعلوم کس له خوا یو شیخ چې د ډنمارکیانو مهم همکار و، د ال قورنا په سیمه کې ووژل شو. د ډنمارکي پوځ مشرتابه د دغه وژنې څخه داسې وانګیرل چې مخالفین غواړي محلي خلک ډار کړي چې د ډنمارکیانو سره ګډ کار او مرسته ونه کړي. سره د دي چې د ډنمارکي پوځ مشرتابه داسې ارزونه کوله چې د ال صدر پوځیان په سیمه کې تر (۲۰) کسانو زیات نه دي او محلي خلک یي په یوه کچه ملاتړ کوي.

یوبل تهدید هم رامینځته شو. د فبوري په میاشت کې د جنوب لوري ته د ډنمارکیانو د مسولیت سیمه وغځیدله، په دی سیمو کې د سني مسلمانانو ګروپونه وو چې د پخواني حکومت ملاتړی وو. دوي د بهرنیانو سره د مبارزي نوی میتود چې پرلارو باندې د بمونو ښخولو څخه ګټه اخیستل. پر سړکونو بمونه په مختلفو تاکتیکونو ښخیدل او ستونزمنه وه چې اشخاص یي وپیژندل شي. وړاندوینه وشوه چې دا لړی به روانه وي. مقاومتونه اهسته اهسته په دوامداره

٤٨٣ - Søren Gade

٤٨٤ - Kurt Borgkvists

٤٨٥ - CIMIC

توګه زیاتیدل خو زموږ پوځیانو مخکي له دي څخه چې عراق ته راشي په سپکو او یا درنو وسلو تمرین نه وه کړي. پوځیانو د تمرین تیار میدان نه درلودي نو په دښته کې نښانونه نصب شول چې پوځیان په مهمو وسلو تمرین وکړي. دغه موضوع په راپور کې برجسته او نیوکي وربانديي په لاندې ډول وشوي:

« موږ باید په څرګند ډول ووایو چې دغه راليږل شوي پوځیان د دغه ډول عملیاتو له پاره روزل شوی نه وو او د بلې خوا دغه پوځیانو ته د موجوده وسلو په تړاو زده کړې نه وی ورکول شوي.»

د دغو پوځیانو زده کړي د ډیرو بیړنیو پیښو له پاره وې. د ۲۰۰۴ زکال د جون په (۶) نیټه د ډنمارکي پوځیانو پر ګزمه د راکټونو او لاسي بمونو بریدونه د ال قراه ښار ته نژدې وشول. سرتیرو په متقابلو ډزو ځواب ورکړي او سرتیرو ته کوم زیان وانوښت. په یو امنیتي واټن کې پوځیان ودریدل تر څو د کمپ څخه مرسته ورته راورسیږي. کله چې مرسته کوونکي سرتیري د رارسیدو په حال کې وو، متوجه شوه چې یو موټر ودریدی او څو عراقیان په منډه د موټر څخه کښته او وتښتیدل. نوموړي موټر ډنمارکیانو وپلټي، څلور پایې راکټونه، شپږ داني لاسی بمونه او دری توپکونه او د ال مقتدا ال صدر انځورونه یي وموندل. نو جوته شوه چې دغه برید د صدر د وسله والو له خوا شوی دي.

دري ورځي وروسته ډنمارکیانو څلور عراقیان د ال قرا د ښار په هغه دفتر کې ونیول کوم چې د ال مقتدا د نفرو د ناستي ځای وو. پوځي مشر د دغو کسانو بندي کول بریالیتوب وګڼي او هیله یي ښکاره کړه چې نور به حالت ارام شي خو داسې و نه شوه.

د یوې ښځینه ژباړنې تکر د انه میتي سره: ژباړنه په لبنان کې زیږیدلې وه خو ډنمارکي تابعیت یي درلودي. نوموړې د پوهنتون زده کړې درلودې چې اساسي رشته یي، عربي ژبه وه. نوموړې د ۲۰۰۳ زکال په ډسمبر کې عراق ته راغله چې وروستۍ میاشتي یې یوازی په کمپ کې سرتیرو او د کمپ مشرانو ته ژباړنه کوله. یوه ورځ د تحقیق له پاره د ژباړن اړتیا پیدا شوه خو ژباړونکې وویله، تیاره نه ده چې د تحقیق ژباړنه وکړي ځکه د سرتیرو د بحثونو څخه پوهیدلې وه چې انه میټه د بندیانو سره څه ډول کړنه کوي.

وروسته نوموړې ژباړونکې په محکمه کې وویله چې داسې کیسې یې اوریدلی دی چې انه میټې د ورځي په منځ کې چې د تودوخې درجه (۵۰) سانتي ګراد

درجې وه، زنداني ته اوبه نه ورکولې. د تحقيق نه مخکې ژباړونکې د ډاکټر څخه پوښتنه کړې وه چې بنديانو ته اوبه ورکړه شوي دي، چې ډاکټر د هو ځواب ورکړی و. انه ميټې د مشر ډاکټر څخه پوښتنه کړی وه چې يو نفر په لوړه تودوخه کې پرته د اوبو څخه څومره تاب راوړلای شي، ډاکټر په ځواب کې ويلي ول چې يو ساعت، تر هغه وروسته يې حالت ډير خرابيږي.

د ژباړونکې د وينا له مخې کله چې لومړی بندي خيمې ته راننوت، د اوبو غوښتنه يې وکړه خو انه ميټې د بندي غوښتنه رد کړه، په داسې حال کې چې زما (ژباړن) او د څارګرې ادارې د افسر سره نيم نيم ليټره اوبه وې. د لومړيو دري زندانيانو څخه پنځه ساعته پوښتنې وشوې او دوي په دومداره توګه پر يوه حالت پر ځنګنو کښينول شوي وو، سره د دي چې څو ځله چپه شوه. ژباړونکې وويله چې د بنديانو حالت ډير خراب وو. دوي شونډان او ژبې وچې وې او په مړ ژواندي اواز يې د اوبو غوښتنه کوله، بنديانو ويل که خدای در ته ګران وي، اوبه راکړې. خو انه ميټې اوبه نه ورکولې او وروسته يې د خوګ او د خرس زامنو ښکنځل هم بنديانو ته وکړه چې ژباړونکې د ژباړولو څخه انکار وکړي بل بندي د تحقيق له پاره داخل شو چې وروسته تر (۱۵ ـ ۲۰) دقيقو يې پښې ريږديدلې چې علت يې پر ځنګنو کښينول و. څو ځله بندي غوښتنه وکړه چې يو ځل به د ناستې حالت بدل کړم خو انه ميټې هيڅ غوږ نه ګراوه. وروسته بندي د ډير عذاب څخه وويل چې نه شي کولای ما ووژنې چې د دغه عذاب څخه خلاص شم. ژباړونکې وويله چې د انه ميټې ځواب دا وه چې موږ به ممکن دا کار هم وکړو. ژباړونکې دغه خبره په غيري مستقيمه توګه وژباړله خو انه ميټه سمدستې پښيمانه شوه. کله چې بندي تر نيم ساعت پوښتنو ولاړ شو، پښې يې قات کيدلې. وروسته د ژباړونکې حالت خراب شو او په منډه خپلې کوټې ته ولاړه خو لږ ګړی وروسته انه ميټه ژباړنې ته ورغله او ورته ويې ويله چې ډاکټر بندي معاينه کړي، حالت يې جوړ دي. د انه ميټې تسليت د ژباړونکې سره مرسته ونه کړه، هغه په ژړا پر خپل چپرکټ پرته وه. د کمپ مشر په انديښنه کې د ژباړونکې ليدلو ته راغی.
انه ميټه د ۲۰۰۴ زکال د جون د (۹) نيټې د تحقيق څخه بل ډول مفهوم اخيستی وه. د بنديانو څخه يو نفر هغه څوک و چې څوځلې بندی شوی و خو دري مياشتې مخکې هم بندی و. د څارګرې ادارې د افسر په وينا عراقيانو پريکړه کړې وه چې د تحقيق نوي اساسي ميتود عملي کړي خو نوموړي هڅه وکړه چې مخه يې ونيسي. انه ميټې په محکمه کې وويل چې عراقيان ډير ځان غوښتونکي وو چې ګواکې ځانونه يې تر موږ لوړ ګڼل. نوموړې وايې چې دوي ځواب په

ډېر ځنډ راکولو او همیشه یي اوبه او ډوډۍ غوښتل. وروسته یې ناري کړي چې هر څه غواړی ویي کړه کولای شي ما ووژني. انه میټه وایې چې زنداني په دغه ډول ځان غوښتنه تهدید اواز ته ما هم ځواب ورکړي چې کېدلای شي تا ووژنم. دا مې یوازې په دی خاطر وویل چې دغه ځان غوښتونکي مغرور عراقي ته وښیم چې نور دی د تحقیق پروسه نه ورانوي. ما داسې هیله نه درلوده چې ګواکې زنداني په مرګ تهدید کړم خو دا چې ژباړنې نور نه غوښتل چې مرسته وکړي دا څرګنده وه چې ژباړونکې د بندي سره مرسته کوله او د هغه لار یي خپله کړه. کله چې د زندان مشر، هینریک بلشز [٤٨٦] دغه حالت ولید نو د تحقیق بڼه یي بدله کړه. انه میټې ته وویل شول چې بندي باید پر څوکۍ کښېنول شی د اړتیا په وخت کې اوبه او غذا ورکړل شي او پوښتنې باید د نوموړي د پیژندګلوي په تړاو وي. د زندان مشر وویل چې د تحقیق بڼه تر اوس پورې سمه وه خو د څارګرې ادارې افسر په غوصه وه. د نوموړی په نظر ژباړونکې د کمپ د مشرتابه د مرستیال رول لوبوي.

د ۲۰۰۴ زکال د جولای په لومړی نیټه یو نارینه ژباړونکي د زندان مشر ته لیکلی شکایت وکړ چې بندیان د تحقیق په دوران کې روحي او فزیکي کړول کیږي او د اوبو له پاره عذرونه کوي. کله چې ژباړن و ډنمارک ته راغې دري اونۍ وروسته لومړی لیک د ایمیل په واسطه ولیږي. د زندان مشر د انټرنټ له لاري معلومات ورکړی چې د ژباړن لیک بل امکان په لاس نه راکوي پرته له دي څخه چې د دفاع وزارت اړوندو مقامونو ته د موضوع د څېړلو له پاره اطلاع ورکړم. موضوع د لوي درستیز لخوا د دفاع وزیرته اطلاع ورکړل شوه او یادونه وشوه چې په عراق کې ستونزې شته.

هیریک بلشنز د ژباړن د لیک په اړوند انه میټې ته معلومات ورکړي خو انه میټې ټینګار وکړ چې د تحقیق په پروسه کې کومه غلطی نه شته. خو دوی ورځي وروسته هیریک بلشنز و انه میټې ته اطلاع ورکړه چې باید کویټ ته ولاړه شي چې د دفاع د وزارت د استازی سره د ژباړن د شکایت په اړوند وږغیږي. نوموړی یو بله دنده هم ورته وسپارل چې کولای شي ولیکي چې زه او ته مخکې هم پر دغه موضوع ږغیدلی یوو؟

---

[٤٨٦] - Henrik Flach

وروسته انه میټې په محکمه کې وویل چې زما په لیدنه کې کوم ځانګړی راپور ونه غوښتل شو، یوازې مې د ژباړن د لیک ځواب ولیکی. وروسته د څارګرې اداري افسر په جزییاتو د غونډې بشپړ ریپورټ ولیکي.

هیریک بلشنز د تحقیق د جریان څخه بل ډول درک درلودی کوم چې نوموړی وروسته بیان کړي. کله چې هیریک بلشنز د تحقیق د جریان تشریح وغوښتل د هغه تر لوستلو وروسته یې وویل که دا رښتیا وي؟ نو غلطه ده. که نوموړي لږ افراط کوي نو بیا ډیره غلطه ده. هیریک بلشنز ته اندښنیه پیدا شوه چې کیدلای شی دا د واقعیت یوه کوچنی برخه وي. نوموړي ته ډیره اندیښنه پیدا شوه خو اندیښنه یي د ژباړونکو سره تر خبرو وروسته نوره هم قوی شوه. یو شبانه روز وروسته د ۲۰۰۴ زکال د جولای پر (۳۰) نیټه انه میټه د خوب څخه راوپاڅوله شوه چې خپل سامان ټول کړي، کویټ ته ولاړه شی او د هغه ځای څخه ډنمارک ته الوتنه وکړي. نوموړې په حیرت کې ولویده او په لومړی شیبه یې باور ونه کړ. کله چې کویټ ته ورسیده هلته د دفاع وزارت دوه استازې په هوټل کې وه، د هیریک بلشنز او دوو ښځینه ژباړونکو سره یې خبري وکړي. پریکړه یي وکړه چې همدا شیبه به د انه میټې څخه تحقیق نه کوي ځکه په ډنمارک کې به د انه میټې د وکیل په شتون کې پوښتنې بشپړې کړي. په بدل کې د پوځ حقوقي مشاور د یو بل افسر په مرسته د څارګرې اداري د ښځیه کارکونکې سره دوه ساعته وږغیدل. دوي د ژباړونکو لیک او د انه میټې ځوابیه لیک ولوستي. هیریک بلشنز د انه میټې څخه غوښتنه وکړه چې د تحقیق په جریان کې بندیان په څه ډول کښینول؟ کله چې دا حالت یي ولید نو ویي ویل داسې باید ونه شي. وروسته هیریک بلشنز دوساعته د ازموینې له پاره په هغه ډول کښیناست چې وروسته تر یو ګړي یي ځنګنونو درد کاوه. انه میټه باید ډنمارک ته تللی وای ځکه ټکټ ورته رانیول شوی و او هلته یي باید هغو سرتیرو ته لنډ کورس جوړ کړی وای چې عراق ته د راتلو په حال کې وو.

د ۲۰۰۴ زکال د اګست په لومړی نیټه د ایکسترا بلیدت ورځپاڼې[٤٨٧] ژورنالیست د دفاع وزیر ته ټلیفون وکړ او علاوه یي کړل چې تاسو یو پوځي د عراق څخه راغوښتی دي. وروسته دغه ټلیفون د لوی درستیز له پاره د دفاع د وزیر له خوا د اخطار سبب شو ځکه د دفاع وزیر ته د موضوع څخه پر سم وخت اطلاع ورکړل شوی نه وه. ډیر ژر خبره په رسنیو کې تیت شول. دوي

[٤٨٧] - Ekstra Bladet

ورځي وروسته موظف افسر د بشپړ رپورټ سره د عراق څخه راغلي نو لوی درستيز د نوموړي استازي سره يوځای د دفاع وزير ته ورغلل. دا چې موضوع په رسنيو کې ډيره توده وه نو د دفاع وزير وويل چې زه د پوځ مشرتابه د عراق څخه ډنمارک ته رابولم. لوي درستيز وايي چې دا اسانه خبره نه وه چې د عراق څخه د قوماندي د مرکز مشرتابه ډنمارک ته راوغوښتل شي خو د دفاع وزير پريکړه کړی وه او ما ځکه څه ونه ويل چې ګومان به شوی وای چې زه هم په موضوع کې ښکيل يم.

لوی درستيز اوس وايي چې د دفاع وزير پريکړه سياسي وه.

ډير زيات فشار د دفاع پر وزير وو نو ځکه نوموړی غوښتل چې موضوع پای ته ورسوي. ما د موضوع په تړاو سوچونه کول ځکه سرتيرو او د دوي کورنيو د پوځ مشرتابه ته په عراق کې د پوښتنې علامه ايښودله. نو اړتيا وه چې موضوع ډيره ژوره بيان او ډيرو پوښتنو ته ځوابونه ووايي چې د پوځ مشرتابه په عراق کې دومره وخت نه درلود چې د پوښتنو ځوابونه د پوځي عملياتو سره يو ځای مخته بوزي.

د دفاع وزير د يو موټي لست د ګوند د دفاعي چارو مسول، سيون سيونه ګورد ته[488] ټليفون وکړی او غوښتنه يې ورڅخه وکړه چې د ټولو ګوندونو د دفاعي چارو مسولين راغونډ کړي چې زه د دفاع وزير د ډګروال فلش[489] د عراق څخه د راغوښتلو موضوع ورته اعلان کړم ځکه نوموړی ډګروال موږ ته درست معلوماتونه نه دی راکړی.

د دفاع وزير سيون ته وويل چې موږ جګړه کوو نو زموږ جګړه بايد يو درست بنسټ ولري او پارلمان ته صيحح او دقيق معلومات ورکړل شي. د دفاع د وزير څخه سيون وپوښتل چې دا پريکړه يوازې ستا ده، د دفاع وزير وويل چې هو دا ما پريکړه کړی ده او مسوليت به يي واخلم.

---

- Søren Søndergaard[488]

د عراق څخه د پوځ د مشرتابه څلور غړي راوغوښتل شول او تحقیقات پیل شول. تر یوی میاشتي تحقیق وروسته ډګروال فلش تورن شو چې په دنده کې غفلت کړی دي ځکه پر خپل وخت یي باید د انه میټې د تحقیق د غلط میتود مخه نیولی وای خو تر شپږ میاشتو وروسته د دفاع وزارت د موضوع څخه تیر شول.

د ۲۰۰۵ زکال د می په میاشت کې انه میټه او څلور پولیسي پوځیان محکمې ته راوبلل شول. د محکمې پایله دا شوه چې انه میټه په ډیرو ټکو کې ملامته وګڼل شوه. نوموړی د بندیانو سره دیر ظلمونه کول، په داسې ډول به یي کښینول چې وجود به یي ډیر درد درلودي، بد ښکنځل یي ورته کول او نفر ته یي دنده ورکړی وه چې دوی پری نږدی چې د خپل حالت څخه وخوځي.

د قاضی په نظر دغه حالت د ژینو د کنوانسیون د موادو سره په ټکر کې وو چې د بندیانو انساني حقوقو ته سپکاوی وشي او یا شکنجې ورکړل شي.

څلور پولیس په دی جرمونو محکوم شول چې بندیان یي په جبر سره په یو داسې حالت کښینول چې وجود یي سخت درد درلودي، اوبه یي نه ورکولی، تشناب ته یي نه پریښودل او دخوب له پاره یی بړستني نه ورکولي.

سره د دي چې تورن کسان مجرم وګڼل شول خو بیا هم د جزا څخه معاف شول ځکه د قاضی په نظر دغه دروند مسولیت د پوځ د مشرتابه وو چې دوی ته یې د تحقیق په تړاو درست او کافی معلومات نه وه ورکړی.

د بل لوری انه میټې څو ځله د خپلو مشرانو څخه د لارښوونې غوښتنه کړی وه چې د عراقي بندیانو سره د تحقیق په جریان کې چلند باید په څه ډول پرمختګ وکړي خو نوموړې ته لارښونه نه وه شوی.

قاضي خپله پریکړه داسې اعلان کړه: « مجرمین د سزا ورکولو څخه معاف ګڼل کیږي ځکه دوي په ځانګړو شرایطو کې قرار درلودي.» د پریکړې څخه داسې ښکاري چې متهمینو جرم کړی وو خو د ځانګړو حالاتو په نظر کې نیولو سره د سزا څخه معاف شول چې اعظمي سزا یي تر یو کال زندان پورې کیدلای شوای. سره د دي چې ټول پنځه تنه مجازات نه شول خو بیا هم دوي د محکمه کولو څخه ناراضه وه او مرافعه یي وغوښتل تر څو په بشپړه توګه برأت واخلي.

(ژ: د ډنمارکي پوځ مشرانو او نور پوځیانو په وارو وارو منلی وو چې انه میټې او ورسره ملګرو یي د عراقي بندیانو په وړاندي بشري حقوق او د ژینو د

کنوانسیون مواد تر پښنو لاندی کړی وو خو قاضي ځکه برأت ورکوي چې ګناه د لوړو پوځي مشرانو وه چې د تحقیق درست میتود یي نه وه ورته بیان کړي. دلته دوه مهم ټکي څیړم، اول خو په ډنمارک کې عادي ډنمارکیان د خپلو قوانینو څخه خبر دي چې زنداني ته هر ډول شکنجه منع ده نو دا دلیل چې دوی نه پوهیدل، ډیر بی مفهومه ښکاري. دوهم ټکي دادي که رښتیامسولیت د لوړو پوځي مشرانو وو نو ولي هغه مشران مجازات نه شول؟ ډنمارک د قوانینو په رعایت کې ډیر ښه نوم لري نو خبره واضیح ده چې انساني قوانین یوازې دوي د خپلو خلکو له پاره تدوین کړی دی او د دریمې نړۍ خلک ګڼه ورڅخه نه شی اخیستلای.)

تر شپږ میاشتو وروستو د مرافعي محکمې پریکړه وکړه چې د نوموړو پوځیانو د محکمه کولو له پاره کافي شواهد شتون نه لري او داسې شواهد هم نه شته چې انه میتې ، زندانیان په غیري انساني توګه شکنجه کړی وي. خو انه میتې بندیان په سخت حالت کې کښینول او د تحقیق په جریان کې چیغې وربانديې وهلي.

د هغه وخت د پوځ د مرکزې اداري حقوقي مشاور، جیس رینبیو کنودسن[٤٩٠] ته وروسته څرګنده شوه چې انه میټه د پوځي واحد حقوقي مشاور ته د لارښوونې له پاره ورغلي وه خو نوموړی وایی چې هیڅ وخت ماته انه میټه او یا تر هغې وروسته څوک د مشورې له پاره راغلي دي.

جیس رینبیو کنودسن د (٢٠٠٠ ـ ٢٠٠٦ ) زکلونو په مینځ کې په عراق او افغانستان کې د حقوقي مشاور دنده درلوده. نوموړی وایي که زما څخه چا پوښتنه کړی واي، پرته د شک څخه مې ځواب ورته وایه.

د ژینو د کنوانسیون د دریمې مادې پر بنسټ څوک حق نه لري چې بندې تر عصبي او یا فزیکي فشار لاندې راولي، تر څو بندې هغه څه چې مکلفیت نه لري، بیان کړي. نوموړي حقوق پوه وایي: زنداني مکلف دي چې نوم، رتبه، د زیږیدنې نیټه او د خدمت نمبر بیان کړي. نور مکلف نه دي چې تر دغه زیات معلومات وړاندې کړي.

---

[٤٩٠] - Jes Rynkeby

نوموړي حقوق پوه وايي چې انه میتې باید دا ډول تحقیق نه واي کړی ، کوم چې تر سره کړي يي دي.

ډنمارکي پوځيانو دنده نه درلوده چې تاکتیکي تحقیقات تر سره کړي تر څو د زنداني څخه نور زیات معلوماتونه تر لاسه کړي. دا د انګریزانو دنده وه چې کافي تربیه شوی پرسونل يي د دغې دندې له پاره درلودي. همدغه علت و چې ډنمارکیانو زندانیان دوي ته تسلیمول. جیس رینبیو کنودسن وايي چې انه میتې ته د پروسجر درسته بڼه نه وه تشریح شوی.

جیس رینبیو کنودسن په حیرت وايي چې د پوځي واحد مشرتابه د پورته موضوعاتو او مسولیتونو څخه خبرتیا نه درلوده. نوموړي خپل په نوبت د ۲۰۰۴ زکال د اګست په میاشت کې د قوماندې مرکز ته خبر ورکړی چې پوځ ته په څرګند ډول ووایی چې کومې دندې اجرأ او کوم څه ونه کړي، کله چې تورن کسان ونیسي؟ د پوځ دایریکتیف داسې و چې بندیان باید شکنجه نه شي، غیري انساني کړنې ورسره ونه شي او په سپک او بی عزته ډول ونه ساتل شي.

د انه میتې په دوسیه کې د شکنجه کولو موضوع نه وه، بلکې په څومره کچه عراقي زندانیان په سپک او بی عزته توګه ساتل کیدل؟ دموضوع څخه څرګنده شوه چې دا روښانه نه وه چې د دفاع وزارت کومه کړنه غیري انساني ګڼي.

د ډنمارکي پوځ قوماندان هینریک فلش [٤٩١] د جیس رینبیو کنودسن نیوکه نه مني. هغه وايي چې موږ منظم تحقیق نه دی کړی ، موږ باید د څو پوښتنو او تحقیق تر مینځ توپیر ومنوو.

موږ دومره معلومول چې نیول شوي کسان ایله کړو او که انګریزانو ته يي وسپارو. دا اړتیا نه وه چې یو بیګناه کس په میاشتو د انګریزانو سره بندی پاته شي، په داسې حال کې چې کیدای شوای د لږ معلوماتو وروسته د خلاصولو وړ وو. نوموړي په تکرار وايي چې د ډنمارکي پوځ ټولو غړو ته مې په څرګنده توګه روښانه کړی وه چې موږ تحقیق نه کوو. نوموړي دا هم وايي چې زما په ګروپ کې ټول عراقي بندیان د دي پر ځای چې انګریزانو ته تسلیم شي، د بنده څخه خلاص شوی دي.

---

[٤٩١] - Henrik Flach

د هغه وخت د پوځ لوی درستیز، یسپر هیلسیو دا مني چې په هغه وخت کې د پوځ په سیستم کې غلطیاني شوی دي. کله چې موضوع پیښه شوه نو موږ لازمه وګڼله چې پیښه په اساسي توګه وڅیړو. موږ نه غوښتل چې پر موضوع خوله پټه کړو چې ډنمارک د ژینو د کنوانسیون په خلاف کړنه کړې ده. موضوع وپلټل شول د ښاري محکمې او مرافیعي پریکړو توپیر درلود. خو د پوځ له پاره ځکه مهمه وه چې تر ۲۰۰۴ زکال وروسته زموږ جګړه ایزه فعالیتونه روښانه وه.

د ۲۰۰۴زکال د جون د میاشتي په (۳۰) نیټه داسې بدلون راغي.

د ملل متحد د امنیت شورا (۱۵۶۹) پریکړه صادره کړه. د پریکړې پر بنسټ د پوځي قوتونو رول د اشغال د حالت څخه بدلون وموند. زموږ پوځونو د ملل متحد تر سیوري لاندې فعالیت کولو. په رسمي توګه عراقیانو د خپل هیواد په تړاو پریکړه کوله. مانا یي دا وه چې بهرني پوځیان باید د عراق قوانینو ته درناوي وکړي. نړیوال قوتونه هر وخت د ناست عراقي حکومت له خوا رابلل کیدل.

د ۲۰۰۴ زکال د اګست پر (۲۵) نیټه په یوه محرم ډیاریکټیف کې ډنمارکی پوځیانو ته امر وشوو چې د پخوا په ادامه باید د ژینو کنوانسیون مراعات کړي. ډنمارکیانو اوس هم شکمن کسان چې امنیت ته یي خطر پیښوي، بندیان کولای شوای خو باید ډیره سم وضعیت ورسره وکړی. (زنداني هر وخت باید په انساني توګه د ارزښت درلوونکي انسان په توګه وساتل شی...) زنداني باید د ډاکټر له خوا کتل وشي ، د ټپونو د معالجې او د خوړو وړاندیز د اړتیا په وخت کې ورته وشی.

څو میاشتي وروسته د پوځ مشرتابه بل ډیاریکټیف صادر کړي چې په څرګنده توګه د بشري حقوقو رعایت ته په لاندې توګه پاملرنه وشي: «د زنداني کیدو او د پوښتنو په پیل کې باید د چښلو اوبه وي او د اړتیا په وخت یي د چښلو وړاندیز وشي. د دغه شیبې څخه تر خلاصیدو او یا انګریزانو ته د تسلیمي تر وخت پوري، زنداني په بی حسابه کچه اوبو ته لاسرسي ولري.» تاکید شوی وو چې ډنمارکیان د هغو زندانیانو پوښتنه باید وکړي کوم چې انګریزانو ته یي تسلیم کړی دي. که چیري د زندانیانو د ځار په وخت کې ډنمارکیان متوجه شي، چې بندیان شکنجه شوی دي، سملاسي باید انګریزي

مقامات موضوع ته متوجه کړي او هم د ډنمارک د پوځ مشرتابه ته په ډنمارک کې خبر ورکړي.

د هغه وخت د پوځ لوی درستیز، یسپر هلسیو اوس دا نه پټه وي چې: (د پوځ په داخل کې د یو شمیر ډیاریکټیفو صادرول اړینه چاره وه چې زموږ د حقوق پوه له خوا تر څیړنې وروسته اصلاح شول تر څو چې روښانه او څرګند وي.)

ډنمارکیانو نه شوای کولای چې بندیان په نیغه عراقي مقاماتو ته تسلیم کړي ځکه د عراق او ډنمارک تر مینځ د بندیانو د تبادلې کومه توافقنامه نه وه. ډنمارکیانو یوازې کولای شوای چې بندیان انګریزانو ته تسلیم کړي که انګریزانو همهغه بندیان عراقیانو ته تسلیمولای باید ډنمارکیانو په څرګنده توګه موافقه ښودلې وای.

په ډیارکټیف کې د ۲۰۰۴ زکال د اګست څخه دغه د فرار یوه لار وه. د ډنمارک د پوځي واحد مشرتابه کولای شوای چې د بندیانو د مسولیت څخه ځانونه خلاص کړي، که څه هم په نیولو کې برخه درلودلای.

که ډنمارکیانو د عراقیانو سره په ګډو عملیاتو کې برخه اخیستې وای، هغه کسان چې نیول کیدل، ډنمارکیانو داسې انګیرل چې دا چاره عراقي پوځ تر سره کړي ده. داسې نه وه چې ډنمارکیان بندیان د عراق مقاماتو ته تسلیموي، دا موضوع هم د ډیاریکټیف یوه برخه وه. د انګریزانو سره په ګډو عملیاتو کې عیني امر اعتبار درلودی. که چیري انګریزانو په ګډو عملیاتو کې نفر نیولي وای، د حقوقي لحاظه یي په ډنمارکیانو پوری هیڅ اړه نه درلوده.

دغه ډیارکټیف د ډنمارکیانو له خوا په عمل کې پیاده کیدي تر څو چې د زندانیانو په جنجالونو کې ښکیل ونه اوسي او د انه میټې کیسه تکرار نه شي. په حقیقت کې د ډنمارکي پوځ مشرتابه د دغه ډول ډیاریکټیف په تړاو په ۲۰۰۲ زکال کې فکر کړی وو کله چې ځانګړی پوځونه افغانستان ته لیږدول کیدل. په هغه وخت کې د ډنمارک د دفاع وزارت په سوچ کې و چې زموږ پوځیان په جګړه کې نیول شوی بندیان امریکایانو ته تسلیم کړی که یا؟ دا ځکه چې په امریکا کې د مرګ سزا ورکول مجاز دي. په هغه وخت کې د پوځ په یوه نوټ کې ولیکل شول داسې چې د ډنمارکي پوځیانو د عملیاتو پر وخت به یو امریکایي پوځي ور سره مل وي. پلان دا و چې امریکایي پوځي به په جګړه کې د نیولو مسول وي نو ډنمارکیان به د حقوقي لحاظه د مسولیت څخه خلاص وي. دا نوټ

د حالاتو سره برابر نه وو. په هر صورت د دغه نوټ غوښتنه د ډنمارکي پوځ په دننه کې رد شول.

خو دوه نیم کاله وروسته دغه موډل کیدلای شواي په عراق کې ګټه ورڅخه واخیستل شي. د دفاع وزارت پوهیدي چې د بندیانو د مسولیت اچول د عراقیانو پر غاړه غټه ستونزه ده. په همدغه خاطر په ډیاریکټیف کې یوه ماده په لاندې ډول ورزیاته شوه: « که ډنمارکیان ووینې چې د بندیانو سره غیري قانوني چلند کیږي باید د عراقیانو لوړ پوړو مقاماتو ته خبر ورکړي چې دغه غیري قانوني چلند ودرول شي.»

که چیري د عملیاتو په جریان کې داسې غیري قانوني چلند پیښ شي چې د ډنمارکي د پوځ مشر د ډنمارکیانو مداخله اړینه وبولي ، پرته له ځنډه باید په ډنمارک کې د پوځ مشرتابه ته خبر ورکړي.

د پوځ مشر وویل: موږ د انګریزې مسلکي ټیم څخه کار اخیستي خو ژر به د ستونزو د حل له پاره عراقي څیرې هم راښکاره شي. عراقیان باید د عملیاتو غټ مسولیتونه پر خاړه واخلي. نو ځکه په پیل کې د انګریزانو ټیم د بندي کولو دنده درلوده او وروسته عراقیانو دغه دنده مخته وړله. د پوځ د مشر په آند تر یو پوځې سرتیري ښه وه چې پولیس په نیولو کې ونډه اخیستي واي ځکه داسنادو او شواهدو د راټولو په تړاو مسلکي دي. خو ټوله پلمه دا نه وه.

# اوم څپرکی

## کورنۍ جګړه (۲۰۰۱ ـ ۲۰۱۲)

د جون۳۰/ ۲۰۰۴ زکال: د نړیوال ایتلاف د ځواکونو رول په عراق کې د اشغال د بڼې څخه بدل شوو. په عراق کې لنډ مهاله عراقي حکومت جوړ شو او د نړیوال ایتلاف ځواکونو د ملل متحد تر سیوري لاندې خپل شتون ته دوام ورکړي.

د اګست ۲۵/ ۲۰۰۴ زکال: د ډنمارک د پوځ مشرتابه په یوه محرم ډیاریکټیف کې ولیکل: کله چې ډنمارکي پوځیان د عراقي پوځیانو سره په ګډو عملیاتو کې برخه اخلي، هغه کسان چې نیول کیږي، مسولیت یې په عراقي پوځیانو اړه لري او که د ډنمارک پوځیان د انګریزانو سره په ګډو عملیاتو کې برخه اخلي د نیول شوو بندیانو مسولیت په انګریزانو پورې اړه لري.

په دی ترتیب ډنمارکي پوځیان د بندیانو د انساني حقوقو د ورکولو د مسولیت څخه خلاص دي.

د اکټوبر ۲۰۰۴/۱۶ زکال: ډنمارکي پوځیانو د عملیاتو په جریان کې یو زیات شمیر بمونه، راکټونه او نور پوځي وسایل تر لاسه کړه، خو د اتو تنو عراقیانو د نیولو مسولیت یې انګریزانو ته وسپاري.

د نومبر ۲۵/ ۲۰۰۴ زکال: تقریباً ۱۰۰۰ تنو عراقي، انګریزي او ډنمارکي پوځیانو په مشترکه توګه په عملیاتو کې ګډون وکړي او په پای کې (۳۶) تنه یې ونیول. څو کلونه وروسته عراقي بندیانو شکایت وکړی چې ډنمارکي سرتیري په نیغه د نیولو په پروسه کې شامل وو خو بندیان وروسته د عراقي پوځیانو لخوا شکنجه شوی وو.

د اپریل ۲۰۰۵/۱۰ زکال: د یو عراقي بندي کول په هغو عملیاتو کې چې مشری یې د ډنمارکي پوځ پر غاړه وه. بندي د عراقیانو له خوا شکنجه کیږي او وروسته په عراقي زندان کې اچول کیږي.

جولای ۲۰۰۶ زکال: اوس هم د ډنمارکي او انګريزي پوځ مرکز د راکټونو تر برید لاندي دي او نور به هم دوام وکړي.

د نومبر ۲۸/ ۲۰۰۶ زکال: د ډنمارک صدراعظم اندريس فوک غاسموسن د انګليستان د صدراعظم، توني بلير سره د پوځيانو د رايستلو په تړاو د عراق څخه پر يوې ستراتيژۍ خبري وکړي.

د فبوري ۲۱/ ۲۰۰۷ زکال: دواړو مشرانو د خپلو پوځيانو د وتلو خبر د عراق څخه خپور کړي.

اګست ۲۰۰۷ زکال: د ډنمارک پوځي واحد د عراق څخه ووتي.

وخت او زمان او چاپيريال بدل وو کله چې ډنمارکي ډګروال، جان ډالبيو[٤٩٢] ته د ۲۰۰۴ زکال د اګست پر (۳۱) نېټه هغه نقاشي چې طلايي چوکاټ يي درلودی په عراق کې د انګريزانو په پوځي مرکز کې ورکړه شوه. سره د دي چې د عراقيانو له لوري پر نړيوالو ځواکونو بريدونه زيات شوی وو خو بيا هم ډګروال مورال لوړ ساتلي وو.

د انګريزانو د لوړ پوړی افسر لخوا څخه ډنمارکي ډګروال ته وويل شول، تاسو اوس د نړۍ د دريمې غټې د تيلو د چينې د ساتلو مسوليت اخلي. ډګروال د څلورم پوځي واحد مشر و.

هر ورځ د ميليونو کرونو تيل په پيپونو کې جاري وو چې بايد ډنمارکي پوځيانو يي ساتنه کړي واي. په ټوليزه توګه ډنمارکي پوځيانو د ۱۷۰۰۰ کيلو متر مربع ساحې د ساتلو مسوليت درلودي.

په لومړی کال کې د ډنمارکي پوځيانو شميره هم زياته شوه يانی (۵۰۰) تنه وه چې د ليتوانيا يوه دلګي او هم د انګريزانو د څو پوځي واحدونو سره يي په ګډه کار کاوه او مشرتوب يي د ډنمارکيانو پر غاړه وه. همداسې دوې عراقي دلګې سرتيري چې په ملي ګارډ پوري يي تړاو درلودي، هم ور اضافه شوي.

انګريزانو په پيل کې (۴۰۰۰۰) پوځيان په عراق کې درلودل خو اهسته يي لږ کړل چې شميره يي (۸۰۰۰) تنو ته را کښته کړه. ډنمارکيانو د مسوليت ساحه د

---

[٤٩٢] - John Dalby

۲۰۰۴ زکال په منی کې زیاته کړه، په دی مانا چې ډنمارکیان یوازې په کمپ کې[۴۹۳] پاته وه. په همدې خاطر ډنمارکي پوځیان د ۲۰۰۴ زکال د سپټمبر او اکټوبر په میاشت کې کمپ ته[۴۹۴] وکوچیدل. هلته د انګریزانو پوځي مرکز شتون[۴۹۵] درلودي چې د بصرې د ښار څخه یې (۱۵) کیلومتره واټن درلودي.

دا یوه بله ستونزمنه موضوع وه چې ډیر سرتیرې او د دوي جنګي وسایل په (۵۰) درجې تودوخه کې انتقال شي. تر (۱۰۰۰) لاریو اضافه بار وو چې انتقال شوو.

ډګروال جان ډالبیو وویل چې په دغه سیمه کې د چلنج نه ډکه او درنه دنده زموږ پر غاړه ده.

مخکې تر دي چې د ډنمارک (۴) نمبر پوځي واحد سرتیري د اګست د میاشتی په نیمایي کې عراق ته ورسیږي، مخکنی پوځي واحد د ال مقتدا الصدر د وسلووالو سره په سختو جګړو بوخت وو. دغه وسلوالو غوښته چې د القرنا ښار تر ولکې لاندې راولي او څو وسلوالې پوستې جوړی کړي، ترڅو ډنمارکي سرتیرو ته کمینونه ونیسي. په دغه وخت کې عراقي پولیسو هم مرسته نه کوله.

د ډنمارک د پوځي واحد په رپوټ کې راغلي دي چې عراقي پولیسو د برید قابلیت نه درلودي خو په ځینو حالاتو کې د الصدر د وسلوالو سره مرسته کوله.

مخکې تر دي چې د کمپ ادن څخه ډنمارکیان کډه وکړي، نورو رارسیدلو سرتیرو د سپټمبر په میاشت کې عملیات پیل کړل. دلته ډنمارکیانو د خپل نوي تاکتیک څخه کار واخیستي. مانا دا چې د تورنو کسانو نیول د ډنمارکیانو دنده نه وه، عراقي پولسیو دنده درلوده چې شکمن کسان ونیسي، سره د دي چې د عملیاتو پلان جوړول او مشرتوب د ډنمارکي پوځیانو په واک کې وو.

---

[۴۹۳] - Camp Eden

[۴۹۴] - Camp Danevang

[۴۹۵] - Shaiba Log Base

تر دغه کود [496] لاندې عملیات پیل شول. د یو کیلومتر په اوږدوالي د وسایطو قطار جوړ او د کمپ ادن شمالي برخې ته په خوځښت راغي. موخه د ګلوري کانال [497] وه چې د کمپ څخه (۴۵) دقیقي د موټر لار و. د عراقي پولیسو د راپور له مخې په سیمه کې ډیر کلي د غلو، قاچاق وړونکو تر ظلمونو لاندې وو. په همدغه وجه باید پولسیو د وسلو او نورو غیري قانوني شیانو د پلټلو له پاره په سیمه کې تلاښي کړی وای.

پلان دا هم و چې ښار به کلابنده کیږي، د ډنمارکیانو په مرسته به عراقي پولیس په کورونو کې تلاښي کوي. سهار وختي د ډنمارکیانو پوځي وسایط او د عراقي پولیسو لاري موټران سیمې ته ننوتل او دوه د ختو کورونه یي کلابند کړل، سرتیري ځای پر ځای شول چې څوک په تښتي باندې بریالی نه شي. لس دقیقي وروسته عراقي پولیس راغلل او د ډنمارکیانو په مرسته یي د کورونو تلاښي پیل کړل. عراقي پولیسو په سرونو توري خولي واغوستي تر څو ونه پیژندل شي او په راتلونکي کې غچ ور څخه وانه خیستل شي. هر څه ښه وه که څه هم د کلي اوسیدونکي د تلاښیو څخه خوښ نه وو خو څه پیښ نه شول. لاسته راغلي شیان د ډیر ارزښت وړ نه وو. یو توپک او څو مرمۍ پیدا شوي چې خاوند یي د وسلې د ساتلو اجازه درلوده. په هر صورت د دغه مودل څخه په راتلونکې کې ګټه اخیستل کیدل. په رسمي بڼه ډنمارکیانو تورن کسان نه نیول.

د ډنمارکي پوځ د چارو د ارزوني د رپورټ له مخې څرګندیږي چې څلورم پوځي واحد اته میاشتي (د ۲۰۰۵ زکال تر فبوري میاشتي پورې) په عراق کې دنده تر سره کړه، په دغه موده کې دوه شکمن عراقیان نیولي او د اتو ساعتونو په اوږدو کې بیرته خوشي کړي دي. د دفاع د وزارت د معلوماتو پربنسټ ډنمارکي پوځ د لومړیو لسو میاشتو د شتون په موده کې (۱۷۸) عراقیان نیولي وو. که پورته حالتونه پرتله شي، څرګندیږي چې ډنمارکیانو د عراقیانو د بندي کولو څخه ډیر واټن نیولي دي. علت یي پر تیرو پیښو د پردي اچول و.

---

[496] - Nine – nul, nine – nul – her er seks fem:fremad. slut.
[497] - Glory Canal

د پورته (۱۷۸) تنو بنديانو څخه ډېر شمير خوشي شوي دي خو يو شمير يي د انګريزانو او امريکايانو پوځي پنډغالو ته تسليم شوی دی چې حقوقي مسوليت يي بيا هم د ډنمارکيانو پر غاړه وو.

د څلورم پوځي واحد د دندې د اجرأ پر وخت هم ډېر عراقيان نيول شوي دي، خو د نيولو پروسه يا د انګريزانو او يا هم د عراقي پوځيانو په واسطه تر سره کيدل. په دغه صورت ډنمارکي پوځيانو حقوقي مسوليت نه درلودي.

د ډنمارکي پوځي واحد مشر، جان ډالبيو وروسته د پوليټکن ورځپاڼې ته وويل چې د (۴) ګروپ د عملياتو په تړاو (۱۰۰) تنه عراقيان ونيول شول چې (۵۰ ـ ۶۰) انګريزانو، (۳۶ ) تنه عراقيانو او (۲) تنه ډنمارکيانو ونيول. موږ د ټولو دا ډول پيښو په اړوند ډنمارک ته خبر ورکاوه چې ټول زموږ د کړونو څخه اطلاع ولري. د ډنمارک پوځي حقوق پوه د کار د جريان څخه خوښ و. دا چې مخکني موضوعاتو ډنمارکي پوځ ته د سر خوږ پيدا کړي و نو اوس مسوليت د انګريزانو په غاړه وه، دوي په دغه تړاو تربيه شوي پوليس هم درلودل چې کاغذي چاري په ښه توګه مخته بوزي.

دغه موډل د (۴) پوځي واحد له لورې جوړ او د دفاع وزارت مشرتابه منظور کړي. همدغه مودل په نورو پوځي ګروپونو کې هم ګټه ورڅخه اخيستل کيدل.

د دفاع وزارت مشرتابه او د مشرتابه پوځي کار پوه شک درلودي چې ايا دغه مودل سره د دي چې موږ د بنديانو سره فزيکي اړيکې نه لرو، د بشر حقوق رعايت ور په کښي کيږي؟ د نوموړې زياتره انديښنه په عراق کې د مرګ سزا ورکول و چې په (۲۰۰۴) زکال کې تصويب شوی وه.

د مرګ سزا يوازې د قتل او ترهګريزو بريدونو له پاره نه وه، بلکې د دولتي شتمنيو لوټول هم په نهايت کې د مرګ په سزا پای ته رسيدل. همدغه دليل و چې موږ د کنوانسيون د موادو په رڼا کې بنديان عراقيانو ته نه شوای تسليمولای. نو ځکه زموږ د حل بله لار دا وه چې بنديان مو انګريزانو ته تسليمول.

په هر صورت د دفاع وزارت مشرتابه د نوی طرز العمل په تړاو چې ډنمارکيان په څه ډول مشکوک عراقيان بنديان کړي، يو فعال رول ولوبولو.

د جولای او اګست په مياشتو کې د دفاع وزارت اړوند حقوق پوهانو او د پوځي واحدونو مشرانو غونډې وکړي تر څو د عراقي بنديانو له پاره پوځ ته لازمه

لاربښوونه وکړي. د غونډو پایله دا شوه چې نوی ډیارکټیف په عراق کې د بندیانو په تړاو تصویب او پوځ ته یي ولیږي. ډیارکټیف داسې لاربښونې درلودې:

« که چیري د ډنمارکیانو او عراقیانو په ګډو عملیاتو کې عراقیان نیول کیږي، مانا یي دا ده چې د بندیانو نیول د عراقي پوځ له لوري په مستقل ډول صورت نیولي دي، نه دا چې ډنمارکیانو دوي ته بندیان تسلیم کړي دي. موضوع په ورته ډول د انګریزانو سره په ګډو عملیاتو کې کټل شوی وه. په دغه ډول ډنمارکیان د مسولیت څخه خلاص وګټل شول، سره د دي چې شواهدو شتون درلودي چې عراقي بندیان د عراق په زندانونو کې شکنجه کیږي، دغه معلومات د دفاع وزارت مشرتابه ته هم خبر ورکړل شو.

کله چې د پوځي واحد مشر، جان دالبیو په اګست کې عراق ته راغلي، په دغه وخت کې د انګریزي او ډنمارکي پوځ مشرتوب د انګریزي جنرال پر غاړه و، نو جان دالبیو هغه ته ورغلي او خبر یي ورکړي چې د عراقیانو د بندي کولو او تسلیمولو په تړاو د ډنمارک قوانین د انګریزانو په پرتله سخت دي. د بیلګې په توګه موږ ډنمارکیان حق نه لرو چې نیول شوي کسان عراقي مقاماتو ته تسلیم کړو، په داسې حال کې چې انګریزان یي کولای شي. انګریزي جنرال ورته وویل چې انګریزان به شکمن کسان نیسي چې جان دالبیو بشپړ راضي وي.

ډنمارکي سرتیرو بیا هم شکمن عراقیان نیول خو یا به یي ازاد کړل او یا به یي انګریزانو ته تسلیمول. که چیري انګریزانو د ډنمارکیانو تسلیم شوی بندیان وروسته عراقي مقاماتو ته تسلیمول د ډنمارک موافقه شرط وه چې دغه موافقه په ډنمارک کې د دفاع د وزارت د مشرتابه لخوا کیدل. دغه نوی موډل د ډنمارکیانو له پاره مناسب وو او انګریزانو هم عادت ور سره ونیوي.

د ډنمارکیانو پورته میتود اوس د حقوقي کارپوهانو تر مینځ اختلافونه را پورته کړي دي. د خلکو د حقوقو ساتونکي حقوقي کارپوه، پیټرویدل کیسینګ [٤٩٨] چې د بشر د حقوقو په انستیتوت کې دنده لري، د ډنمارکیانو پر پورته یاد شوی میتود سخته نیوکه لري.

نوموړي وایي: د ژینو کنوانسیون چې په (۱۹۴۹) زکال تصویب شوی دي، په ټینګار وایي چې مسولیت په هغه دولت پورې اړه لري کوم چې نفر بندي کوي.

---

[٤٩٨] - Peter Vedel Kessing

علت به يي دا وي چې يو دولت به کومه علاقه ولري چې نفر په رسمي توګه نه زنداني کوي او د مسوليت څخه اوږه خالي کوي. نوموړی وايي چې ډنمارک بيا هم د بنديانو د نيولو په تړاو مسوليت درلودي.

په ۲۰۰۱زکال کې د ملل متحد د بشر د حقوقو د ساتلو کمسيون داسې يو شمير مقررې د دولتونو د مسوليتونو په تړاو تصويب کړې چې په يوه برخه کې داسې لولو: که يو حکومت د بندي کولو لاربنونه کوي او کنترول يي هم په واک کې وی، سره د دي چې نوموړي حکومت په نيغه په فزيکي ډول په بندي کولو کې برخه ونه لري، خو همدغه دولت مسوليت لري. پيټر ويدل کيسينګ پورته موضوعات د مرکې په ترڅ کې د پوليټيکن د ورځپاڼې ژورناليست ته بيان کړل.

که کوم پوځي عمليات د ډنمارکي پوځ په مشرتابه تر سره کيږي، د عملياتو په ترڅ کې انګريزي او عراقي سرتيرو ته ووايي چې د بندي کولو دنده ستاسو پر غاړه ده او وروسته ووايي چې ډنمارک د بنديانو د ساتلو د مسوليت څخه خلاص دي، دا کړنه د قانون سره فريب ګڼل کيږي. د ملل متحد د حقوقي کارپوهانو په نظر ډنمارک د بندي کولو په مسوليت کې شريک دي. پيټرويدل کيسينګ په دغه اړوند د اروپايي ګډ بازار په يوه پراخه حقوقي پروژه کې ګډون وکړي ولې هلته هم دغه ميتود د استفادي قابليت نه درلودي.

حقوقي کارپوهان اوس وايي چې دغه ستونزه بايد د حقوقي پلوه روښانه شي. يوازې دا کفايت نه کوي چې د دفاع وزارت مشرتابه ووايي چې موږ په نيغه په بندي کولو کې ګډون نه لرو نو ځکه د مسوليت څخه يي خلاص يوو. د ۲۰۰۴ زکال د وړی په ورستيو کې خبر خپور شو چې مخالفينو اوربند اعلان کړي دي. د الصدر د وسلوالو له لوري بهرنيانو او عراقي پوځونو ته وعده ورکړل شوه چې دوي اوربند اعلانوي. په سميه ايزه کچه د مخالفينو محلي دفتر په ال قرنا کې ډنمارکي پوځيانو ته د يو ليک په ترڅ کې د موضوع پخلي وکړي. په همدي ډول لوي مذهبي مشر، ال سيستاني يوه اعلاميه خپره کړه او غوښتنه يي وکړه چې پر بهرني پوځونو بايد بريدونه ودرول شي. خو بيا هم د ال صدر د ګروپ ځينو کسانو ورته بريدونو ته دوام ورکړي. دا بريدونو د بصرې د ښار په کوڅو او جادو کې دوام درلودي او يا به يي کمين نيولي وو، پر زري وسايطو يي راکټونه ويشتل. د سپټمبر د مياشتي په ورستيو کې مخالفينو لويي راکټ

ویشتنې د ډنمارکیانو پر پوځي کمپ (شایبا لوګ ) بانډي[499] پیل کړي. پوځیان اړ وو چې په پټن ځایونو کې پټ شي خو د خوښی ځای و چې دغه راکټونه (۱۰۷) ملي متره په چین کې جوړ شوی او نښان یي دقیق نه شوای ویشتلای نو ځکه ځاني تلفات یي نه درلودل. بهرني ملاتړو پوځیانو د ښار په مخامخ بریدونو کې ډیر مخالفین ووژل، خو د سپټمبر او اکتوبر په میاشتو کې مخالفینو پر هغو لویو لارو چې ډنمارکي او انګریزي پوځونو اکمالات کول، د لاري د سره مینونه ښخول. د جګړې دغه تاکتیک د شیعه او سني مسلمانانو له خوا کارول کیدي ځکه د دوي ځاني تلفات ور په کښې لږ وو.

د ۲۰۰۴ زکال د مني او ژمي په موسمونو کې په ځوابیه عملیاتو کې ډنمارکي او انګریزي پوځیانو د عراقي پوځ په مرسته داسي عملیات تر سره کړل چې د مخالفینو د وسلو ذخیرې یی پیدا کړي. د دغو عملیاتو په جریان کې یو شمیر (۱۰۷) ملي متري راکټونه او د لارو پر سر ښخوونکي بمونه لاس ته راغلل خو ډیر وخت به پرته له دي څخه چې کوم شي پیدا کړو، مایوسه به راوګرځیدلو. موږ د عیني تاکتیک څخه په هر ځل عملیاتو کې ګټه اخیستل. ډنمارکي پوځیانو به یوه سیمه په نخښه کړه، د عملیاتو په جریان کې د تورنو کسانو د نیولو دنده د عراقي او یا انګریزي پوځیانو په واسطه تر سره کیدل. دغه چاره ځکه تر سره کیدل چې د (۲۰۰۴) زکال د اکتوبر پر (۱۶) د ډنمارک د دفاع وزارت د مشر تابه په امر (د وسلو نیول، مهمه دنده ده) مهمه ګڼل شوی وه.

دشنبې ورځ د سهار (۵:۱۵) بجي وی چې ډنمارکیانو ته راپور ورسیدي چې د بصرې د ښار د ختیزې برخې په یو شمیر کورونوکې ډول ډول وسلې، مهمات، انفجاري توکې او د الصدر مهدي یو محدود کسان جنګیالي پټ دي. د عملیاتو پلان جوړ شو، په ناڅاپي توګه د کورونو پلټلو له پاره سرتیري داخل شول چې د کلي اوسیدونکي یي حیران کړل. ډنمارکیانو ته په دغو عملیاتو کې د لاري د سر (۴) بمونه، (۱۲) راکټ ویشتونکي، (۶۶) لاسي بمونه، (۶) توپکونه، انفجاري مواد او مرمي لاس ته ورغلي. په خبرتیا کې څرګنده شوه چې عملیات د ډنمارکي پوځ لخوا تر سره شوی دی خو د خبر په وروستۍ برخه کې لیکل شوی وو: اته شکمن کسان چې امنیت ته یي ګواښ جوړولای شوای د انګریزي

---

[499] - Shaiba Log Base

پولیسو لخوا ونیول شول. وروسته د دغو شکمنو کسانو څخه، دري تنه یي عراقي مقاماتو ته تسلیم شول.

ډنمارکي پوځیانو اسناد او شواهد تیار کړل خو انګریزي پولیسو شکمن کسان ونیول چې په دغه ډول انګریزانو د نوموړو بندیانو حقوقي مسولیت درلودي.

ولې د ډنمارکي پوځ د دغه لویو عملیاتو د شکمنو کسانو د نیولو پټ لوري بربنډوي.

د نوامبر په میاشت کې د عراق د سیمه ایزو پوځیانو مشر د ډنمارک د پوځي واحد د مشر سره وړغیدي او څرګنده یي کړه چې غواړي ځینې اړوندې سیمې تلاښي او هغه کسان ونیسي کوم چې د لارو پر څنډو بمونه ښخوي. دغه بمونه په معمولي توګه د بصرې د ښار څخه (۱۵) کیلومتره لیري د اززبیر د ښار په څلور لارو کې ښخیدل. د عراقي پوځ مشر وویل چې موږ په بشپړ باور خبر یوو چې څوک د دغې چارې تر شا ولاړ دي. د دغه عملیاتو د تر سره کولو له پاره عراقیانو د ډنمارکي پوځ ملاتړ ته اړتیا درلودل، ځکه چې مخالفینو درنې وسلې درلودي خو عراقي پوځیانو یوازې سپکې وسلې لري.

د ډنمارکي پوځ مشر د وړاندیز سره همږغي وښودله او داسې وانګیرل چې دا ډول عملیات د عراقي پوځ د روزنې له پاره هم ګټور دي. د پلان جوړولو په وخت کې ډنمارکیانو وپتیله چې د عراقیانو د پولیسو یو ځانګړي واحد [500] چې انګریزانو روزلي دی هغوی هم باید په عملیاتو کې ګډون وکړي ځکه هغوي د عراقي پوځیانو د عملیاتو سره اشنا دي. په عملیاتو کې انګریزانو هم ګډون درلودي. عراقي پوځ ته اجازه ورکړل شول چې د انګریزانو او ډنمارکیانو په شتون کې کورونه تلاښي او شکمن کسان ونیسي.

د ۲۰۰۴ زکال د نومبر په (۲۵) نیټه د سهار پر (۳:۳۰) بجو پوځیانو حرکت وکړي. په ټولیزه توګه (۱۰۰۰) تنه پوځیان چې ډنمارکیان، انګریزان او عراقیان وو او د عملیاتو نوم یي ګرین ډیزرټ [501] کښیښود. عراقي پوځیانو څلور موخې په نخښه کړي. دوه نیم ساعته وروسته قیس خالد براک د عادت له مخې د خپل

---

[500] - TSU
[501] - Green Desert

کور ځخه را ووت چې مسجد ته د لمانځه د اداُکولو له پاره ولاړ شي. نوموړي په دغه سيمه کې د ميوو باغونه درلودل چې په عوايدو يې خپل ژوند مخته وړي.

د مسجد په دروازه کې د خپل ورور سره مخامخ شو او دواړه يوځای د لمانځه د اداُکولو له پاره مسجد ته ننوتل. کله چې تقريباً (۲۰) تنه سني مسلمان د مسجد ځخه راووتل، د يوې حيرانتيا سره مخامخ شول. سيمه د ټانکونو په واسطه کلابنده وه، په کوڅو کې سرتيري ګرځيدل او په هوا کې چورلکو ګزمه کوله. په دغه ورځ قيس خالد براک ژوند د هميش له پاره بدلون وکړي. دا هغه وخت ځرګنده شوه چې نوموړي په سمبوليک ډول اوه (۷) کاله وروسته د ډنمارکي پوځيانو ځخه تاوان وغوښت.

د پوليسو او ډنمارکيانو ترمينځ ژباړن ژباړنه کول. بنديانو ژباړن ته خواست کاوه چې دوي خوشي کړي او عراقي پوليسو ته يي و نه سپاري. هغوي دا هم وويل، که عراقي پوليسو موږ نيولي واي، ډير يي شکنجه کولو. داځرګنده خبره وه چې د عراق نوي پوليس د شيعه مسلمانانو تر اغيزې لاندې وه چې سني مسلمانانو ته يي ازار ورکاوه.

ژباړن د براک غوښتنو ته ځواب ونه وايه خو براک وليدل چې ژباړن د بهرنيو سرتيرو لوري ته ورغلي او د هغوي سره يی خبري وکړي. د ټولو غوښتنو سره سره، قيس خالد براک خوشي نه شو. هيچا د نوم او تذکرې پوښتنه هم ورځخه ونه کړه. قيس او (۸) نور لمونځ کوونکي يي د مسجد سره کښينول. نوموړي وليدل چې بهرنيو سرتيرو دوه ګاونديان د خوب په جامو کې راويستل. قيس براک او نور نيول شوي کسان په پايکپ موټر کې چې لاسونه او سترګې يي تړلي وې، واچول. يو بل عراقي پر دوشکه ويده وه چې ناڅاپه په لغتو او سوکانو راويښ کړل شو. هغه بيچاره د ډاره ځخه سر راپورته کړ چې سرتيري يي په پوځي جامه کې سر ته ولاړ دي. دغه بندي وروسته پوليتکن ورځپاڼې ته وويل چې ما وليدي چې پوځي جامه يي درلوده خو عراقي نه و. د هغه غوښتنه دا وه چې نوم او هويت يي د امنيت په خاطر افشأ نه شي. نوموړي وايي چې زه شک نه لرم چې زما سره سخته کړنه ډنمارکي سرتيري وکړه. نوموړي وويل چې دغه سرتيري د ډنمارک د بيرغ علامه پر اوږه درلوده. نوموړي وايي چې سرتيري زه تر پښه ونيولم او د بستر ځخه يي راپورته کړم، په سرای کې کشولم تر څو د سراي ځخه بهر ته په کشولو يوړم، د سراي ځخه بهر مي خپل ورور او د کلي نور خلک وليدل چې لاسونه يي ترشاه تړلي او ناست دي. د عراقيانو

ځوانان يي هم نيولي وو، هغوي هم پوليټکن ته وويل چې ډنمارکيان د بندي کولو په پروسه کې فعال وو.

نوموړی وويل چې موږ ډنمارکي سرتيري پيژنو، د ډنمارکي او انګريزي سرتيرو تر مينځ توپير کولای شوو. د ډنمارکي سرتيرو پر اوږو، پر يونيفورم او وسايطو باندې د ډنمارک نښان په څرګنده توګه ښکاريدي. موږ ډنمارکيانو بنديان کړي يوو.

نوموړي په انګريزي ژبه رواني خبري کولي نو ځکه هغه وويل چې ما اوريدل، دوي په انګريزي خبري نه کولې. زه پوهيږم چې د يو شخص انګريزي ژبه مورنۍ ژبه نه ده، د دغو سرتيرو مورنۍ ژبه انګريزي نه وه. زه يي بندي کړم او نور عراقيان يي تر څلورو ساعتونو وروسته خوشي کړل. د شپږو عراقي بنديانو بيان را په ګوته کوي چې ډنمارکي سرتيرو په بندي کولو کې برخه درلودل. وروسته دوو عراقي بنديانو وويل چې اول ځل ډنمارکي سرتيرو لاس را باندي کښيښود ولې نورو وويل چې موږ عراقيانو ونيولو خو قومانده د ډنمارکيانو په لاس کې وه. د عراقيانو بيان د دوو ډنمارکي سرتيرو د معلوماتو سره چې پوليټکن ورځپاڼې ته يي ورکړي دي، مطابقت لري.

ډنمارکي افسر، مورټن ينسن [٥٠٢] او مسعود واحدي داسې ځای ولاړ وو چې لويه لار او کوچني کوڅې يي څارلي، کوم چې اړوند کورونه يي بايد تلاشي شوی واي. د دوي او نورو ډنمارکي پوځيانو دنده وه چې د عملياتو تر پای ته رسيدو پوري څوک پری نږدي چې د سيمې څخه ووزي. دوي دواړه چې دري مياشتي مخکي عراق ته راغلي وو، پوهيدل چې بايد ډنمارکي سرتيري د بندي کولو د پروسې څخه ډه ډه وکړي. مورټن ينسن وايي چې زموږ پاليسي څرګنده وه چې بايد موږ عراقی مشکوک کسان بنديان نه کړو، دغه دنده د عراقي او انګريزي پوځيانو پر غاړه وه.

مسعود واحدي هم د موضوع څخه پوره خبر و چې بايد عراقي مشکوک کسان بنديان نه کړي او بنديان هم بايد عراقي پوليسو ته و نه سپارل شي ځکه د هغوي د وروستۍ سرنوشت څخه نه خبريدلوو.

---

[٥٠٢] - Morten Jensen

مورټن ينسن وايي چې موږ ليدل چې چيري مشکوک کسان شتون لري نو ځکه ډنمارکي پوځيان لومړي کورونو ته ننوتل دا ځکه چې عراقي پوځ تازه جوړ شوی وو او ډير جرأت يي نه درلودي.

مسعود واحدي هم داسې څرګندوني کوي: ډنمارکي پوځيان لوموړی کورونو ته ننوتل چې مشکوک کسان ونيسي، وروسته عراقي پوځيان کورونو ته ننوتل. ډنمارکي پوځيانو کورونه هم تلاښي کول.

مسعود واحدي ليدلي و چې عراقي پوځيان د بنديانو سره څه ډول چلند کوي. د بيلګې په توګه داسې بيان کوي: په يوه شيبه کې د کوځې په پيل يوه يا دوې ډزې وشوي، پوځيان په بيړه د کورونو څخه راووتل.

لږ وروسته عراقيان راغلل او يو کس يي نيولي و، نوموړي عراقيانو څو لغتي وواهه، خو سخت يي نه دی وهلي. وروسته يي توره خولۍ په سر ور واغوستل او پر سر يي کلک وواهه، چې سر يي سور شو.

واحدي وايي چې ډنمارکي پوځيانو دغه کړنه ننداره کوله ځکه موږ هغه موټر ته کتل کوم چې بنديان يي انتقالول. تقريباً (۱۰۰) تنو دغه عمل وليدي. دغه وخت د عملياتو وروستۍ شيبې وي نو که به څوک په لغته او يا بل ډول ووهل شو، موږ ورته پام کيدي، ځکه سيمه زموږ تر کنترول او څار لاندې وه.

موږ سوچ کولو چې دا زموږ عمليات نه دي، بنديان وهل کيدل. که موږ عراقي پوځيانو ته ويلي وای چې دا کړنه بايد ونه کړي نو اتوريته يي زيانمنه کيدله.

دغه ټوله کيسه د پوځي واحد د مشر، جان ډالبيو په محرم رپوټ کې د انګريزانو پوځي مشرتابه ته ليکل شوی وو چې ډنمارکي پوځيان په تلاښيو او بندي کولو پروسه کې ګډ شوي دي.

د ډنمارکي پوځي واحد مشر، جان ډالبيو هميشه ټينګار کاوه چې ډنمارکيانو داسې څه نه دی کړي چې د پوښتنې وړ وي. نوموړي پوليټکن ورځپاڼې ته په ټينګار وويل چې زه د کوځې په سر کې په ټانک کې ناست وم او قومانده مې ورکول، خو نه پوهيږم چې څوک کورونو ته ننوتل. نوموړي علاوه کوي چې دا کيدلای شي چې کورونو ته به لومړی ډنمارکي سرتيري ننوتلي وي او عراقيان به ور پسي وو. دا په ټينګار وايم چې ډنمارکي پوځيانو څوک بندي کړي نه دي، که دا کړنه شوی واي، بايد ما امر ورته کړی واي.

په ۲۰۰۴ زکال د نومبر د (۲۵) نیټې عملیات تر پای ته رسیدو وروسته د ډنمارک د پوځ مرکزي مشرتابه اعلان کړل چې عملیات ډیر ښه تیر شول، هیڅ مقاومت شتون نه درلودي. مخالفینو زموږ د امر څخه هیڅ سرغړونه و نه کړه. عراقي پوځیانو ډیر ښه اغیزه وښندله.

لاسته راوړنې ډیرې نه وې خو (۱۵) توپکان د مرمیو سره، لږ انفلاقي مواد د دوربین سره زمو لاسته راغلل. تر ټولو د پام وړ دا وه چې (۳۲۵) کیلو ګرمه چرس هم ونیول شول. خو بیا هم پوځیانو (۳۶) عراقیان بندیان کړل.

د ډنمارک د پوځ مرکزي مشرتابه دا هم علاوه کړه چې د عملیاتو په جریان کې د مشکوکو کسانو بندي کیدنه په بشپړه توګه د عراقي پوځیانو په واسطه تر سره شوه، د جان ډالبیو د قول څخه یي هم وویل چې هغه د عملیاتو د جریان څخه ډیر راضي و.

جان ډالبیو دا هم ویلي وو: که موږ د عراقي پوځ سره سمه مرسته وکړو او عراقیانو ته امنیتي ساحه پراخه کړو، نور عراقي پوځیان خپله هیله مند دي چې د امنیت راوستلو او قانون پلي کولو مسولیت پر خپله غاړه واخلي.

د دفاع وزارت سره د غونډې څخه داسې څرګنده شوه چې قیس خالد براک او نور بندیان د عراقي پوځ نژدي مرکز، اککا[۵۰۳] چې مسجد ته نژدي و، یوووړل شول او تر یو ساعت تم کیدو وروسته دوباره بهرني پوځیانو ته تسلیم شول. وروسته د بندیانو لاسونه تر شاه وتړل شول او د لاري موټر په واسطه د شیبا لوګ مرکز ته[۵۰۴] یوووړل شول، قیس خالد براک هغه پوځي مرکز پیژندي ځکه نوموړي تر جګړې مخکې هلته عسکري خدمت کړی و.

بندیان تر شنه اسمان لاندې پر مځکه وغورځول شول، لږ وروسته قیس خالد براک و تحقیق ته په یوه خیمه کې وغوښتل شو. د براک د وینا سره سم دوه ډنمارکی پوځیان او یو ژباړن د یو سر تیري سره د یوه میز څنګ ته ناست وو، ډنمارکیان، یوه ښځه او بل نارینه وو. د تحقیق په جریان کې د قیس خالد سره داسې یوه کړنه وشوه چې په عربي کلتور کې ډیر بد ورته ویل کیږي. قیس وایي: د تحقیق مشر یو جګ تقریباً (۱۸۵ ـ ۱۹۰) سانتي متره، ډنمارکي پوځي

[۵۰۳] - Akka

[۵۰۴] - Shaiba Log Base

چې سره بڼه او په لمر سوځېدلي و د يو بل سر تيري په مرسته چې د ډاکټرانو پلاستيکي دستکښي په لاس وي. پتلون يي راخيري او بربنډ يي کړم. دومره شرميدلي يم چې اوس يي هم خبري وکړم، وشرميږم. سرتيري زما په تناسلي اله او کونه لاس ووهي، مګر د تصادف له مخي سرتيري د نورو بنديانو په کونو ګوته ونه منډل. زه بشپړ باور لرم چې دغه کړني يوازې په دی خاطر وي چې موږ بی عزته کړی.

د تحقيق مشر د قيس خالد څخه وپوښتل چې نوموړی د بهرنيانو سره په مخالفو کړونو کې ګډون لري؟ ځواب نه وه. نوموړي داسې شواهد و نه ښودل چې د نوموړي تړاو يي د مخالفينو سره په اثبات رسولو. تر تحقيق وروسته يوې بلې خيمې ته يو وړل شو، هلته يي وليدل چې د (از زبير) د سيمې څخه نور بنديان هم ناست دي. دوی ته اوبه او ډوډۍ نه ورکول کيدل او تشناب ته هم نه پريښودل. نومونه يي ليکل کيدل او يو انځور يي اخيستل کيدي.

عراقي سرتيري او پوليس خيمې ته راغلل، دوی نارې راباندی وهلي او دوباره يي د بنديانو سترګي وتړلي، دوباره د پايکپ موټر د باډي پر څنډه کښينولو او حرکت يي وکړي.خالد قيس وايي : د لاري په اوږدو کې ټيله کولو، په لغتو او د توپک په کښتنۍ برخه يي وهلو. تر نيم ساعت وروسته د بصرې د ښار د پوليسو مشهور مرکز، ال جماعت ته ورسيدلو. دغه د پوليسو مرکز په ۲۰۰۴ ز کال کې د بنديانو په زورولو او شکنجه کولو کې شهرت درلودي. مرکز د شيعه پوځيانو په واک کې وو چې دوي خپله جګړه د سني مسلمانانو پر ضد د قيس براک په شان کسانو په مقابل کې پيل کړی وه.

کله چې د پوليسو مرکز ته بنديان راورسيدل، قيس خالد براک اړ اسيتل شو چې په دهليز کې پروت وي، هغه کسان چې په دهليز کې تيريدل نوموړی يي په لغتو وهلو. وروسته د تحقيق له پاره کش کړل شو او سترګي يې تړلي وي. کله چې د تحقيق کوټې ته ننوت، سملاسې يی د قيس په وهلو او ټکولو پيل وکړي، دا يي ورته ويل چې ته د شيعه مسلمانانو او بهرنيو پوځونو مخالف يې. نوموړي يي په لرګي (لکړه) او شلاخه (کيبل) وهلو. نوموړي ته يي پر سينه او تناسلي اله برقي شوک ورکړي. نوموړي يي په يو چنګک په لاسو ځوړند کړي نو د نوموړي اوږې بند زخمی شو. قيس براک يي په مرګ تهديد کړي.

لومړنی تحقيق ددرو نفرو په واسطه دري ساعته دوام وکړي چې همدغه دري نفرو تحقيق او شکنجه ورکول. تر تحقيق وروسته نوموړی پورته کيدلای نه شو

نو ځکه يي په يو څادر کې تاو کړی او کوټې ته يي کش کړلو. قيس براک وروستۍ پنځه ورځې پروت و او دردونه يي دومره زيات وو چې پر پښو دريدلای نه شو. په سالون کې تقريباً (۱۲۰) تنه سني مسلمانان بنديان وو، د (از زبير) مسجد څخه نور بنديان هم وو. په دغه لوی سالون کې هم بنديان ارام نه پريښودل کيدل. د شپې په نيمايي کې به پوليس چې مخونه به يي پټ کړی وو، راغلل او د بنديانو په وهلو به يي پيل وکړي.

د محکمې په غونډه کې قيس خالد براک وويل چې ټول پوهيدل چې د پوليسو په دغه مرکز کې څه جريان لري او د کوم ډول خلکو له خوا اداره کيږي. دريمه ورځ بيا تحقيق ته يووړل شوو، شکنجو دوام درلودي خو د برق شوک نه و. نوموړی اړ ايستل شو چې د خپلې ګوتې نښان پر يو کاغذ ولګوي، د لوستلو امکانات يي نه درلودل ځکه سترګې تړلې وي. لس ورځې وروسته قاضي ته وروستل شو. قيس وايي چې زموږ اتهام نامه راته ونه لوستل شول، قاضي دومره وويل چې زه پوهيږم تاسي بيګناه ياست، ولې بيا هم ستاسو لاسونه په وينو رنګ دي ځکه ظلمونه مو کړي دي.

قاضي ورته وويل چې ته ځکه مجرم ګڼل کيږي چې د صدام حصين د ټولو ظلمونو ګناه چې د شيعه ګانو په وړاندې کړی دي، مسوليت يي لري. قاضي نوموړي خوشي نه کړی، بل زندان ته يي وليږلم تر څو بلې محکمې ته انتظار وباسي. نوموړي د عراقي پوليسو له خوا هم ووهل شو. قيس ته وړانديز وشو چې کيدلای شي خوشي شي که د نوموړي کورنۍ مرسته وکړي او يو لوي مقدار پيسي ورکړي. بيا هم نوموړي هغه زندان، ال جماعت ته په بصرې کې چې تحقيقات ورڅخه کيدل، راوړل شو. خو دا ځل وهل ترټل لږ وو او وروسته خوشي شو. نوموړی بيا هم ډار درلودي چې دوباره به زنداني شي. په همدغه وجه د ۲۰۰۵ زکال د فبوري په مياشت کې قيس خالد او نژدي کورنۍ يي اردن، وروسته بهرين ته کډوال شول تر څو وروسته په کويټ کې استوګن شول.

د قيس خالد براک شکايت د ډنمارک پر دولت د ډنمارکي وکيل کريستين هارلانګ[۵۰۵] له خوا څخه مخته وړل کيدي، البته د موضوع په تړاو د انګريزي وکيل،

- Christian Harlang[۵۰۵]

پیل شینر [۵۰۶] او عراقي وکیل، مازین یونیس [۵۰۷] چې په عراق کې د بشر د حقوقو د سازمان وکیل و او د (۱۴۲) عراقي بندیانو دوسیه يي د انګلیستان د حکومت پر ضد مخته وړل، چې تر اوس پورې پریکړه ورباندي نه ده شوي ، مرسته ورسره کیده.

د قیس خالد براک سره (۶) تنو عراقي بندیانو په ۲۰۱۱ زکال کې د ډنمارک د دفاع وزارت څخه شکایت درج کړی.

عراقیانو د هغه غیري انساني چلند په وجه چې د دوي سره د بندي کولو په جریان کې شوي وو او هم د هغه چلند په وجه چې د انګریزانو له خوا د تحقیقاتو په جریان کې په انګریزي مرکز، شیبا لوګ کې ورسره شوی وو، تاوان غوښتي. نوموړو هغه تاوان هم غوښتي چې ډنمارکي پوځیانو دوي د شکنجه کولو له پاره د ډیرو اونیو له پاره عراقي پوځیانو ته د ال جماعت د پولیسو مرکز ته په بصره کې تسلیم کړي وو.

پنځه عراقیان د عدلي طب معایناتو ته ولیږل شول، نوموړي د عدلي طب د فروفیسور، یورګن لانګ تامسن [۵۰۸] چې د اودینسي [۵۰۹] د پوهنتون په عدلي څانګه کې کار کوي او د شکنجو ورکونکو زندانیانو د څیړنې (۲۸) کلنه تجربه لري، له لورې معاینه شول. نوموړي فروفیسور د پولیټکن ورځپاڼې ته د خپلو معایناتو په تړاو وویل: د دوي پر وجود ټپونه نه معلومیږي، او که ټپونه معلوم هم شي، ستونزمنه ده چې وویل شي چې دا ټپونه د شکنجو ورکولو څخه پاته دي. ما د دوي سره څو ځله خبري وکړي، د دردونو او علایمو په تړاو مې پوښتني ورڅخه وکړي. زما د معایناتو د ارزونې پایلې وښودل چې دوي رښتیا وايي.

---

[۵۰۶] - Phil Shiner
[۵۰۷] - Mazin Younis
[۵۰۸] - Jørgen Lange Thomsen
[۵۰۹] - Odense

یورګن لانګ ټامسن خپل رپوټ د شکنجه ورکړل شوو د دوباره احیا کوونکونړیوال سازمان ته[٥١٠] تسلیم کړي. د رپوټ پایله دا شوه چې عراقي بندیان په دومداره توګه فزیکي شکنجه شوي دي.

د دغو زندانیانو څخه ډیري یي ډول ډول شکنجه شوي وو چې د بیلګې په توګه د ځنګونو په مینځ کې د اوسپنې میله ورکول او وروسته لاسونه او مړوندونه یي ټینګ ورتړل. بندیان پر پښو تر هغه وخت پوري وهل کیدل چې پښې به یي وپړسیدلې. یورګن لانګ ټامسن وایي چې د پنځو بندیانو تر اوس پورې هغه ترخه خاطرات د افکارو څخه نه وه وتلي:

« دوي ډار لري، خوب یي خراب دي، ډاروونکي خوبونه ویني خو سره د هغه هم د (٧) کلنو په جریان کې حالت یو څه سم شوی وو. دوي د دومداره سر دردي څخه شکایت درلودي. د دوي زیاترو نفرو ته د بیخوبي جزا (د لږ خوب اجازه ورکول کیدل او سملاسي یې په وهلو ویښول) ورکړل شوی وه. هغه کسانو ته چې شکنجې ورکړل شوی وي، په معمولي توګه د لوړ ږغ او غالمغال سره حساسیت لري او ژر قهر ورځي.

یو څو ورځي وروسته عراقي ورځپاڼې، المناره یو[٥١١] مضمون خپور کړي چې سرلیک یي (ډنمارکي پوځیان په شکنجه ورکولو کې ګډون کوي او یا د شکنجو سیل کوي پرته چې مداخله وکړي) خپور کړي. د مضمون د خپرولو سره په عراق کې د ډنمارکي پوځ مشر او د ډنمارک حکومت دغه تورونه رد کړل او یوه اوازه یي وګڼل. خو د ډنمارک دغه خبر د ورځپاڼې مرستیال مشر، موفق الریفایي رد کړي. نوموړی دا ومنل چې سرلیک تحریک کوونکي دي خو نوموړي په ټینګار وویل چې زموږ د خبر سرچینې ویلی دي چې عراقي سرتیرو بندیان شکنجه کړی دي چې وهل او برق ورکول هم ور په کښې شامل وو. دغه شکنجې د ٢٠٠٤ زکال د نومبر د (٢٥) نیټې د عملیاتو په تړاو د (از زبیر) په ښار کې ورکړل شوې وې.

نوموړي ټینګار وکړي چې د شکنجو څخه ډنمارکي پوځیانو ته خبر ورکړل شو خو ډنمارکیانو هیڅ غبرګون و نه ښودي چې شکنجه ورکول ودروي.

---

[٥١٠] - IRCT

[٥١١] - Al- manarah

د عراق د جغرافيي انستيوت محصل، نادر اسماعيل عراقي ورځپاڼې ته داسې وويل: «کله چې موږ به ډنمارکي پوځيانو ته د شکنجو څخه شکايت وکړي، موږ به تر پخوا زيات شکنجه شولو.»

يو پرستار، زهير حبيب عباس داسې بيان کوي:«ما او نورو بنديانو ډنمارکي پوځي ته د خپلو شکنجو په تړاو معلومات ورکړي چې موږ وهل او ډبول کيږو. پوځي راته وړانديز وکړي چې رسنيو ته خبر ورکړو.»

په همدغه علت موفق ال ريفايي ډنمارکي ورځپاڼې، پوليټکن ته وويل چې ډنمارکيان په غيري مستقيمه توګه د شکنجو په ورکولو کې مسوليت لري. دا ځکه چې دوي د شکنجو د درولو له پاره هيڅ غبرګون نه دي ښودلي. کله چې ډنمارکی پوځيان عراقي پوليسو ته مسوليت سپاري نو عراقيان مسولين دي. که چيري عراقي پوليس د باور نه وي او د بشر حقوقو ته درناوی نه لري، بايد ډنمارکيان په دا ډول عملياتو کې ګډون ونه کړي.

د ډنمارکي پوځ لوی درستيز، يسپر هيلسيو دغه ادعا نه مني. نوموړي وايي چې په عملياتو کې انګريزانو، عراقيانو او ډنمارکيانو ګډون درلودي، او ډنمارکيانو ځوک بندي نه کړی دي نو ځکه د عراقيانو د شکنجې ورکولو مسوليت هم نه لري. موږ د هغه چارې مسوليت لرو چې موږ ترسره کړی وې او عراقيان د خپلو کړونو مسوليت لري. موږ د شکنجو ورکولو څخه خبر نه يوو.

د ډنمارک د حکومت لخوا د لوي درستيز د بيان ملاتړ وشوو. د ډنمارک صدراعظم، اندريس فوک غاسموسن د ٢٠٠۴ زکال د ډسمبر پر (٧) نيټه د اونۍ په وينا کې داسې وويل: عراقي ورځپاڼې د درواغو کيسې بيان کړي دي چې هيڅ بنسټ نه لري، نو ځکه حکومت نه غواړي چې د موضوع د څيړنې له پاره کمسيون وټاکي. دا به لومړی او وروستې د درواغو کيسه نه وي، نورې دا ډول کيسې به هم د عراقيانو د ګروپونو له لورې بيان شي.»

د ډنمارکي پوځ د پوځيانو مشر، جان ډالبيو يو نوښت وکړي چې عراقيانو د امنيتي مسولينو سره د تورونو په تړاو خبري وکړي. خو د عراق امنيتي مسولين پښيمانه وه چې ګواکې بنديان يي نه دي شکنجه کړی نو په دغه ترتيب دغه دوسيه وتړل شول. په همدغه ډول د ډنمارکي پوځ د ميډيا مشر اعلان کړل چې عراقي پوځيان د بنديانو سره زموږ په پرتله بل ډول چلند کوي چې کنترول يې زموږ له پاره ستونزمن دي چې هلته پر بنديانو څه تيريږي.

ډيرې مياشتې تيرې شوې وي چې د پوځ مرکزي قوماندانی او د دفاع وزارت معلومات تر لاسه کړي واي چې عراقيان په بنديخانو کې زندانيان شکنجه کوي. په ۲۰۱۳ زکال د سپتمبر په مياشت کې د بخښنې نړيوال سازمان د وخت د دفاع وزير، سويند اوج ينسبيو ته په نيغه ليکلي و چې بنديان شکنجه کيږي. د ۲۰۰۴ زکال په پيل کې د نړيوال سره صليب له لورې د امريکا حکومت ته يو رپوټ برابر شوی و چې خپور شوی هم وو. په رپوټ کې راغلي وه چې بنديان پر ملا په لغتو او کيبل ، د بدن په کښتنيو برخواو په خوټو کې وهل کيږي. لاسونه يي اولچک کيږي، د کوټې د کړکيو پر فلزي برخو او يا په دروازه پورې ځړيدلي په ساعتونو پاته کيږي. همدا ډول په سګريټو سوځول کيږي.

د ۲۰۰۴ زکال د ډسمبر په مياشت کې داسې حالت مينځته راغی چې عراقي امنيتي مسولينو د ډنمارکيانو اخطارونه د شکنجو په تړاو په بی پروايي سره ځان ورڅخه ليري کاوه. د ډنمارکيانو سره په ګډو عملياتو کې عراقي پوليسو (د ال قورنا) ښار ته نژدې لس بنديان شکنجه کړی وو. د ډنمارکي پوځيانو د رپوټ له مخې د لارو غلو، درې عراقي محلي پوليس وژلي وو. عراقي او ډنمارکي پوځيانو د دغه مجرمينو د نيولو هڅې ګړندي کړی وي. د دوي تر مينځ ډزې وشوي چې لس تنه يي ونيول شول. عراقي پوليسو بنديان وتړل او تورې خولې يي په سر ور واغوستلي. وروسته عراقي پولسيو بنديان په لغتو، سوکانو او د توپک په قنداق باندي ووهل. ډنمارکي پوځيانو مداخله وکړه او د شکنجي ورکولو مخه يي ونيوله. بيا هم بنديان د عراقيانو سره پاته شول خو ډنمارکيانو د انګريزي پوځيانو څخه وغوښتل چې د بنديانو حالات وڅاري.

د شکنجې ورکولو موضوع دغه سرحد ته ورسيدل چې د ډنمارکي پوځيانو د څلورم پوځي واحد د ارزونې په رپوټ کې د ۲۰۰۴ زکال د فبوري په مياشت کې راغلي و چې عراقي پوځيان دومره پوهه نه لري چې دغه دنده مخته يوسي.

د زده کړو کمښت د دي باعث کيږي چې عراقي پوليس د بنديانو سره روغ چلند نه کوي کوم چې څو ځله ډنمارکي پوځيانو د خراب چلند مخه نيولي ده.

د پورته معلوماتو درلودلو سره سره، ډنمارکي پوځيانو د (۱۵۰۰) عراقي پوليسو سره ګډ کار ته د خپل مسوليت په ساحه کې دوام ورکړي چې برعکس بايد ګډ کار يي په ټپه درولای واي.

د ډنمارک پوځ د مشرتابه ارزونه په کوپنهاګن کې دا وه چې د عراقي پوځيانو ښوونې او روزنې ته باید لومړیتوب ورکړل شي. عراقیان داسې وروزل شي چې امنیتي دندې په بریالیتوب سرته ورسوي او د هیواد په داخلي امنیت او ثبات کې مهم رول ولوبولای شي.

ولې باید هیره نه وي چې د عراق د پوځ جوړښت، مشرتابه او مسلکي پوهاوي د دغې غوښتنې څخه ډیر لیري ښکاري.

برسیره پر دغه په ګډو لویو عملیاتو کې خطر زیات دي ځکه د عملیاتو پلان د عراقیانو له لوري افشأ کیږي. بله خبره دا ده چې معلوماتونه د هغو محلي خلکو څخه راټولیږي چې هیڅ وخت علاقه نه لري چې ستونزې حل شي.

یا په بل عبارت د ډنمارکي پوځ، څلورم پوځي واحد شپږ میاشتي د ۲۰۰۴ زکال د اګست څخه تر ۲۰۰۵ زکال د فبوري ترمیاشتي پوري خبر وو چې عراقي پولیس بندیان شکنجه کوي، معلوماتونه د مجرمینو او وسلوالو مخالفینو په واک کې ورکوي، خو د ستونزو د حل له پاره هیڅ اقدام نه کوي.

د ارزونې پایله داده چې ډنمارکي پوځ باید د عراقي پوځ د مشرتابه څخه ملاتړ وکړي، سازماندهي يي ور جوړه کړي او هم د دندو د ښه اجرأ کولو میتودونه ور زده کړي.
ډنمارکي پوځ د نوي عراق د پارلمان په لومړیو ټاکنو کې ډیر مصروف وو چې د ۲۰۰۵ زکال د جنوري په (۳۰) تر سره کیدل. د ټاکنو د کمپاین په موده کې د مخالفو سیاسیونو د وژلو دوران وو او همدا ډول د عراق پر پولیسو او د ټاکنو پر محلونو بریدونه زیات وو.

د پوځ مشرتابه د ارزونې په رپوټ کې لیکلي و چې دغه بریدونه د ټاکنو د ځنډولو، د خلکو د ډارولو چې د رایه ورکولو ځایونو ته حاضر نه شي، له پاره وو. په رپوټ راغلي و چې د ټولو ګوانښونو سره سره د ټاکنو په ورځ ډیرې محدودې پیښې وشوي.

په ټاکنو کې د شیعه ګانو متحد ګوند (۴۸) سلنه وټونه خپل کړه، په داسې حال کې د عراق (۶۰) میلیونه نفوس څخه (۶۰) سلنه شیعه ګان جوړوي نو ځکه ویلای شو چې د وټونو پایلې د شیعه مسلمانانو له پاره ځانګړی بریالیتوب نه ګڼل کیږي.

د ټاکنو پروسه تر مذهبي او قومي سيوري لاندې وه، ياني وټونه د دوو فکټونو په پر بنسټ ويشل شوي وو. شيعه مسمانانو د شيعه ګانو د مشر ايت الله علي ال سيستاني ملاتړ د ځانه سره درلودې. د شيعه ګانو ډلې د دوو ګوندونو، داوا[512] او سکيرى[513] له لوري رهبري کيدلې.

کردان د عراق (۲۰) سلنه جوړوي چې څلورمه برخه وټونه يې خپل کړي وو. مګر د ليږد (انتقالي) حکومت لنډه مهاله صدراعظم، اياد علوي[514] چې غيري مذهبى دي، دريم مقام يې درلودې. په بدل کې ډيرو سني مسلمانانو د ټاکنو سره بايکاټ کړي وو او يا دا چې د ترهګريزو بريدو د ډار څخه د ټاکنو په ورځ په کورنو کې ناست وو. همدغه علت و چې تقريباً (۵) ميليونو سني مسلمانانو د پارلمان د (۲۷۵) چوکيو څخه څو محدوې چوکۍ په لاس راوړي. دا نسخه د ګډوډې پيل وه.

د جهمور ريس مقام سمبوليکه بڼه درلوده . ټول واک د صدراعظم سره و چې د «داوا» د ګوند مشر، ابراهيم ال جعفري تر لاسه کړ. نوموړي په ايران کې کډوال و، په ۲۰۰۳ زکال کې عراق ته راغلي او د هغې انتقالي شورا غړيتوب يي تر لاسه کړي کوم چې امريکايانو جوړه کړه وه. نوموړي پوهيدي چې د داخلي جګړې خطر شته ځکه سني مسلمانان د واک يوه برخه نه وه. ابراهيم ال جعفري هڅه وکړه چې خلک ارامي ته راوبولي. شيعه او سني مسلمانان د داخلي جګړې غوښتونکي نه وه. دا د خداى تعالى څخه يوه غوښتنه وه. د بغداد په شمال او لويديزه برخه کې د سني مسلمانانو ناخوښي د شيعه ګانو او بهرنيو ځواکونو په وړاندې مخ پر زياتيدو شوه. همدا ډول بريدونه د عراق په جنوبي برخو کې هم ډير شو. دا بريدونه د شيعه ګانو د مختلفو ګروپونو ترمينځ وو. دا بريدونه د شتمنيو د راټولو او قاچاق په خاطر چې محلي دولتي ادارې او امنيتي چارواکي تر کنترول لاندې راولي. د بصري په ښار کې وژنې، تښتونې او په رڼا ورځ بريدونه د ورځې موضوع شوه. په ځانګړي توګه د ال صدر ال مهدي وسلوالو د بهرنيانو پر مرکزونو د بمونو غورځولو بريدونه پيل کړه او د لارو پر سر يي ماينونه ورته ښخول. عامو وګړو هم د ال صدر ال مهدي څخه ملاتړ وکړي او

[512] - Dawa
[513] - SCIRI
[514] - Ayad Allawi

په خپل خوښه يي د ښځو پر وتلو او کړونو باندې بنديزونه ولګول. د ښار پر ديوالونو باندې ښځو ته اخطارونه وليکل شوه چې بايد مخونه ښکلي (ارايش) نه کړي او د لويديزو جامي وانه غوندي. وسلوالو پر غربي او عربی موزيک باندې هم بنديز ولګاوه او سرغړوونکو ته يي سزا ورکول. يوازې مذهبي سندرو ته اجازه وه. عادي وګړو کوښښ کاوه چې د کورونو څخه بهر ته د راوتلو څخه ډه ډه وکړي تر څو د وسلوالو د قهر او غوصې څخه په امان وي. عراقي پوليس هم د خلکو د ستونزو حلوونکي نه وو بلکې د ستونزو يوه برخه وه.

د ۲۰۰۵ زکال د اپريل پر (۱۰) نيټه د شپې پر (۲) بجو عمليات پيل شول. عمليات د ډنمارکي پوځيانو تر مشرتابه لاندې په ګډه د انګريزي پوځيانو سره پيل شول. څلورو چورلکو انګريزي پوځيان د شپي کښته کړه، نوموړو پوځيانو يو شمير کورونه د (ال هراتا)[٥١٥] په شمالي برخه کې کلابند کړل، پوځيانو راپور درلودي چې يو خطرناک وسلوال په همدغه کورونو کې پټ دي. ډنمارکي پوځيان هم د کلي لوري ته نژدې شوه او کلی يي کلابند کړي. پوځيانو د چورلکو په مرسته ټولې لاري څارلي چې پر پښو او موټرانو کې څوک د ښار څخه بهر ته ولاړ نه شي.

دغه کس چې بايد نيول شوي وای، شفري نوم يي، براو ون و او ډير خطرناک او ظالم جنايت کار و چې و بصرې ته د مسافرينو پر موټرانو يي بريدونه کول او د تيلو قاچاق يي هم کولو. پوځي مشرانو څو اونۍ کار وکړي چې د نوموړي د پټن ځای په اړوند معلومات تر لاسه کړي. څه وخت مخکي هم ډنمارکي پوځيانو په همدغه سيمه کې عمليات کړی وو خو نوموړي يي ونه نيولای شوای. په هغو عملياتو کې نوموړی ته څو ساعته مخکې خبر ورکول شوی و. دا ځل د عملياتو پلان په بشپړه توګه پټ ساتل شوی و، څو محدود کسان د عملياتو د وخت او نورو جزيياتو څخه خبر وو. د ډنمارکي پوځ په بريښنايي پاڼه کې وروسته ليکل شوي وو چې د دغه جنايت کوونکي او ګروپ په تړاو د معلوماتو راټولول ډير ستونزمن کار و. عامو وګړو د ډار څخه خوله نه خلاصوله او پوليسو د نوموړي د انځور د پيژندلو څخه هم انکار کولو. دغه جنايتکار په سيمه کې ډير ډار خپور کړي وو، نوموړي جنايت کار، پر (۶) شميره لار چې د ډنمارکيانو د مسوليت سيمه وه، ډير کلونه د خلکو د ازار سبب کيدي. دغه جنايت کوونکې د (۱۹) قتلونو، غلاوو، قاچاق او تښتونو مسول ګڼل شوی وو. د

[٥١٥] - Al Hartha

ډنمارکي (۴) پوځي واحد سرتیرو په بدل کې د (۵) پوځي واحد سرتیري راغلي وو. د دوي په مینځ یو پوځي قانون پوه، یس ریکبیو کنودسن [۵۱۶] شتون درلودي. نوموړي د پورته عملیاتو د پلان په جوړولو کې ګډون درلود او په غیري طبعي ډول د عراق د پوځ مشر او مرستیال هم ګډون درلودي.

یس ریکبیو کنودسن وایي: زما د پاره یو چانس و چې ټول ګډونګي د قوانینو څخه خبرکړم. زه پوهیدلم چې دوي نه پوهیدل چې موږ تر عملیاتو وروسته د بندیانو سره څنګه چلند کوو. یس ریکبیو کنودسن د سره صلیب او د بشر د حقوقو د هغه راپورونو څخه خبر و چې د بندیانو سره په عراقي جیلونو کې څنګه چلند شوی دي.

یس ریکبیو کنودسن وایي: موږ دغه شکنجې دومداره نه ګڼلي او دغو شکنجو ته مو د یوې پیښې په سترګه کتل. موږ ډیره انرژي د نوموړي جنایت کوونکي په تړاو مصرف کړل. په دی مانا چې موږ د عراق د پوځ مشر ته وویل چې د دغه شخص تر نیولو وروسته هغه باید سملاسی د نورو تحقیقاتو له پاره قاضي ته وسپارو.

تر عملیاتو څو ساعتونه وروسته د انګریزي پوځ له خوا په مخابره کې خبر راکړل شوو چې دوي نوموړی جنایت کوونکي، براو ون، نیولي دي.

یس ریکبیو کنودسن د راز د محرمیت په خاطر د بندي کولو جریان بیان نه کړي خو د بندي کولو جریان یي د پوځ د نورو عملیاتو سره پرتله کړي.

یو ډنمارکي پوځي او یس ریکبیو کنودسن په بیړه د یو ژباړونکي او یو لاربښود سره هغه ځای ته چې نوموړي نیول شوي و، ولاړل تر څو باور پیدا کړي چې نیول شوی نفر همهغه اصلی کس دي. لاربښوونکي ډاری دي نو ځکه یي نه غوښتل چې وپیژندل شي. په دغه خاطر نوموړي د سکي لوبو یوه خولی په سر واغوستل او د ژباړن سره یې یوه شفري علامه کښیښودل، که همهغه اصلي نفر وي نو به نوموړي ژباړن په څنګ ووهي. وروسته دوي دوو ختینو کورونو ته ننوتل، هلته انګریزي پوځیان د تیارسي په حالت کې د وسلو سره ولاړ وو او یو شمیر کسان یي کښینولي وو. یس ریکبیو کنودسن غوښتنه وکړه چې ټول بندیان حویلی ته راوباسي. دنمارکي پوځي وایي چې په همدغه شیبه لاربښوونکي ژباړن

---

[۵۱۶] - Jes Rynkeby Knudsen

وټومبي او نفريي وپيژند. لاربښوونکي وغوښتل چې سملاسي د همدغه ځای څخه ليري شي.

نوموړي پوځي وايي چې دغه ډراماتيکه عمليات پاي ته ورسيدل. وروسته انګريزي پوځيانو، براو ون، او نور بنديان ټاکلي ځای ته انتقال کړل. وروسته يي څلور واړه بنديان عراقي پوليسو ته وسپارل. دا چې وروسته د دغو جنايتکارانو او يا د پاتي درو نفرو سره څه وشول، معلومات نه شته.

په بريښنايي وېبپاڼه کې راغلي و چې انګريزي سرتيرو د سيمې په تلاښي پيل وکړي. سرتيرو په يوه نږيدلي ځای کې لس صندوقه مرمۍ وموندلي خو د ساعتونو تلاښې وروسته يي بل څه و نه موندل. د ورځي پر (۱۱) بجي عمليات پای ته ورسيدل، ډنمارکي پوځيان يو ځای د انګريزي پوځيانو سره د ډين ونګ کمپ ته ولاړل.[۵۱۷]

دوي ورځي وروسته نيول شوي مهم نفر براو- ون مړ شو. نوموړي د عراقيانو په زندان کې شکنجه شوی وه. يس رانبيو کنودسن د مړي انځورونه وليدل. د دغه پيښې سره سره ډنمارکيانو ګډ کار د عراقيانو سره متوقف نه کړي.

د موضوع د څيړنې له پاره ډيرې هڅې وشوي چې د پيښې مسول کس پيدا شي. ټول هغه عراقي پوليس چې د بنديانو ساتلو مسوليت يي درلودي، د موضوع څخه يي ناخبري ښودل.

يس رانبيو کنودسن وايي چې څه موده تيره شوه چې موږ بيا د عراقي پوځيانو سره ګډ عمليات تر سره کړه خو موږ دوي ته د بشر د حقوقو په تړاو تدريس کړی وو. په ډنمارک کې د دفاع وزارت مشرتابه د هغه بندی د مرګ په تړاو خبر خپور نه کړي. د دفاع وزارت په پاڼه کې يوازې دومره ليکلي و چې د بندی کولو عمليات په برياليتوب پای ته ورسيدل. يولس ورځې وروسته دډنمارکي ورځپاڼي، بيرلنګسکه ډيدنده[۵۱۸] د عملياتو خبر خپور کړي خو د مړه زندانی په تړاو څه ليکل شوی نه وه. په بدل کې څرګنده شوی وه چې عمليات يوه ښه نمونه وه چې محلي خلکو د ترهګرو او مجرمينو په اړوند معلومات راکړی وو.

---

[۵۱۷] - Comp Denevang

[۵۱۸] - Berlingske Tidende

په وروستيو دوو مياشتو کې خلکو پر ډنمارکي پوځيانو ډېر باور پيدا کړی دي. داسې ښکاري چې ټولنه مثبت لوری ته پرمختګ کوي او هڅه کوي چې ناخوالي له مينځه يوسي. ولسونه په دی اهميت پوهيدلي دي چې درست راپوروونه ډنمارکيانو ته ورکړي تر څو په ټاکلو ځايونو کې عمليات تر سره شي. د دفاع د وزارت څخه يوازني رپورټ په لاندې متن د پارلمان مسول کمسيون ته ورسيدي:

«د اپريل پر (۲۶) نيټه د عراقيانو، ډنمارکيانو او انګريزانو په ګډو عملياتو کې يو بندي وروسته د عراقيانو په زندان کې مړ شوی دي. تر پنځو کلنو وروسته ډنمارکي ورځپاڼې انفرميشن [۵۱۹] د يو امريکايي پوځي د معلوماتو له مخې څرګنده کړه چې مړ شوي زنداني، عباس علوي نوميدي کوم چې د الجماعت د پوليسو مرکز ته په بصره کې سپارل شوي و.

دا هغه د پوليسو مرکز و چې تر عباس علوی پنځه مياشتي مخکې قيس خالد براک او د نومووړی سره نور سني مسلمانان بنديان شکنجه شوی وه. په هغه وخت کې د پوليسو دغه مرکز د يو مشکل په توګه ګڼل کيدي او د انګريزانو د ترينينګ ګروپ ويل چې دغه پوليس په محلي جنګياليو بدل شوی دي.

د انګليستان مشهور ژورناليست چې جايزه يي هم اخيستي وه، ستيفن ګری [۵۲۰] د ۲۰۰۵ زکال د اکتوبر په مياشت کې په انګليسي مجله کې يوه مقاله وليکل چې سرليک يي و. [۵۲۱] نوموړي په ليکنه کې څرګنده کړه چې څنګه انګريزي او ډنمارکي پوځيان د عراقي پوليسو د نوموړي مرکز په تړاو معلومات درلودي او پوهيدل چې څنګه مذهبي جنګياليو د بصرې پر پوليسو بشپړ واک درلودي. د ۲۰۰۵ زکال د جنوري په مياشت کې نوموړي ژورناليست د عراقي پوليسو د مرکز د مشر، عباس عادل علي څخه پوښتنه وکړه چې په څه ډول د پوليسو مرکز نوي پوليس وموندل؟

---

- Information[۵۱۹]
- Stephen Grey[۵۲۰]
- The New Statesman[۵۲۱]

د پولیسو مشر ځواب ورکړ چې د بدر او صدر د جنګیالیو څخه. او همدارنګه د شیعه ګانو د خصوصي جنګیالیو څخه چې په ترتیب سره د سیرى [522] ګوند او مقتدا الصدر ډلو څخه وو.

ستیفن ګرى په لیکنه کې جوته کړه چې د انګریزي پوځ مشران د اشغال د پیل څخه د دوو خرابو څخه د یوه په انتخاب مکلف وو. دوي اړ وو چې یا دواړه ګروپونه رد او یا هم ومني. دغه ځواب نوموړي ژورنالیست د انګریزي پوځي څخه واوریدي. نوموړي وویل دوي بنسټپال نه دي کوم چې د بصري په پولیسو کې نفوذ لري، دوي پولیسو ته قوت ورکوي.

په حقیقت کې د انګریزي پوځي په آند دا ستونزمنه وه چې زموږ پوځیانو د دغو دوو لویو ګروپونو سره مقابله کړي واى. بدبختانه داسې حالت رامینځته شو چې د پورته ډلو مهمو کسانو په پولیسو، پوځیانو او ملکي ادارو کې ځاى ونیوي او د بهرنیو پوځیانو غیري رسمي ملګري وو. انګریزانو هڅه وکړه چې په غیري مستقیمه توګه بنسټپال د پولیسو د لیکو څخه لیري کړي او د شکنجو پر ضد هم عمل وکړي مګر عراقیانو د شکنجې ورکولو ځاى د پولیسو د مرکز څخه انتقال کړي. یو ویجاړ شوى نایټ کلپ (د نڅاه او موزیک مرکز) د شکنجو مرکز شو. هر شپه به د سني مسلمانانو او عیسویانو جسدونه کوڅي ته غورځول کیدل چې سبا په رڼا کې به وموندل شول. په ظاهري بڼه ډنمارکي او انګریزي پوځیانو د غټ ګوند [523] سره کار کولو خو د نوموړى ګوند د پوځي برخې، بدر پوځیانو څخه یي واټن نیوي. کله کله د الصدر د پوځیانو سره مخامخ (مخالفت) کیدي مګر دا اساسي مقابله نه وه.

یو انګریزي پوځي په ۲۰۰۵ زکال ستیفن ګرى ته وویل چې د واک دغه بیلانس په څه ډول چلیدي. د اس ئى اى ار اى مشرتابه علاقه نه درلوده چې د انګریزانو سره مقابله وکړي. کوم ځانګړى دلیل یی هم نه درلودي چې د انګریزي پوځیانو سره وجنګیږي. دوي پوهیدل چې دوي ډیره کي دي او پرته د جګړې څخه واک تر لاسه کولاى شي.انګریزانو د واک د دغه بلانس په خاطر برید نه کولو. یو

---

[522] - SCIRI
[523] - SCIRI

انګریزی پوځی وویل: « که موږ د زور څخه کار اخیستی وای، موږ به ژر د دوي دښمنان ګڼل شوي وای چې دغه توان په موږ انګریزانو کې نه وو.»

کله کله به انګریزي پوځیان د ډیر خواشینونکي حالت سره مخامخ کیدل، د بیلګې په توګه د ال حمرا په سهیلي برخه کې داسې یو څوک د والي په توګه وټاکل شو چې د هغې ډلې سره به یې اړیکې درلودې کوم چې د شپږو انګریزي پوځیانو قاتلان وو خو انګریزي پوځ هغه ومنئ. د ډنمارک د بهرنیو چارو وزارت هم په دغه ځانګړی حالت خبر وو.

د ۲۰۱۰ زکال د اکتوبر په میاشت کې ډنمارکي ورځپاڼې، انفرمیشن ولیکل چې په ۲۰۰۵ زکال کې د بهرنیو چارو وزارت خبر و چې براو ون او الیاس عباس علوي چا او په څه ډول وژلی دي. د یوې ډیپلوماټیکې سرچینې د رپوټ له مخې عراقي پولیس په بصره کې په وژنو، شکنجو، فساد، تهدیدونو او بریدونو کې ښکیل وو چې پر عادي ملکي وګړو یې اجرآ کول.

همدغه علت و چې د ډنمارک د هغه وخت سفیر، توربن ګیټرمین [۵۲۴] او د انګلیستان سفیر، ټیم ټورلوټ [۵۲۵] په بغداد کې د کورنیو چارو د وزیر، بقر جبر [۵۲۶] دفتر ته ورغلل او د عراقي پولیسو د کړونو څخه یې اعتراضیه لیک ورتسلیم کړي او هم یې د عباس علوي د مړینې رپوټ ورکړي. د همدغې سرچینې د رپوټ له مخې د قتل مسول یو افسر د عباس مونیس په نوم یادیدي، کوم چې وروسته د نورو دو پولیسو سره چې په جرم کې شامل وو، د دندې څخه ګوښه کړل شوي وه. دغو دوو ډیپلوماټانو د عباس علوي د مړي څخه د عدلي طب څیړنې هم راوړي. د ډیپلوماټیکي سرچینې په رپوټ کې راغلي و چې د عدلي طب څیړونو ښودلي وه چې عباس علوي شکنجه او وهل شوی وه، وروسته وژل شوي و.

---

[۵۲۴] - Torben Gettermann

[۵۲۵] - Tim Torlot

[۵۲۶] - Baqr Jabr

انګلیسي ډیپلوماټ وزیر ته وویل چې ستونزه تر دی نور هم زیاته ده او په ټینګار یي ورته وویل چې د رشوت اخیستنه او په فساد ککړ پولیس زیات دي چې د بصرې ټول خلک شکایت ور څخه لري.

په همدغه وخت کې د ډنمارک د بهرنیو چارو وزارت خبر و چې په بصره او شاوخوا کې ستونزې ډیرې دي، په دی اړوند یي اندیښنه ډیره وه چې باید د عراق حکومت ته اطلاع ورکړي. د دغو ټولو اندیښنو او خبرتیا سره سره بیا هم د بهرنیو چارو او د دفاع وزارتونو اقدام ونه کړي چې باید بندیان یي د عراق پولیسو ته تسلیم کړي نه واي. دغه معلوماتونه عامه خلکو ته بربنډ نه شول.

د دفاع وزیر سیون ګیده [٥٢٧] دوه کاله وروسته د ډیپلوماټانو او د عراقي وزیرانو سره غونډه وکړه، د یو موتي ګوند [٥٢٨] یوه مخکښ غړي، رون لوند [٥٢٩] د دفاع وزیر څخه وپوښتل: ایا تاسو خبر واست چې ډنمارکي پوځیان یا د ډنمارکي پوځیانو د ګډون په حالت کې بندیان د ډنمارکي، انګریزي، عراقي او افغاني زندانو کې شکنجه کیدل؟

تر دغه وخت پورې د دفاع وزیر د ۲۰۰۷ زکال د اګست پر (۳۰) نیټه داسې ځواب ویلی و: موږ داسې معلومات نه لرو چې بندیان دي د ډنمارکي پوځیانو تر تسلیمیدو وروسته شکنجه شوي وي.

سیون ګیده قطعي ځواب ووایه چې ډنمارکي سرتیرو بندیان نه دي شکنجه کړی. خو دا یي ونه ویل چې د ډنمارکي پوځیانو ګډون د نورو پوځونو سره او بیا بندیان هغوی ته تسلیمول شکنجه شوی دی که نه؟ که نوموړي پوښتونو ته بشپړ ځواب ویلي وای باید پارلمان ته یي د عباس علوي د مرګ په تړاو هم معلومات وړاندې کړي واي. د پوځ د پولیسو څخه، جګړن مایل لنډیو نیلسن [٥٣٠] د خپل بل همکار سره په ګډه شاهدي ورکړه چې د انګریزانو سرتیرو د ۲۰۰۵زکال د اپریل په (۱۰) نیټه د کلي څخه په داسې حال کې راووتل چې براون هم ورسره

---

- Søren Gade[٥٢٧]

- Enhedlisten[٥٢٨]

- Rune Lund[٥٢٩]

- Mikkel Lundø-Nielsen[٥٣٠]

وو. وروسته عراقي امنيتي ځواکونه ورغلل او بنديان يي تسليم کړل. نوموړي سرتيري چې د (۵) پوځي واحد غړي و کله چې عراق ته د ۲۰۰۵ زکال د فبوري په مياشت کې راغلي، نوموړي او، ام پی سرتيرو[٥٣١] ته د پوځي واحد د مشرتابه لخوا وويل شول چې موږ د بنديانو په تړاو ډنمارکي موډل تطبيق وو، مانا دا چې د بنديانو په تړاو حقوقي مسوليت د خپلو اوږو څخه غورځوو.(ژ: د قانون څخه په رڼو سترګو تيښته او د پيښو څخه سترګي پټول هم دغومره ګناه ده چې شکنجه ورکوونکي يی لري. داسې بيلګې د امريکايي پوځيانو له خوا د نړۍ په ډيرو برخو کې ليدل شوي دي چې تورن کسان يي هغو هيوادونو ته استولي دي چې شکنجه ورکول ورځنی کار وي. موخه يي دا وي چې د نړيوالو په سترګو کې خاوري وپاشي چې ګواکې دوي څوک نه دي شکنجه کړی.)

نوموړي جګړن وايي چې دا کړنه ډيره مايوسونکي وه چې موږ د بنديانو حالت تر څارنې او تعقيب لاندې نه نيوي. موږ پوهيدلو چې د عراق سيستم د فساد او غبن څخه ډک دي او پوليس يي هم مجرمين دي. نو په دغه خاطر مهمه وه چې موږ د بنديانو حالت په عراقي زندانو کې تر تعقيب او څارنې لاندې نيولي وای.

نوموړی جګړن وايي چې سياست والو د څارنې او تعقيب څخه ډار درلودي او زما په آند زما پر مسلک په دغه کړونو سره ناوړه ګذار شوی دي. زه هلته د دي له پاره ليږل شوي وم چې خپلې چارې په ښه توګه مخته بوزم نه دا چې چارې په نيمايې توګه اجرأ کړم. موږ کولای شوای چې د ام پی په ډول د بنديانو حالت کنترول کړو او مطمينه شوو چې د بنديانو سره انساني چلند کيږي. خو په ډنمارک کې ډيرو سياستوالو دا نه غوښتل او حقوقي مسوليت اخيستلو ته يي غاړه نه ايښودل نو ځکه موږ ته يي دا واک نه وه راکړي چې بنديان کنترول کړو.

جګړن مايل لنډيو نيلسن باور نه لري چې ډنمارکي پوځيانو به براو ون ته نجات ورکړی واي که ډنمارکيانو د هغه د تعقيب مسوليت هم درلوداي. نوموړي ډير ژر مړ شو ځکه په سيمه کې هغه دومره بدنام و. نوموړي جګړن د عراقي زندانيانو په تړاو تر ډيرې کچې معلومات

- MP[٥٣١]

درلودي ځکه جګړن د ګډو قواوو په استازيتوب د باروکي[۵۳۲] د پوليسو د مرکز سره کډ کار کاوه او دغه مرکز ډير نور کوچني پوليسي واحدونه تر لاس لاندې درلودل. نوموړي د عراقي پوليسو د ناوړه چلند په تړاو د خپل پوځي واحد مشرتابه ته خبر ورکړی وو او تلاښ يي کړي و چې د پوليسو عمومي مشر د ډنمارکيانو د نظر څخه خبر کړي. خو حالات ښه نه شول او موږ هم يو سرحد درلودي چې څومره مخته ولاړ شوو. نوموړی وايي چې موږ اړ وو چې عراقي سيستم ومنو ځکه موږ اشغالګر نه وو. (ژ: چې اشغالګر نه واست نو څوک واست چې د صدام په ګډون مو په لکونو انسانان ووژل؟) زموږ په پوځي واحد کې ټول خبر وو چې عراقي پوليس د جنګياليو تر تينګې اغيزې لاندې وه.

عراقي جنګيالو کوښښ کاوه چې په عراقي پوليسو او پوځ کې ډير واک تر لاسه کړي. موږ موضوع تر څېړنې لاندې نيولی وه. دا کيدای شوای چې پوليسو په خوله يو څه ويلای خو موخه يي بل څه وای. موږ هر وخت ځارکاوه چې دا جنګيالي دي که په رښتيا پوليس دي. موږ يو رپوټ برابر کړي او د پولسيو د مشرانو په تړاو مو ارزونې وړاندې کړي.

جګړن مايل لنډيو نيلسن د بارکي د پوليسوو د مشر سره ښې اړيکې درلودي خو پرته د شک څخه نوموړی پوهيدي چې د پوليسو مشر د مخالفو جنګياليو سره اړيکې او تړاو لري. همدغه علت و چې اداري فساد شتون درلودي. جګړن مايل لنډيو نيلسن په دغه تړاو داسې بيان کوي: «د پوليسو مشر په بصره کې غټ کور درلودي. خو د دا ډول کور درلودل د نوموړي د معاش سره هيڅ انډول نه درلودي. د معاش او د کور د ارزښت محاسبه کول کومې د رياضي پوهې ته اړتيا نه لري.»

جګړن مايل لنډيو نيلسن وايي چې زموږ پوځيان په ځينو برخو کې بی واکه وه، ځکه په عراق کې د واک اخيستلو په لانجه کې جنګياليو او قومي مشرانو اغيزه درلوده. که څه هم زموږ پوځيانو ته کله نا کله د دفاع وزارت له لورې د عراقي امنيتي ځواکونو د بعضی اشخاصو په اړوند معلوماتونه رارسيدل خو موږ يوازې ننداره کوله چې څه پيښيږي.

---

[۵۳۲] - Barouki

زمونږ هڅې ډیرې لږ وې چې کافي معلومات د عراقیانو د واک نیولو په لانجه کې لاسته راوړو او مونږ ډیره اغیزه هم نه ورباندې درلودله ځکه په واقعیت کې زمونږ معلومات ژور نه وو.

د ۲۰۰۵ زکال د اګست په میاشت کې د عراق په امنیتي ځواکونو [۵۳۳] کې د ناامیدي حالت رامینځته شو چې پولیس، پوځ او خبر تولونکې اداري یې په بر کې نیولي. دغه معلومات د پنځم ډنمارکي واحد له خوا ډنمارک ته واستول شو. د واک پر سر لانجو د مذهبي او سیاسي کړیو تر مینځ دعراق امنیتي قواوې دومره تر اغیزې لاندې راوستلي چې په روښانه ډول یې د دوي د فعالیتونو په سستوالي کې رل ولوباوه. په راپور کې راغلي و چې مختلفو سازمانونو خپل مرکز تقویه کولو. د راپور څخه جوته وه چې مخالفو جنګیالیو د عراق د امنیتي سیستم په ټولو برخو کې ځای نیولی دي چې په لنډه توګه داسې بیانیږي:

«د واک پر سر لانجي د همیشنیو تبدلیو، د کار څخه د ګوښه کولو او وژلو سبب کیږي. د امنیتي قواو څخه په محدوده کچه د امنیتي وضعیت د مهارکولو له پاره ګټه پورته کیږی. په بدل کې د امنیتي قواو په دننه کې پر یو او بل ځار کیږي او صداقت د خپل ګروپ له پاره وو.

په ریپوټ کې راغلي و چې سیاسي او مذهبي ډلو، بهرني پوځیان یوازې په ناخوښي زغمل.

د ډنمارکي پوځ مشرتابه د امنیت له پاره لوي چالش جرایم په ګوته کول ځکه د مخالفو جنګیالیو سره اړیکې ټینګې وي. د مجرمینو، قومي مشرانو، امنیتي ځواکونو او ترهګرو تر مینځ اړیکې د روانو اوبو په څیر وې.

سره د دغه هم د ډنمارکي پوځ مشرتابه وړاندیز وکړی چې د انګریزانو په ډول، ډنمارکیان هم باید اجازه ولري چې بندیان په نیغه عراقي امنیتي ځواکونو ته تسلیم کړي. دا یو غیري طبعي وړاندیز و ځکه چې ډنمارکي پوځیان د بندیانو په تړاو حقوقي مسولیت درلودلای شي، د دي پرځای چې مسولیت یې د انګریزانو او عراقیانو غاړې ته اچولی وای. وړاندیز هیڅ وخت و نه منل شو. د هغه وخت د پوځ لوی مشر، ټیم سلوټ یونسن [۵۳۴] پوښتنه وکړه: سره د دي چې ډنمارکیان

- ISF[۵۳۳]
- Tim Sloth Jørgensen[۵۳۴]

پوهيدل چې د بنديانو تسليمول و عراقي امنيتي ځواکونو ته دا خطر درلودي چې بنديان شکنجه کيږي، خو ولې بيا هم ډنمارکيانو بنديان هغوي ته پريښودل.

ټيم سلوټ ينسن خپله داسې ځواب وايي: «موږ په داسې يو حالت کې قرار درلودي چې د بنديانو د ساتلو له پاره مو ځای نه درلودي نو ځکه اړ وو چې په همهغه ورځ يې بيرته خوشي کړو. دغه علت وو چې ښه وه، بنديان مو انګريزانو او يا عراقيانو ته تسليمول ځکه دوي د بنديانو د ساتلو له پاره امکانات او وسايل درلودل.»

په پيل کې يوازې انګريزانو تورن کسان بنديانول خو وروسته عراقيانو هم تورن کسان نيول ځکه د دوي خپل هيواد وو او وروسته موږ د ټولو امنيتي مسوليتونو د انتقال پروسه و عراقي امنيتي ځواکونو ته پيل کړل. نوموړي وايي چې بايد داسې و انګيرل شي چې مسوليتونه د انتقال په حالت کې وه. هغه علاوه کوي چې جګړه هيڅ وخت يوه ښه غوښتنه نه ده خو د اړتيا په صورت کې پيليږي.

ټيم سلوټ يونسن وايي: د دفاع وزارت مشرتابه څو ځلې هڅې وکړې چې دغه لويه ستونزه د خپلو اوږو څخه ليري کړي خو دا ستونزمنه وه چې ځواب او يا درسته ارزيابي لاسته راشي. نوموړي وايي: ممکن علت دا وي چې دغه پوښتنه نهايي ځواب نه لري. بله ښه لاره دا وه چې د بنديانو مسوليت انګريزانو او عراقيانو ته ورکړي. او ورته کړنه په افغانستان کې هم د بنديانو سره کيدل او کيدلای شي دغه پرنسيپ د ډنمارکي پوځيانو په راتلونکو عملياتو کې هم تر سره شي. کله چې څوک د بنديانو مسوليت بل مقام ته ورکوي، دا خطر شته چې د غوښتنې مطابق چلند ورسره ونه شي. دا خطر هم شته چې وهل، ټکول او شکنجه او يا تر دی هم بد چلند ورسره وشي. ټيم سلوټ يونسن وايي دغه د جګړې د يوې برخې پايلې دي.

ټيم سلوټ يونسن وايي که ډنمارکيانو بنديخاني هم درلودلای او بنديان يې ساتلای، خو په يو ټاکلي وخت کې عراقيانو ته سپارل کيدل: « دغه حالت چې په زړه پوری نه دي، راتلونکي و، جګړه دا ډول پايلي لري، همدغه علت دي چې د جګړې تر پيليدو مخکي دقيق سنجش وشي ياني جکړه پيل شي که يا؟

تقريباً د عراقيانو له لوری د شکنجو ورکولو په ټولو دوسيو کې د نړيوالو پوځونو سره ځانګړي علاقه نه وه چې د پيښو په تړاو څيړنې وکړي. دغه معلومات د

ویکیلیکس[535] له لوري د ۲۰۱۰ زکال د اکتوبر په میاشت کې د نړۍ د عامو خلکو په واک کې ورکړل شوو. په ټولیزه توګه د امریکا د دفاع وزارت، پنتاګون ۳۹۱۸۳۲ پټ راپورونه درلودل چې بربنډ شول، د دغو پټو معلوماتو بربنډول د نړۍ تر ټولو زیات معلوماتونه وه چې رسوا شول. د دغو معلوماتو څخه ډنمارکي ورځپاڼې، انفرمیشن او بریتانیایي ورځپاڼې، ګارډین ولیکل چې په څه ډول امریکایانو د عراقي پوځ او پولیسو د وهلو، شکنجه ورکولو، جنسي تیریو او وژنو د راپورونو څخه سترګې پټولي، په داسې حال کې چې د همدغو پوځیانو سره یي ګډ کار کولو. په رپوټونو کې د ټولو شکنجه ورکونکو نومونه چې په پوځ، پولیسو، سرتیرو، د زندانونو د امرینو او د سرحدي ځواکونو یي دندې درلودې، یاد شوی دي.

د ویکلیکس په رپوټ کې راغلي دي چې بهرنیو ځواکونو په قصدي توګه د عراقي پوځونو د ناقانونه او ظالمانه چلند څخه سترګې پټولي. په سلګونو راپورونه د بندیانو د شکنجه کولو په تړاو بهرنیو ځواکونو ته را رسیدل، خو بهرنیانو به دومره ولیکل: (نورو څیړونو ته اړتیا نه شته.»

دغه لیکنه کیدلای شي د ۲۰۰۴ زکال د جون د میاشتې د پوځ امریې ته وګرځي. د پوځي امریې شمیره او نوم فراګو ۲۴۲[536] کې داسې راغلي و:

«ملاتړو بهرنیو ځواکونو ته امر کیږي چې د قانون څخه سرغړونې، وسلوال چلندونه او د بندیانو شکنجه کول دی نه څیړل کیږي که زموږ ځواکونه (بهرني ځواکونه) ګډون په کښې و نه لري.»

که چیري د عراقیانو تر مینځ وسلوال ټکر وي، ابتدایي راپور باید بشپړ شي خو اضافه څیړونو ته اړتیا نشته. هغه وخت اضافه څیړنې وشي چې د عمومي قوماندانې[537] څخه امر وشي.(دغه مطلب په امریه کې لیکل شوی و.)

د ګارډین او انفرمیشن د ورځپاڼو د معلوماتو له مخې د ملاتړو پوځونو تلاښ دا وو چې مسولیت د عراقیانو پر اوږو واچوي.

---

[535] - WikiLeaks

[536] - Frago 242

[537] - HQ=Hovedkvarteret

د انفرميشن ورځپاڼې د راپور له مخې چې د ويکيليکس افشاء شوي اسناد يې لوستلي او څيړلې دي، داسې څرګنديږي چې ډنمارکي او عراقي پوځونو په ګډه په ۲۰۰۴ او ۲۰۰۵ زکلونه کې (۹۵) تنه عراقيان بنديان کړي دي چې لږ تر لږه يې (۶۲) بنديان عراقي مقاماتو ته سپارلي دي. دا شميره د دفاع وزارت د شميرې څخه ډيره لوړه ده ځکه د دفاع وزارت د پارلمان د دفاعي چارو کمسيون ته په ۲۰۰۶ زکال کې يوازې د (۲۱) عراقي بنديانو په تړاو معلومات ورکړي وو.

د ويکيليکس د معلوماتو پربنسټ د ډنمارک د دفاع وزارت ۲۰۱۰ زکال د اکتوبر په مياشت کې د عراقي بنديانو د شمير د معلومولو په څيړونو پيل وکړي کوم چې ډنمارکيانو بنديان کړي وو. په همدې ډول د هغه وخت د دفاع وزيرې، ګيټه ليله لوند بيچ[538] چې د بښې ليبرال ګوند غړې وه، اعلان کړه چې د عراقي بنديانو په تړاو بايد هر څه وڅيړل شي او پايله يې په عامه خبرتيا ورسول شي. د دفاغ وزارت د قوماندې په مرکز کې يو (۲۰) نفري څيړنيز ګروپ د توربن ميکلسن تر[539] مشرتابه لاندې وټاکل شوو. لومړی د ويکيليکس اسناد تر څيړنې لاندې ونيول شول، هلته ځينې اسناد لاسته راغلل چې کيدلای شوای څو تنه عراقيان د ډنمارکيانو لخوا بنديان شوی وو. وروسته د هر نفر نوم د مرکز او په عراق کې د پوځي واحد د ورځنې راپور سره پرتله شوه. وروسته څيړونکي هيت ټول مخابروي معلوماتونه کنترول کړل. دا يوه پيښه نه وه. د مختلفو حالتونو رپوټونه او د عراقي پوځي واحد د اونيو راپورونه کم وو او هر سرتيري د يو عراقي د بندي کولو له پاره بيل بيل تعريفونه درلودل مانا دا چې څه وخت يوه عراقي ونيول شي، بندي ورته ويل کيږي. د دغو څيړونو پايله دا شوه چې د عراقيانو بندي کول چې د ډنمارکيانو د ګډون احتمال په کښې کې وو، د ۱۰۰۰ تنو څخه ۵۰۰ تنو ته را لږ شوو.

---

- Gitte Lillelund Bech[538]
- Torben Mikkelsen[538]

د ډنمارکيانو په واسطه د عراقيانو نيول هغه وخت د ډنمارکيانو ګڼون ګڼل کيږي چې ډنمارکي پوځيانو پر عراقي بندي لاس ايښی وي او فزيکي کنترول يې ورباندې درلودلي وي، دا تعريف د پوځ د ۲۰۰۷ زکال د وروستي وخت د ډيارکتيف په اساس و. بنديان په دوو کټګوريو وويشل شول: هغه ګروپ بنديان چې په ډنمارکي عملياتو کې انګريزانو او عراقيانو ګډون درلودي نو ډنمارکيانو د مسوليت څخه ځان خلاص ګڼي. بل هغه ګروپ بنديان وو چې په ځرګنده توګه د ډنمارکي پوځيانو مسوليت معلوم نه وو.

مخکې تر دي چې د څيړنيز کمسيون کار پای ته ورسيږي، د پارلمان د ټاکنو اعلان وشو. د ۲۰۱۱ زکال د سپټمبر په مياشت کې نوي حکومت د سوسيال ډموکراټانو په مشرتابه د خلکو د سوسياليست ګوند [۵۴۰] او کيڼ اړخه راډيکال ګوند [۵۴۱] په ګډون رامينځته شو. په دغه وخت کې سوسيال ډموکراټ، نيک هيکروف [۵۴۲] د دفاع د وزير په توګه وټاکل شو. د حکومت د پروګرام يوه برخه دا وه چې يو کمسيون وټاکل شي تر څو د عراق او افغانستان جګړې وڅيړئ. په دغه خاطر د مخکني کمسيون کار ودرول شوو.

د ۲۰۱۱ زکال د ډسمبر پر (۱۶) نيټه د دفاع وزارت لوی درستيز کنود بار ټلس [۵۴۳] د دفاع وزارت ته وليکل چې ډنمارکيانو د (۲۰۰۳ ـ ۲۰۰۷) زکلو په مينځ کې ۵۰۰ تنه عراقيان زنداني کړی دي خو دا شميره ۱۹۸ تنه نه وه کوم چې تر اوس پوري موږ ته معلومات راکړل شوي وو. په ليک کې يادونه شوي وه چې په لږ کچه بنديان په غيري قانوني توګه د ډنمارکي پوځيانو له خوا عراقيانو ته تسليم شوی دي. په همدي ډول د بنديانو راجستر کول، د بنديانو څارنه او هم د بنديانو تسليمول د مقرراتو مطابق نه وو. لږ وروسته د دفاع وزير رپوټ د پارلمان اړوند کمسيون ته واستوي او ويې ليکل: «چارې سمې نه وي» او همدا ډول کيدلای شي چې پخوانيو پوښتنې او ځوابونه چې د پارلمان لخوا شوې وې، د پوښتنې علامه ورته کښيښول شي. ليکونه او د بنديانو دغه لوړه شميره (۵۰۰)

---

[۵۴۰] - SF

[۵۴۱] - De Radikale Venstre

[۵۴۲] - Nick Hækkerup

[۵۴۳] - Knud Bartels

تنه د پولیټیکن په ورځپاڼې کې خپاره شوه. د دفاع وزیر ورځپاڼې ته وویل چې دا یوه نمونه ده.

مګر دا کیدلای شوای تر دی هم بدتره وي. د ۲۰۱۲ زکال د فبوري په میاشت کې پولیټکن ورځپاڼې رسوا کړه چې د څیړولو کمسیون په ۲۰۱۱ زکال کې یو شمیر مهمو پټو اسنادو ته لاسرسی پیدا کړي وو. ورځپاڼې هڅه وکړه چې د اسنادو کاپي تر لاسه کړي خو هغوي د ورځپاڼې دغه غوښتنه رد کړه. سره د دي د ورځپاڼې سرچینو د یاد داشتونو محتویات افشاء کړل او دا یې هم څرګنده کړه چې څیړونکي کمسیون په څه ډول اسناد پټ کړي وو.

دغه یا داشتونه د مرکزي قوماندې د مرکز په یوه کارتن کې چې لیري غورځول شوی و، پیدا شول. کوم استوونکي نوم نه و، پته نه وه ور باندې لیکل شوی ، بل هیڅ نوم ورباندې نه و. معلومات دومره دقیق په یاد داشت کې لیکل شوی وو چې ارتباط یي په بیړه د کمسیون غړو ته څرګند شوو. یاد داشت د نورو هغو پاڼو سره پروت وو کوم چې د هغو بندیانو په تړاو معلومات ور په کښي کې وو چې انګریزي او عراقي پوځیانو ته تسلیم شوی وو او د غه معلوماتونه د ۲۰۰۷ زکال د اپریل په میاشت کې پارلمان ته ورکړل شوي وو. په هغه وخت کې د دفاع وزیر، سیون ګیده د یو موتې ګوند یو لوړ پوړي سیاستوال ته ویلي و چې د بندیانو ټوله شمیره (۱۹۸) تنه وه. دغه مطلب یې د دفاع وزارت د پارلمان په غونډو کې (۱۳) ځله تکرار کړی وو. د ۲۰۰۷ زکال د اپریل د (۲۴) نیټې څخه د وزارت دغه ځواب و. نو ځکه دغه ځواب د عراق د موضوع په تړاو یو مرکزي او اساسي ټکي و چې بحث ورباندې جریان درلودي. په یاد داشت کې لیکلي وو چې غټه ستونزه دا وه چې د بندیانو د شمیرې په اړوند درواغ ویل شوی وو. د مرکزي قوماندې د مرکز د شمیرې له مخې د بندیانو شمیره لږ تر لږه (۵۰۰) تنه وه.

د ستر درستیز جنرال پاول کیاسکوو [٥٤٤] ته دوه ځلي د بندیانو په تړاو خبر ورکړل شوی وو، لومړي ځل د (۲۰۰) تنو او دوهم ځل د (۳۰۰) تنو بندیانو اطلاع ورکړل شوی وه چې په ټولیزه توګه (۵۰۰) تنه بندیان کیدل. د جنرال پاول کیاسکوو ډیرو پوځیانو نظر درلودي چې پارلمان ته د زیاتي شمیري عراقي بندیانو معلومات ورکول او د شمیرې په تړاو د شک درلودل پر ځای او ښه

- Poul Kiærskou[٥٤٤]

چاره وه. وروسته د قوماندي د مرکز او جنرال پاول کیاسکوو تر مینځ پر شمیرې باندې بحث وشوو او د پارلمان د ۲۴۳۴ پوښتنې په ځواب کې همږغې شوه چې د (۱۹۸) شمیره وکاروي. نو ځکه دغه ځواب د ۲۰۰۷ زکال د اپریل پر (۲۴) نیټه پارلمان ته د هغه د دفاع د وزیر، سیون ګیده په لاسلیک واستول شو. په ځواب کې ولیکل شول چې په شمیرې کې شک شته خو د دفاع وزیر دا هم جوته کړه چې زموږ د ځیږونو پایله د عراقي بندیانو یو درست انځور ترسیموي. وروستنې څلور کاله د دفاع وزارت د (۱۹۸) شمیرې باندې ټینګار کولو خو په پوځ کې ډیر کسان وو چې د بندیانو د شمیرې په تړاو یې شکونه درلودل.

د هغو پوځیانو نومونه چې امر یي ورکاوه د ورځپاڼې د معلوماتو پر بنسټ په یاد داشت کې نه وه ذکر شوي. ولې د ځینو سرچینو په حواله دغه پوځي چې امر یي ورکاوه د پوځ د عملیاتو قوماندان، جنرال پاول کیاسکوو و. د نوموړي دلیل دا و چې د پوځ د باور چاپیریال له مینځه ځي که دا څرګنده شي چې د بندیانو شمیره تر ښودل شوي شمیرې زیاته وي. بله ستونزه دا وه چې جنرال پاول کیاسکوو د ۲۰۰۲ زکال راوروسته د ډنمارکي عملیاتي پوځ مشر و او هم نوموړي مسول و چې د بندیانو شمیره یي لږ ښودلي وه. د یاد داشت څخه داسې نه څرګندیدل چې نوموړی جنرال ته د پاسه د دفاع وزارت او یا د فاع وزارت د مرکزي قوماندې د محل څخه دا ډول امر شوی وي. د جنرال پاول کیاسکوو اجرأت او امریه د پوځ د نړیوالو عملیاتو د څانګې په افسرانو کې نا امیدي رامینځته کړی وه او داسې ښکاري چې ذکرشوي یاد داشت همدغه افسرانو لیکلی وي.

کله چې د ځیږونو د کمسیون مشر توربن میکیلسن د ۲۰۱۱ زکال د مي په میاشت ذکرشوی یاد داشت ته لاسرسي پیدا کړل، سملاسي د هغه وخت لوی پوځي مشر، کنود بارتیلس[٥٤٥] ته ورغي. د کمسیون غړي په همدغه وخت کې پوهیدلي وو چې د بندیانو شمیره تر ښودل شوی کچې زیاته ده. کله چې د یاد داشت څخه څرګنده شوه چې د پوځي عملیاتو مشر څلور کاله مخکې په غلطي پوهیدي او هغه یې په عمدي توګه پټ کړی وو، نو د دوسیې جوړولو له پاره بنسټ پیدا شو. وروسته دغه یاد داشت د دفاع وزیر او نورو اړوندو پوځي

- Knud Bartels[٥٤٥]

مشرانو ته خبر ورکړل شوو. د دفاع وزیرې، ګیتی لیله لوند بچ[٥٤٦] له پاره د یاد داشت محتوي ډیره مهمه وه ځکه جنرال پاول کیاسکوو مقام لوړ شوی و یاني د ناټو په کمیټه کې د ډنمارک د استازې په توګه مقرر شوی و. په همدي توګه جنرال پاول کیاسکوو د پوځ د مشرتابه له پاره تر کنود بارتیلس وروسته احتمالي نوماند و.

حقوقي ګروپ پلټنې پیل کړي خو د پلټونو په جریان کې د یوې ستونزې سره مخامخ شول: دغه اسناد تر دوو کالو زیات زاړه وو چې په پوځي جزایي قانون کې د دغې مودې اسناد زاړه ګڼل کیږي او د څیړولو اجازه یي نه شته. حقوقي ټیم د ۲۰۱۱ زکال د نوامبر په میاشت کې د پوځ مشرتابه ته اطلاع ورکړل. خو حقوقي ګروپ وړاندیز وکړ چې کولای شو د شخص په تړاو دوسیه برابره کړو نو په همدغه خاطر د دفاع وزیر پلټنې پیل کړي چې دا کار شونی دی که یا؟ د ۲۰۱۲ زکال د جنوري په وروستیو ورځو کې پاول کیاسکوو ته دنده ورکړه شوه چې د موضوع په تړاو تفصیلي معلومات وړاندې کړي. په همدغه ډول ډګرمن هینس هینریک میولر[٥٤٧] چې په ۲۰۰۷ زکال چې د نړیوالو پوځي عملیاتو مشر و، دنده ورکړه شوه چې معلومات وړاندې کړي. دواړو مشرو افسرانو نه غوښتل چې د عامه پوهاوی له پاره د موضوع په تړاو څه ووایي.

موضوع یوازې دا نه وه چې پارلمان ته غلط معلومات ورکړل شوي وو خو د مشخصو بندیانو په تړاو هم وو. دا کیدلای شوای چې د عراقي بندیانو له پاره ډیري خرابي پایلې ولرلای شی چې شمیره یي کمه ښودل کیدل. دا مانا لري چې ډنمارک د خپلي څارنې مکلفیت پر ځای کړي نه دي. په ډنمارک کې د عمومي بخښنې د سازمان مرستیاله، ترینه کریستنسن[٥٤٨] د پولیټکن ورځپاڼې ته وویل: «موږ پوهیږو چې په پراخه کچه وژنې، شکنجې او وهل د عراق په زندانو کې شوی دي. زموږ اندیښنه یوازې داده چې د بندیانو سره څه شوی دي؟ دا موضوع ډیره جدي ده.»

---

- Gitte Lillelund Bech[٥٤٦]

- Hans Henrik Møller[٥٤٧]

- Trine Christensen[٥٤٨]

بندیان یوازنۍ ستونزه نه وه. د ډموکراسۍ جوړونه هم په رښتیا سره د جوړولو په حال کې نه وه. ډنمارکي پوځیان د پیل څخه (۲۰۰۳ زکال) د ښاري او ولایتي شورا په جوړولو بوخت وو، خو واک بل ځای و.

قومي مشرانو پریکړه کول چې څه باید پیښ شي. ډیرې ستونزې د قومونو تر مینځ وې او زیاتو قومونو تر پوځ ډیرې درنې وسلې درلودې. محلي شیخان وو چې د مخالفو ګروپونو تر مینځ یې سوله او میانجګري کول او یا خو لږ تر لږه یې د دوی ترمینځ اوربند اعلانولو. زموږ موخه دا وه چې ښاري او ولایتي شوراګاني د قومونو واک محدود کړي چې د بصرې او شا وخوا سیمو له پاره ډیموکراټیک بنسټ کښیښودل شي. خو ډموکراټیکو بنسټونو د قومونو له پاره یو سر درد وو ځکه دوی په سلګونو کلونو هم دغسې رواج درلودې. همدغه علت و چې د قومونو تر مینځ د واک پر چلولو او پریکړو باندې شخړې رامینځته کیدې. په ۲۰۰۵ زکال د شیخانو تر مینځ غونډه وشوه او د قومونو پر ګډه شورا سره سلا شول. د دغې شورا جوړول ډنمارکي پوځیان اندیښمن کړل چې د ۲۰۰۵ زکال د اګست د میاشتې په رپوټ کې داسې ولیکل:« د عراق په جنوبي برخو په کلیو کې قومي جوړښت په قوت سره پر مخ ځي، هیڅ عراقي فردي عمل نه کوي، هر څوک په خپلې قبیلې پورې تړلي دي. د واک چلولو دغه میتود د عراق په جنوب کې د کلتور یوه برخه ده چې د ډموکراسۍ د جوړولو په تړاو لوی خنډ دي.

شیخان پریکړه کوي چې د ښار او ولایتونو په شوراګانو کې څوک استازیتوب وکړي. د بیلګې په توګه شیخ پریکړه کوي چې د شورا له پاره څوک نوماند شي او چا ته وټونه ورکړل شي. دغه میتود په قبیله کې د منلو وړ دي او د شیخ هدایت د انتظار له مخې باید عملي شي، که د رایو اچونه سري (پټه) هم وي. هر قبیله کوښښ کوي چې خپل دخوښې استازي وټاکي او د هغه څخه غوښتنه کیږي چې د خپلې نژدې قبیلې او قوم غوښتنو ته پاملرنه وکړي.»

د عراق د ټولنې بیا رغونه هم په سیاسي خبرو کې یو خوږه کلمه وه. په ډیرو سیمو کې حالت د خراب څخه د ډیرو خرابیدو لوري ته په خوځښت کې وو. په ښو حالاتو کې موږ وتوانیدلو چې د برق او اوبو غم په ډیره لږه کچه وخورو. د داخلې راپور لوستل هم د ښې راتلونکي زیری نه درلودې: «پروژې د اوبو او بریښنا فعالولو ته ښه والی ورکولای نه شي خو فقط دوی فعاله ساتي. برقي سیستمونه د مایوسي په حالت کې دي. د ډیرو برقي تاسیساتو او د اوبو د مرکزونو

ځخه په دوامداره توګه وسایل غلا کېږي او هغه ورانوي. د تاسیساتو د بیا رغونې کار په ټولو ځایونو کې ډېر مایوسونکي دي.»

لنډه ارزونه داسې وه چې د ناراضي حالت سره ګذاره کول وو. « یوه بیړنۍ ډنمارکي ستراتیژي چې د بیا رغونې کار ته لومړیتوب ورکړل شي، اړتیا شته. د بیا رغونې کار د اوسنۍ ستراتیژي پر بنسټ ناکامه دي. مرستندویو ټولنو د عراق د ترینګلي حالت په خاطر په لویه پیمانه ځانونه ایستلي دي، ځکه دوي باور نه لري چې د پرسونل امنیت یې خوندي دي. مرستندویه ټولنې نه غواړي د امنیتي ځواکونو تر ساتنې لاندې کار وکړي ځکه د دوي کار کوونکي د یاغیانو د حملو موخه ګرځي او هم د دوي بې پریتوب زیانمن کیږي چې دا کار د دوي د پرنسیپونوسره په مخالفت کې دي.

په بدل کې د ډنمارک حکومت په ٢٠٠٤ زکال کې د ګډ فکر پروژه په کار واچول. د بهرنیو چارو د وزارت ملکي متخصیصینو باید د لیږل شوو سرتیرو سره په ګډه همکاري د بیا رغونې کار پیل کړي چې د مرستندویو ټولنو تشه ډکه شي. دا پروژه ډیره په زړه پورې وه که د سیمیک [٥٤٩] د پروژې سره چې د اوبو او بریښنا پر تأسیساتو یې کار کولو او هم د باور د رامینځته کولو پروژه چې د فوټبال د میدانونو جوړول یې دنده وه، پرتله شي. د بیا رغونې نوي پروژه ډېره غټه وه چې د ښوونځیو د رغولو او د سړکانو د بریښنا احیأ کول یې هم په بر کې نیول. د ډنمارک پارلمان په پیل کې (٣٥٠) میلیونه کرونه بودجه منظور کړل چې سرتیري یې د ملل متحد تر چتر لاندې په بصره کې ولګوي.

نو پنځم پوځي واحد لومړی پروژه پلی کړه خو د دغه پوځي واحد په شپږ میاشتنې شتون کې د بیا رغونې یوه پروژه هم پای ته ونه رسیده. پوځي واحد د امنیت ساتلو له پاره بشپړ امکانات درلودل خو د پلان نه درلودلو کمښت و چې کومې پروژې ته د لومړیتوب حق ورکړي. فساد دومره پراخ وو چې د ډنمارکي پیسو یوه برخه د اغیز ناکو شیخانو سشخصي جیبونو ته ولویدل، ځکه دوي د پروژې د ساتلو پیسي غوښتې چې د پروژې عراقي کارکونکو ته اجازه ورکړي چې د دوي په سیمه کې کار مخته بوزي. اضافه بلونه ډنمارکیانو ته راغلل ځکه دوي د ارزانه کار په نظر کې نیولو سره بودجه منظورکړی وه. رشوت او فساد په

---

٥٤٩ - CIMIC

دولتي مامورينو کې هم ريښې زغلولې وي، د دودانيو د دوسيو د ژر خلاصولو له پاره يي پيسي اخيستلي.

فساد په لويه کچه په عراق کې شتون درلودي، دا ځکه چې د دوي د کلتور يوه برخه وه او په بشپړه توګه يې له مينځه وړل ناشونې دي.

د پنځم پوځي واحد په وروستي داخلي رپوټ کې ليکلي وو: «که ډنمارکي مواد د سيميک او بيا رغونې له پاره وکارول شي، نو فساد تر يوې کچې د منلو وړ دي.» دغه راپور تر دوکالو شتون د عراق په جنوب کې نور روحي نا ارامي نه راکول. د ډنمارک د دفاع وزارت او حکومت د ستونزې په اړوند پټه خوله وه.

پرته د قبيلوي تربګنۍ او د لارې پر سر د بمونو ښخول چې له نيکه مرغه د سرتيرو وژل په کښې ونه شول، دغه ډول خوشبينه معلوماتونه د پوځ په ويبپاڼه کې خپريدل. د مدالونو ويشل، په کمپ کې د کنسرتونو جوړول او زميني توت په کانتين کې معرفي کول د عراقي اصطلاح (ميلمه پالنه) سره د قوانداناو او شيخانو په ملاقاتونو کې چې دسترخوان به د پسو په غوښو او سره کړو بانجانو ښکلي شوي وو، د ډنمارکي پوځيانو دنده ګرځيدلي وه. د ډنمارک حکومت د ستونزو او وضعيت د ترينګوالي په تړاو هيڅ نه ويل. کله چې د امريکا ولسمشر جورج بوش په ۲۰۰۵ زکال د جولای په مياشت کې د ډنمارک د صدراعظم سره په ډنمارک کې وليدل، د عراق د ستونزو په تړاو ډير بحث و نه شو. په ډنمارک او امريکا کې د خلکو د فشارونو سره سره پوځيانو د شتون په تړاو، بيا هم د پوځيانو د وتلو موضوع د بحث له پاره نه وه ټاکل شوي. په بدل کې جورج بوش د ډنمارک د صدراعظم، اندرس فوک غاسموسن څخه په عراق او افغانستان کې د پوځي مرستو په خاطر مننه وکړه. د دوو مشرانو تر مينځ نور بحث په نړۍ کې د اقليم د ستونزو، د انکشافي مرستو، ازاد تجارت، د ايډس او ملاريا سره په افريقا کې پر مجادلي متمرکز وو. سره د دي چې په ډنمارک کې د خلکو د نظرياتو د څيړنې څخه څرګنديدل چې ډنمارکي پوځيان تر يو کال وروسته بايد عراق پريږدي، خو صدراعظم د ۲۰۰۵ زکال د اګست په مياشت کې د بحث څخه اوږه خالي کړه.

د ډنمارک د حکومت موقف دا وو چې ډنمارکي پوځيان به تر هغه وخت پورې په عراق کې پاته وي، تر څو چې د عراق حکومت يي غواړي، او تر هغه وخت

پوري چې ملل متحد يي ملاتړ کوي، او تر هغه وخت پوري چې موږ يې اړين ګڼوو، تر څو موږ په عراق کې مناسبې هڅې او تلاښونه کړي وي.

ولې عراق د کورنۍ جګړې پر لورې په خوځښت کې و. د عراق سني مسلمان او د القاعدې مشر، ابو موساب زرګاوي [۵۵۰] د شيعه ګانو په مقابل کې د جګړې اعلان وکړي. هره اونۍ پر عراقي او بهرنيو پوځونو باندې بريدونو شدت موندي، د شيعه مسلمانانو د جنګياليو تر مينځ داخلي شخړې هم پيل شوي.

د سپټمبر د مياشتې په پيل کې تر (۲۰۰) زيات شيعه ګان د ځان مرګي بريدونو او پر موټرونو د چاودونوپه واسطه ووژل شول. چا دغه کسان ووژل؟ بهرنيو ځواکونو ته نه څرګنديدل، سره د دي د وړي په مياشتو کې (۸) امريکايي او انګريزي پوځيان هم ووژل شول. پر ډنمارکي پوځيانو هم بريدونه پيل شول چې د اګست په مياشت دوه ډنمارکي سرتيري د لاري پر سر د بم د چاودولو په پيښه کې ټپيان شول.

تر دغه وخت پورې نړيوالې رسنۍ د سني جنګيالو د بريدونو په موضوع چې د عراق په مرکزي برخو کې پر امريکايانو کول، بوخت وې. د ۲۰۰۵ زکال د وړي په مياشتو کې پاملرنه د شيعه ګانو د جنګياليو بريدونو ته پر ډنمارکي او انګريزي پوځيانود بصرې په سيمه کې واوښتل چې د دغو جنګياليو مقاومت شدت پيدا کړي وو. د بصرې والي او د پوليسو مشر اعلان کړل چې (۷۵) سلنه پوليس د مخالفو جنګياليو ترکنترول لاندې دي په ځانګړې ډول د سکيرى [۵۵۱] بدر او مقتدا ال صدر د جګنياليو کنترول زيات دي.

د سپټمبر په مياشت کې د يکشنبې په ورځ يو لړ پيښې وشوي چې د نړيوالو ډيره زياته پاملرنه يې جلب کړه. انګريزي پوځيانو په بصره کې د مهدي دوه مشر جنګيالي بنديان کړل، چې په دغه کار جنګيالي په غوصه شوه او د ښار کوڅو ته د اعتراض په ډول ووتل.، فضاء خړه وه. دا بله ورځ سهار دوه ځانګړې انګريزي پوځيان چې د ساس [۵۵۲] څخه وو، په عربي جامو کې په ملکي موټر کې سپاره وه، چې د عراقي پوليسو د تلاښې يوې پوستې ودرول. تر دي وروسته

---

[۵۵۰] - Abu Musab Zargawi

[۵۵۱] - SCIRIs

[۵۵۲] - SAS

د پيښې په تړاو مختلف روايتونه شته. خو محمد ال عبادي د بصرې د والي وياند د پيښې د بيان په تړاو په لاندې ډول مطمين وو:

«يو پوليس دوي ته د رانژدي كيدو په حال كې و، چې د دوي څخه يوه پر هغه فير وكړي خو پوليس بريالي شول چې دوي ونيسي. دوي د خپلې دندې په تړاو معلومات نه وركاوه. ال عبدي وايي چې دوي ويل چې موږ انګريزي پوځيان يوو او پوليس كولاى شي چې د انګريزانو څخه معلومات وكړي.

دوي دواړه د بصرې د الجماعت بنديخانې ته يووړل شول خو شرايط بيا هم تر كنترول لاندې راتلاى شواي. د عراقي حكومت (بصره) او د بهرنيو ځواكونو تر مينځ داسې يو تړون شوي وو چې كه چيرې بهرنې سرتيري قانون تر پښو لاندې كوي بايد د انګريزانو د قوماندې مركز ته يې تسليم شي چې د احتمال په صورت كې به د انګريزانو لخوا مجازات شي، خو دا كار ونه شو. په بدل كې انګريزانو ته اطلاع وركړل چې دغه دوه انګريزان به د ال صدر مهدي جنګياليو ته تسليم كړي. داسې احتمال و چې دا كار يې ځكه كولو چې په راتلونكي كې د دوو مهدي جنګياليو سره تبادله كړي.

د بصرې د بهرنيو پوځونو انګريزي جنرال جان لور مير[٥٥٣] وروسته رسنيو ته وويل چې ما موجه دلايل درلودل چې د انګريزانو ژوند په خطر كې دي

نوموړي جنرال ټانكونه د پوليسو مركز ته وليږل چې په كلكه د انګريزانو دوباره تسليمول ورڅخه وغواړي. ولې انګريزي پوځيان د صدر د سلګونو فعالينو د مقاومت سره مخامخ شول، چې په ډبرو او اور بلونكو بوتلونو باندې د انګريزانو وسايط ويشتل. يو انګريزي سرتيري د اور په لمبو كې د ټانک څخه وغورځيدي چې د ډبرو په ويشتلو بدرګه شو، په دغه نا ارامیو كې دوه عراقيان ووژل شول.

د شپې له خوا انګريزانو د خپلو دوو كسانو د ازادولو عمليات پيل كړل. انګريزانو لارې بندې كړي، پوځي وسايط، ټانكونه او چورلكې يې وروليږلې. ډنماركي پوځيان د تيار سی په حالت كې شول خو د عملياتو ځاى ته وا نه ستول شول. يو ټانک د پوليسو د مركز ديوال ونړولو خو دوه انګريزان هلته نه وو، هغه يې يو بل سراى ته انتقال كړى وو او د مهدي جنګياليو ته يې تسليم كړي وو.

---

[٥٥٣] - Jan Lorimer

عملیات د عراق دولتي مقاماتو ته د پوهاوی وړ نه و. د بصرې والي، محمد ال دغه عملیات دښمنانه، بی مسولیته او وحشیانه برید وګڼي. خو د عراق د صدراعظم، الجعفري یو ویاند دا پیښه یوه زړه بنګونکي پرمختګ وبولي، چې انګریزي پوځیانو په دغه ډول خپل دوو سرتیرو ته نجات ورکولو. خو عراقي مقاماتو توضیح نه کړل چې ولي انګریزي سرتیري نورو ډارونکو جنګیالو ته تسلیم کړل د دي پر ځای چې دوي یي انګریزي پوځ ته سپارلي واي. پوښتنه داده چې دغه دوو انګریزي سرتیرو په عربي جامه کې د بصرې د ښار په مینځ کې څه کول؟ یو عراقي لوړپوړي چارواکي په بصره کې وویل چې دغه انګریزي سرتیرو یوه پټه دنده درلوده، خو عراقیان نه پوهیدل چې دوي څه کول. د بصرې په ښار کې د قهر څپې خپرې شوي او په سلګونو پولیس د انګریزانو پر ضد د ښار کوڅو ته د اعتراض په توګه راووتل، د ښار حکومتي شورا د انګریزانو سره همکاري په ټپه ودرول. د بصرې والی، محمد ال والی د دوباره ګډ کار د پیل له پاره دري شرطونه انګریزانو ته وړاندې کړل: بخښنه غوښتل، وعده کول چې بیا به دغه ډول پیښه نه تکراریږي او د پولیسو د مرکز د تخریب شوي برخې جوړول او یا تاوان ورکول چې د انګریزانو د برید پر مهال وران شوي دي. انګریزانو د دغو شرطونو د پوره کولو سوچ نه وو کړي.د بل لورې د بهرنیو پوځونو له پاره تر ټولو لویه پیښه د عراق په جنوب کې د عراقي مقاماتو سره وه، چې بهرنیان یې د مرستې له پاره راغلي وه. دغه شخړه د انګریزي حکومت له پاره په مناسب وخت کې رامینځته نه شوه، کوم چې دوي په داخل کې مشورې کړې وي چې د ۸۵۰۰ انګریزي سرتیرو یو لویه برخه د راتلونکي کال په جریان کې وباسي. اوس د دغه نظر څخه تیر شول. د انګلیستان د دفاع وزارت یو ویاند په ټینګار سره داسې وویل:«موږ کوم مشخص وخت نه دي ټاکلي چې د امنیت ساتلو چارې عراقي پوځیانو ته وسپارو.»

د انګلیستان د دفاع وزیر، جان رید[٥٥٤] وویل چې د بریدونو زیاتوالي د دي په مانا دي چې امنیتي چاري پر ښه خوا خوځښت کوي ځکه مخالف جنګیالي وارخطا دي. نوموړي وویل چې زموږ بریالیتوب د ترهګرو د وارخطایي څخه ارزول کیږي. د دفاع وزیر دغه بیان د نورو انګریزي سیاستوالو د منلو وړ نه وو. دوي د بصرې په شاوخوا کې د سختو ناارامیو شاهدان وو او د انګریزي حکومت له پاره اخطار وو، نو لازمه وه چې حکومت د انګریزي پوځیانو د وتلو

[٥٥٤] - John Reid

نیته وټاکي چې کله د عراق څخه وزي؟ د عراقیانو او انګریزانو تر مینځ اختلافات څو ورځي وروسته ارام شوو. دواړو لورو یو او بل ته اړتیا درلوده. خو دوباره هغه ستونزه راپورته شوه چې د شیعه مسلمانانو د جنګیالیو اغیزه په پولیسو او پوځ کې وه. د عراقي حکومت د ملي امنیت مشاور، موفق ال روبایي[٥٥٥] د انګلیستان د بی بی سی[٥٥٦] تلویزیون سره په مرکه کې یو غیري عادي اعتراف په لاندې جملو وکړي:« په عمومي ډول زموږ په امنیتي ځواکونو او په ځانګړي توګه په پولیسوکې مخالفو جنګیالیو نفوذ کړی دی چې ځینی یې ترهګر دي، موږ باید پر دغه حالت په بصره کې اعتراف وکړو.» د نوموړی اعتراف د بصرې د خلکو له پاره د حیرانتیا سبب نه شوو. ځکه یو محصل، جواد په ۲۰۰۵ زکال انګریزی ورځپاڼې، انډیپینډنټ[٥٥٧] ته داسې وویل:« دوي ټول په فساد او خیانت کې ډوب دي، د دوي زیاته برخه د بنسټپالو شیعه ګانو استازي دي.»

د بصرې د دغه حالت پرمختګ په نژدې راتلونکې کې د ډنمارکي پوځیانو له پاره هم خراب عواقب درلودل.

ټلیفون زنګ وواهه. د جان کیرک مېند میرمن[٥٥٨]، کریستن[٥٥٩] ورغله او د ټلیفون غوږی یې واخیستله. د دوي مشر زوي، رونی[٥٦٠] و، د مور څخه یې وپوښتل چې تاسوواليدين خبر یاست چې یو ډنمارکي سرتیري مړ او دري نور ټپیان شوي دي. والیدین د پیښې څخه خبر نه وه. ټلویزون یې چالان کړ او په ډار یې خبرونه تعیقیبول. دوي خبرونه واوریدل او د تلویزیون لیکلې برخه یې ولوستل، د ۲۰۰۵ زکال د اکتوبر لومړی نیټه د دوي له پاره ډیره اوږده د شنبې ورځ وه.

---

- Muwaffaq Al-Rubaie[٥٥٥]
- BBC[٥٥٦]
- The Independent[٥٥٧]
- John Kirkmand[٥٥٨]
- Kirsten[٥٥٩]
- Rune[٥٦٠]

د دوي کشر زوي، بيارکه[٥٦١] چې عراق ته د پوځي خدمت له پاره تلي، مور او پلار سره يې وعده وکړه، که کوم وخت د ډنمارکي سرتيرو د ټپي کيدو اوازه خپره شي، مور او پلار بايد زنګ ونه وهي، ځکه د پوځ مشرتابه خپله د پيښې په تړاو تاسو ته د ټليفون پر کرښه معلومات درکوي. د مور ا پلار په مينځ کې ټليفون پروت و، د دواړو زړونه ډير نا ارامه وه. د ماپښين پر درى نيمي بجي يي د تلويزيون په ليکلې برخه کې ولوستل چې د دفاع وزارت د وژل شوى سرتيري واليدينو ته خبر ورکوي. وخت تيريدي خو ټليفون خاموش و. د دوي اميد ډيريدى. د مازديګر پنځه بجي شوى، مور او پلار سره کتل او دوي باوري شول چې د وژل شوى سرتيري خپلوان به خبر شوى وي.

پلار وغوښتل چې بهر ته د تازه هوا د اخيستلو له پاره ووزي او مور يې په کور کې ځيني کوچني کارونه سمبالول. پلار ووتي او د سراى د دروازي سره په خوشالي ودريدي، خو د سراى دروازه خلاصه وه. د کور مخ کوڅې ته يي کتل، په اکټوبر کې د غيري عادي تودي هوا څخه خوند اخيستي، په دغه وخت کې تر شاه يي د موټر اواز شوو. تور رنګي موټر يي د کور مخې ته ودريدي. پلار په بيره ورنژدي شو چې د پوځي موټر پر نمبر پليټ يي سترګي ولګيدي..

د جان (پلار) نړۍ سرچپه شوه. بى حسابه چورتونه يي په مغزو کې وګرځيدل. ټليفون خو زنګ نه وه وهلي خو د مرګ خبر د شخص په واسطه ورکول کيږي. دا بيارکه و چې په عراق کې وژل شوى و. د پلار سترګو ته د ۱۹۴۵ زکال د المان وران ښارونه ودريدل. پلار يي چيغې کړى، او د خداى د پاره، بيارکه!!! لنډيز دا شو چې پلار او مور په غم او وير کې کښيناستل.(ژ: د کورنۍ د غمجنو خبرو د ژباړنې څخه ډه ډه کوم. او د ډنمارکي سرتيري د وژل کيدو جريان څخه پيل کوم)

ډنمارکي سرتيري د ګزمې په موخه د يو محلي ژباړن په ملګرتوب د بصرې د ښار د ال هرتا برخې ته چې امنيت يې ښه نه وه او اوسيدونکي يي ډير غريبان وو، ولاړل. دوي پياده ګزمه وکړه او د پوليسو د محلي مرکز څخه يې هم ليدنه وکړه. کله چې د سرتيرو د ګزمې دنده پاى ته ورسيدل، ژباړن يې د لاري په اوږدو کې کښته کړ او دوي په نيغه د ډينه وانګ[٥٦٢] د کمپ پر لورى

---

[٥٦١] - Bjarke

[٥٦٢] - Camp Danevang

وخوځېدل. د غرمې (۱۲:۲۸) بجې وې چې د نوموړی ښارد یو پل څخه د تیریدو په حال کې وو. لومړي پوځي موټر د یوې عراقي لاري موټر څخه مخته شو. کله چې د بیارکه موټر د تیریدو ځای ته راورسیدي، د لاري پر سره ایښودل شوي بم چې درو برخو ته يي لینونه تیرشوي وو، وچاودیدي. یوې برخې دروازه والوزول او د ډریور لاس پرې شو، ډریور پر اشترنګ باندې ولویدي. دوهمه برخه پر هغه کلاشینکوپ باندې ولګیدل کوم چې خوله یې د بهر خواته برابره کړې وه. د اوسپنو ټوټې د همدغه سرتیري په لاسونو، اوږه او ځنګون کې ولګیدي. دریمې برخه پر بیارکه ولګیدل کوم چې د موټر په مینځ کې مخابرې ته ناست و. موټر مخته ولاړ تر څو د سړک پر اوسپنه ولګیدي. وروسته سرتیرو یو ږغ واوریدي چې دوي وروسته دغه ږغ د بیارکه وبولی. نوموړي کمپ ته مخابروي خبر ولیږي. کله چې د ګروپ مشر په هوښ کې راغلي، سرتیرو ته يي د موټر څخه د کښته کیدلو امر وکړي. د ګروپ مشر په منده د خپلو زده کړو په آساس د موټر مخې ته وځغاست او د احتمالي برید له پاره یې تیاري ونیوي.
د موټر په دننه کې یوه ټپې سرتیري بیارکه ته چیغې کړي چې د موټر څخه وزو. بیارکه دومره وویل چې زه خلاص شوم او مړ شو. د ډنمارکیانو د دوهم موټر پوځیان په منډه د موټر څخه ووتل چې بم ښخونکي ومومي. عراقیانو ټوکر ټوکر موټر سمبال کړي نو ډنمارکي پوځیان د خپلو ټپي ملګرو د ساتلو له پاره هلته ورغلل. یوه عراقي په انځور اخیستلو پیل وکړي خو نورو عراقیانو د لاس په اشاره وښودل چې د ټولو ډنمارکیانو سرونه باید پرې شي. د ګروپ مشر بیا مخابره وکړه خو د مرکز څخه یې ځواب تر لاسه نه کړي. د ګروپ مشر بیارکه ته ور وځغاستي او هغه یې د موټر څخه راویستي خو هغه مړ و، ولې بیا یې هم مصنوعي تنفس ورکړي. د عراقي پولیسو یو پایکپ موټرراورسیدي، مړی او ټپي سرتیري یې شاته ورواچول. پر لار د عراقیانو و یو روغتون ته د ډنمارکیانو امبولانس راورسیدي. د نوموړی موټر افسر قومانده په لاس کې واخیستل، بیارکه او ټپیان یې د انګریزانو د شیبا لوګ د مرکز روغتون ته یوړل.[٥٦٣] ډنمارکي پوځیان د پیښې ځای ته ولاړل خو راټول شوي عراقیان په قهر او غوصه وو، ډنمارکي پوځیان یې په ډبرو ویشتل. ډنمارکي پوځیان اړ شول چې هوایې ډزې وکړي تر څو راټول شوي خلک تیت شي. کله چې د بیارکه پلار ته ټوله کیسه وشول، هغه ځان پړ وګانه چې ولې یې بیارکه په کور کې تم نه کړای شو. د بیارکه پلار د زوی تر مړینې وروسته په سختو روحي ناروغیو اخته شو. پلار

---

- Shaiba Log Base[٥٦٣]

يي پوځيانو ته وويل چې زه نه غواړم چې زما زوي په پوځي توګه خاورو ته وسپارل شي ځکه زه د عراق د جګړې د پيليدو سره کلک مخالف وم او نه غواړم چې زما د کور پر شاوخوا پوځي يونيفورم ووينم. د بيارکه مور، کريستن هم سخته روحي ناروغه وه، ټوله ورځ يي په ژړا تيروله او هره ورځ د بيارکه قبر ته تلل، د روخصتيو په ورځو کې دوځله په ورځ کې قبر ته تلل، خوب يي نه درلودي. پسله څه مودي يي په وړکتون کې دوباره کار پيل کړي خو ناروغې يې زياته وه. د بيارکه تر مرګ دري کاله وروسته (۲۰۰۸ زکال) يې مور د زړه د دريدو په وجه مړه شوه. د بيارکه پلار وايي چې د بيارکه مور تر مرګ تر ورځي (۱۰۹۰) ځله د زوي قبر ته ورغلي وه. (ژ: که زمونږ د ميندو حالت پرتله کوو، داسې ميندې شته چې په يوه ورځ يې څو جنازې د کور څخه پورته شوي دي، نو حال به يې څه وي؟ د لويديزو د پوځيانو د وحشتونو په جريان کې د کور ټول غړي سوځول شوي دي. زمونږ د ولس چيغې نړۍ نه اوري.)

د بيارکه مور، کريستن د زوي تر مړنې دري اونۍ وروسته د عامه پوهاوي له پاره ووتل او په دلايلو يي غوښتنه يي وکړه چې د ډنمارک حکومت بايد د عراق څخه سرتيري د ۲۰۰۵ زکال تر پايه راوباسي. د بيارکه پلار، جان کيرکه مند د دولت په دلايلو نه پوهيدي چې ولې جګړې ته دوام ورکوي. لويديزو مشرانو ټينګار کولو چې صدام حصين اټومي وسلې لري، په داسې حال کې چې دا رښتيا نه وه. جان وايي چې د ډنمارک حکومت په جګړه کې پر ګډون ټينګار کولو او يوازنی دليل يي دا و چې صدام حصين يو ظالم ديکتاتور دي. د بيارکه پلار، جان ته پوښتنه دا وه چې: ايا ډنمارک دغه ډول بهرني سياست ته دوام ورکوي چې پر ليبيا، برما، شمالي کوريا او سوريې باندې هم بايد بريدونه وکړي؟

(ژ: په خواشينی بايد ووايم چې د ډنمارک او نورو لويديزو هيوادونو سياست د امريکا په مشري د پراخ غوښتنی دي او دوام ورکوي. د دي ټکو تر ليکلو پوري د ليبيا مشر وژل شوي او ليبيا د تجزيي په حال کې ده، سوريه په اور کې سوځي، پر عراق د دوهم ځلي له پاره د اسمان څخه بمونه اوري، نور به ګورو چې څه کيږي؟)

نوموړي وويل چې د ملل متحد سرمنشي، کوفي عنان هم وويل چې د عراق جګړه د ملل متحد د پريکړې پرته پيل شوی ده. نو ځکه د ډنمارک ګډون په جګړه کې د حکومت غلطه پريکړه ده. نوموړی وايي: زه د حکومت په پريکړه نه پوهيدم، اوس هم نه پوهيږم او هيڅوخت به ونه پوهيږم.

یو کال وروسته جان کیرکه مند یو کوچنی کتاب ولیکي چې نوم یي(په جګړه کې وژل شوی) و، په کتاب کې نوموړی د یو کورنۍ غمجن حالت چې زوي یي په جګړه کې د لاسه ورکړی دي، بیان کړی و، او دلایل یی وړاندې کړی وو چې ډنمارکي سرتیري باید ژر د عراق څخه ویستل شي. نوموړی کتاب یې د پارلمان ټولو (۱۷۹) غړو ته ولیږ.ي. جان یو د هغو (۲۵) کسانو څخه و چې پر صدراعظم، اندریس فوک غاسموسن یي د جګړې د پیلیدو په خاطر عریضه وکړه او د ۲۰۰۳ زکال د اساسي قانون د کمیټې له خوا یې ملاتړ وشوو. دوي څرګنده کړه چې د ۲۰۰۳ زکال د مارچ په میاشت کې د پارلمان پریکړه چې ډنمارک د عراق په جګړه کې ګډون وکړي، د اساسي قانون او د خلکو د حقوقو سره په مخالف کې وګڼل. او دا یي هم اضافه کړه چې دغه پوځي برید د ملل متحد د امنیت د شورا پریکړه نه درلوده. خو هیڅ وخت څوک محاکمه نه شوو.

د ډنمارک ستري محکمې د ۲۰۱۰ زکال د مارچ په میاشت کې موضوع رد کړل، دلیل یي دا و چې پریکړه د اکثریت وه چې د ډیرو خلکو استازیتوب کوي. سره د دي چې محکمې ومنل چې جان او کورنۍ یي ډیر څه د لاسه ورکړی دي، کوم تاثیر ځکه نه لري چې زوی یي د پارلمان د پریکړې په اساس عراق ته لیږ.ل شوی دي. نوموړي د پارلمان د پخوانی پریکړي او د ملل متحد د هغه وخت د فیصلې له مخې عراق ته تللی دي. د دولت وکیل وویل چې دا دوسیه یوه سیاسي لوبه ده. یو بل څارنوال وویل چې سیاسي اختلاف د عراق د جګړې په تړاو باید په محکمه کې فیصله نه شي. خو جان دلایل ویل چې د عراق په جګړه کې د ډنمارک ګډون باید د یوې بی پری محکمې له خوا وڅیړل او پریکړه ورباندې وشي. جان وایي چې زه پوهیدلم چې دوسیه به و نه ګټم خو دا یو پرنسیپي حرکت و چې زه راووتلم چې د جګړې په اړوند خپل نظر ووایم.

د جان نیوکې د عراق پر جګړه په رسنیو کې ډیر انعکاس وموندې چې د دفاع په وزارت کې د بیارکه پر انډیوالو یې هم ډیره اغیزه وکړه. خو جان وایي چې ما خپل د زوي د یوه ملګری څخه یو ډیر منفي لیک تر لاسه کړي.

په لیک کې راغلي وو چې جګړه پر واقعیت بنا وه ځکه پر صدام حصین او عراق برید وشو.
بیارکه دوم سرتیري وو چې د عراق په جګړه کې ژوند د لاسه ورکړي خو صدراعظم، اندریس فوک غاسموسن د ۲۰۰۵ زکال د اکتوبر په میاشت کې ټینګار وکړي چې حکومت پر خپله پریکړه ولاړ دي. صدراعظم په ټینګار سره

وويل چې ترهګر باید پرمختګ ونه کړی چې بیا په عراق کې نا ارامي رامینځته کړي نو ځکه حکومت خپل سیاست ته دوام ورکوي.

د بهرنیو پوځونو له پاره ۲۰۰۶ زکال مرګوني او سخت کال و. ځان مرګي بریدونه، د لاري پر سر د بمونو چاودنې او وژنې ورځني پیښې وي. د امریکا یو څیړنیز مرکز ومنل[٥٦٤] چې د مخالفو جنګیالیو شمیره د ۳۰۰۰ تنو څخه په ۲۰۰۴ زکال کې ۵۰۰۰ تنو ته زیاته شول او په ۲۰۰۶ زکال د مخالفینو شمیره و ۲۰۰۰۰ تنو ته ورسیدل.

ډنمارکیان هم تر بریدو لاندې وو، د مارچ په میاشت کې بل ۲۰ کلن سرتیري د ال هارتا سیمې ته نژدې د لاري پر سر د بم چاودنې په پیښه کې ووژل شو. د سپټمبر په میاشت کې د یوې عادې ګزمې په وخت کې د از زوبایر سیمې ته نژدې یوه قوي چاودنه وشوه چې (۳۶) کلن کیم وادیم[٥٦٥] چې د الوتکو متخصص و، ووژل شو. د اکتوبر په میاشت کې ال هارتا ته نژدې سخته جګړه ونښته چې یو ډنمارکي سرتیري سخت ټپي او وروسته مړ شو.

پر ډنمارکي سرتیرو باندې بریدونه لوړې کچې ته ورسیدل. لومړی دري کاله د ډنمارکیانو کمپ په میاشت کې د (۵ ـ ۱۰) ځلو تر برید لاندې راتلي. د ۲۰۰۶ زکال د جون د میاشتي څخه بریدونه نور هم زیات شول چې د ۲۰۰۷ زکال د وړي په میاشتو کې په منځني ډول په میاشت کې (۷۵) بریدونه د ډنمارکیانو پر کمپ باندې کیدل.

د ورځي ګزمې بندي شوې، په بدل کې ډنمارکي سرتیري د شپې له خوا د قوي څراغونو سره په ګزمه وتل. ډنمارکي او انګریزي سرتیري د لویو ښارونو څخه لیري ګرځیدل. ښارونه په معمولي ډول د مخالفو جنګیالیو، قومي مشرانو، او د مجرمینو د ګروپونو په واسطه کنترول کیدل، همدغو پر بهرني سرتیرو بریدونه کول. ډنمارکي سرتیري د ال قورناه په ښار کې د سخت برید سره مخامخ شول نو په دغه اساس د ۲۰۰۶ زکال د سپټمبر په میاشت کې د ولایت د دغه مهم ښار څخه چې (۱۲۰۰۰۰) اوسیدونکي درلودل، ووتل. ډنمارکي پوځیانو تلاښ وکړي چې ښار ته ننوزي او هغه کسان ونیسي کوم چې د انګریزانو او ډنمارکیانو پر

---

٥٦٤ - The Brookings Institution

٥٦٥ - Kim Wadim

پوځیانو بریدونه کوي. ولې دوي د ډزو، لاسي بمونو او راکټونو سره مخامخ شول. د نیکمرغه هیڅوک و نه وژل شوو خو ډنمارکي پوځونو پریکړه وکړه چې د ښار څخه ووزي. شپږ میاشتي وروسته بیا ډنمارکي پوځیانو تلاښ وکړي چې ښار ته ننوزي خو بریالي نه شول مانا دا چې د ال قورنا ښار یي له لاسه وتلي وو.

د اکټوبر په میاشت کې د مهدي جنګیالیو د عراق په جنوب کې یو بل لوي ښار د امارا په نوم چې (۷۵۰۰۰۰) اوسیدونکي درلودل، ونیوي. تقریباً (۸۰۰) جنګیالیو چې تورې جامې یي اغوستي وي، په کوڅو کې ګزمه کول. دغه ښار د اګست تر میاشتي پورې د انګریزانو د مسولیت سیمه وه خو وروسته عراقیانو ته تسلیم شو. د مهدي او بدر د جنګیالیو تر منځ د ښار پر نیولو سیالي وه خو څرګنده شوه چې د بدر جنګیالیو د پولیسو په لیکو کې ډیره اغیزه درلوده نو ځکه د مهدي جنګیالیو ښار ورته پریښودي.

په ډنمارک کې د خلکو ملاتړ د عراق د جګړې څخه په دومداره توګه لړیدي. د ۲۰۰۴ زکال د مني په موسم کې د ګالوف[٥٦٦] د څیړنې له مخې په ډنمارک کې ډیرکیو د عراق څخه د ډنمارکي سرتیرو وتل غوښتل، که چیرې امنیتي حالات په عراق کې ژر ښه نه شي. د عراق ډیرو خلکو د بهرنیو پوځیانو په تړاو همدا غوښتنه درلوده. د ۲۰۰۶ زکال د سپټمبر په میاشت کې د یوې څیړنې له مخې جوته شوه چې (۷۱) سلنه عراقیان د یو کال په جریان کې د بهرنیو ځواکونو وتل غواړي. په ټولیزه توګه (۵۳) سلنه عراقیان په دې نظر وو چې د بهرني پوځیانو وتل، د عراق حکومت غښتلي کوي. دوي ارزونه کوله چې د بهرنیو ځواکونو شتون د ګټې پر ځای زیان رسوونکي دي. یوازې هر پنځم عراقي فکر کولو چې بهرني ځواکونه په عراق کې ثبات ټینګوي.

عجیبه نه وه چې په ۲۰۰۶ زکال د سپټمبر په میاشت کې نیویارک ټایمز د امریکا څارګرې ادارې د پټ راپور څخه داسي ولیکل: «د امریکا او نړیوالو ځواکونو شتون په عراق کې د ترهګرې د زیاتوالي له پاره مرسته کړي ده، د دي پر ځای چې د ترهګرۍ مخه یي ډب کړی وای.» په همدغه وخت کې ډیرو هیوادونو د امریکا د ملاتړ او پوځي یووالي څخه لاس واخیستي. په لویدیزه اروپاه کې ډنمارک او انګلیستان هغه هیوادونه وو چې د امریکا څخه یي ملاتړ کولو. ایټالیا

---

[٥٦٦] - Gallup

جوته کړه چې خپل پوځیان به د ۲۰۰۶ زکال تر پای ته رسیدو مخکی د عراق څخه وباسی. پولنډ چې په ختیزه اروپا کې د امریکا یوازنی ملاتړی و، غوښتل یې د عراق څخه پوځونه وباسي.

د پورته دلایلو په رڼا کې سوسیال ډموکراټانو او کیڼ راډیکال ګوندونو د ۲۰۰۵ زکال څخه تلاښ کولو چې ډنمارکي پوځیان باید د ۲۰۰۶ زکال د جولای تر لومړی نیټې پورې د عراق څخه ووزي، خو دوي بریالي نه شول، سره د دي چې صدراعظم، اندریس فوک غاسموسن د عراق حالات ناخوښه وګڼل خو د سرتیرو د ایستلو نیټه یې ځانګړی نه کړه. د ډنمارک صدراعظم د سرتیرو د پاته کیدلو له پاره کوچنی اکثریت د ډنمارک د خلکو د ګوند په ملاتړ درلودي او دلیل هم دا و چې زموږ د وتلو څخه کیدلای شي ترهګر ګټه پورته کړي.

امریکا او انګلیستان هم د ډنمارک په ډول د خلکو د پراخ ملاتړ څخه په عراق کې د سرتیرو د پاته کیدلو په تړاو برخمن نه وو. د واشنګټن پوست د څیړنې له مخې (۶۰) سلنه امریکایانو غوښتل چې په عراق کې باید د امریکایي پوځیانو عملیات پای ته ورسیږي، د انګلیستان همدغه شان حال وو. ژر د دغو درو مشرانو چې ډیر سره دوستان وو، تر مینځ یې بیلوالي راغي او جورج بوش د عراق کورنی جګړې ته یوازې پاته شو.

د ډنمارک صدراعظم، اندریس فوک غاسموسن د ۲۰۰۶ زکال په وروستیو کې څو ځله په پټه د انګلیستان د صدراعظم، توني بلیر سره خبری وکړي چې په څه ډول پوځیان د عراق څخه وباسي.

د ډنمارک صدراعظم د امریکایانو هیجاني مباحثې د موضوع په تړاو تعقیبولي او نوموړی د امریکایي کمسیون د خبرداري څخه خبر شو چې د باکر هامیلټون کمسیون[٥٦٧] پر موضوع کار کوي تر څو یوه کړنلاره تصویب کړي چې د امریکا ۱۴۰۰۰۰ سرتیري په تدریج سره د عراق څخه ووزي. کمسیون باید حالات په عراق کې وارزوي. د کمسیون غړي د جمهوري غوښتونکو پخواني د بهرنیو چارو وزیر، جیمز بیکر[٥٦٨] او د ډموکراټانو څخه، لی همیلټون[٥٦٩]

---

[٥٦٧] - Baker-Hamilton-Kommission

[٥٦٨] - James Baker

[٥٦٩] - Lee Hamilton

وو. د ډنمارک صدراعظم د امریکا د لیدنې پر وخت د جیمز بیکر سره په تکزاس کې ولیدل. دوي خپل نظریات د ډنمارک صدراعظم ته وویل. صدراعظم وایي: «دوي ماته د رپوټ د جوړولو د محتویاتو په اړوند معلومات راکړي. وروسته موږ په ټلیفون کې هم خبري وکړی نو زه د رپوټ د محتویاتو څخه وپوهیدلم چې امریکایي پوځیان غواړي د عراق څخه ووزي نو عراقیان به په تدریج سره د امنیت مسولیت پر غاړه واخلي.»

په دغه جریان ک اندرس فوک غاسموسن او توني بلیر هم د سرتیرو د وتلو په اړوند خبري سره کولې چې په څه ډول د عراق څخه خپل پوځیان وباسي؟

توني بلیر غوښتل چې خپل سرتیري د عراق څخه وباسي، دا چې د ډنمارکي پوځیانو د انګریزانو سره ګډ کار کولو نو د صدراعظم په نظر د ډنمارک د پوځیانو وتل هم اړین ګڼل کیدل.

کله چې توني بلیر د ۲۰۰۶زکال د نوامبر پر (۲۸) نیټه په کوپنهاګن کې د ډنمارک د صدراعظم سره وکتل، دواړو مشرانو د عراق د جنوبي برخو د حالاتو په هکله بحثونه وکړل.

اندریس فوک غاسموسن وایي چې په غونډه کې موږ دواړو د پوځیانو د وتلو د ممکنې ستراتیژي په تړاو پریکړه وکړه چې د باکر- هیملټون د رپوټ د محتویاتو سره برابره وه خو د تړون د موادو اعلانول د عامه پوهاوي له پاره همږغې شولو چې تر اوس پوري د پریکړې د اعلانولو وخت نه دي.

څو ورځي وروسته د ډسمبر پر (۶) نیټه د باکر ـ هیملټون رپوټ اعلان شو. په دغه دولتي رپوټ کې (۷۹) مادې وې چې په عراق کې د بحراني حالت مخنیوي وکړي. د رپوټ په مقدمه کې راغلي وو: «زموږ هیواد د بحث کولو وړتیا لري چې د بحثونو محتوي به یوه سالمه پریکړه رامینځته کړي.»

کمسیون د یو ویجاړ حالت وړاندوینه کړی وه: که عراق دغه منفي جهت ته دوام ورکړي، شخړې به مختته ولاړی شي، شخړی به ګاونډیو هیوادونو ته سرایت وکړي، د شیعه او سني مسلمانانو تر مینځ نفاق او شخړي به په ټوله اسلامي نړۍ کې خپرې شي چې پایله به یې د تروریزم غښتلي کیدل وي او امریکا به کمزورې کړي. خو د دغو ټولو شخړو د مخنیوي له پاره یو عمده فکټور دا دي چې د امریکا پوځونه د عراق څخه ووزي.

د ډنمارک د بهرنيو چارو وزير، پير ستي ميلور[٥٧٠] د عراق د بهرنيو چارو د وزير، هوشيار زيباري[٥٧١] او د صدراعظم، نوري المالکي[٥٧٢] سره د نوامبر او ډسمبر په مياشتو کې وکتل. اوس پير ستي ميلور وايي چې دواړو غوښتنه وکړه چې ډنمارکي پوځونه بايد د عراق څخه ووزي.

پير ستي ميولر وايي چې دوي (عراقيان) موږ ته اړتيا نه لري، ولې موږ بايد په عراق کې پاته شو؟ خو بايد ووايم چې دا زموږ غوښتنه هم وه: « موږ په توپ لوبې وکړي نو اوس فکر کوو چې عراقيان د لوبو مسوليت واخلي.»

په ۲۰۰۶ زکال د کرمس تر جشن لږ مخکې صدراعظم، اندريس فوک غاسموسن او د بهرنيو چارو وزير، پير ستي ميولر د صدراعظم په رسمي هستوګنځي کې[٥٧٣] سره وليدل، خو دوي دوه په دوه وو. دوي د ډنمارکي سرتيرو د راستيندو په تړاو خبري وکړي او پريکړه يي وکړه چې د انګريزانو د پلان سره به عمل وکړي. پير ستي ميولر وايي: «ما صدراعظم ته وويل چې زه ياد داشت اخلم او په جيب کې پټوم، هر څومره چې زيات کسان په پلان خبر شي هغومره سرتيرو ته د وتلو په وخت کې زيات خطر شته.»

پلان د باکر هيميلټون د مشورو مطابق تيار وو چې د عامه په خبرتيا يي ورسوو، يوازې د ولسمشر جورج بوش پريکړې ته مو انتظار کيښ. د امريکا په تاريخ کې لوموړی ځل و چې يوازې (۲۱) سلنه امريکايانود ولسمشر جورج بوش جګړه ايزه پلان سره ملاتړی وو نو ځکه د امريکيانو نفرت د جګړې سره، د پوځيانو د ايستلو د پروسې سره مرسته وه. هر څه د امريکايي پوځيانو د اهسته ايستلو د پروسې سره تړلي وو چې اندريس فوک غاسموسن او توني بلير خپل پټ پلان ورسره عيار کړی وو. اندريس فوک غاسموسن د نوی کال په ويناه کې د جنوري په لومړی نيټه په بشپړ احتياط داسې سيګنال ورکړي چې کيدای شي د جګړې لوری بدلون وکړي:«زه هيله لرم چې ۲۰۰۷ زکال داسې کال وي چې عراقيان د عراق په جنوب کې وکولای شي د امنيتي چارو مسوليت واخلي، ډنمارک او انګريزان به ګډ کار ورسره کوي. د عراقيانو له لوري د مسوليت د

- Per Stig Møller[٥٧٠]
-Hoshyar Zebari[٥٧١]
- Nouri al-Maliki[٥٧٢]
- Marienborg[٥٧٣]

اخيستلو سره سم به موږ ډنماركيان او انګريزان د خپلو پوځيانو شمير دومره لږ کړو چې د پوځي دندو سره همږغې وي.»
جورج بوش د حل بله لاره ونيول. د جنوري پر (۹) نيټه جورج بوش و اندريس فوک غاسموسن ته زنګ وواهه چې غواړي عراق چې کورنۍ جګړې ځپلی دي، نور پوځيان ور وليږي. يوه ورځ وروسته جورج بوش د امريکا خلکو ته د تلويزيون له لارې وينا وکړه او ويې ويل: «غواړم په تدريج سره د امريکايانو پوځي قوت په عراق کې غښتلی کړم نو ځکه پلان لرم چې (۲۰۰۰۰) نور امريکايي سرتيري عراق ته وليږم تر څو د بغداد او انبار ولايتونو امنيتي حالت قابو شي.» د جورج بوش پريکړې د اندريس فوک غاسموسن او توني بلير له پاره غبرګونونه درلودل.

اندريس فوک غاسموسن وايي: دا پريکړه زما او د توني بلير د وعدې سره په ټکر کې وه. دا به عجيبه ښکاره شي چې موږ د سرتيرو د لږولواعلان وکړو او په عيني وخت کې بوش د نورو پوځيانو د استولو هوډ کړيدي. نو موږ هم د خپلې پريکړې اعلان وځنډوو.

خو صدراعظم د توني بلير سره د وعدې څخه ډه ډه ونه کړه. صدراعظم وويل چې موږ کولای شو دليل وړاندې کړو چې د عراق په جنوب کې حالت د هغو سيمو په پرتله چې د امريکايانو تر کنترول لاندې دي، ارام دي. په همدې خاطر موږ کولای شو چې د پوځيانو په ايستلو پيل وکړو.

د عراق څخه د پوځيانو د ايستلو په صورت کې موږ کولای شوای چې افغانستان ته نور پوځونه وليږو.

« د ډنمارک صدراعظم، اندريس فوک غاسموسن وايي: د ۲۰۰۶ زکال د ډسمبر په مياشت کې موږ د حکومت په دننه کې د پوځيانو د شتون اړتيا په عراق او افغانستان کې پرتله کړه. د بل لورې د امريکا د لورې جدي غوښتنه وه چې موږ په افغانستان کې زيات څه وکړو. په همدي خاطر په عراق کې د پوځيانو لږول داسې نه انګيريدل چې ګواکې موږ د نړيوال ايتلاف څخه اوږه خالي کوو.»

توني بلير او اندريس فوک غاسموسن د ۲۰۰۷ زکال د فبوري په (۲۱) نيټه د خپلو پوځيانو د وتلو موضوع اعلان کړل. په همدغه وخت کې همدا کار وشو. د ډنمارک صدراعظم د رسنيو کنفرانس جوړ کړ خو د انګليستان صدراعظم و پارلمان ته ويناه وکړه. د ډنمارک صدراعظم وويل چې ډنمارکي پوځي واحد بايد

د اګست په میاشت کې د عراق څخه ووزي خو انګریزانو د خپلو ټولو ۷۱۰۰ سرتیرو څخه د وړی تر پای ته رسیدو باید ۲۱۰۰ سرتیري د عراق څخه وباسي چې دا به د ټولو انګریزي پوځیانو د وتلو پیل وي.

د ډسمبر په میاشت کې د ډنمارک د پوځ څارګرې اداري خبرداري[۵۷٤] ورکړی چې د عراق د بصرې په ولایت کې کې چور و چپاول، بریدونه او جرمونه د زیاتیدو په حال کې دي. خو د حالاتو دغه خبردارې پر دوو مشرانو هیڅ اغیزه و نه کړه.

د ډنمارک صدراعظم، اندریس فوک غاسموسن وویل: «موږ ویلی نه دی چې یو ایډیال شرایط دي. ولې عراق باید د موجوده دندو غټه برخه پر غاړه واخلي، د دي له پاره چې په هیواد (عراق) کې ثبات راشي. دا به د عراق امنیتي ځواکونه وي چې د ترهګرو پر ضد وجنګیږي او حالت داسې قابو کړي چې نظم برقراره شي. په دغه صورت به نړیوال پوځونه ته د وتلو زمینه برابره شي.»

توني بلیر د انګلستان په پارلمان کې دا ومنل چې په بصره کې شرایط هغه ډول نه دي چې زموږ غوښتنه وه. خو د دي خبري مانا دا ده چې د بصرې د تاریخ راتلونکي څپرکی به عراقیان ولیکي.

د ډنمارک صدراعظم و رسنیو ته وویل چې د ډنمارک او انګلیستان ګډه پریکړه د دي مانا لري چې موږ د امنیت د ښه کولو له پاره یو ښه بنسټ جوړ کړی دی چې عراقي امنیتي ځواکونه کولای شي چې د عراق په ټولو جنوبي سیمو کې د امنیت مسولیت پر غاړه واخلي.

صدراعظم، اندریس فوک غاسموسن وویل چې حکومت انتظار درلودي چې ډنمارکي ځواکونه په افغانستان کې زیات کړی یانې ۲۰۰ سرتیري نور هلته ولیږي چې د ډنمارکي سرتیرو شمیره په افغانستان کې د ۴۰۰ تنو څخه ۶۰۰ تنو ته جګه شي. نوموړی وویل چې د عراق څخه د سرتیرو ایستل او په افغانستان کې د پوځیانو زیاتول د ولسمشر جورج بوش د غوښتنې سره تړاو نه درلودي.

---

[۵۷٤] - FE

د سوسیال ډموکراټانو د ګوند مشره هیله تورنینګ شیمیت[٥٧٥] د صدراعظم د پریکړې څخه ډیره راضي وه. دلته دا امکان و چې د خرابې جګړې (ژ:د عراق جګړه) په بدل کې د ښې جګړې (ژ: د افغانستان جګړه) سره مرسته وشي. د سوسیال ډموکراټانو خپل خبري داسې تنظیم کړي: « شک نه شته چې د ډنمارکي پوځ ملاتړ د افغانستان په جګړه کې د عراق د غلطې جګړې څخه ډیر ارزښت لري. همدغه علت و چې موږ په ځانګړې توګه د افغانستان د جګړې په تړاو د سرتیرو د زیاتولو په اړوند بحثونه وکړل چې بیا افغانستان د طالبانو او القاعده په منګلو کې ونه لویږي.»

هیڅ سیاستوال د عراق د جنوب څخه د سرتیرو د وتلو په تړاو سوچ نه کولو چې د وحشي یاغي جنګیالیو لاسونه تو لویدي.

د ۲۰۰۶ زکال د سپټمبر په میاشت کې انګریزي، ډنمارکي او عراقي پوځیانو وروستۍ تلاښ وکړي چې بصره د یاغیانو د منګلو څه وباسي. پوځیانو پنځه میاشتنې عملیات د سین بید[٥٧٦] په نوم اعلان کړل. څه د پاسه ۵۰۰۰ سرتیرو، عراقي پولیس د مخالفو جنګیالیو څخه پاکول تر څو چې مطمینه سیمه عراقي امنیتي ځواکونو ته وسپاري. خو دا عملیات د مخالفو جنګیالیو سره په مخامخ جګړه پای ته ورسیدل چې په ډیرو حالاتو کې د پولیسو یوه برخه وه.

د اکتوبر پر (۲۹) نیټه یو شمیر کسانو د پولیسو په جامو کې د ډنمارکي او انګلیسي ژباړونکو سرویس چې (۱۷) ژباړونکې په کښې سپاره وه، ودرولو. ژباړونکي د انګلیسي او ډنمارکي د پولیسو د اکاډمۍ څخه وو چې عراقي پولیسو ته یي تدریس کولو. ژباړونکي وتښتول شول او څو ساعته وروسته ویشتل شوي وموندل شول. وروسته د جنایي پولیسو د واحد مشر[٥٧٧] او شپږ د پولیسو افسران د ژباړونکو د نیولو او وژلو په تور ونیول شول.

د ډسمبر په میاشت کې انګریزي پوځیانو ته معلومات ورکړل شوو چې د الجماعت د پولیسو په مرکز کې دغه په فساد ککړ پولیس، (۱۲۷) بندیان اعداموي. انګریزي پوځیانو د ۲۰۰۶ زکال د کرسمس په ورځ د پولیسو پر دغه

---

٥٧٥ - Helle Thorning-Schmidt

٥٧٦ - Sinbid

٥٧٧ - Serious crime Unit

بدنام مرکز برید وکړي. د پولیسو او انګریزي پوځیانو تر مینځ جګړه ونښته په پایله کې شپږ وسلوال عراقیان د پولیسو په مرکز کې ووژل شول.

انګریزي پوځیانو، زندان ونیوي، ویې لیدل چې زیات بندیان په یوه کوټه کې ځای شوي وو. د زیاتو بندیانو پر بدن د شکنجو علایم ښکاریدل. د بندیانو لاسونه، پښې تړپي وي او ځینې بندیان پر پښو او ځنګنونو ویشتل شوي وو. ځینو د اور داغونه چې په سګریټو سوځول شوی وو، درلودل. انګریزانو د پولیسو مرکز د خاورو سره برابر کړي. دا هغه د پولیسو مرکز و چې څه کم یو کال مخکې انګریزانو د خپل دوو سرتیرو د موندلو له پاره برید وربانديې کړی وو. برید ستونزه حل نه کړه. په فساد ککړو پولیسو د شکنجو په تړاو معلوماتو دوام وموند او زموږ د معلوماتو دقیقه کچه ډیر لږ وه. د پولیسو په مرکز کې دوه بندیان د برقي شکنجو په پایله کې مړه شوه خو هیچا ته سزا ورنه کړل شول. د سین بید عملیاتو بهرني پوځیان ستړی کړل او د سرتیرو کمښت یې احساسولو. کله چې توني بلیر او اندریس فوک غاسموسن د فبوری پر (۱۷) نیټه د سرتیرو د ایستلو موضوع د عراق څخه اعلان کړل، پورته ذکرشوي عملیات هم پای ته رسیدلي وو. راتلونکی میاشت بریدونو په بصره کې بیا خپل صعودي مسیر طی کولو.

ډنمارکي او انګریزي سرتیرو ډیر وختونه اړ ایستل کیدل چې کمپ ته راوګرځي، کوم چې په دومداره توګه د راکټونو تر بریدونو لاندې و. جګړه مارو د بریالیتوب جشن ونیوي او پرته د کومې ستونزې یې په ښار کې د کسات اخیستلو او داخلي جنګي عملیات کول. د شپې له خوا جګړه مارد پولیسو په جامو کې په ښار کې ګرځیدل، خپل سیاسي مخالفین یې نیول، شکنجې یې ورکولي او وژل یې.

د اپریل د میاشتې په وروستیو کې د ډنمارک د دفاع وزیر، سینو ګیده[۵۷۸] عراق ته سفر وکړي او د عراق د دفاع د وزیر، عبدالقادر سره یې ولیدل. د دفاع وزیر د ډنمارکي سرتیرو سره په کمپ کې ولیدل. د دفاع د وزیر سره د ایکسترا[۵۷۹] مجلي او د ډنمارکي دوم چینل[۵۸۰] ژورنالیستان ملګري وو. د دفاع وزیر او

---

[۵۷۸] - Søren Gade

[۵۷۹] - Ekstra bladet

[۵۸۰] - TV2

ملګرو يي ماښامني د خپلو پوځي مشرانو سره په کمپ کې وخوړي، په همدغه وخت کې الارم وړغول شو. ټولو پروت وکړي. د تلويزيون ژورناليست د دفاع د وزير سره په داسې حال کې چې د دفاع وزير پروت وه، مرکه وکړه. کله چې الارم پای ته ورسيدي، ټول جوړ او روغ وو.

وروسته د دفاع وزير، سوين ګيده د ايکسترا مجلې ژورناليست ته وويل: «دغه حالت ډير نا ارامونکي دي خو د ډنمارکي پوځيانو ورځنی حالت همدا دي چې ژوند ورسره کوي.»

کله چې د دفاع وزير يوه ورځ په کمپ کې و، نه (۹) ځله الارم وړغول شوو. هيڅ راکټ پر کمپ و نه لګيدي.

کله چې د دفاع وزير ډنمارک ته راورسيدي، د پارلمان د بهرنيو چارو کمسيون ته يي پټ معلومات ورکړل چې ما (د دفاع وزير) ښکاري پوځيان عراق ته وليږل تر څو پرکمپ باندې د راکټونو د بريدونو مخه ونيسي. خو په همدغه شپه دوهم چينل تلويزيون بربنډه کړه چې عراق ته ښکاري پوځيان ليږدول کيږي، همدا موضوع په سبا ورځ په ډنمارکي ورځپانه، يولند پوستن [۵۸۱] کې خپره شوه.

د ښکاري پوځ مشر، هينريک فريس تورن [۵۸۲] شو چې موضوع يې رسوا کړي ده.

په همدغه ډول مخالف جنګيالي خبر شول چې ښکاري پوځ عراق ته د راتلو په حال کې دي. د ښکاري پوځ مشر، هينريک فريس وويل: «زموږ له پاره ستونزمنه شوه چې دنده په ښه توګه تر سره کړو او هم دا دنده ډيره خطرناکه شوه او هم امنيتي حالات د ډنمارکي سرتيرو له پاره د سخت ګواښ سره مخامخ کوي. زه فکر نه کوم چې زموږ سرتيري به د دغه ډول حالت لايق وي. تير کلونو مو وليدل چې پوځيان مو ووژل شول او دا ځل به هم خطرلږ نه کړای شو.»

---

- Jyllandsposten[۵۸۱]

- Herik H.Friis [۵۸۲]

ښکاري پوځيان بايد مخالف جنګيالي په سيمه او کورونو کې شپه او ورځ وپلټي او ويي وژني کوم چې د ډنمارکي او انګريزي پوځيانو پر کمپ د راکټونه[583] فير کوي. دغه راکټ د جګړه مارو خوښ وو ځکه چې انتقال او استعمال يي ډير ساده وه او هم ډير ارزانه وه. په همدا ډول دغه راکټ په ډيره کوچني ساحه کې ځای پر ځای کيدلای شوای، جګړه مارو د کوڅو، سمندر او هر ځای څخه فير کولای شوای. يو عيب يي درلودي چې دقيق ويشتل يي نه کول. همدغه علت و چې جګړه مارو د يو لوی هدف له پاره (لکه د پوځيانو کمپ) استعمالول. د ښکاري پوځيانو دنده وه چې دغه بريدونه ودروي خو اوس ښکاري پوځيان رسوا شول.

د دفاع وزارت څيړنې پيل کړي چې هغه کس ومومي چې دغه پټ راز يې بربنډ کړي دي. پايله دا شوه چې په سلګونو کسان د تلويزيون د خپرونې څخه خبر دي. د پارلمان د بهرنيو اړيکو کمسيون هم تر شک لاندې وو چې کيدای شي دغه پټ راز يي بربنډ کړي وي خو هغو دغه تور په کلکو ټکو رد کړل.

کله چې د ډنمارک د دفاع وزير د عراق څخه ليدنه وکړه، ويي ويل: کله چې په وړی کې موږ خپل پوځيان وباسو، د عراق حالات به نور هم ډير ترينګلي شي.

نوموړی علاوه کړه: «په خواشينی بايد ووايم چې دا جګړه په داخل کې د واک نيولو په خاطر ده. که ژور ورته ځير شوو، خپله عراقيان بايد د حل لار ومومي. دوي بايد خپله د مختلفو ګروپونو تر مينځ د اختلاف ټکي ليري کړي او سره جوړ شي.»

لير ليد ښه نه ښکاری دي. د راکټونو بريدونو پر کمپ دوام درلودي، سره د دي چې ډنمارکي ښکاري پوځيانو عمليات پيل کړي وو. مخالفو جنګياليو د پوليسو لويه برخه جوړول نو ځکه بهرنيو پوځيانو د کمپ څخه بهر ګزمې محدودي کړې. د ۲۰۰۷ زکال د مي په (۹) نيټه د دفاع وزارت څارګرې اداري د لومړي ځل له پاره د تهديدونو د زياتوالي په اړوند ارزونه وکړه او ويې ليکل چې د عراق حالات د کورنی جګړې پر لور پرمختګ کوي. څارګرې ادارې حالت دا ډول بيان کړل چې د قدرت جګړه په څه ډول د شيعه ګروپونو په ځانګړې توګه

---

[583] - Katjusjaraketter

د (سکیرۍ) [٥٨٤]، صدر او د فادیلا [٥٨٥] جنبشونو ترمینځ زور اخیستی دی چې د ډار چاپیریال یي رامینځته کړی او وژنې کیږي.

د عراقي پولیسو حالت یې هم داسې یې بیان کړي: « د عراق په امنیتي جوړښت کې پولیس ډېر ضعیف او ناتوانه دي. جګړه مار په پولیسو کې ډېر زیات اثر او رول لري، په همدغه علت یي د پولیسو جنګي قابلیت ډېر لږ کړی دي. څارکرې اداري علاه کړل چې د ال صدر ډله ډیره وسله لري، په پولیسو کې ډیره اغیزه لري او د بصرې ډیرې برخې یي په ولکه کې دي.»

په عراق کې د ډنمارکي پوځیانو د وروستي پوځي واحد(نهم واحد) مشر، کیم پیټرسن [٥٨٦] هم پورته بیان تصدیق کړي.

کیم پټرسن وایي چې د وتلو د پروسې په جریان کې د عراقي جګړه مارو لخوا تقریباً په ټولو سیمو کې پر موږ ډېر بریدونه وشول. د دي بریدونو په مقابل کې غبرګون دا وو چې ډنمارکي سرتیرو ځانونه ساتل نو د دي پر ځای چې په سیمه کې ګزمه وکړي، په کمپ کې به پراته وه. کیم پیټرسن د وتلو د پروسې په رپوټ کې په ډیپلوماتیکه ژبه داسې ولیکل: «د سیمو د خلکو سره د ډنمارکیانو اړیکې خرابې شوی دي، همزمانه د دغه حالت په شتون کې ډنمارکي پوځیان خپلې ورځنۍ دندې د پخوا په شان اجرأ کولای نه شي.»

د صدراعظم، اندریس فوک غاسموسن ویناوي چې د رسنیو سره یي کولي، د واقعیتونو سره یي اوړه نه لګوله ځکه نوموړي د فبوري په میاشت کې په ټینګار وویل چې د عراق په جنوبي سیمو کې حالت مخ پر ښه کیدو دي. دوي نیمې میاشتې مخکې د دي څخه چې موږ عراق پریږدو، په ۲۰۰۷ زکال د می په (۱۴) نیټه یو بل سرتیري مو ووژل شو. دغه سرتیري په هغه برید کې ووژل شو چې مخالفین خزه شوی وه او سخت برید یي پر ډنمارکي پوځیانو وکړي. دا ډول بریدونه په لوړه کچه زموږ د شتون په دوران کې شوی وو. په ډنمارکي تلویزون کې زموږ د پوځونو ټانک وښودل شو چې اورونه پر بل او عراقیانو

---

- SCIRI[٥٨٤]
- Fadila[٥٨٥]
- Kim B. Petersen[٥٨٦]

ورته نڅاه کول. او هم دا ډول يي د سرتيرو د پوځي خوليو پرشاوخوا نڅاه ګانې کولې.

يو سهار د وخته (۱۰۰) ډنمارکي او يو شمير ليتوانيايي سرتيري د بصرې سهيل لورې د ال هارتا ښار ته ولاړل. سرتيرو دنده درلوده چې د وروستي ځل له پاره د بيا رغونې د پروژې څخه ليدنه وکړي او وګورې چې د درو ښوونځيو درسي کوټې بيا رغول شوی دی که نه، مخکې له دي چې عراقيانو ته يي وسپاري. دا يوه اسانه دنده نه وه ځکه دغه سيمه د مخالفو جنګياليو تر ډيرې اغيزې لاندې وه.

کله چې سيمې ته ورسيدل، سرتيري يې پر درو برخو (په هره برخه کې ۲۲ تنه وو) وويشل شول چې پر پښو ولاړشي او د ښوونځيو څخه ليدنه وکړي. دوي د ديوالونو د بغل سره په بشپړ احتياط روان وو او پاملرنه يي کوله چې کوم څوک د بامونو د سرونو څخه ډزې ونه کړي. کله چې دوي هلته ورسيدل، يو شمير سرتيرو پهره کوله او يو شمير د درسي کوټو د ليدلو له پار ښوونځي ته ننوتل. د امنيت په خاطر دغه ليدنې بايد څو دقيقي وخت نيولای واي. ناڅاپه پر پهره کوونکو ډزې پيل شوی او يو سرتيري په ملا کې وويشتل شوو. نوموړي هڅه وکړه چې ولاړ شي خو پر مځکه راپريوت. نوموړي ته نژدي سرتيري هڅه وکړه چې لومړنۍ مرسته ورکړي تر څو وينې يي ودريږي. ډزو دوام وکړي او نورو سرتيرو هم تلاښ کولو چې ځانونه پټ کړي. خو وروسته ډنمارکي سرتيري يو کور ته ننوتل. د ډنمارکي پوځ مشر په مخابره کې واوريدل چې يو سرتيری سخت ټپي شوی دي. د ډنمارکيانو پوځي دلګي په زري وسايطو کې د پيښې ځای ته حرکت وکړی، د پيښې د ځای څخه دوه سوه متره ليري ودريدل. مخکنی زري وسيله د لاری پر سره پر ښخ شوی بم وختل. نور زيات سرتيري په زري وسيله کې ټپيان شول، د دلګي پاتي سرتيرو تلاښ وکړي چې ټپي شوی ټپيان د جنګياليو د نورو ډزو څخه وژغوري. ټپيانو ته لومړنۍ مرستې ورکړه شوي او د راډيو له لاری څخه يي د انګريزي پوځيانو څخه ډاکتر او چورلکه راوغوښتل چې ټپيان د پيښې د ځای څخه انتقال کړي.

ډنمارکي پوځيانو په سراي کې د کړکيو په ساتلو کې تلاښ کولو ځکه جنګياليو حرکت وکړي او پر سراي يي ډزي کولي او لاسي بمونه يي ورغورځول. په کمپ کې مشرتابه پريکړه وکړه چې د پيښې ځای ته سرتيري او دري زري وسايط وليږي خو په لار کې يوه زري وسيله د بم ښکار شول خو سرتيري ټپيان

نه شول، پوځيان اړ شول چې زري وسيله پرېږدي. کله چې انګريزي پوځونه د پيښې سيمې ته ورسيدل، کلابند سرتيري يي خلاص کړل. انګريزي پوځيانو کمپ ته د بيرته راتللو په وخت کې جګړه وکړه خو نور سرتيري يې ټپيان نه شوه.

د ډنمارکي پوځ د قوماندې مرکز په خپله انټرنيټي پاڼه کې وليکل: «په روښانه توګه بايد ووايو چې عراقي جنګيالي ښه تنظيم شوی او بشپړ جګړه ايزه تياري يي درلودي.»

د ۲۰۰۷ زکال د اګست په مياشت کې ډنمارکي پوځيان ډنمارک ته راستون شول. (۷) سرتيري په جګړه کې وژل شوی، (۱۹) سرتيري د څلورو کالو په اوږدو کې د عراق په جنوب کې سخت ټپيان شوي وو خو بيا هم مخالفو جنګياليو په سيمه کې بشپړ واک درلودي. د پوځ د عملياتو د قوماندې د مرکز مشر، پاول کيارسکوو[۵۸۷] د پوځ د ايستلو په وخت کې وويل چې موږ د مسوليت څخه نه تښتوو.

نوموړي وايي کله چې زموږ پوځيان د بصري په ساحه کې وه، ډير څه پيښ شول چې ښکاره ښې پايلې يي درلودي. دا زموږ د پوځيانو د چوپړ نتايج وو.

ولې بايد په خواشينۍ سره ووايم چې دغه سيمه د امنيت د لحاظه ډير کار ته اړتيا لري. د امنيت موضوع زما د بشپړې پاملرنې وړ ده خو زه باور لرم چې عراقيان په راتلونکې کې د دندو تر عهدې وتلای شي.

د ډنمارکيانو سرتيرو د وتلو څخه څو مياشتي وروسته د عراق په جنوب د بصرې په سيمه کې حالات ډير کړکيچن شول. کله چې وروسته انګريزان هم د عراق څخه ووتل، نو ايران په عراق کې شيعه مسلمانانو ته وسلې ورکړي تر څو په سيمه کې اغيزه ولري. د دغو لاسوهنو پايلې د عراق د نوي صدراعظم نور المالکي له پاره ډيرې ستونزې رامينځته کړي، نورالمالکي د ابراهيم ال جعفري پر ځای صدراعظم شو. نوموړي د امريکايي پوځونو د لوي قوماندان جنرال پيتريوس[۵۸۸] سره پلان جوړ کړي.

---

[۵۸۷] - Poul Kiærskou

[۵۸۸] - General Petraeus

د ۲۰۰۸ زکال د مارچ په میاشت کې د امریکایي ځواکونو په ملاتړ، عراقي پوځیان د بصرې سیمې ته ننوتل. مخالفینو سخت مقاومت وکړي خو نورالمالکي د عملیاتو له پاره (۳۰۰۰۰) عراقي پوځیان لیږلي وو. تر دوو میاشتو وروسته شیعه جنګیالي ډېر کمزوري شول. ستونزي بیا هم ډیرې وي خو سیمه د عراقي پوځ تر کنترول لاندې وه.

دا د انګریزانو او ډنمارکي پوځیانو د تلاښونو پایله نه وه.

د پوځ عمومي مشر یسپر هیلسیو اوس[٥٨٩] وایی: په خواشینی باید ووایم چې د ډنمارکي او انګریزي پوځیانو محاربوي فعالیتونو پایلې د سیاسي پلان مطابق تر سره نه شوي.

زه دا عملیات ځرګنده بریالي نه ګڼم، هغه پلان چې موږ ورپسي تللي وو، ورته ونه رسیدلو. کله چې موږ عراق پریښودي، د عملیاتو بڼې بدلون موندي، د دې پر ځای چې موږ د عراقیانو سره مرسته وکړو، په بدل کې مو د خپلو سرتیرو امنیت ته ډیره پاملرنه کوله.

یسپر هیلسیو وایي چې زه ښه خبر یم چې زموږ سیاستوال وایي چې موږ پوځیانو خپله دنده په ښه توګه تر سره کړه او عراقیان زموږ تر وتلو وروسته د دې توان لري چې د امنیت چارې پر غاړه واخلي خو پوځیانو په خپل مینځ کې ډیره اندیښنه درلوده چې عراقیان به په یوازې سره د امنیت د دندې تر عهدې ونه وتلای شي.

نوموړي د مثبت لید لورې څخه وایي چې د عراق امنیتي چارواکي پرته د ډنمارکي او انګریزي پوځونو د مرستې څخه عملیات تر سره کولای شي.

موږ نه شوای کولای چې په عراق کې نور هم ډیر مخته ولاړ شوو. دا مهمه نه وه چې موږ څه په لاس راتلل خو موږ پر ړنده لار مخته تللو. انګریزانو هم عیني حالت درلودي. دا مهمه نه وه چې انګریزانو د بصرې پر سړکونو څومره ګزمې کړی وای او څو ځله یې د والي او پولیسو د مشرانو سسره غونډې کړی وای، خو پرمختګ نه تر سترګو کیدي. همزمانه نا ارامیو زور اخیستي. زموږ دنده څه وه؟ نوموړی وایي چې موږ باید خپل پوځیان یوې خطرناکې سیمې ته

---

[٥٨٩] - Jesper Helsø

ليږلي واي او په هدف پسې ګرځيدلي واي خو موږ په خپل وروستي ټولګيو پوځيانو دا کار نه شو تر سره کولای.

د عراق عمليات زموږ د پوځ له پاره هغه ليد لوري پرانيستی چې په افغانستان (هلمند) کې مو ګټه ورڅخه واخيستله. (ژ: زه نه پوهيږم چې د ډنمارکي پوځ مشر ولې د هلمند په عملياتو وياړ کوي، په همدغه کتاب کې دوي خپله اعتراف کوي چې د ډار څخه د موږکانو په ډول په غارونو کې پټ وو. د هلمند خلک ښه قضاوت کولای شي).

نوموړی علاوه کوي چې تر عراق وروسته زه باوري وم چې د هلمند د امنيت چاره کولای شو.

کله چې موږ د عراق څخه وتلوو، زموږ ټول لارښوونکي په عراق کې دلګې مشران او يا هم د يو پوځي واحد مشران وو.

د بهرنيو چارو وزير، پير سيتي ميلور ته د عراق څخه افغانستان ته د پوځونو بدلول منطقي کار و چې نوموړي يي اوس داسې بيانوي:«موږ دا احساس درلودي، هغه څه چې موږ په عراق کې بايد کړی وای، هغه مو وکړل. خو موخه دا نه وه چې ډنمارک د امريکا او ناټو د اجازې پرته ونه خوځيږي. موږ هيڅ راز انديښنه نه درلوده، يوازې مو درنه نقطه و افغانستان ته انتقال کړل.

## هیره شوی جګړه د (۲۰۱۱ - ۲۰۱۲) زکال

د ۲۰۰۱ زکال د ډسمبر (۵) نیټه: یو شمیر طالبانو د ملا برادر په مشرتوب وغوښتل چې حامد کرزي د ولسمشر په توګه ومنئ. وړاندیز د امریکا او شمالي ټلوالې د فشار له امله رد کړل شو.

د ۲۰۰۱ زکال د ډسمبر (۷) نیټه: کندهار ازاد شو او طالبانو جګړه وبایلل.

(۲۰۰۲ - ۲۰۰۵ ) زکلونه: کرزي دوه پخواني جګړه ماران او خپل شخصي دوستان د کندهار او هلمند د ولایتونو د والیانو په توګه مقرر کړل. په را وروسته کلنو کې اداري فساد، د نشه ای توکو کار وبار او د واک څخه ناوړه ګټه اخیستنه پراخه شوه.

د ۲۰۰۲ زکال پسرلی: ملاعمر د کویټې شورا جوړه کړه چې د طالبانو مشرتوب به کوي. کله چې حامد کرزي د ملابرادر وړاندیز رد کړی نو هغه او د هغه ملاتړي دوباره د طالبانو د لیکو سره یوځای شوه.

د ۲۰۰۳زکال د مارچ شپږمه: هغه وخت دري ډنمارکي او دوه الماني سرتیري ووژل شول کله چې دوې پخواني روسي توغندي خنثی کولې خو وربانديې وچاودیدلې.

د ۲۰۰۳ زکال د ډسمبر دوهمه: د ډنمارک پارلمان پریکړه وکړه چې نور سرتیري هم کابل ته ولیږي. د سرتیرو ټوله شمیره (۱۰۰) تنو ته ورسیده.

د ۲۰۰۴ زکال د نوامبر (۲۵): د ډنمارک پارلمان بیا پریکړه وکړه چې (۴۰) نور سرتیري باید فیض اباد ته ولیږل شي.

د ۲۰۰۵ زکال وړی: د امریکا د نشه ای توکو کارپوهانو د هلمند د والي، شیرمحمد اخندزاده د لښکرګاه په کور کې (۴۰) ټنه نشه ای توکي وموندل.

د ۲۰۰۵ زکال د سپټمبر (۱۸): ډنمارکي پیټر یربین [۵۹۰] د کابل ښځه د ټاکنو د څارنې مشرتوب په غاړه درلودي.

د ۲۰۰۵ زکال د ډسمبر میاشت: ولسمشر حامد کرزي اړ ایستل شو چې د هلمند والي ملا شیرمحمد اخندزاده د دندې څخه ګوښه کړي.

کله چې حامد کرزي د ۲۰۰۳ زکال د فبوري په (۲۶) نیټه  په رسمي سفر واشنګټن ته ورسیدي، یو خوشاله سړي نه مالومیدي. د افغانستان د لنډ مهالې ادارې ولسمشر اندیښنه درلوده او په عیني ورځ د ولسمشر اندیښنه په قهر بدله شوه.

د نړۍ پاملرنه پوره نیم کال د صدام حصین او عراق لورى ته وه او د امریکا د جګړې د پیل موده د صدام پر ضد هره ورځ نژدي کیدل. صدام حصین راتلونکي افغان ولسمشر، حامد کرزي نه وه اندیښمن کړي. د ولسمشر حامد کرزي اندیښنه دا وه چې د نوموړى هیواد، جګړه ځپلی افغانستان به د عراق د جګړې په پیل کیدو هیر شي.

د ولسمشر جورج بوش سره لیدنه د حامد کرزي له پاره هغه چانس و چې د افغانستان حالات جورج بوش ته ور په زړه کړي. سره د دي چې د امریکا او لویدیزو هیوادونو په مشري د شمالي ټلوالي په ګډون (۱۴) میاشتي مخکی طالبان د دولتي واک څخه شړل شوی وو، خو بیا هم د ولسمشر کرزي د واک ساحه محدوده وه. د کابل د ښاروال مقام تر ولسمشر حامد کرزي ډیر اغیزناکه مقام و. (ژ: دا هغه کیسه ده چې امریکایانو ولسمشر کرزي د کابل ښاروال نوملي و.«د حامد کرزي د وینا څخه»). لویه ستونزه دا وه چې جګړه مار کابو شي ځکه دوي د واک لویه برخه غوښتل، ځکه د ولایتونو خلکو هیڅوخت په خپله خوښي د کابل اداره نه منل.

لویدیز مشران په پورته ستونزه نه پوهیدل. ولسمشر حامد کرزي د نړۍ ډیرو هیوادونو ته سفرونه وکړل او د نړۍ د مهمو سیاسي مشرانو سره یی لیدني او کتني وکړي. د نړیوالو په نظر ولسمشر حامد کرزي د خلکو اتل ښکاری دي. حامد کرزي موډرن پښتون، ارام، کونډی ږیره او په شیرږو ژبو پوهیدي چې

---

[۵۹۰] - Peter Erben

مهمې ژبې انګريزي او فرانسوي وې. حامد کرزي (۴۵) کلن، ښايسته کالي چې د پرمختللي انسان نښې درلودې، اغوستل.

د ايټاليا د ډيزاين د مشهورې کمپنۍ «ګوچی»[۵۹۱] مشر په ۲۰۰۲ ز کال د ايټاليا د ميلان د ښار په نمايش کې، حامد کرزي د نړۍ ښايسته ترينه سړی معرفي کړي.

د موډ کارپوه د حامد کرزي جامې چې اروپايي او اسيايي دواړې بڼې په کښې نغښتي دي، ښايسته وبللي. د جامو کارپوه وايي چې د حامد کرزي د جامو نه علاوه د قره قل پوست، نوره هم ښکلا ور زياته کړي ده. د بی بی ثی[۵۹۲] تلويزيوني چينل هم د کرزي د جامو په تړاو ورته نظر درلودي.

خو دنړۍ ښايسته سړی په واشنګټن کې د ستونزو سره لاس او ګريوان وو. حامد کرزي ته خبرداری ورکړل شو چې نوموړی ته د کانګرس په غونډه کې د نړۍ د ډير لوړ مشر په سترګه نه کتل کيږي. په نورمال ډول د بهرنيو دولتي مشرانو او د امريکايي سياستوالو تر مينځ غونډې د کاپيټول هيل په زرينه ښايسته کوټه، س ـ ۱۱۶ کې[۵۹۳] کيږي. په دغه کوټه کې د نړۍ د دولتو مشران د امريکايي سياستوالو سره په شخصي ډول د نوموړې کوټې پر ښکلې ډيکور شوی ميز لږ څه خوري او ځان تازه کوي. په دغه کوټه کې د منني مراتب او شخصي نظرونه پرته له دي چې رسنۍ شتون ولري او يا يادشت واخيستل شي، سره تبادله کيږي. په هغه وخت کې بل څه وشول. د سنا د بهرنيو چارو د کمسيون تجربه لرونکی سناتور، ريچارد لوګر ووېل[۵۹۴] چې دغه تعامل بايد مات شي. ولسمشر کرزي ته د سنا د بهرنيو اړيکو کمسيون د غونډو په ۱۱۹ کوټه کې[۵۹۵] ښه راغلاست ووايه. (ژ: دا هغه ودانۍ ده چې امريکايي سناتوران غونډې کوي خو دغه کوټه د نړۍ د دوهمې درجې دولتي مشرانو د ښه راغلاست له پاره ده.)

---

[۵۹۱] - Gucci

[۵۹۲] - BBC

[۵۹۳] - Capitol Hill, S-116

[۵۹۴] - Richard G. Lugar

[۵۹۵] - Dirsenbygningen

مشر سناتور د حامد کرزي سره وږغيدي او ورته ويي ويل چې کيدلای شي، افغانستان د لويديزو د اجنډا څخه ليري شي.

د واشنګټن پوست د معلوماتو له مخې مشر سناتور، لوګر، حامد کرزي ته وويل: «د دي خاطره چې ستاسو هيواد د ډيرو چيلينجونو سره مخامخ دي او په دی خاطر چې ستاسي هيواد د امريکا له پاره ډير ارزښت لري. نو زه فکر کوم چې موږ بايد د بهرنيو اړيکو د کمسيون عادي تشريفات ليري کړو نو ځکه غونډه به په علني توګه دايره کړو.»

مشر سناتور، لوګر دوې اونۍ مخکې په يو ليک کې ولسمشر حامد کرزي ته ليکلي و چې په طبعي توګه د سنا د غونډې يو دوديز تحقيقات (پوښتنې) نه دي بلکې يوه غونډه ده چې امريکايي سياسيون ورته رابلل شوی دي. مشر سناتور حامد کرزي ته اطمينان ورکړي چې د غونډې پورتنۍ کوټه او د ميز ډيکوريشن به درست وي او د سياستوالو د پوښتنو ژبه به داسې څرګنده کړي چې د افغانستان ولسمشر مخاطب دی نه دا چې د افغانستان يو لوړی چارواکی چې په ستونزو کې

راګير دي، حضور لري.

مګر د ۲۰۰۳ زکال د فبوری په (۲۶) نيټه نوموړی کوټې عادی بڼه درلوده او هر څه ګډوډ شول. په داسې حال کې چې حامد کرزي يي د شاهدي ورکولو په ډول د پوښتنو پر ځای کښينولی و، د حامد کرزي د ناستی ځای داسې موقعيت درلودي چې د کمسيون غړي لوړ ناست وو او داسې انګيرل کيدل چې حامد کرزي د درناوی په توګه د کمسيون غړو ته لوړ ګوري. د دغو خبرو جريان د تلويزيوني شبکې له لارې په نيغه خپريدي. داسې ښکاريدل چې سناتورانو ټولې وعدې هيري کړي وي. د خبرو پيل ډير سخت و. د کرزي څخه پوښتنې د هر لوری پيل شوی. کرزي ځان ټيټ احساس کړ او سخت په قهر و. سبا ورځ حامد کرزي سپينې ماڼۍ ته وبلل شو خو د حامد کرزي انديښنه ليري شوی نه وه، امريکايانو د بلې نوی لويې جګړې د پيل خبري ورته وکړي. د افغانانو غوښتنه د امريکايانو څخه دا وه چې نوره مرسته بايد وکړي چې په افغانستان کې ثبات او سوله ټينګه شي.

جورج بوش حامد کرزي ته اطمینان ورکړي چې د امریکایانو یوازنی غوښتنه داده چې د افغانانو ژوند بهتره شي. خو د امریکا ولسمشر د عراق د جګړې د پیل کیدو سره هیڅ ډول ضمانت ور نه کړي چې افغانستان به هیر نه شي.

دا یوازې واشنګټن نه و چې د افغانستان جګړه ورته هیریدونکي وه. په لومړی مرحله کې رسنیو او ډنمارکي سیاستوالو د افغانستان د پرمختګ سره علاقه وشکیدل. کله چې ډنمارکیانو د جګړو تر څو کلنو وروسته واوریدل چې هیواد د طالبانو د واک څخه ازاد شوی دي، د کابل د چاپیریال ډیر تاثیرناکه انځورونه یي ولیدل یاني د نویو ښوونځیو پیل، دوکانونه (هټي)، تلویزیون، موزیک او په کوڅو کې د زده کوونکو (هلکان او نجونې) د ښوونځیو په جامو کې تللي. ډنمارک او نورې نړۍ فکر وکړي چې د افغانستان لاس ته چانس ورغي او د چانس څخه یي ښه ګټه پورته کړه. لویدیز هیوادونه د کلیو او لیري پرتو سیمو د پرمختګونو څخه لږ یا هیڅ خبر نه وو.

په کابل کې د پخوانیو پیژندل شوو جګړه مارو د واک د ډیریدو څخه د خلکو شکایتونه زیاتیدل، کوم چې د طالبانو په له مینځه وړلو کې د امریکایانو سره مرسته کړي وه او د شکرانې په توګه امریکایانو واک ته رسولي وو. یو داسې قوي مقاومت رامینځته نه شوو چې وسلوال جګړه مار یي بیرته پر ځای کښینولي واي. یوازې د روڼ اندو په چاپیریال کې د جګړه مارو څخه شکایتونه وو او ځانونه یي نا ارامه احساسول، خو د روڼ اندو دغې وړی حلقي ونه کړای شوای چې د لویدیز پلوي تر لاسه کړي. د لویدیزو هیوادونو، د ډنمارک سیاستوالو او رسنیو هم دا روښانه نه کړه چې حامد کرزي څومره واک وسلوالو جګړه مارانو ته ورکړی دي.

د ۲۰۰۲ زکال د مارچ د (۶) نیټې څخه افغانستان یو ځل بیا د ورځي په اجندا کې هیر شو. یو ډنمارکي پوځي ګروپ چې د جرمنانو تر مشرتابه لاندې د کابل څخه بهر د شوروی اتحاد د پخوانیو دوو راکټونو د خنثی کولو له پاره کار کولو. راکټونو انفجار وکړي ، دوه جرمنان او دري ډنمارکیان یي ووژل، خو دري ډنمارکیان ټپیان شول. دا په نوي عصر کې د ډنمارکیانو لوی ځاني تلفات وو، خو د ډنمارک صدراعظم، اندریس فوک غاسموسن وویل چې دغه پیښه نه شی کولای چې د ډنمارکیانو مرستې د افغانستان سره ودروي. دا سرتیري د هغو سلو سرتیرو څخه وو چې دوي میاشتي مخکې د ډنمارک د پارلمان د رایو په اتفاق افغانستان ته تللي وو. دغه سرتیرو د ملل متحد په غوښتنه او موافقه د

ایساف[596] په چوکاټ کې دننه درلوده. سرتیرو دنده درلوده چې په تدریج سره د افغانستان د مشرانو سره مرسته وکړي چې په ټول هیواد کې واک ولري.

د پیښې یوه ورځ وروسته د پارلمان د بهرنیو اړیکو کمسیون ته خبر ورکړل شو خو وروسته په افغانستان کې د ډنمارک سرتیري د ورځپاڼې د پاڼو څخه ورک شول او افغان حکومت تلاښ ته دوام ورکړی چې حکومت پیاوړی کړي.

یوازي څو زره لویدیز پوځیان په افغانستان کې وو، د ملل متحد اداري او نورو سازمانونو په جدي توګه د افغانستان د پرمختګ او بیا رغونې له پاره سره کښینستلی نه وو چې جوړونکي پریکړې وکړي. د طالبانو د سقوط په لومړی کال کې ناټو ځانګړی رول و نه لوباوه. څو هیوادونو یو شمیر پوځي ځواکونه د ایساف په واک کې ورکړل، چې په نوبت سره یې ګډون کونکو هیوادونه مشري کول. مګر تر یو نیم کال وروسته هیڅ هیواد نه غوښتل چې د دغې درندې دندې مسولیت په افغانستان کې پر غاړه واخلي.

همدغه دلیل و چې د ۲۰۰۳ زکال د اګست پر (۱۱) نیټه ناټو د ایساف مشري پر غاړه واخیستل چې (۵۰۰۰) سرتیري یې درلودل. کاناډا ډیر سرتیري ورکړل او المان هم زیات پوځونه درلودل. ناټو پرته د کوم اقدام په کراره د پوځونو مشري کول. په افغانستان کې دننه تر سره کول د هغو عملیاتو سره چې موږ په اروپاه کې ور سره اشنا وو، ډیر توپیر درلودي.

په پیل کې د ایساف دنده دا وه چې د کابل د ښار امنیت ونیسي تر څو ولسمشر وکولای شي چې دندې ته ولاړ او راشي پرته د دې چې انفجار ورکړل شي، د دې له پاره چې د حکومت واک ټول هیواد ته خپور شي، زموږ مخته ډیرې دندې پرتې وې. افغانستان، بالکان[597] نه و چې ناټو وروستې پوځي عملیات په کوسوو[598] کې وکړه. افغانستان ډیر جګ غرونه چې ورڅخه تیریدنه ډیره ستونزمنه وه او صعب العبور لارې لري.

---

- ISAF= International Security Assitance Force[596]

- Balkan[597]

- Kosovo[598]

د بل لوري د سپټمبر د (۱۱) نيټې د ترهګريز بريد څخه وروسته امنيتي اصطلاح ژور بدلون موندلي و. ياني پاملرنه د يوې سيمې د دفاع څخه د نړيوال تروريزم څخه و دفاع ته بدله شوی وه. دناټو په مرکزي اداره کې داسې کسان ناست وو چې فکر يې کولو چې د افغانستان جګړه د نجات يو واښکی (تناب) دي چې د سړې جګړې پر ضد پخواني ملاتړو هيوادونو ته د برلين د ديوال او د ختيز بلاک تر نړيدولو وروسته نوی خبرتيا ورکول کيږی خو په عيني وخت کې ختيزو هيوادونو ډار درلودي چې د مسکو تهديد د هيريدولو په حال کې دي چې ځان ساتو (محافظه کارانو) همږغي ور سره درلودل. د ناټو د غړو هيوادونو ویاند، مارک لایتی[۵۹۹] چې د ناټو د عمومي منشي مشاور هم و، وايي چې ما کومه ځانګړی علاقه مندي نه را په زړه کيږي. نوموړی وايي چې داسې يو حالت نه و چې د ناټو غړي د بيړې څخه پر مځکه لويدلي وی خو دا چيغې يې وهلي چې وروستی مخکښ يو بايلونکي دي. د دوي پښی چابکي نه وی بلکې پښې يي ور پسي ځکيدلي.

د پرسونل کمښت ټولو ته څرګند وو. په ۲۰۰۳ زکال کې د کوسوو په ارام هيواد کې د هرو (۴۸) تنو له پاره يو سرتيري هلته ځای پر ځای شوی و خو په افغانستان کې د هرو (۵۳۸۰) افغانانو له پاره يو پوځي ځای پر ځای شوی و. تر ټولو بده لا دا وه چې په ټوليزه توګه د افغانستان له پاره کوم کاري پلان شتون نه درلودي. ناټو هيڅ ستراتيژي نه درلودل او کوم پلان يي پر مخ نه بوتلو. اوس د ناټو او ډنمارک مشرتابه دواړه دا مني چې د يوې اصلي ستراتيزي کمښت د دي سبب شول چې د بريدونو لړی په اهسته ډول د کنترول څخه ووتل. د ناټو د شتون لومړی کال په افغانستان کې عبث تير شو. طالبان د تجزيې او له مينځه وړلو په حالت کې وو. په دغه کال کې ناټو او امريکايانو د امکاناتو څخه هيڅ ګټه پورته نه کړه چې د يو منظم او بريالي پلان د عملي کولو له پاره مناسب اقدام وکړي.

جمی شيا[۶۰۰] د مارک په ډول په مرکزې برخه کې کار کولو، د ناټو د عمومي منشي سياسي مشاور، د غړو هيوادو د سفير په توګه د ناټو په شورا کې مقرر

---

[۵۹۹] - Mark Laity
[۶۰۰] - Jamie Shea

و، هغه اوس وايي که سړي بيرته ۲۰۰۳ زکال را په زړه کړي په څرګند ډول پريمانه کمبودی وي.

نوموړی وايي چې ټوله ستونزه په دغه عملياتو کې دا وه چې مخکې تر ارزونې افغانستان ته پوځونه واستول شول. جامی شيا وايي چې په بدل کې د عملياتو په جريان کې زده کړې کيدې، ناټو هغه وخت پلان جوړ کړي کله چې پوځ مخکې لا د ستونزو سره لاس او ګريوان شوی وو. سړی کولای شي چې دلايل وړاندې کړی چې دغه عملي امکانات وو چې همدغسي وشول. جامی شيا وايي چې زه فکر کوم چې دا ډول درسته نه وه. دا اړينه وه چې پلان جوړ شوی وای خو کيدای شوای د عيني واقعيتو سره د عملياتو په جريان کې عيار شوی واي.

د هغه وخت د ډنمارکي فوځ مشر، يسپر هيلسيو د پورته وينا سره همږغي دي. د ناټو په پوځي کميټه کې هيڅوخت د ښکيلو هيوادونو داسې ګډه غونډه او تفاهم و نه شوو چې په افغانستان کې به پوځيان څومره ستونزمنه دنده ولري. د ډنمارک د پوځ مشر، يسپر هيلسيو وايي چې ما ته هيڅوخت داسې دقيق پلان رانکړل شو چې زه وپوهيږم، ناټو په افغانستان کې کومو موخو ته رسيدل غواړي. ايا دنده دا وه چې بيرته طالبان واک تر لاسه نه کړي؟ او که دنده د افغانستان ډموکراتيزه کول و؟ او که داسې وه چې موږ ټوله پاملرنه وکړو چې څومره ښه ډموکراسي پياده شي؟

په افغانستان کې د نړی د زبردستو پوځي ځواکونو پياده کولو پرته د کومې ستراتيژۍ جګړه پيل کړه، ښکيل هيوادونه په ژوره توګه سره همږغي نه وو. ستونزې د جورج بوش د ولسمشري په لومړی دوره کې ډير زياتې شوي.

فرانسويانو او المانيانو په پرنسيپ کې د افغانستان د ملکي بنسټونو د اوږد مهالې بيا رغونې غوښتنه کوله. سپينی ماڼی او پنټاګون داسې نظر نه درلودي چې د ترهګرۍ پر ضد جګړه په اتومات ډول د هيواد د بيا رغونې مسوليت موږ ته را په غاړه کوي چې بيا ترهګر په افغانستان کې ځالې جوړي نه کړي. پرته د کومې يوې ګډې ستراتيژي هر هيواد په بيل ډول د خپلو ګټو د ساتلو پربنسټ کار کولو. کله چې د ډنمارک د پوځ مشر، يسپر هيلسيو هغه وخت را په زړه کړي نو د ارزونې يو خيالي سوچ رامخته کوي: «که چيری په ۲۰۰۳ زکال کې ناټو د ايساف څخه د ټول افغانستان د امنيت مسوليت اخيستی وای او په هغه وخت کې د دغه مسوليت د اخيستنې د غبرګون ارزونه کړی وای؟ که د اروزونې پايلې ښودلی وای چې په ۲۰۱۱ زکال به ۱۴۰۰۰۰ پوځيانو ته اړتيا پيدا کيږي

او جګړه به (۳ ـ ۴) کاله نور هم غځیږي؟ د جنرال ځواب دغه اټکل ته داسې دي: (نو سړی به هیڅوخت دا جګړه پیل کړی نه وای، خو همیشه سړی وروسته هوښیار شي.)»

د طالبانو تر تیښتې وروسته د افغانستان د ملکي برخې بیا رغونې ته پاملرنه ونه شوه، چې په هغه وخت کې د افغانانو لومړنی حقوق ته پاملرنه شوی وای، د بیلګې په توګه د روغتیایي چارو، زده کړو او قضایي ارګانونو سمون په نظر کې نیولای شوی وای. ملل متحد د افغانستان د چارو د تنظیم رول نه درلودي او د مرستو د پیسو زیاته برخه د ورکړل شوو هیوادونو لخوا د هغو سیمو په پروژو ولګیدلې چې د دوي سرتیرو هلته حضور درلودي. د بلې خوا زیاتو یا لږو با تجربه مرسته کوونکو او د پرمختګ سازمانونو کار کول تنظیم او پلان شوی نه وو.

د مرکزي چارو سمبالول د بیلګې په توګه د پولیسو روزنه او د یو درست قضایي سیستم ایجادول یوه هیواد ته ورکړل شول. المان ته د پولیسو د روزنې مشرتوب ورکړل شوو خو هیڅ کار یي و نه کړي. د قضایي سیستم جوړول چې د طالبانو د سقوط څخه وروسته یو ډیر مهم ارګان و، ځکه چې طالبانو د شرعي قانون د تطبیق سخته لار نیولی وه، و ایټالیا ته وسپارل شوو. دغه پریکړه د ناټو په یوه غونډه کې هغه وخت وشول چې د ایټالیا د دفاع وزیر په تفریح کې په خوشالي د ډنمارک د پوځ مشر، یسپر هیلسیو ته وویل چې زموږ هیواد د مجرمینو او مافیایي ګروپونو سره ډیرې تجربې لري. امریکایانو د پوځ د روزنې دنده پر غاړه واخیستل خو انګریزانو د نشه ای توکو سره د مبارزې مسولیت درلودي.

افغانستان د نړۍ د تریاکو ستر تولید کوونکی هیواد دي چې تریاک وروسته په هیروینو بدلیږي. په ځانګړی توګه د افغانستان په ختیز او جنوبی سیمو کې ډیر تریاک کرل کیږي چې د هیواد د ملي تولیداتو ډیره لویه برخه جوړوي. سره د دي هم باید د امریکا او انګلیستان تر مینځ د نشه ای توکو سره د مبارزې د ستراتیژي په جوړولو جنجالونه وشول. امریکایان غواړي چې غټه شلاخه (لښته) وکاروي نو ځکه بوش د امریکا سفیر په کولمبیا کې، ویلیم وډ [۶۰۱] کابل ته راوست، کولمبیا د کوکاینو د درلودلو په اساس د مافیا لوی مرکز دي. د امریکا نظر دا و چې د تریاکو کښتونه د هوا څخه په دوا پاشي له مینځه یول وړل شي

[۶۰۱] - William Wood

او یا وسوځول شي. د تولید کوونکو د نیولو له پاره پیسي ولګول شي چې همدغه کار په کولمبیا کې وشو. انګلیستان او نورو اروپایی هیوادونو غوښتل چې د کروندګرو سره د بدیل موادو د کښت په تړاو مرستې وشي. دغه بحث د لویو هیوادونو تر مینځ اجرأت په ټپه ودرول. د دغه بحثونو منفي پایلې کولای شي د ملل متحد په هغه راپور کې ولولئ چې د افغانستان د نشه ای توکو ستاتیستیک یي وړاندې کړي دي. د نشه ای توکو ډیریدلو انفجار کولو. پایله دا وه چې د اروپا ګډ بازار هیوادونه نه تر سترګو کیدل. د ناټو لوړ پوړو چارواکو فکر کولو چې اروپایي هیوادونه تر یو کچې راضي ښکاري، ځانونه یي شاته کړی دي او د سیالانو د ګډوډیو سیل یی کولو چې هغوي د خلاصون هڅې کولي.

د ۲۰۰۳ زکال په جریان کې څرګنده شوه چې حامد کرزي پر هیواد واک نه لري نو ځکه د نشه ای توکو کر، کښت مخ په وړاندې ځي. لومړی داسې احساس رامیځته شو چې نورو ډنمارکي سرتیرو ته اړتیا شته. د نوامبر په میاشت کې حکومت د اپوزیشن ګوندونو په ملاتړ پریکړه وکړه چې نور (۵۰) سرتیري ارامو سیمو یانې کابل او شمالي ولایتونو ته د مختلفو دندو د سرته رسولو له پاره ولیږي. ولې په افغانستان کې ستونزه د بی اوه پنځوس معاهدې[۶۰۲] پربنسټ وه، د قرارداد عمده ټکې په لاندې ډول دي:« د پرمختګ سره سره د سیاسي ثبات او امنیت په برخه کې جدې اندیښنو شتون درلودي. د امنیتي حالت په خرابیدو سره په ټولو نا ارامو ولایتونو کې د بیا رغونې کارونه په ټپه ولاړ وو. د افغانستان پوځ او پولیس د بیا جوړولو په حالت کې وو نو ځکه څو کلونو ته اړتیا وه چې د افغانستان امنیتي ځواکونه د هیواد د امنیت مسولیت په مستقلانه توګه پر غاړه واخلي. په دغه منځني وخت کې ډیره مهمه وه چې نړیواله ټولنه د امنیت په ټینګولو کې جدې مرستې وکړي، او په ځانګړې توګه په ولایتونو کې د امنیت ټینګولو ته ډیره پاملرنه وشي.»

کیڼ اړخو ګوندو په افغانستان کې د حالاتو د کړکیچن کیدو په خاطر د (بی اوه پنځوس) پر قرارداد سخته نیوکه وکړه. دبهرنیو چارو وزیر، پیر ستی میولر په دفاع کې وویل: د زیاتو ډنمارکي سرتیرو لیږل یو عیني واقعیت دي چې د پریکړې له مخې باید ولیږل شي. بشري مرستې ولیږل شوی او هم پوځي مرستې ولیږل شوی، خو بشری او پوځي مرستې پای ته رسیدلي نه دي. د بیا رغونې مرستې ورکول هم پای ته رسیدلي نه دي. د بی اوه پنځوس قرارد د بحثونو پر

[۶۰۲] - B57

وخت سوسيال ډموکراټانو او کين راډيکال ګوندونو مداخله ونه کړه خو سوسياليست او يو موټي ګوندونو د قرارداد په تصويب کې مخالفه رايه ورکړه.

د ۲۰۰۴ زکال د مارچ په مياشت کې د يو موټي ګوند د بهرنيو اړيکو مشر، سيون سيوندرګورد[۶۰۳] زياته پاملرنه هغه افغان جګړه مارانو ته وکړه چې په تدريج سره سياسي چاپيريال د ولسمشر حامد کرزي په مشري تر کنترول لاندې راولي. نوموړي په لوړه کچه د مشهور جګړه مار، عبدالرشيد دوستم نوم پر خوله راوړي چې په شمالي ټلواله پورې تړلی دي او د پوځ د اعلی سرقوماندانی د درستيزوال په توګه مقرر او په شمال کې ډير جنګيالي لري.

د ۲۰۰۱ زکال د ډسمبر په مياشت کې د دوستم جنګيالي د (مرګوني کاروان) د وژلو مسول دي. په سلګونو طالب جنګيالي ونيول شول، موخه دا وه چې نوموړی طالب جنګيالي د جنرال دوستم زندان ته انتقال شي. په هر کانتينر کې ۲۰۰ تنه ځوان عادي طالب سرتيري تړلي پراته وو، پر لارې چې دښته وه ډير يې له مينځه ولاړه، وروسته دسته جمعي قبرونه وموندل شول چې د موضوع پخلی يې کولو. د دوستم جګړه مارو د بشپړو ځيرونو له پاره هم امکانات له مينځه يووړه او دوستم هيڅوخت تر عدلي تعقيب لاندې ونه نيول شو.

اوس سيون سيوندرګورد د ډنمارک د حکومت په موقف پوهيدي چې ولي د ډنمارک ملګري، ولسمشر کرزي پر جنرال دوستم لاس نيولی دي؟ د بهرنيو چارو وزير يوازنی ځواب دا و چې دا موضوع په افغانانو اړه لري.

د ډنمارک د بهرنيو چارو وزير د ۲۰۰۴ زکال د مارچ پر ۱۲ نيټه په ليکلي توګه داسې ځواب وړاندې کړي: « د افغانستان انتقالي حکومت او د افغانستان خلک واک لري چې د جګړه مارو د سرنوشت په تړاو پريکړه وکړي» دا دوسيه بيا مړه شوه.

شپږ مياشتي وروسته د افغانستان لومړنيو ډموکراتيکو ولسمشريزو ټاکنو ته لار پرانيستل شول. حامد کرزی يو ډموکراټ وپيژندل شو، د ولسمشريزو ټاکنو پروسه د انتظار څخه ليري د افغانستان حالاتو ته په کتو سره په امنيت تر سره

---

[۶۰۳] - Søren Søndergaard

شوه. په ځانګړی توګه په لویو ښارونو کې ډیري خوشبیني شتون درلودي. ژوند تر تیرو (۲۲) جګړه ایزو کلنو ښه و.

ډنمارکي حکومت د ولسمشریزو ټاکنو سره مرسته کوله نو ځکه اړوندو وزیرانو د ۲۰۰۴ زکال د نوامبر په میاشت کې، افغانستان ته د نورو سرتیرو پر لیږدولو بحث وکړي. پلان داسې و چې ډنمارکي سرتیري به د الماني سرتیرو سره په فیض اباد کې ځای پر ځای شي. په پارلمان کې دغه بحث د عادي پروسیجر له مخې دوام وموند، کینې اړخو ګوندونو پر حکومت کلکې نیوکې درلودي خو نورو ګوندونو د حکومت وړاندیز تصویب کړي. پارلمان د عراق د جګړې په تړاو جنجالی بحثونه کول، جنجالي بحثونه د عراق په تړاو په ویناو کې څرګندیدل. د افغانستان جګړه د عراق د خطرناکي جګړې په پرتله مهمه نه ښکاریدل.

د دفاع وزیر د بهرنیو چارو وزیر په استازیتوب د غونډې ارزونه داسې وکړه: «موږ شک نه لرو چې د افغانستان حالات به پیچلی نه وي خو ډیر مثبت پرمختګونه هم تر سترګو کیږي چې زموږ د ډیري خوشبینی سبب کیږي. تیره میاشت ولسمشریزي ټاکنې زموږ د استازو په آند په سوله کې تیري شوي. د وټونو د مستحقو افغانانو څخه (۷۰) سلنه خلکو وټونه وکارول، نو ځکه پایلې یې بریالی ګڼوو.

کله چې ډنمارکي سرتیري فیض اباد ته ورسیدل، جدي امنیتي ستونزو شتون نه درلودي. سیمه د تاجکو افغانانو تر نفوذ لاندې وه چې د معمول له مخې د طالبانو سره مخالفت لري. ډنمارکیان هره ورځ پرته د زري جامو او جنګي خولی د اغوستلو څخه بهر ته وتل. افسران په خوړنتونونو (رستورانو) کې کښینستل، چای یې چیښلی او د ښار د منظرې څخه یې خوند اخیستي، په ښار کې یې غالی او نورې ښکلي سوغاتونه د کورنیو له پاره رانیول. ډیر ژر د ښار حالاتو داسې بڼه واخیسته لکه په نور افغانستان کې چې امنیت ګډوډ وو. پر پوځي کمپ باندې راکټي بریدونه پیل شول، نښه به ونه ویشتل شول خو د مجرمینو هڅې وي چې بریدونه وکړي. کله چې د ډنمارکي پوځ مشر، یسپر هیلسیو د ۲۰۰۶ زکال د جون پر (۲۳) نیټه د هغه کمپ څخه لیدنه کوله، حالات ډیر کړکیچن شول. د پوځي مشر د موټر مخته بل موټر انفجار وکړی. دغه زری دار بنز موټر کړوپ شو خو مسافرینو ته یې زیان وا نه وښت. دغه بمب کیدلای شي د مجرمینو او یا د محلي زورواکانو له خوا د سړک پر غاړې پټ شوی وي چې ډنمارکیانو ته

د عبرت درس ورکړي. هیڅ داسې نښانه څرګنده نه شوه چې د طالبانو ښکیلتیا په پېښه کې وښیي.

د لاري پر سر لومړنۍ بمب و چې په افغانستان کې پر ډنمارکي سرتیرو وچاودیدي. د پوځ د مشر له پاره لومړني ترخه خاطره همدا وه چې پر ډنمارکي پوځیانو بمب وچاودیدي، خو دا ډول بمونه په وروسته کې د بهرنیو سرتیرو یوازني دښمنان وو.

د جګړو په ډګر کې د طالبانو دوباره ښکاریدل په خوارو او بې وزلو پښتني کورنیو کې پیل شول، پښتانه د افغانستان نیمايي نفوس جوړوي. په پراخو او لویو کلیو کې د طالبانو قوت را ښکاره شوو. سره د دې چې د اوساما بن لادن او ملا محمد عمر د وژلو یا نیولو له پاره د امریکا ځانګړو امنیتي ځواکونو ډیرې هڅې کولې خو یو د دوي څخه تر دغه وخت پوري نه ونیول او یا هم ووژل شوو. نو همدغه علت و چې ملا عمر د کډوالي په حالت کې د کویټې د ښار څخه بیا د طالبانو لیکې تنظیمي کړي. په پیل کې ډیر پخواني جګړه مارو د مرستې څخه اوږه خالي او ډیره مرسته یې ورسره ونه کړه. پخواني جګړه ماران خپلو کلیو او باندو ته ولاړل چې حامد کرزي ته یو چانس ورکړي. کله چې کرزي او د شمالي ټلوالي ملاتړي کندهار ته د ۲۰۰۱ زکال د ډسمبر پر (۵) نیټه ورسیدل، د طالبانو ډیرو لوړ پوړو حامد کرزي ته د یو لیک په طرز کې هغه د لنډ مهاله حکومت د مشر په توګه ومنې. دا موضوع د بن د کنفرانس پایله وه چې کرزي واک ته ورسیدي. طالبانو د اسلامي امارت ماتې ومنل او د بخښنې غوښتونکي وو چې په افغانستان کې پرته له تعقیب څخه ژوند وکړي.

د شمالي ټلوالي او امریکایانو د ډیر فشار په وجه کرزي اړایستل شو چې د طالبانو وړاندیز رد کړي. ډیر طالبان د تعقیب د ډار څخه پاکستان ته وتښتیدل چې وروسته د طالبانو د خوځښت په جوړولو یې د دوهم ځل له پاره پیل وکړي. ملا برادر دوباره خپل مقام ته ورسیدي او څو کلونه وروسته د طالبانو د مهمو مشرانو څخه شوو. په پیل کې حامد کرزي پخواني جګړه مار د کندهار د والي په توګه وټاکي. یاني د کندهار والي، ګل اغا شیرزي او د هلمند والي، شیرمحمد اخند زاده وټاکل شول. نوموړي دواړه مخکې د طالبانو سره همږغي وو خو دوي دواړه د اتیایمو کلنو په جهاد کې فعالي څیرې وې. قومي تربګنیو او نورو مخالفتونو د طالبانو او جهادي څیرو ترمینځ واټن زیات کړي. د بل لورى مجاهدینو واک تر لاسه کړى وو. کله چې ناټو او امریکا طالبانو ته شاه کړه نو

مجاهدینو هم نه غوښتل چې واک د خپلو پخوانیو انډیوالانو سره وویشي. یو زیات شمیر طالب مشرانو د کابل د واکدارو جهادیانو سره ډیرې ستونزې پیدا کړي.

دغه حالاتو ملا احمدشاه چې د کندهار د جنوب ختیزې کوچنې کلی، موشان اوسیدونکي و، زندانه ته ټیل واهه. نوموړي د ۲۰۰۲ زکال په پیل کې تورن شو چې وسلې یې په کور کې پټې کړی دي، نو هغه یې د کندهار زندان ته را انتقال کړي چې د امنیتي[٦٠٤] چارواکو تر څارنې لاندې وو. کله چې یو شمیر سپین ږیري د نوموړی د خلاصون په تړاو د موشان څخه د کندهار زندان ته راغلل، د یوې عجیبې صحنې سره مخامخ شول.

د ملا احمد شاه پښې او لاسونه ډیر پړسیدلي وې ځکه څو ورځې او شپې یې لاسونه او پښې ټینګې تړلي وي. ملا احمدشاه د نورو بندیانو سره ډیر زیات په کیبل وهل شوی و. بندیان یې دومره وهلي وو چې سرتیرو ته یې عذر کولو چې د عذاب څخه یې خلاص کړي او ویې وژنې. دغه مطلب د موشان د سپین ږیرو څخه یوه تن ژورنالیستانو او څیړونکي اناند ګوپال د امریکا د فونډیشن[٦٠٥] غړی

ته بیان کړي.سپین ږیرو ونه کولای شوای چې ملا احمد شاه خلاص کړي. څو اونۍ وروسته د ملا احمدشاه کورنۍ یوه زیاته اندازه وسله رانیول تر څو هغه وسله مقاماتو ته وسپاري او ملا احمد شاه را خلاص کړي. ملا احمدشاه څو ورځي ازاد شو خو بیرته یې ونیوي. دا ځل د ملا احمدشاه کورنۍ خپل حیوانات وپلورل تر څو د کندهار والي ته رشوت ورکړی چې ملا احمدشاه ازاد کړي. لږ وخت وروسته د دریم ځل له پاره ملا احمدشاه زنداني شو خو دا ځل د کلي سپین ږیرو وکولای شوای چې نوموړی د زندان څخه راوباسي. دریم ځل ملا احمدشاه (۴۴) ورځي په زندان کې تیري کړي. ملا احمدشاه پاکستان ته وتښتیدي او هلته د طالبانو سره یوځای شو. کله چې ملا احمدشاه دوباره موشان ته راغي نو دا ځل نوموړي په سیمه کې د طالبانو قاضي و. نوموړي په سیمه کې سخت قوانین تطبیقول ځکه والي خپل نفوذ په سیمه کې د لاسه ورکړي و. د نوموړي دوه ورونه، قاري علاوالدین او قاري محمد ثاریق هم په سیمه کې د طالبانو

---

[٦٠٤] - NDS

[٦٠٥] - Anand Gopal fra New American Foundation

مشران وټاکل شول. د ملا احمدشاه په تړاو په جنوبي ولايتونو کې کيسې کيدلې. د ۲۰۰۳ څخه تر ۲۰۰۵ زکلنو په مينځ کې ملا عمر د ټولو ستونزو سره سره بريالی شو چې طالبان سره راټول کړي.

د ملا محمد عمر د جګړې ستراتيژي ډير ښه پلان شوی وه، نومو ړی نه غوښتل چې سملاسي جګړه پيل کړي. نوموړي انتظار کيښ چې د حامد کرزي د حکومت غلطياني ډيرې او بربندې شي، د بل لوري د افغانانو د قومونو مشران شل کلنې جګړې ډير ځپلي وو او تر اوسه پوري پر پښو دريدلی نه وو.(ژ: دلته ليکوال دا پټوي چې په واقعيت کې طالبانو د بهرنيو په ځانګړی توګه د امريکا د پوځيانو نه زغمونکو غلطيانو ته منتظر وو. بهرنيو پوځيانو ډير ژر د خلکو په ازارولو او بی عزته کولو پيل وکړي. ولس د خلاصون له پاره د اوبو ځګ ته حملې وهلې.)

د افغانستان په جنوب کې د ټولنې جوړښت د پښتني قوانينو پر بنسټ جوړشوی دی چې پښتونولي ورته وايي. تر څو چې دغه سيستم چلاو ولري، بدلون ناشونی دي او د طالبانو بنسټپاله ايډيالوژي هم قوت موندلای نه شي. دغه پښتونولي ده چې ټولنه چلوي او ژوند تر همدغه شعار لاندې د پښتنو په لوي ښار کندهار کې مخته ځي.

د بشر پيژندنې ناروېجي فروفيسور، فريدريک بارت[٦٠٦] تر (٥٠) کلنو زيات پر دغه نه ليدونکي تشکيلاتو (جوړښت) باندې څيړنې کړی دي. دا يو پرنسيپي (غيري دولتي) جوړښت دي، چې هيڅوخت مرکزي واکداري نه منې او اجازه نه ورکوي چې پر قبيلو، قومونو او کورنيو باندې حکومت وچلوي. ټولنه مرکزي جوړښت نه لري او هيڅ ډول تمايل نه لري چې د بهر څخه ورباندې حاکميت شتون ولري. د دغه پوهي سره سره لويديز، ناټو او يو لړ شمير روڼ اندو افغانانو وغوښتل چې د طالبانو تر سقوط وروسته يو قوي مرکزي حکومت رامينځته کړي. خو کابل په تيرو وختونو کې هيڅ وخت د مرکز څخه بهر په جدي توګه

حکومت نه دي چلولی او په ځانګړی ډول د افغانستان په جنوبی ولايت کندهار کې چې د عزت او ناموس داری مفاهيم ډير قوی دي، حکومت نه دي کړی. د کورنيو مشران د ميلمه پالنې ټينګ دود چې بيګانوو ته ځای او ډوډۍ ورکوي،

[٦٠٦] - Frederik Barth

په کلکه عملي کوي. دا چې په کليو کې د ميلمانه پالنې دود دومره ټينګ دي، په ځنګ کې د کسات اخيستلو، د ناموس ساتلو او پر پردیو باندې د بې باوريو مفاهيم هم دغومره ټينګې ريښې لري. په سلګونو کلونه کيږي چې پښتانه د ناموس داري، مځکي او ښځو پر سر کشالي په بريدونو او د وينو په تويولو او کسات اخيستلو سره د جرګې په واسطه چې يوازني اجراييوي مقام دي، حل کړي دي. جرګه داسې يوې غونډې ته وايي چې د همدغه کلي، په سويه برابر سپين ږيري سره کښيني او د ستونزو د هواری د حل لارې لټوي.

جرګه د يو اجراييوي ارګان په څير عمل نه کوي. دا په يو ګروپ نارينوو پورې اړه لري چې د جرګې پريکړې په عمل کې پياده کړي. د کورنيو اړيکې د پلار ريښه تعقيبوي. دا چې وړونه او د کاکا زامن د مځکي په ميراث کې شريک وي نو مانا يي داده چې د کورنيو په مينځ کې هم کلکه سيالي شته. مځکه په ميراث وړل کيږي خو نه پلورل کيږي. کيدلای شي چې مځکه اشغال شي په دي شرط چې د مځکي خاوند او نارينه ميراث وړونکي له مينځه يووړل شي.

د پښتنو په (د دولت د حاکميت څخه فارغه) ټولنه کې داسې ټولنيز سازمانونه نه شته چې د فرد امنيت خوندي کړي. هر بالغ سړی بايد د خپل ځان او خپلې کورنۍ د امنيت ساتنه وکړي. همدغه علت دي چې پښتون په پيل کې (لويه څلور ديوالي) يانی کلاه جوړوي چې وروسته د استوګنې ځای ور په کښې جوړ کړي. د کلا ديوالونه چې ختين وی او ښه يي ګيل ماله کړی وی، لږ تر لږه د دوو څخه تر درو مترو لوړ وي. کله چې څلور ديوالي بشپړه شي، د بريد څخه په امان شي او ښځو ته يي په بد نظر کتل له مينځه ولاړ شي، وروسته د استوګنې کوټې، د حيواناتو غوجل (طويله، ګاوخانه) او د غلې ساتلو ګدام جوړوي. سره د دي چې ګډ تشکيلات نه لري، دوي هر وخت د يو او بل سره په کورنۍ جګړه اخته نه وي. ځينې کورنۍ او قومونه د خپلو ملاتړو د امنيت ساتلو ودانۍ هم جوړوي. ملاتړي او ملګرتوب د يوی ورځي څخه تر بلي بدليدونکي وي، علت همدا دی چې په جنوب کې د واک د جوړښت څيرنه او ارزونه د بهرنيانو له پاره ستونزمنه چاره ده.

د پښتونولي قوانين په لږه کچه د اسلام د قوانينو سره مطابقت لري. د قبيلو دودونه مهم دي، د کلي امام د طالبانو د واک څخه مخکي ډير واک نه درلودي. په کليو کې د ملا مقام د کليو د هغه مشرانو څخه چې خپل مځکه لري، کښته دي. د افغانستان په جنوبي برخو کې د بهرنيانو له پاره ډيره سخته ده چې د

پښتونولی مفهوم او ارزښت په ژوره توګه وځيږي. د کمونيستانو د اتيايمو کلنو واکداری او (۳۰) کلني جګړې هم تر ډيره بريده د پښتونولي پخوانی معيارونه خراب کړل، چې دغه بدلون نور هم دبهرنيانو له پاره د ټولنيزو او سياسي خوځښتونو پوهيدل ډير ستونزمن کړی دي. کله چې طالبانو په ۱۹۹۶ زکال واک تر لاسه کړي، دغه جنبش د مځکه والو اداره چې د کمونستانو د واک او د کورنۍ جګړې په وجه هم د له مينځه وړولو په حال کې وه، نوره هم کمزوري کړه. طالبانو په پښتني سيمو کې د مځکو د څښتنانو د دوديزه واک په بدل کې د ملايانو د واک پراخ ملاتړ وکړي. په لوړه کچه د سخت شرعي قانون تطبيق کول، طالبانو ته د غريبو بزګرو په کورنيو کې محبوبيت ور په برخه کړي. د ۲۰۰۲ زکال څخه د ملاعمر نفر دوباره د پښتنو سيمو ته ولاړل تر څو د محلي ملايانو او د سيمو د هغو مځکه والو(خانانو) چې د نورو سره اختلاف لري، د خپلې مفکورې ملاتړي پيدا کړي. د قومونو مشرانو په بيلا بيله توګه د باوري او عقيده مندو طالبانو سره په ملاتړ امکانات وپلټل. د امريکايانو او لويديزو پوځونو پلټنه په القاعده او د طالبانو په لوړو پوړو پسي هم د طالبانو د بيرته راتګ له پاره زمينه برابره کړه. په هلمند او کندهارکې د امريکايانو د ځانګړو پوځونو اعمال هر وخت درست نه وو، خو د دوي اعمالو ځکه ډير تاثير نه درلودي ځکه د افغانانو تاريخي شاليد څرګنده کړی ده چې د بهرنيانو د واک چلولو سره نه جوړيږي نو ځکه طالبانو په ډيره اسانی سره خپلې ليکې بيا پياوړی کړي.

د طالبانو يو پخواني مشر، ملا عبدالستار اخند هغه مهم سړی و چې اناند ګوپال ته يي معلومات وړاندی کړي ځکه هغه د کندهار په بيلا بيلو برخو کې ګرځيدلی و. کله چې په ۲۰۰۱ زکال طالبانو واک د لاسه ورکړی، ملا عبدالستار اخند بيرته خپل کلي ته راوګرځيدي او ارام ژوند يي کولو. خو په وارو وارو حکومتي او امريکايي ځانګړي پوځيان د نوموړي کور ته راغلل، د وسلو او اسنادو د موندلو له پاره يي کور ور پلټي چې ګواکي ملا عبدالستار اخند اوس هم د طالبانو فعال غړی دي. د ملا عبدالستار د کور دومداره پلټونو د هغه زړه مور په تنګه کړه او په کلي کې اعتبار او حيثيت ته ډيره صدمه ورسيدل.

مور، خپل زوی ته وويل چې زموږ کورنۍ ته شرم را اړوي. يا د خپل کورنۍ څخه دفاع وکړه او يا کلي پريږده. مور خپل زوی يانی د طالبانو پخوانی مشر

ته یوه ماشینګړی ورکړه[۶۰۷] چې د دفاع له پاره ګټه ورځخه واخلي. بل ځل چې امریکایان د کور د تلاښی له پاره راغلل، ملا ستار ته یې کورته د ننوتلو اجازه ور نه کړه. په بدل کې ملا عبدالستار اخند پر امریکایانو ډزي وکړي، ډیر ژر د کلي د خلکو او امریکایانو تر مینځ سخته جګړه ونښته. امریکایانو الوتکې راوغوښتلي. الوتکو د بمونو په غورځولو د ملا ستار او نورو ګاونډیانو یو شمیر کورونه وران کړل. امریکایانو ټپیان بګرام ته انتقال کړل چې د عیني شاهدانو په قول هیڅ وخت بیا خپل کورونو ته را ونه ګرځیدل. د کلي یو تن وویل چې کلی وران شو، مور هم اړ شولو چې د طالبانو سره یو ځای شوو، تر څو د ملا ستار اخند عزت بیرته ژوندی شي.

د ملا عمر ځوان ملګري یې په لوړه کچه ملاتړی وو. په نیویمو کلو کې چې طالبان نوی واک ته راتلل، د پاکستان د ملګرتوب څخه یي ګټه واخیستل. د پاکستان څار ګرې اداري د[۶۰۸] نویو طالبانو له پاره د تشویق کوونکو رول ولوبولو. که د طالبانو سره د پاکستان فعاله مرسته نه وای، طالبانو نه شوای کولای چې دوباره په افغانستان کې نفوذ وکړای شي.

د دي له پاره چې د پاکستان په دوه مخی باندي وپوهیږو چې له یوی خوا د امریکا سره ملګري وو خو د بل لوري یي طالبان بیا رامینځته کړه، نو ښه دي چې د پاکستان دولت ته ژور نظر واچوو. پوځ هغه قوت دي چې ملت یي یوځای ساتلی دي. د پخواني دښمن هندوستان د ډار په وجه پوځ دغه قوت لاسته راوړی دي او ډیر پاکستاني جنرالان د طالبانو شتون د افغانستان او هندوستان د اړیکو په تړاو د پاکستان له پاره تضمین ګڼي. دجنرالانو ډار دا دي چې لویدیز به کمزوری افغانستان پریږدي نو به د هند تر نفوذ او اغیزې لاندې راشي. پایله به یي دا وي چې پاکستان به د هندوستان له خوا د ختیزې لوري او د هند ملاتړي افغانستان به یي د لویدیزي لوری کلابند کړي. د پاکستان همیشني تلاښونه دا دي چې ګاونډی هیواد تر کلکې اغیزې لاندې وساتي چې دا یوازې د طالبانو په واسطه کیدلای شي. همدغه علت و چې د پاکستان څارګرې اداري د ملا عمر په دوباره راپورته کولو کې مرسته وکړه. پاکستان کولای شوای د طالبانو مشران بندیان کړي مګر پاکستان د افغانستان سره په نژدي سرحدي ښار کویټه کې د

---

[۶۰۷] - AK-47

[۶۰۸] - ISI

طالبانو فعالیتونو ته اجازه ورکړه. همدغه د کویټې ښار دي چې د طالبانو مشرتابه (د کویټې شورا) په بشپړ امن کې غونډې جوړوي. خو د پاکستان څارګره اداره د دغه واقعیت څخه سترګې پټوي. د پاکستان د منلي او مشهور ژورنالیست، احمد رشید په وینا هغه وخت چې طالبانو په افغانستان کې واک د لاسه ورکړي د پاکستان څارګرې ادارې د ترینینګ مرکزونه ورته پرانیستل. پاکستان د وسلو او د ټیپیانو د درمل مرستې ورکوي. د ملا عمر له پاره د هلمند ولایت ډېر زیات ارزښت لري. د هلمند ولایت د ټولو تریاکو د تولید (۸۰) سلنه جوړوي چې د ملا عمر له پاره طلایي ارزښت لري. طالبانو مخکې هم د تریاکو د عوایدو څخه ډېرې پیسې لاسته راوړي وي. پرته د طالبانو نور کسان هم هلمند د عوایدو سرچینه ګڼي.

په ۲۰۰۵ زکال کې ځانګړو پولیسو د یو موثق راپور له مخې د لښکرګاه د ښار په تکاوی (زیرخانه) کې د ټنونو تریاکو راپور تر لاسه کړي.

امریکایي، انګریزي او یو شمیر افغاني اجنټان د نشه ای توکو د مبارزې له پاره روزل شوی وو. خو د ښایسته بوجیو لیدل چې د تریاکو ډکي او یو پر بل پرتي وي، د هرې ورځي تجربه نه وه. کله چې ټولې بوجی وتلل شوي نو څرګنده شوه چې امریکایانو ته نهه (۹) ټنه تریاک لاسته ورغلل. امریکایانو پاملرنه نه وه کړي چې د دغو تریاکو په نیولو سره یي داسې سیاسي بمب ته انفلاق ورکړي چې اغیزه به یي تر ډېره وخت پوری دوام لري. د دغو تریاکو نیولو د حامد کرزي پر

اړیکو د لویدیزو هیوادونو سره، په ټولیزه توګه د طالبانو سره پر جګړه او په ځانګړی توګه په هلمند کې د طالبانو سره پرجګړې ډېره اغیزه وکړه.

حامد کرزي د ولایاتو والیان شخصاً ټاکلی وو. د دغو والیانو ټاکل د ولسمشر د کار له پاره چې د قومونو تر مینځ ، قومي مشرانو سره، پخوانیو جنګیایو او جګړه مارو سره اړیکې وساتي، ډېر ارزښت درلودي. دغه ډول پټې او د جنجالونو ډکې وعدې چې د والیانو سره شوی وي، موږ ته د ټول افغانستان د وروستیو وختونو د جګړې د دوام علتونه را په ګوته کوي.

د هلمند ولایت د والي مقام چې د نشه ای توکو ډېرو پیسو ته یي لار پرانیستل په طبعي توګه د حامد کرزي د نژدي کسانو غوښتنه وه. په هلمند ولایت کې والي دا امکان درلودي چې د واک او شتمنیو راټولولو لوي او قوي مرکز جوړ کړي.

زموږ د نشه ای توکو اجنټانو ته یو طلایي چانس وو چې د تود دوبي په غرمه کې په دومره لويه پيمانه ترياک وموندل.

د هلمند والي ملا شيرمحمد اخندزاده نوميدي. کله چې امريکايانو او انګريزانو د هلمند ولايت مسوليت اخيستي پوهيدل چې ملا شيرمحمد اخندزاده د ترياکو لوی کار و باري دي. موږ ډير مخکی شک درلودي چې ملا شيرمحمد اخند د ترياکو په قاچاق لګياه دي. زموږ اجنټانو والي د ترياکو د لوي کار و باري په توګه وپيژندي خو د عوامو په خولو کې هم دغه ډول نوم درلودي. د لومړی ځل له پاره سړي د دا ډول انکار نه منونکو اسنادو سره مخامخ کيږي چې د حامد کرزي دوست چې د ولايت مهم مقام يي په لاس کې دي، په ژوره توګه د ترياکو په تجارت کې ښکيل دي.

نوموړي دوسيې سياسي حساسياستونه پارولای شوای. کيدلای شوای چې د ناټو (امريکايانو او انګريزانو) او حامد کرزي تر مينځ يي اړيکې کړکيچني کړی وای. د ترياکو د پيداکولو موضوع په مياشتو پټه وساتل شول تر څو داسې د حل يوه لاره ورته ولټول شي چې ټولې خواې راضي وي. کله چې د ۲۰۰۵ زکال د ډسمبر په مياشت کې ښکاره شوه، ملاشيرمحمد اخند زاده د قاچاقو موضوع په کلکه رد کړل. نوموړي وويل چې د افغان پوليسو د تلاښونو په پايله کې دغه نهه ټنه ترياک موږ نيولي دي. خو دغه ادعا هيچا ته د منلو وړ نه وه.

ملا شيرمحمد د نورو جګړه مارو په ډول ښکاری. ملاشيرمحمد (۱۶۰) سانتي متره جګ، کونډی ږيره چې د نورو جګړه مارو په څير به يي په نکريزو رنګول يو سړی و. ملاشيرمحمد محلي جګړه مار و چې په هلمند کې د قدرت غښتلي مرکز درلودي، د کورنيو اړيکو په وجه د طالبانو تر سقوط وروسته په هلمند کې والي وټاکل شو.

د کمونيستانو سره د جګړې په وخت (۱۹۷۸ ـ ۱۹۹۲) زکلنو په دوران کې د ملا شيرمحمد کورنۍ د مجاهدينو په ډلو کې لوی موقف تر لاسه کړي وو چې په پيل کې د هلمند ولايت او وروسته مجاهدينو په ټول افغانستان کې واک تر لاسه کړي. د مجاهدينو د واک په پيل کې د ملا شيرمحمد اکاګانو په نوبت سره د هلمند د ولايت مقام تر لاسه کړي. يوه دوره د ملاشيرمحمد پلار هم ولايت وکړي. کله چې په ۱۹۹۶ زکال طالبان واک ته ورسيدل، ملاشيرمحمد او کورنۍ يي وتښتيدل. د ۲۰۰۱ زکال وروسته دوباره د نوموړی کورنۍ سره بخت ياري وکړل دا ځل د ولايت مقام ملاشيرمحمد اخند ته ورسيدي. پلار يي مړ شوی و

او ترونه يي هم په بيلا بيلو پيښو کې وژل شوی وو. د قومي اړخه نوموړی کورنۍ حامد کرزي ته نژدی وه نو ځکه ملاشیرمحمد اخند د والي په حیث وګومارل شو.

په بدل کې ملاشیرمحمد په ټاکنو کې د حامد کرزي په ګټه پراخه درغلي وکړي. د امریکایي څارګرې ادارې د معلوماتو له مخې ملا شیرمحمد اخند د حامد کرزي د ناسقه ورور، احمد ولي کرزي سره ګډ کار کولو. احمد ولي کرزي په قندهار کې د ډیر واک خاوند و. پر احمد ولي کرزي تور لګیدی چې د نشه ای توکو د لویو کار و باریانو د مرکز سره اړیکې لري. ملا شیرمحمد اخند د نشه ای توکو په کارونو کې د احمد ولي کرزي کار ته رونق ورکړي و. د پورته دوو نفرو د نشه ای توکو ګډ کار هیڅ وخت بربنډ نه شوو. علاوتاً د حامد کرزي ورور هیڅ وخت تر عدلي څارنې لندې ونه نیول شو.

شیرمحمد اخندزاده باید د والي په توګه دوام ورکړي نه واي ځکه انګریزانو ته دنده ورکړه شوه چې د نشه ای توکو پر ضد د مبارزې مشرتوب وکړي، نو انګریزانو کولای نه شوای چې د داسې یو والي سره کار وکړي چې زیر خانې یي د تریاکو ډکې وي. د والي پاته کیدل د ۲۰۰۵ زکال د مني په موسم کې چې د انګلیستان پارلمان پریکړه وکړه چې تر ۳۰۰۰ زیات انګریزي پوځیان دي په هلمند ولایت کې وي، هم د منلو وړ نه و. د انګلیستان صدراعظم، توني بلیر هر وخت ویل چې زموږ د پوځیانو عملیات د هیروینو د کرلو او قاچاق سره کلکه مبارزه هم په بر کې نیسي. د هیروینو د قاچاق مخنیوي باید له مخکې شوی وای چې پری نږدي زموږ د ځوانانو په رګو کې پیچکاري شي. تر سخت فشار وروسته حامد کرزي تیار شو چې خپل ټینګ ملاتړي، شیر محمد اخند زاده د ولایت د مقام څخه لیري او پر ځای یي یو تکنوکرات د انجنیر داود په نوم مقرر کړي. د انجنیر داود په تړاو ویل کیدل چې یو ښه اداره چي دي خو نوموړي د قومي او کورنۍ لحاظه کوم تړاو د هلمند سره نه درلودي. پرته د یو قوي مرکز څخه څوک د هلمند په ولایت کې پرمختګ نه شي کولای. سره د دي چې دولتي مقامونه او د دفاع وزارت خبر وو چې ډنمارکي پوځیان باید په هلمند کې د انګریزانو سره یو ځای شي خو ډنمارکیانو د والي په تړاو غبرګون ونه ښودي. د ډنمارک د بهرنیو چارو وزیر، پیر ستي میولر د انګلیستان د بهرنیو چارو د وزیر، جک سټاراو سره د نوموړي له خوا د هلمند د والي په تړاو خبر شو، خو د ډنمارک د بهرنیو چارو وزیر په دغه معامله کې د ګډون څخه ډه ډه وکړه. د ډنمارک د بهرنیو چارو وزیر وویل چې موږ د موضوع څخه بشپړ خبر نه یوو،

موړ په موضوع کې لاسوهنه نه کوو. انګریزان په دغه موضوع کې ښه معلومات لري. د بهرنیو چارو وزیر وویل چې د عملیاتو د څرنګوالي په تړاو(د والي په اړوند) اړتیا نه شته چې په ډنمارک کې د ګوندونو مشرانو ته معلومات ورکړل شي. د بهرنیو چارو په وزارت کې یوه مسلکي ډیپلوماټ هم ورته نظر درلودې.

د بهرنیو چارو د وزارت یو لوړپوړي ډیپلومات وویل:«موږ د موضوع څخه خبر وو، خو مداخله مو نه کول. څه اړتیا نه شته چې موږ په نوموړي موضوع کې لاسوهنه وکړو؟ دا چاره مو انګریزانو ته پریښودل. په ټولیزه توګه د افغانستان د واکمنانو د زور ازمایلو په سیالیو خبر نه وو. موږ خبرونه د انګریزانو د خولې څخه اوریدل.»

د ډنمارک د دفاع وزارت د قوماندې مرکز د ملا شیرمحمد په تبدیلی خبر و خو ځانګړي پاملرنه یې ورته ونه کړه. د ۲۰۰۵ زکال په پای او د ۲۰۰۶ زکال په پیل کې د انګریزي او ډنمارکي پوځیانو تر مینځ ګډ کار په هلمند کې ډیر پرمختګ کړی وو. د پوځیانو زیاتیدل د انګلیستان او ډنمارک د پارلمانونو موافقې ته اړتیا درلودل. دډنمارک د پوځ د هغه وخت مرستیال، ټیم سلوت یونسن[۶۰۹] را په زړه کوي چې د ملا شیرمحمد اخند د لیري کولو په تړاو مې لږ خبري واوریدلي. دغه پیښې په هلمند کې د مخالفینو د مقاومت په تړاو د نوی ارزونې اړتیا رامینځته نه کړه. د عملیاتي ګروپ د قوماندو مشر، ډګروال هینریک[۶۱۰] د والي بدلیدل احساس کړل. نوموړی باید د سیمې د امنیتي حالت نوی جاج اخیستی وای.

سره د دې چې زیات تریاک موندل شوی وو خو زموږ ټوله پاملرنه عملیاتي دندو ته وه: کوم عملیاتي چاپیریال ته داخلیږو؟ څنګه د وسلو د اړخه تیاری ونیسوو؟ زما نه یادیږي چې د والي، ملاشیرمحمد اخند تبدیلی زموږ پر عملیاتي دندو کومه اغیزه درلوده.

حامدکرزي، قهرجن او درديدلي ملاشیرمحمد اخند په کابل کې د سنا د مجلس د غړي په توګه وټاکي تر څو پر ټپ یې پلاستر ورته ایښي وي. د تریاکو موندل

---

[۶۰۹] - Tim Sloth Jørnsen

[۶۱۰] - Henrik

هيڅ وخت د ملا شيرمحمد له پاره د عدلي تعقيب سبب نه شول خو نوموړي د خپل تيرو کړونو څخه په شاه نه شو. په هلمند کې نا ارامي زياته شوه او طالبانو د قدرت د تشې څخه ګټه پورته کړه. طالبانو د ملاشيرمحمد اخند د قوم سره چې د واک څخه ليري شوی وو، لاس يو کړي، ځکه دوي اوس د ساتلو څوک نه درلودي او هم يي عوايد د لاسه ورکړی وو. په همدي ډول د نورزو او اسحاقزو قومونه په واک کې شريک نه شول نو ځکه هغوي هم د طالبانو سره ګډ کار پيل کړي.

ملا شيرمحمد اخند د کابل څخه د خپل واک په ګټه اخيستلو سره د هلمند حالات کړکيچن کول، غوښتنه يي دا وه چې ثابته کړی چې پرته له ده څخه د هلمند حالات بل څوک قابو کولای نه شي. د ملاشيرمحمد اخند نژديکي اړيکې د حامد کرزي سره نوموړي د خطر څخه خلاص کړي او هميشه يي خوب ليدي چې بيا به د هلمند په ولايت کې د ولايت مقام تر لاسه کړي. د اخند زاده او نورو جګړه مارو زورونکي چلونه ډيره مهمه خبره وه چې ناټو جدي ونيول. نړيوال پوهيدل چې کرزي بله لار نه اخلي تر څو چې قاچاقبران د هلمند واکداران وي. که نن سړی وګوري د حکومت جوړښت بله بڼه اخيستي ده.

په ټوليزه توګه د (۱۵) مياشتوپه جريان کې وروستۍ (۱۰) اونۍ مارک لاتيي په[۶۱۱] افغانستان کې مختلفې مهمې دندې د ناټو د عومي قوماندان جنرال، جيمز جونس په[۶۱۲] ګډون اجرأ کړي. نوموړي د ستراتيژيکو اړيکو کارپوه و خو هيڅ فکر يي نه کولو چې په افغانستان کې به بيا جګړه پيل شي.

نوموړي وايي: «زه فکر کوم چې د طالبانو د بيا راپيدا کولو پروسه د ناټو د پام څخه لويدلي وه. موږ نه پوهيدلو چې په حکومت کې څومره کسانو شتون درلودي چې د موضوع سره يې علاقمندي درلودل. موږ ډيري غلطي وکړي. اداري فساد ته اجازه ورکړه شوه چې وغوړيږي. موږ نه پوهيدلو چې د چا سره لګياه يوو. موږ کمزوري وو.»

په کندهار کې جيمز جونس خپلو کارکوونکو ته لنډ معلومات ورکړي چې مجرمينو او محلي جګړه مارانو د افغانستان په جنوب کې د وحشت څپه خپره

[۶۱۱] - Mark Laity

[۶۱۲] - General James Jones

کړي ده. دا ترهګر او مخالفین نه دي. همدغه علت و چې ناټو د ۲۰۰۶ زکال په وړی (دوبي) کې فکر نه کولو چې د افغانستان جنبوي سیمې به د لوی کړکیچ مرکز شي که د امریکا، انګلیستان، ډنمارک او یو شمیر نورو لویدیزو هیوادونو پوځیان مرسته وکړي چې حامد کرزي د افغانستان په جنوب کې کنترول ولري.

خو د دولت لوړپوړي چارواکي په ملکي او د پولیسو په مقامانو کې د هیواد د نورو برخو په ډول په فساد کې غرق وو. په ډیرو حالاتو کې داسې شوی دي چې د کوکنارو د کښت د نه خرابولو په بدل کې پولیسو پیسي اخیستي دي. داسې هم شوی دي چې پولیسو د تریاکو د لوي کار و باري څخه پیسي اخیستي خو د هغه د سیال د کوکنارو کښتونه یي ویجاړ او یا یي تریاک ورسوځلي دي. د پیسو په بدل کې پولیس د کوکنارو د کښت د حاصل ورکولو تماشاچیان وو. کله چې د کوکنارو حاصل ټول شوی دي وروسته پولیسو کښت ته اور اچولي دي.

د ناټو د قواو عمومي قوماندان، جیمز جونس د خپلو څارګرو ادارو راپورونو ته غوږ وو، دغو څارګرو ادارو ویل چې د افغانستان په جنوب کې جنایي جرمونه ډیر زیات شوی دي، په همدغه وخت کې د طالبانو کوچني ګروپونه د پرمختګ په حال کې وو. د طالبانو کوچني ګروپونه چې شمیره یي تر (۱۵) تنو رسیدل، بریالي شول چې د سیمو ملایان او نور مذهبي خلک ملګري کړي. ځوان دهقانان او غریب بزګر، د هغو جګړه مارو څخه چې د کرزي او د ناټو پوځیانو په نوم یي شتمنۍ ټولولي، په تنګ راغلي وو او د خلاصون یوازني لار یي د طالبانو څخه ملاتړ ګڼي.

د همدغو جګړه مارانو څخه یو لنډه کي سړي چې د جګړن خولۍ یي پر سر وه او د کرزي د حکومت له پاره یي کار کولو چې حکومت په خلکو کې باور پیدا کړي، د ګرشک په بازار کې حاجي ایسماریا نومیدي (ژ: نوم یي غلط راته ښکاري). د هیواد لویه لاره (قیر شوی سرک) په ګرشک کې د حاجي د کور د څنګ څخه تیریدي، چې وروسته د ډنمارکي پوځیانو له پاره د سر خوږ شوو. د نوموړي حاجي ۲۰۰ جنګیالي چې د لویې لارې د ساتونکو په نوم پیژندل کیدل، په یوه پخوانۍ زړه ودانۍ کې ژوند کولو چې دغه ودانۍ د دوي امنیتي پوسته وه. ساتونکي پر مځکه ویده کیدل او چای یي پر خلاص اور جوړولي. د کوټو په کونجونو کې د پیچکاریو ستنې لیدل کیدلي چې د هیروینو د مصرف ګواهي یي ورکول. ټولو د پولیسو یونیفورم او وسلې نه درلودي او دوي ټول نالوستي وو. د پولیسو قوماندان، حاجي چې د جګړن رتبه یي درلودل، یو ثابت معاش

درلودي. د حاجی ساتونکو د مسافرينو څخه په هره امنيتي پوسته کې پيسي اخيستلې. دغه پيسي ډيري نه وي خو د هغو مظلومانو له پاره چې عايد يي نه درلودي، ډير غټ تهديد ګڼل کيدي. د دغو ټولو پيسو لويه برخه د حاجي جيب ته تللي. حاجي د خپلو نفرو د معاشو لويه برخه چې د دولت له خوا ورکول کيدل، هم خپل جيب ته اچولي. د لاري ساتونکي اړ وو چې د خپل ژوند د پايښت له پاره د مسافرينو څخه زياتي پيسي واخلي. هغه کسانو چې ترياک پر لار تيرول، د عادي دهقانانو په پرتله چې خپل حاصلات يي بازار ته وړل، زياتي پيسي ورڅخه اخيستل کيدلي. په لنډه موده کې حاجي د سيمي مقتدر او شتمن شخص شو. وروسته د پوليسو قوماندان هم په يو مقتدر شخص بدل شو، ځکه ډنمارکيانو هڅه کوله چې په ګرشک کې د ولس د باور دولتي مقامونه رامينځته کړي.

په همدغه وخت کې د ملا عمر ځوانو مذهبي ملاتړو د ملا عمر په غوښتنه د ټولو ملايانو سره په سيمه کې اړيکې نيولي. طالبانو د هيواد په مختلفو برخو کې پټه اداره جوړه کړه چې خپل قاضيان او واليان يي وټاکل.

د طالبانو پټه اداره د دولت په پرتله په فساد کې ډوبه نه وه، قاضيانو د ستونزو بيرنۍ او د شرعيت د قانون پربنسټ سختې پريکړې کولي. ښوونځي وتړلي شوي، يا وسوځلي شوي او يا هم د قران شريف د تدريس مرکزونه شول. په سيمه کې دومداره تاو تريخوالي پيل شو. هغه کسان چې د حامدکرزي د حکومت ملاتړي وو، ډيری يي د طالبانو تر څارنې او تعقيب لاندې او د نيولو په صورت به په بيړه ووژل شول. خو په پوليسو کې هيڅ ډول فساد شتون نه درلودي او بزګرانو په پرتله ايزه توګه ارام ژوند کولو. (ژ: دا چې په پوليسو کې اداري فساد او يا رشوت شتون نه درلودي د حقيقت څخه ډير ليره خبره ده. خو ډنمارکيان خپل د عزت ساتلو په خاطر داسې ليکنې کوي.)

په دغو کلنو کې د طالبانو د غښتلي کيدلو علتونه په مختلفو بڼو وړاندي کيږي. د افغانستان د چارو کار پوهان، انتونيو ګيوسټوزي [٦١٣] او پاکستاني ژورناليست، احمد رشيد باور لري چې د طالبانو د زياتيدلو اصلي دليل دا و چې ناټو او امريکايانو د طالبانو مقاومت ته هيڅ ارزښت او پاملرنه ونه کړه. انتونيو ګيوسټوزي وايي چې د طالبانو پوځيان په ۲۰۰۲ زکال، ۳۰۰۰ تنه خو تر ۲۰۰۶

---

[٦١٣] - Antonio Giustozzi

زکال پوری۷۰۰۰ تنو ته زیات شول. هغه وخت د طالبانو زیاتوالي ډېر خطرناکه وګڼل شو چې د طالبانو ملاتړو په کلیو کې د جذب پروسه ګړندی کړه. هغه کسان چې ډېر مذهبي خلک نه وو، د طالبانو د لیکو سره یو ځای شول چې د کابل د حکومت پر ضد چې په فساد کې ډوب دي، د پخوانیو جګړه مارانو، او په فساد کې د ککړو لوی حکومتي مامورینو او د حاجي په شان کسانو په وړاندې د اعتراض بړغ اوچت کړي. دا کسان (د طالبانو نوي ملاتړي) د ولس څخه وو چې د طالبانو په نوی جګړه کې برخه واخیستل. د انتونیو ګیوسټوزي په نظر د طالبانو لیکي د نوي جذب شوو نفرو په واسطه په ۲۰۰۲ زکال کې د ۵۰۰ څخه ۲۰۰۰ تنو ته زیاتي شوي خو څلور کاله وروسته یاني په ۲۰۰۶ زکال کې دا شمیره د (۶۰۰۰ ـ ۱۰۰۰۰) جګه شوی وه. لنډیز دا دي چې طالبانو تر سقوط وروسته سملاسي د ۴۰۰۰ تنو څخه د څلورو کالو په اوږدو کې ۱۷۰۰۰ تنو جنګیالیو ته ورسیدل. دغه شمیرې څخه ډېر محدود کسان (۱۰۰۰ ـ ۱۵۰۰) تنه د بهرنیو هیوادو څخه د بیلګې په توګه، د عربي هیوادونو، قزاقستان او په ځانګړي توګه د مرکزي اسیا څخه چې ازبکستان یي د لیږدولو اساسي مرکز و، راغلي وو. ناټو او ملل متحد د طالبانو شمیره د ایټالوي کار پوه د شمیري نیمایي اټکل کولو.
کله چې حاجي ایسمارایي د عادي وګړو او د تریاکو د قاچاق وړونکو څخه د عمومي سړک څخه د تیریدو په وخت کې شخصي مالیه غوښتل، طالبان په سیمه کې په یو رښتیني قوت بدل شوی نه وو.

انتونیو ګیوسټوزي وایي چې په هلمند کې تر۲۰۰۵ زکال پوري هم د اصلي طالبانو شمیره تر (۲۵۰ ـ ۳۰۰) تنو ډیره نه وه. د افغانانو د نظر څخه د هلمند ولایت د طالبانو تر سقوط وروسته یو ارام ولایت و. د هلمند والي، ملا شیرمحمد اخندزاده او د نوموړي قومي ملاتړو د هلمند ولایت په فولادي لاسونو کې نیولي وو، البته لږ عادی کورنۍ او قومي دښمنیو شتون درلودي. په ۲۰۰۵ او ۲۰۰۶ زکلونو کې طالبان ډېر شول او د هلمندولایت د ښارونو څخه بهر ډیرې کلیوالي سیمې یي تر واک لاندې راوستلي. په همدي توګه د طالبانو خوځښت په سیمو کې ولسوالان او قاضیان په پټه توګه وټاکل او په دغو سیمو کې د شرعیت قانون جاري شو. طالبانو د تریاکو د کښت څخه په میلیونونو افغاني عاید لاسته راوړي نو ځکه یي د همدي پیسو په مرسته د هلمند څخه د هیواد جنوب لویدیزي سیمو ته طالبان ولیږل. یو اساسي دلیل د ملا شیرمحمد اخند ملاتړي چې پخواني جګړه

ماران وو، هم ګڼلای شو. ملا شیرمحمد اخند د انګریزي ورځپاڼې[٦١٤] سره په مرکه کې وویل چې کله نوموړي د ولایت د مقام څخه لیري کړل شو نو څنګه د نوموړی وسله وال ملاتړي د طالبانو سره یو ځای شول: « ډیر کسان زما د کورنۍ د غړو په ګډون طالبانو ته ولاړل ځکه د کابل حکومت د دوي درناوي و نه کړي. د انګریزانو مسولیت دی چې طالبان یي په هلمند کې غښتلی کړل. ملا شیر محمد په څرګنده لهجه وویل: د افغانانو دود او کلتور اجازه نه ورکوي چې بهرنیان یي کورو ته دننه شي. موخه یي د ډنمارکیانو، انګریزانو او امریکایانو د شپې عملیات او تلاښي وي. دا کړنې په څرګند ډول د پښتونولي، میلمه پالنې او عزت د پرنسیپونو پر ضد تیري ګڼل کیدي.»

«دا چې زه اوس د هلمند والي نه یم، افغان حکومت د پیسو رالیږل (معاشونه چې ما دغو خلکو ته ورکول) ودرول او ما هم دومره اقتصادي توان نه درلودي چې دوي ته پیسي ورکړم نو ځکه مې ۳۰۰۰ تنه طالبانو ته ولیږل. ملا شیرمحمد انګریزي ژورنالیست ته وویل چې طالبان کولای شواي، دوی ته پیسي ورکړي.»

[٦١٤] - The Daily Telegraph



## د ژباړن لنډه پېژندنه

محمدابراهیم نعیمي په ۱۹۵۳ کال د کندهار په پنجوایي ولسوالۍ کې زیږېدلی دی، پلاریې ښوونکی و اوپلرنۍ کورنۍ یې چې د کندهارد ښکاپوربازاردی ، یوه روحاني کورنۍ وه. دپلارد دندې په وجه د هلمند ولایت دګرشک په ولسوالی کې لوی شوی او د ابوالفتح بستي لیسه یې په ۱۹۷۱ زکال کې پای ته رسولې. په همدغه کال د کابل پوهنتون د پولیتخنیک په پوهنځۍ کې شامل شو. په ۱۹۷۶ زکال یې د کانوایستلوڅانګه پای ته ورسوله اوسملاسي یې دعسکري خدمت د احتیاطودوره پیل کړه او ترشپږمیاشتو وروسته یې ترخیص ترلاسه کړ. د۱۹۷۷ زکال په اوړي کې دپروان ولایت د فرنجل غوربند دبیرایتو په کان کې دانجیرپه توګه مقرر شو. په دغه ترتیب یې د کانواو صنایعو په وزارت کې بیلابیلې دندې ترسره کړې، د هلمند په ولایت کې دپنبې اونباتي غوړیود فابریکې ریس شو، شپږمیاشتې د پلچرخي په زندان کې سیاسي محبوس و، د کانواوصنایعو په وزارت کې دډبرو د سکرو د مرکزي اداري کارکوونکی اوپه پای کې له دولتي دندې څخه ګوښه ، دوه کاله یې دشخصي کارپه لړکې د ګلدوزۍ او خامکدوزي دوکان درلود، اوپه ۱۹۸۹زکال و ډنمارک ته کډوال شو . اوس په ډنمارک کې له خپلې کورنۍ ، میرمن اوځلورو اولادونو سره ژوند کوي .

ځو کاله کيږي چې د خپلې عادي ورځنۍ دندې ترڅنګ يې له ليکنوسره مينه پيدا کړې ده چې په درى ، پښتواوډنمارکې ژبه يې ډيرې ليکنې په بيلابيلو ويبپاڼوکې خپرې شوې دي. ځو کاله کيږي چې يوه ويبپاڼه nahimi.dk چلوي چې په انګريزي ، ډنمارکي ، پښتواو دري ژبو سياسي اوټولنيزې ليکنې خپروي .

۱ ـ (او لا ګلونه سوځي) يې لومړى کتاب و چې په ۲۰۱۲ زکال خپور شو، همدغه کتاب په ډنمارکي ژبه هم په ۲۰۱۵ زکال کې خپور شو. د کتاب منځپانګه د افغانستان د ښځو د ژوند د تاريخي بهير بيان دي.

۲ ـ په ۲۰۱۲ زکال کې د هيواد سفرنامه چې په لنډه توګه د افغانستان د حالاتو انځور په ۲۰۱۰ زکال ترسيموي.

اوس بيا يې دا برياليتوب په نصيب شو چې (په افغانستان، عراق او ليبيا کې د ناټو جګړې) کتاب وژباړي او د هيوادوالو د لوستلو له پاره يې وړاندې کړي.

په درناوي ۲۰ / ۱۲ / ۲۰۱۵ زکال ډنمارک